د افغانستان اسلامي جمهوریت

د لوړو زده کړو وزارت

سلام پوهنتون

د شرعیاتو پوهنځی

د فقهې او قانون څانګه

د ماسټرۍ دوره

# د میرمنې مالي حقوق د اسلامي فقهې او افغاني قانون له نظره

(د ماسټرۍ رساله)

څېړونکی: شهید الله (عزیزي)

لارښود استاد: دکتور عبدالباقي (امین)

کال: ۱۳۹۸ هـ ش ـ ۱۴۴۰ هـ ق

**دافغانستان اسلامی جمهوریت**

**دلـــوړو زده کـړو وزارت**

**ســــــلام پوهنتـــون**

**د شرعیـــــاتو پوهنځی**

**د فقهې او قانون څانګه**

**دماستری بورډ**

# د میرمنې مالي حقوق د اسلامي فقهې او افغاني قانون له نظره

**(دماسترۍ رساله)**


**خیړونکی: شهید الله (عزیزي)**

**لارښود استاد: دکتور عبدالباقي (امین)**



کال : ۱۳۹۸ هــ ش ــ ۱۴۴۰ هــ ق

بسم الله الرحمن الرحيم

# سلام پوهنتون

## د شرعیات اوقانون پوهنځی

## د فقه او قانون څانګه

## د ماستری بورډ

---

# تـــصـدیق نــــامــــه

ښاغلی شهید الله  د عزیز محمد زوی د ID: Sh-msf-95-118 نمبر لرونکی(د فقه اوقانون دځلورمی دوری څخه) د ماستری دوری پایلیک چې عنوان یې: د میرمنی مالي حقوق د اسلامي فقهي او افغاني قانون له نظره دی،د چهارشنبې ورځ په ۱۴ / ۱ /۱۳۹۸هـ ل نېټه یې په بریالیتوب سره دفاع کړاو د حکم پلاوي له نظره د ۹۵ (نمرو په عدد) نوي نمرو (نمرو په حروفو) مستحق وګرځید، له الله تعالی څخه ورته د لازیاتي بریا غوښتونکي یو.

د حکم پلاوي د اعضاؤ لاسلیکونه:

| شماره | داستاذ نوم | عضویت | لاسلیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | دکتور محمد سلیم مدني | دحکم پلاوي عضو | [signature] |
| ۲ | استاذ وزیر محمد سعیدي | د حکم پلاوي عضو | [signature] |
| ۳ | دکتور عبد الباقي امین | لارښود او دحکم پلاوي مشر | [signature] |

دماستری د بورډ آمر.................................          علمی مرستیال ...............................

# ډالۍ

**خپله دغه هڅه!**

**خپلې درنې مور او قدرمن پلار ته چې د ژوند د هر ډول ستونزو په ګاللو او د خپلو خولو په تویولو سره یې زما لپاره د لیک او لوست زمینه برابره او دې لارې ته یې وهڅولم او هغو خویندو ته چې تل د خپل عفت او عزت د ساتلو په فکر کې وي د زړه په مینه او اخلاص ډالۍ کوم.**

**شهید الله (عزیزي)**

# مننليک

إن الحمد لله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا، ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله أما بعد:

الله تعالی فرمايلي دي: ﴿يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ﴾[١]

ژباړه: چا ته چې الله تعالی و غواړي حکمت ورکوي او هر چا ته چې حکمت ورکړ شو، نو بې شکه ډېره ښېګړه ورکړی شوه او له عقل منو پرته بل څوک پند نه اخلي.

په پورتني آيت کې الله تعالی علم ته د حکمت خطاب کړی او په (کثير) خير سره يې ستايلی دی، له دې څخه د الله تعالی په وړاندې د علم لوړ مقام په ډاګه کېږي او هغه چا ته چې الله تعالی علم په برخه کړی، يقيناً چې الله تعالی په هغه باندې ډېر لوی نعمت لورولی دی.

له دې امله د الله تعالی شکر ادا کوم، چې ما ته يې د ديني علومو د زده کړې توفيق را په برخه او د دې لارې لاروی يې جوړ کړم او دا توفيق يې هم راکړ، چې په اسلامي علومو کې د ماسترۍ ترلاسه کولو په موخه نوموړې رساله بشپړه کړم، نو له دې امله خپل د شکرانې او درناوي مراتب په لاندې توګه وړاندې کوم:

- له هر څه مخکې د الله تعالی د ټولو نعمتونو او پېرزوينو شکر ادا کوم، چې يو له هغې څخه د دې رسالې بشپړول هم دي.
- له خپلې درنې مور او قدرمن پلار څخه د زړه له کومي مننه کوم او خپله دا رساله ورته ډالۍ کوم، چې زما په ښوونه او روزنه کې يې نه ستړې کېدونکي هلې ځلې کړې دي او ما ته يې دا زمينه برابره کړه، چې خپل ځان د علم په ګاڼه سينګار کړم.
- له خپلې ګرانې مېرمنې څخه د زړه له تله مننه کوم او دا رساله هم ورته ډالۍ کوم، چې له ما سره يې د ژوند ټولې ناخوالې او ستونزې په پوره حوصله ګاللې او پدې لار کې يې راسره پوره مرسته کړې ده.
- له خپلو خوږو او زړه ته رانږدې خويندو، ګلاليو زامنو، ګرانې لورکۍ او د کورنۍ له ټولو غړو څخه مننه کوم، چې د زده کړې په ټول بهير کې يې په پوره اخلاص او مينه راسره مرسته کړې ده.

---

١- د البقرة سورت، ٢٦٩ آيت.

- له درانه او قدرمن استاد الحاج سرمؤلف بسم الله بختیار څخه مننه کوم چې له ما سره یې ددې رسالې د لیکلو په دوران کې  په علمي ډګر کې پوره همکاري کړې او د هغه له مثبتو مشورو څخه مې هم په کامله توګه ګټه اخیستې ده.

- د سلام پوهنتون له مشرتابه، مشر استاد دکتور مصباح الله (عبدالباقي) څخه د زړه له کومي مننه کوم، چې زموږ د علمي کچې د لوړولو په موخه یې سرلوړي اسلامي هیواد کې  دا زرین فرصت را ته برابر کړی دی.

- له خپل لارښود استاد، ښاغلي دکتور عبدالباقي (امین) او خپلو مناقشو استادانو هر یوه، دکتور محمدسلیم مدني او استاد وزیرمحمد سعیدي څخه د زړه له کومي مننه کوم، چې د رسالې په علمي بڼاینه، تدقیق او تنظیم کې یې راسره مرسته کړې او په پوره حوصله یې خپلې نېکې لارښوونې راسره شریکې کړې دي.

- د ماسترۍ د دورې له ټولو استادانو څخه د زړه له کومي مننه کوم، چې په خپلو علمي پانګو یې، زموږ تندو ماتولو په موخه په پوره اخلاص، صداقت او رښتینولۍ سره زیار باسي.

- د سلام پوهنتون له ټولو اداري مسؤولینو څخه په ځانګړې توګه له ښاغلي استاد محمد صابر څخه مننه کوم، چې زموږ لپاره یې هر ډول اداري آسانتیاوې برابرې کړې، چې له برکته یې زموږ د زده کړې بهیر له هېڅ ډول ستونزو او خنډونو سره مخ نشو.

- له خپل درانه او خواخوږي مشر دکتور صاحب شیرعلي ظریفي څخه یوه نړۍ مننه کوم، چې د ماسترۍ زده کړو ته یې وهڅولم او پدې لاره کې یې پوره مرسته راسره وکړه.

- له خپلو ټولو ټولګیوالو او ملګرو څخه د زړه له تله مننه کوم، چې د ماسترۍ په دوره کې یې راسره د مینې او اخلاص څخه ډک چلند کړی دی.

- له ټولو هغو ملګرو څخه مننه کوم، چې د دې رسالې په بشپړولو کې یې راسره مرسته کړې او نېکې مشورې یې راسره شریکې کړې دي.

په خورا درنښت

شهید الله عزیزي

# د ښځينې لنډيز

أِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ، وَنَسْتَعِينُهُ، وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا، وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللَّهُ فَلاَ مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلاَ هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ, وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه و أصفيائه أجمعين.

أما بعد: د ميرمنې مالي حقوق هغه موضوع ده، چې په اوسني وخت کې يې د اسلامي فقهې او افغاني قانون له مخې څېړلو ته، تر بل هر وخت زياته اړتيا ليدل کېږي، ځکه له يوې خوا غير اسلامي خوځښتونه له مسلمانې ښځې څخه د مسلمانانو پر وړاندې د وسيلې په توګه ګټه اخلي او ورته وايي چې اسلام تاسې ته هيڅ ډول مالي حقوق ندي درکړي او له بلې خوا ځينې مسلمانان له اسلامي احکامو څخه په بې خبرۍ د ښځې پر وړاندې هغه موقف خپلوي، چې د اسلام له روح او فکر سره په ټکر کې وي، ځکه د اسلامي لارښوونو د مطالعې په ترڅ کې په ډاګه کېږي، چې اسلام يوازينی دين دی، چې ښځې ته په پوره مالي حقوقو قايل دی.

څرنګه چې ښځه طبيعتاً د ډېرې عاطفې خاونده، زړه سواندې او په بدني لحاظ هم نازکه ده، نو له دې امله اسلام پر ښځه د هغو کارونو ترسره کول لازمي کړي، چې د دې له طبيعيت سره همغږي دي، لکه د اولادونو روزنه او پالنه، کورني کارونه ترسره کول، او داسې نور او د هغو کارونو په ترسره کولو يې نده مکلفه کړې، چې د دې لپاره ثقيل او درانه وي، ددې تر څنګ يې هغه مالي حقوق هم ورته ورکړي چې ددې د ژوندانه لپاره په پوره توګه بسنه کوي او ورځني مشکلات يې وربانديې په کامله توګه حل کيږي. را به شو دې ته چې د ميرمنې لپاره اسلام کوم مالي حقوق په نظر کې نيولي په دې رساله کې مې په لاندې ډول څېړلي دي:

لومړی د تمهيد برخه ده په دې برخه کې دوه مطلبونه شتون لري، (۱) د حق لغوي او اصطلاحي تعريفونه، (۲) د حقوقو د هغه برخو يادونه (تر يوه موضوعي تقسيم لاندې) کوم چې ددې رسالې د لوستلو په وخت کې اړين دي، له تمهيدي برخې – مبحث – وروسته په اسلام کې د ښځې دريځ د نورو اديانو او فلسفو په پرتله په لنډ شکل تر څېړنې لاندې نيول – د لزوم په اندازه– شوی دی، چې دوې برخې لري، لومړی په نورو اديانو او فلسفو کې د ښځې دريځ، دويم د اسلام په ښکاره دين کې د ښځې دريځ او منزلت، په دويم فصل کې په مهر او متعه کې د

میرمنې حق تر څېړنې لاندې نیول شوی دی، چې لومړی د مهر د معنا، اندازې او لزوم په هکله مختصر لازم بحثونه د افغاني مدني قانون په پرتله تر لازمې څېړنې لاندې نیول شوي. او دویم د متعې بحث چې لومړی یې مشروعیت او په ذمه باندې د لزوم بحثونه او په اړه یې د اهل سنت او جماعت د فقهاوو اجتهادي وجهې او نظرونه تر لازمې څېړنې لاندې نیول شوي دي، وروسته بیا د متعې احکام د قرآني آیتونو، نبوي احادیثو او د فقهاوو په غوره اجتهادونو سره تر مختصرې څېړنې لاندې نیول شوي او د مدني قانون نظر هم ورسره راوړل شوی دی.

په دریم فصل کې نفقه او هستوګنځی تر څېړنې لاندې نیول شوی دی له کوم ځایه چې د میرمنې مالی حقوق غالبا د احسان تر مرحلې پورې ارزښت لري، هغې وجوه ته هم پکې اشارې شته دي.

په څلورم فصل کې لومړی د حضانت او رضاع احکام بیان شوي، له کومه ځایه چې دا موضوعات تربیتي مفاهیم لري، نو د موضوع تربیتي اړخونه د موضوع له اصل سره په لنډه توګه تر بحث لاندې نیول شوی او په وروستي مبحث کې لومړی، د میراث لغوي او اصطلاحي معنا شوې، بیا په عامه توګه د ښځینه د میراث احوالو یوه برخه بیان شوې او کوم انتقادونه چې په دې هکله شتون لري، هغه هم په مختصر ډول څېړل شوي دي، په پای کې د میرمنې د میراث حالتونه تر مختصرې څېړنې لاندې نیول شوي دي.

# د موضوعاتو لړلیک


منښلیک ............................................................. ب
د څېړنې لنډیز ........................................................... ۱
د موضوعاتو لړلیک ....................................................... ۳
سریزه .................................................................... ۷
د څېړنې لاملونه او ضرورت: ........................................... ۹
د موضوع ارزښت: ........................................................ ۱۱
د بحث په اوږدو کې ستونزې او خنډونه : ............................... ۱۲
د څېړنې کړنلاره: ........................................................ ۱۳
**تمهید: حق او د هغه تقسیم (ویش)........................................ ۱۵**
**لومړی مطلب:د حق معنا ................................................ ۱۵**
اول: حق د لغت له مخې: .................................................. ۱۵
دویم: حق د شرع په اصطلاح کې: ......................................... ۱۶
**دویم مطلب: د حق ډولونه:.............................................. ۲۰**
لومړی تقسیم: حق د څښتن په اعتبار: ..................................... ۲۰
الف: د الله تعالی حق: ................................................... ۲۰
ب: د بنده حق: ........................................................... ۲۱
ج: مشترک حق: ........................................................... ۲۱
دویم تقسیم: حق د محل په اعتبار:......................................... ۲۴
الف: مالي او غیر مالي حقوق:.............................................. ۲۴
ب: شخصي او عیني حق: .................................................. ۲۴
ج: مجرد او غیر مجرد حقوق: ............................................. ۲۵
دریم تقسیم: حق د قضایي مؤید (د پریکړې) په اعتبار: .................. ۲۵
**لومړی فصل:د ښځې مقام ............................................... ۲۷**
**لومړی مبحث: له اسلام څخه مخکې د ښځې مقام ..................... ۲۷**
**لومړی مطلب: ښځه د مصر (فرعوني) تمدن کې:......................... ۲۷**
**دویم مطلب: ښځه د سومریانو په دوره کې: ............................ ۲۸**
**دریم مطلب: ښځه د آشوریانو په دوره کې: ............................ ۲۹**
**څلورم مطلب: ښځه د بابلیانو په زمانه کې: ............................ ۳۰**
**پنځم مطلب: ښځه د ایرانیانو په زمانه کې:............................. ۳۱**

شپږم مطلب: ښځه په هندي تمدن کې: ............................................ ۳۲
اووم مطلب: ښځه په چینایي تمدن کې: ............................................ ۳۳
آتم مطلب: د یونانیانو په زمانه کې د ښځو حالت: ................................ ۳۴
نهم مطلب: ښځه په رومي تمدن کې: ............................................ ۳۶
لسم مطلب: ښځه د عبرانیانو په زمانه کې: ...................................... ۳۷
یولسم مطلب: ښځه د مسیحیانو په وړاندې: ...................................... ۳۸
دوولسم مطلب: د عربو په وړاندې د ښځې مقام: ................................. ۳۹
دویم مبحث: په اسلام کې د ښځې مقام ............................................ ۴۲
لومړی مطلب: ښځه د انسان په توګه: ............................................ ۴۳
دویم مطلب: ښځه د ښځې په توګه: ............................................ ۴۶
دریم مطلب: ښځه د مور په توګه: ............................................ ۵۲
څلورم مطلب: ښځه د لور په توګه: ............................................ ۵۵
پنځم مطلب: ښځه د مېرمنې په توګه: ............................................ ۵۸
شپږم مطلب: ښځه د ټولنې د غړې په توګه: ...................................... ۶۱
دویم فصل: په مهر او متعه کې د ښځې حق ...................................... ۶۵
لومړی مبحث: په مهر کې د ښځې حق ............................................ ۶۵
لومړی مطلب: د مهر معنا او لزوم: ............................................ ۶۵
اول: مهر په لغت کې: ............................................ ۶۵
دویم: مهر په اصطلاح کې: ............................................ ۶۶
د مهر لزوم : ............................................ ۷۰
دویم مطلب: د مهر اندازه ............................................ ۷۳
د مهر ډېره اندازه: ............................................ ۷۳
د مهر لږه اندازه: ............................................ ۷۴
دریم مطلب: په مهر باندې د لزوم حالتونه: ...................................... ۸۱
په ټول مهر د لزوم حالت: ............................................ ۸۱
د نیمایي مهر د لزوم حالت: ............................................ ۹۱
دویم مبحث: د میرمنې د متعې حق ............................................ ۹۶
لومړی مطلب: د متعې معنا: ............................................ ۹۶
الف: متعه په لغت کې: ............................................ ۹۶
ب: متعه په شرعي اصطلاح کې: ............................................ ۹۶
غوره تعریف: ............................................ ۹۷
دویم مطلب: د طلاقې شوې میرمنې متعه: ...................................... ۹۷
(اول): د متعې حکم: ............................................ ۹۸

(دویم): د متعې اندازه:........................................................ ۱۰۵
**دریم فصل: دمیرمنې د نفقې او مسکن حق ........................ ۱۰۸**
**لومړی مبحث: د میرمنې د نفقې حق.......................................... ۱۰۸**
**لومړی مطلب: د نفقې معنا او حکم:........................................... ۱۰۸**
نفقه د لغت له مخې: ................................................ ۱۰۸
نفقه په شرعي اصطلاح کې:.................................................. ۱۰۸
غوره تعریف: ........................................................ ۱۰۹
د نفقې حکم:........................................................ ۱۱۰
د نفقې د وجوب شرطونه: ............................................. ۱۱۱
د نفقې کیفیت: ..................................................... ۱۱۴
نشوز او ورته عوارض:.................................................. ۱۱۵
**دویم مبحث: په مسکن (هستوګنځي) کې د میرمنې حق:............................ ۱۱۷**
**لومړی مطلب: د مسکن معنا: ........................................... ۱۱۷**
**څلورم فصل: په حضانت،رضاع او میراث کې د ښځې حق ..................... ۱۲۵**
**لومړی مبحث: په حضانت کې د ښځې حق ........................................ ۱۲۵**
**لومړی مطلب: د حضانت معنا:............................................. ۱۲۵**
حضانت د لغت له مخې: ............................................... ۱۲۵
حضانت په شرعی اصطلاح کې: ............................................ ۱۲۵
غوره تعریف:........................................................ ۱۲۶
**دویم مطلب: د حضانت مشروعیت............................................. ۱۲۶**
په حضانت باندې د اجرې استحقاق:.......................................... ۱۲۹
**دویم مبحث: د رضاع په مزد کې د ښځې حق:................................... ۱۳۴**
**لومړی مطلب: درضاع معنا:............................................ ۱۳۴**
رضاع په لغت کې: .................................................. ۱۳۵
رضاع په اصطلاحي کې: ............................................... ۱۳۵
غوره تعریف:........................................................ ۱۳۶
**دویم مطلب: د رضاع د مزد مشروعیت: ...................................... ۱۳۷**
**دریم مبحث: په میراث کې د میرمنې حق: ..................................... ۱۴۲**
**لومړی مطلب: د میراث تعریف:............................................ ۱۴۲**
میراث د لغت له مخې:................................................. ۱۴۲
میراث د اصطلاح له مخې: ............................................. ۱۴۲
میرمنې ته د میراث د مشروعیت دلایل:...................................... ۱۴۳
**دریم مطلب: د میر منې د میراث حالات: ..................................... ۱۴۷**

پایلې........................................................................................ ۱۴۹
وړاندېزونه ................................................................................... ۱۵۱
داحادیثولړلیک............................................................................. ۱۵۶
د منابعو لړلیک............................................................................. ۱۵۹
Summary of Research: ........................................... ۱٦۹

# سرېزه

**الحمدلله رب العالمين، والصلاة والسلام على خاتم الأنبياء والمرسلين، سيدنا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين، وتابعيهم بإحسان إلى يوم الدين، أمابعد:**

**د اسلام په سپېڅلي او مبین دین کې د ټولو مخلوقاتو او په ځانګړې توګه د انسان حقوق په ډېر وضاحت او تفصیل سره بیان شوي دي، انسان ته یې ډول ډول نعمتونه په برخه کړي او د کرامت څښتن یې ګرځولی دی، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايي: ﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَ رَزَقْنَاهُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَ فَضَّلْنَاهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا﴾[1]**

**ژباړه: او په رښتيا چې مونږ بني آدم ډېر عزت من کړ او په وچه او لمده کې مو هغه ته سپرلۍ ورکړې، له پاکو څیزونو څخه مو هغه ته روزي ورکړې او په خپلو ډیرو مخلوقاتو مو هغه ته ډېر زيات غوره والی وربښلی دی.**

**دکتور وهبة الزحيلي (رحمة الله عليه) د دې آيت په تفسير کې ليکي، څلور لوی نعمتونه دي، چې الله تعالی پر انسان لورولي، خو نورو مخلوقاتو ته یې ندي ورکړي:**

**۱– انسان يې له نورو مخلوقاتو څخه په ښېله ښکلې او ښايسته بڼه پيدا کړی، عقل او فکر يې ورکړی دی.**

**۲– انسان ته يې په اوبو او وچه کې د سپرلۍ وسايل مسخر کړي دي، په وچه کې آس، کچر، اوښ موټر او داسې نور او په اوبو کې يې ورته لوېې او وړې بېړۍ مسخرې کړې دي.**

**۳– انسان ته يې له پاکو شيانو څخه رزق او روزي ورکړې ده.**

**۴– الله تعالی انسان ته په ډېرو نورو مخلوقاتو غوره والی ورکړی دی.[2]**

---

۱– الإسراء، سورت، ۷۰، آيت.

۲– الزحيلي، وهبة بن مصطفى الزحيلي، وفات: ۲۳ شوال ۱۴۳۶ ه‍. – تفسير المنير – خپرندوی: دار الفكر المعاصر – دمشق، د چاپ کال: ۱۴۱۸ ه‍. د چاپ نوبت: دويم چاپ. جلد: ۱۵، مخ: ۱۲۶.

د (بني آدم) لفظ نارينه او ښځې دواړو ته شامل دی، نو پدې اساس د نارينه او ښځې دواړو حقوق پکې خوندي او په ډېرو حقوقو او امتيازاتو کې سره مساوي دي.

همدارنګه په آخرت کې به هم دواړو ته، د دوی د ښو او نيکو عملونو بدله او عوض په پوره توګه ورکول کيږي، نه نارينتوب د کمال صفت دی، چې له برکته يې نارينه ته زيات امتياز ورکړل شي او نه ښځه توب د نقصان صفت دی، چې له امله يې ښځې ته په حقوقو کې کموالی راشي، بلکې د مؤمن او مسلمان په توګه دواړه يو ډول د اجر او بدلې مستحق او وړ ګڼل کېږي، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايلي دي: ﴿مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾ [۱]

ژباړه: چا چې نېک عمل وکړ، که نارينه وي که ښځينه خو چې مؤمن وي، نو حتماً به ښه ژوند ورباندی تېر کړو او (آخرت کې به) د هغو نېکو عملونو چې دوی به کول، ښه بدله ورکړو.

په بل آيت کې فرمايي: ﴿وَمَنْ يَعْمَلْ مِنَ الصَّالِحَاتِ مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُولَئِكَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُونَ نَقِيرًا﴾[۲]

ژباړه: او څوک چې ښه عملونه وکړي، نارينه وي که ښځينه خو چې مؤمن وي نو دغسې خلک به جنت ته ننوځي او د کجورې د زړي د چاود په اندازه به ظلم پرې ونه شي.

خو څرنګه چې د نارينه او ښځې فزيکي او بدني جوړښت له يو بل سره ښکاره او واضح توپير لري، د ښځو بدني جوړښت کمزوری او نازک دی، چې له امله يې د ځينو ثقيلو کارونو سرته رسول ورته ستونزمن تماميږي او د نارينه بدن بيا هماغه ثقيل کارونه ترسره کولای شي، ځکه بدن يې ځواکمن او غښتلی دی، له بل لوري داسې کارونه هم شته، چې همدا غښتلی بدن يې په هېڅ صورت نشي ترسره کولای، خو ښځه که څه هم د نارينه په نسبت کمزورې ده، کولای شي چې هغه کارونه ترسره کړي، ځکه بدني او فزيکي جوړښت يې هماغه ته جوړ دی، لکه د ماشوم حمل، زېږول، شيدې ورکول او روزل يې، دا هغه کارونه دي، چې ډېر صبر، مهرباني او مينې ته اړتيا لري.

۱ – النحل سورت، ۹۷، آيت.

۲ – النساء سورت،۱۲۴، آيت.

ښځه د خپل فطرت له مخې صابره، مهربانه او زړه سواندې ده، چې د پورتنیو کارونو د ترسره کولو لپاره مناسبه او د ترسره کولو توان یې لري.

د اسلام مقدس دین د همدې (فطري) توپیرونو په نظر کې نیولو سره نارینه او ښځې ته یو لړ بېل بېل حقوق هم ورکړي، کوم چې هر یو یې د خپلو حقوقو د تر لاسه کولو حق لري، تر څو هر څوک له خپلو ثابتو حقوقو څخه ګټه واخلي او په انساني ټولنه کې په انساني خصایلو ولاړ متوازن ژوند شتون ولري.

همدارنګه د عقل او فطرت تقاضا او غوښتنه هم دا ده چې هر چاته باید د ده د کومې دندې چې تر سره کوي یې مسئولیت په غاړه وړلو مطابق حق ورکړل شي، چې همدا د عدل او انصاف مفهوم او پر بنسټ ولاړه لاره ده.

سربیره پردې د اسلام ښکاره دین د نورو انساني حقوقو تر څنګ د میرمنې (زوجې) لپاره ځینې مالي حقوق ټاکلي دي او څښتن یې د هغې په ورکړه ملزم ګرځولی دی.

پدې رساله کې د اسلامي فقه او افغاني قانون له نظره د میرمنې د مالي حقوقو څېړنه شوې، تر څو ښځه له خپلو مالي حقوقو څخه باخبره او په روزمره ژوندانه کې ترینه ګټه واخلي او د خپلو حقوقو په تر لاسه کولو سره خپل مسؤلیتونه په ښه ډول ترسره کړي او یو ښه او با عزته ژوند ولري.

## د څېړنې لاملونه او ضرورت:

لکه څرنګه چې په شخصي احوالو کې د ښځې د مالي حقوقو موضوع په اسلامي فقه کې له ارزښتناکو موضوعاتو څخه شمیرل کیږي او نوموړې هغه موضوع ده، چې په اړه یې په مختلفو ژبو کې ډیرې لیکنې او بحثونه شوې دي، په ځانګړي ډول په عربي ژبه کې داسې لیکنې زیاتې دي، په خورا تأسف سره دا ویلی شو چې په افغاني ټولنه کې زیات شمیر ښځو ته مالي حقوق نه ورکول کیږی او له خپلو مالي حقوقو څخه څه بې برخې پاتې دي. لکه مهر، متعه، نفقه، درضاع او حضانت اجره، مسکن او کله ناکله له میراث څخه هم محرومه پاتې کیږي.

نو د دې لپاره چې موږ د ښځو لپاره د مالي حقوقو په اړه معلومات ورکړو او خلکو ته د اسلام سمې لارښوونې په واضحو او څرګندو ټکو کې پوره کړو، باید پدې اړه ډېرې لیکنې وشي، چې په لړ کې یې همدې موخې ته د رسېدلو لپاره ما د خپلې رسالې موضوع (د میرمنې مالي حقوق د اسلامي فقهې او افغاني قانون له نظره) و ټاکله. نو کولای شو، چې دا لاملونه په لنډه توګه داسې بیان کړو:

١. د ښځو مالي حقوق هغه مهمه او ارزښتناکه موضوع ده، چې نه یوازې د خلکو له پامه نه ده لوېدلې، بلکې په اړه یې ډېر بحثونه لیکل شوي دي چې په خورا تاسف سره په پښتو ژبه کې ډېر کم دي.

٢. ځینې غربیان دا هڅه کوي، چې د ښځو د حقونو تر عنوان لاندې داسې برنامې او پلانونه عملي کړي، چې پر مټ یې وکولای شي، د مسلمانو ښځو فکرونه په خپلو خامو او غیر اسلامي، غیر حقوقي لارو او په دیني اسلامي ټولنو کې د غیر اسلامي کلتور او فرهنګ دود کولو ته لاره هواره کړي.

٣. ځېنې مسلمانې ښځې هم له سیکولارستانو ښکېلاکګرو سره د دوی تش په نامه او غیر دیني اسلامي شعارونه بدرګه کوي او دا د ځان لپاره لویه بریا او لاس ته راوړنه ګڼي، ځکه دوی په اسلام کې له خپلو حقونو، امتیازاتو او معلوماتو څخه بې خبره دي.

٤. ځینې له اسلام څخه ناخبره ډلې او خلک دا یقین لري، چې اسلام ښځو ته هېڅ امتیاز او حق ندی ورکړی، نو ځکه کوښښ کوي، چې غیر اسلامي کلتور او دودونه خپل او عمل پرې وکړي.

٥. زموږ په اسلامي ټولنه کې داسې خلک هم شته، چې اوس هم ښځو ته د شریعت پر خلاف د جاهلیت د زمانې په سترګه ګوري او پدې کې ځان په حق ګڼي، نو باید دوی له اسلام او یو شمیر هغه حقوقو سره آشنا کړو چې اسلام ښځو ته ورکړي دي.

٦. تر ټولو مهمه او ارزښتناک خبره دا ده چې قرآن کریم، نبوي احادیث او فقهي متون په دې هیواد کې ټول په عربي ژبه دي او داسې علمي او تحقیقي مرکزونه شتون نه لري چې زمونږ په ملي ژبو اسلامي احکام او حقوق راته په کامله توګه کیږدي، ددې پر آساس نوموړې رساله که څه هم محدوده ده په پښتو ژبه لیکم.

نو دې ټولو ته د ځواب ویلو او د ښځې د مالي حقونو او امتیازونو د روښانه کولو په موخه مې په دې موضوع کې د لیکنې لپاره ملا وتړله، تر څو وکولای شو، له یوې خوا انساني عالم ته روښانه کړو، چې اسلام د فطرت دین دی، چې ښځه یې له مالي حقوقو نه ده محرومه کړې بلکې د هغوی د مالي حقوقو مدافع دی.

همدارنګه مسلمانانو ته هم باید روښانه کړو، چې ښځې د اسلامي امت نیمایي برخه تشکیلوي، اسلام په هېڅ صورت دوی له سترګو ندي غورځولې، دوی ته یې د قدر په سترګه کتلي او د نارینه وو ترڅنګ یې مالي حقوق او امتیازات ورکړي دي، نو دا بدیهي ده چې د نیمایي بشریت سپکتیا د ټول بشریت سپکتیا ده. همدارنګه مسلمانو ښځو ته هم باید دا واضح کړو، چې اوسني د نور عالم شعارونه بدرګه نه کړي، چې د اسلام مبین دین د ټولو آسماني ادیانو مکمل دین دی لار ښوونې یې د ټول بشریت لپاره ګټورې دي، ځکه دغه شعارونه د ټولو ښځو عزت او آبرو تر پښو لاندې کوي، نو راځئ د اسلام د مبین دین په احکامو عمل وکړو او نور عملا خپل هغه اسلامي حقوق، کوم چې الله ﷻ ټاکلي تر لاسه کړو.

## د موضوع ارزښت:

د اسلام مقدس دین نارینه او ښځې دواړو ته بېل بېل حقوق ورکړي ، کوم چې هر یو کولای شي خپل حقوق په ښه ډول ترلاسه کړي، او په پایله کې د ټولنې د مثبت تحرک (خوځښت) او پرمختګ لامل وګرځي.

همدارنګه د عقل او فطرت غوښتنه هم دا ده چې هر چاته باید د ده د وړتیا او بدني توان سره سم حقوق او تکالیف ورکړل شي، چې همدا عدل او انصاف دی او پر انساني بنسټ ولاړه لاره ده.

له بلې خوا د ښځې د عفت او وقار ساتلو په موخه اسلام پر ښځه حجاب کول فرض کړي او ښځه یې مستوره ګرځولې ده، او له همدې امله یې د ښځې لپاره ځینې مالي حقوق د څښتن په غاړه لازم ګرځولي ځکه ښځه نشي کولای د نارینه وو په څېر په هر ځای او هر وخت کې کار او د ژوند چارې پرمخ بوځي، دا ځکه چې د حمل، رضاع دندې، څښتن خوشهاله ساتلو او د اولادونو د سمې روزنې دندې په غاړه لري.

پدې رساله کې د اسلامي فقهې او افغاني قانون له نظره د میرمنې مالي حقوقو په اړه بحث شوې او کوم حقونه چې اسلامي فقهې او د افغانستان مدني قانون  ورکړي دي، تر لنډې څیړنې لاندې نیول شوي دي، څو ثابته شي، چې د اسلام مبین دین ښځې او نارینه دواړو ته د دوی د فطري او طبیعي جوړښت پر بنسټ حقونه ورکړي او د هر یوه ټولنیز مسؤولیتونه یې سره بېل کړي او د هر یوه د مسؤولیت له مخې یې ورته امتیازات او حقوق ټاکلي دي.

## د بحث په اوږدو کې ستونزې او خنډونه :

دا طبیعې خبره ده، چې هر کار له ځان سره ستونزې او کړاوونه لري، خو دا په دې معنی نده چې کله انسان له ستونزو سره مخ شي، نو لاس تر زنې کښېني، بلکې له توان سره سم به د ستونزو پر وړاندې مقابله کوي.

پر همدې بنسټ زه هم د بحث په اوږدو کی له زیاتو ستونزو سره مخ شوم، چې په لنډه توگه یې یادونه کوم:

۱. یوه بنسټیزه ستونزه مې دا وه چې د کورنۍ د کفالت چارې را په غاړه وې، معمولا ټوله ورځ آن ځینې وختونه د رخصتیو په ورځو کې هم په دفتري کارونو بوخت وم، نو د وخت کمښت او بوختیا زما په مخ کی لویه ستونزه وه.

۲. بله مهمه ستونزه مې دا وه چې د ماسټرۍ د منهجي دورې د پای ته رسیدو سره سم د دفتر له خوا یوې بلې ماسټرۍ ته ور وپیژندل شوم او هلته مې مصروفیت څو برابره نور هم زیات شو او د نوموړې رسالې د لیکلو لپاره د وخت له کمښت سره مخ شوم.

۳. مونږ په یوه داسې هېواد کی ژوند کوو چې که له هر پلوه ورته وکتل شي، نقص او نیمگړتیاوې تر سترگو کېږي، لویه ستونزه دا ده چې د نورو اسلامي او عربي هېوادونو په څېر پربمانه علمي مواد اوکتابتونونه نه لرو، دا مو لویه او بنسټیزه ستونزه ده چې د یوه څېړونکي پر مخ کې له دې ستونزې بله ستره ستونزه نشته. که څه هم الکترونیکي کتابتونونه تر یوه بریده دا ستونزه حل کوي، خو دا هم په هغه کچه ندي، چې د یوه محصل د علمي موادو او مراجعو په اړه ټولې اړتیاوې پوره کړي.

## د څېړنې کړنلاره:

د رسالې په ليکلو کې کوښښ شوی او د منل شوې علمي څېړنې له تګلارو سره سمه ليکل شوې ده، چې په لاندې توګه بيانېږي:

د قرآن کريم ژباړه د مولوي فاروق غلجي له ژباړې څخه چې د مولوي غلجي په نامه يادېږي، او زمونږ د هيواد يو تکړه عالم شخصيت دی اخستل شوې، چې په کال ۱۳۸۶ هـ ش کې چـــــاپ شوې ده ترجمـــــه يې په يوه کر ښه کې په روانه او معياري پښتو کې کړېده او په ترجمـــــه کې يې د معتمدو تفسيرونواو ترجموڅخه استفاده کړېـــده، ځکه مې دا ژباړه وټاکله چې نسبتا نورو هغو پښتو ژباړو ته چې ما ورته لاسرسی درلود يوڅه دقيقه وه، حديثونه او فقهي نصوص د څېړونکي لخوا ژباړل شوي، خو لفظي ژباړه نه، بلکې مفهوم مې نقل کړی دی.

١. د دې لپاره چې د کتاب اصلي محتوا د قرآن کريم له ژباړې سره خلط نشي، نو د قرآن کريم ژباړه د سر خط څخه پيل شوې ده.

٢. د قرآن کريم د آيتونو شمېره او سورت، د اړوند مخ په پاورقي کې ليکل شوي دي.

٣. مبارک حديثونه له صحيحينو (صحيح بخاري او صحيح مسلم) څخه نقل شوي دي، خو د نشتون په صورت کې د حديثو له نورو کتابونو څخه هم استفاده شوې ده.

۴. د هرې مسئلې د توثيق په موخه په پاورقی کې د يادې مسئلې اړوند کتاب د لومړي ځل لپاره د ټوک او صفحې سربيره، له پوره مشخصاتو سره ذکر شوی او د نورو ځلونو لپاره يوازې د هغه کتاب په ټوک او صفحې بسنه شوې ده.

۵. د اختلافي مسايلو په څېړنه کې د اهل سنت په څلورو معتمدو مذهبونو (حنفي، مالکي، شافعي او حنبلي) اکتفا شوې ده، خو د ضرورت پر مهال د نورو نظرونه هم نقل شوي دي.

٦. د قرآنکريم له آيتونو او د پيغمبرﷺ له حديثونو څخه د استدلال وجهه بيان شوې ده.

۷. په هره مسئله کې د فقهاوو اقوال د فقهي مذاهبو د ترتيب په پام کې نيولو سره بيان شوي او مأخذ يې د هرې صفحې په پاورقي کې د کتاب، جلد او مخ په يادولو سره ذکر شوی دی.

۸. فقهي احکام د فقهې له معتبرو کتابونو څخه اخيستل شوي دي.

۹. د آياتونو لپاره دا قوسونه ﴿ ﴾، د احاديثو لپاره دا قوسونه « »، د علماوو د اقوالو او معترضه جملو لپاره دا قوسونه ( ) په نظر کې نيول شوي دي.

۱۰. د اعلامو په تړاو په حاشيه کې د شخص نوم، نسب، ځينې تاليفات، مهمې کړنې او د مړينې د کال په اړه يې لنډ وضاحت ورکړل شوی دی.

# تمهيد: حق او د هغه تقسيم (ويش)

## لومړی مطلب: د حق معنا

### اول: حق د لغت له مخې:

حق عربي کلمه ده، چې مشتقات لري، ويل کيږي، حقق يحقق- چې د ثقل د باب مصدر دی او بل دا چې حق د با طل نقيض دی[1] او د ثبوت، لزوم او وجوب په معنا دی، کوم وخت چې شی ثابت شي او مصداق پيدا کړي، نو عرب وايي (حق الأمر) يعنې امر ثابت شو،[2] نو حق هغه ثابت امر دی چې انکار نشي ور څخه کيدی.[3]

الله متعال په قرآن عظيم الشان کې فرمايلي دي ﴿قَالَ الَّذِينَ حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ﴾[4]

ژباړه: (بيا به) هغه کسان ووايي کوم چې عذاب ورباندې ثابت شوی وي.

بل دا چې حق د لغت له مخې مجازا په نورو معانيو سره هم استعمال شوی لکه، عدل، دين ، اسلام، موجود، صدق او د داسې نور.[5] چې لاندې شواهد ور باندې دلالت کوي:

---

[1] ابن منظور، محمد بن مكرم بن علی، أبو الفضل، جمال الدين ابن منظور الأنصاري الرويفعی الإفريقی، وفات: ٧١١هـ.- لسان العرب – خپرندوی: دار صادر – بيروت. د چاپ کال: ١٤١٤هـ. دويم چاپ. جلد: ١٠، مخ: ٤٩-٥١./ مجلة البحوث الإسلامية، چې په دوره يي بيه د ارشاد، دعوت، افتاء او علمي او څيړنيزو اداراتو د عام رياست له خوا په سسعودي عربستان کې خپريږي، د چاپ ځای: رياض، د چاپ کال: ١٤٠٧هـ ګڼه٤٠، مخ: ٣٤٩.

٢الزبيدي، محمد بن محمد بن عبد الرزاق الحسيني، أبو الفيض، الزبيدي، وفات: ١٢٠٥هـ.- تاج العروس من جواهر القاموس – خپرندوی: دار الهداية. جلد: ٢٥، مخ: ١٦٧./ الزحيلي، وهبة الزحيلي بن مصطفى، – الفقه الاسلامي و ادلته- د دمشق په پوهنتون کې، د شرعياتو د پوهنځي د اسلامي فقه او اصول فقه استاد او رييس، خپرندوی: دار الفكر، د چاپ ځای: سورية – دمشق، چاپ: ٤، جلد:٤، مخ،٣٦٤.

٣ الجرجاني، علي بن محمد بن علي، – التعريفات – خپرندی : دار الكتاب العربي، د چاپ ځای: بيروت،چاپ: لومړی،د چاپ کال:١٤٠٥هـ، مخ:٨٩. /وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية – الكويت – الموسوعة الفقهية الكويتية – خپرندوی: دارالسلاسل – كويت، مطابع دار الصفوة – مصر. د چاپ کال: ١٤٠٤ – ١٤٢٧ هـ. جلد: ١٨، مخ: ٧. مجلة البحوث الإسلامية: ګڼه:٧٩، مخ ٢٦٠.

[4] د القصص سورت، ٦٣، آيت.

[5] الفيروزآبادی، مجد الدين أبو طاهر محمد بن يعقوب وفات: ٨١٧ هـ، – القاموس المحيط – خپرندوی: مؤسسة الرسالة للطباعة والنشر والتوزيع، د چاپ ځای: بيروت – لبنان، مخ:١١٢٩. / الزبيدي: – تاج العروس من جواهر القاموس – جلد: ٢٥، مخ: ١٦٧.

حق د عدل په معنا سره لکه الله تعالی فرمايي:[1] ﴿رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ﴾[2] يعني بالعدل، او حق د دين (قرض) په معنا سره هم راغلی لکه الله تعالی په دې آيت کې فرمايي: ﴿وَلْيُمْلِلِ الَّذِي عَلَيْهِ الْحَقُّ﴾[3] يعني دين.

کله هم حق د قرآن کريم او ثابت امر وصف هم ګرځي، لکه چې ابن عباس رضي الله عنهما حق د قرآن په معنا سره بولي چې د الله تعالی دا قول پرې شاهد دی ﴿بَلْ كَذَّبُوا بِالْحَقِّ لَمَّا جَاءَهُمْ﴾[4] يعنې بالقرآن، حق د اسلام په معنا سره هم راغلی لکه په دې آيت کې ﴿وَقُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ﴾[5] يعنې الاسلام.او داسې نور[6]

خلاصه دا چې د الله د کتاب يو نوم هم حق دی، نو د حق اصلي لغوي معنا ثبوت او وجوب ده، خو په صدق، صواب او نورو معانيو مجازا هم استعماليږي.

## دويم: حق د شرع په اصطلاح کې:

يوه ډله ليکونکي او څېړونکي وايي چې سلفو (علماوو) د حق لپاره کوم جامع او مانع تعريف ندی پرېښی او يوازې يې د حق په لغوي معنا سره بسنه کړې.

خو بيا هم ځينو پوهانو حق تعريف کړی چې له هغې جملې څخه يې ځينې په لاندې ډول دي:

١. ابن نجيم[7] د حق په تعريف کې وايي: (حق هغه څه ته وايي چې يو انسان يې مستحق وي)[1] دا تعريف ډېر ابهام لري ځکه له يوې خوا په عموم کې پروت دی او د تعريف ذاتيات پکې شتون نلري، له بلې خوا په تعريف کې

---

[1] النيسابوري، أبو الحسن علي بن أحمد بن محمد بن علي الواحدي، النيسابوري، الشافعي وفات: ٤٦٨هـ، – التفسير البسيط– خپرندوی: عمادة البحث العلمي – جامعة الإمام محمد بن سعود الإسلامية. لومړی چاپ ، ١٤٣٠ هـ, جلد:٣، مخ: ٢٧٦.

[2] د الأعراف سورت ، ٨٩ آيت.

[3] د البقرة سورت، ٢٨٢ آيت.

[4] د ق سورت ، ٥ آيت.

[5] د الإسراء سورت ، ٨١ آيت.

[6] النيسابوري، – التفسير البسيط– جلد:٣، مخ: ٢٧٦

[7] زين الدين بن إبراهيم بن محمد، چې په ابن نجيم سره مشهور دی، په مصر کې د حنفي فقهې لوی عالم او مدرس تېر شوی دی. نوموړي د خپل وخت له لويو علماوو څخه لکه: شيخ شرف الدين البلقيني، شيخ الإسلام شهاب الدين أحمد بن يونس المصري الحنفي چې په ابن شلبي مشهور و او داسې نورو څخه زده کړې کړې دي. همدارنګه ابن نجيم رحمة الله عليه ډېر زده کوونکي او طالبان درلودل، چې ځينې يې دا دي: خپل کشر ورور يې شيخ سراج الدين عمر بن إبراهيم بن محمد ابن نجيم، شيخ شمس الدين أبو عبد الله محمد بن عبد الله بن أحمد الخطيب بن محمد الخطيب بن إبراهيم الخطيب الغزي التمرتاشي او داسې نور دي. نوموړي د علم لپاره ډېر خدمتونه کړي او ډېر تأليفات يې پر ځای پرې ايښي دي، چې ځينې يې دا دي: الاشباه والنظائر، البحر الرائق في شرح کنز الدقائق، الرسائل الزينية او الفتاوى الزينية. ابن نجيم رحمة الله عليه د ٤٣ کلونو په عمر د ٩٦٩ هـ. يا ٩٧٠ ه–. کال د رجب په مياشت کې د چهارشنبې په سهار

دور[۲] شتون لري ځکه د استحقاق پیژندنه د حق د کلمې تر پیژندنې پورې اړینه ده او دور په تعریفاتو کې د منلو وړ ندی.

۲. علي خفیف[۳] داسې تعریف کړی دی: ( حق هغه څه دی چې انسان ته د شرع په غوښتنې سره د هغه د مصلحت لپاره ثابتیږي). [(۴)] په دې تعریف هم نیوکه شته چې باید لږ و څیړل شي هغه دا چې تعریف جامع نه دی، هغه دا چې هغې حقوقو ته شامل نه دی کوم چې په غیر انسان (اعتباري اشخاصو) پورې تړاو لري.

دا نیوکه بې ځایه ده، ځکه کوم څه چې انسان ته په شرع ثابتیږي، هغه حق دي که فرضا حق یې و نه ګڼو نو مفهوم دادی، چې د حق د نقیض یعنې د باطل په لاره ګام اخلو او دا چې اعتبار یې (حکمي) اشخاصو ته شامل ندی د منلو وړ نده، ځکه د اعتباري یا حکمي اشخاصو مفهوم یا شتون د حق د تطبیق د مطالبې او اداء په وخت کې را منځ ته کیږي، نه په ذمه باندې د حق د ثبوت په وخت کې، له بلې خوا پدې تعریف کې د حق د لغوي معنا رعایت شوی دی. د یوه اصطلاحي تعریف ښه والی هم دادی چې د لغوي معنا رعایت په کې شتون ولري، دا هم لازمه ده ترڅو یاده شي، چې په دې تعریف کې د حق د ماهیت یو جز ذاتي او بل جز یې عرضي دی نو لږ تر لږه دا تعریف د اصولیینو او منطق پوهانو په ژبه ناقص حد بلل کیږي، ناقص حد د یوه شي دویمه درجه تعریف دی چې د یوه شي ماهیت څرګندوي.

۳. محمد یوسف موسی د حق په تعریف کې وایي: ( حق د فرد یا یوې ټولنې یا د دوی دواړو هغه ثابت مصلحت دی چې شارع ورته ټاکلی وي)[5]

---

وفات او په قاهره کې د خپل ورور شیخ عمر سره په خوا کې خاورو ته وسپارل شو. انا لله و انا الیه راجعون. الزرکلي: – الأعلام للزركلي – جلد: ۳ ، مخ: ۶۴. / ویکیبیدیا، الموسوعة الحرة: https://ar.wikipedia.org/wiki.

[۱]ابن نجیم، الشیخ زین العابدین بن ابراهیم بن نجیم الحنفي، وفات: ۹۷۰هـ. – البحر الرائق شرح کنز الدقائق – خپرندوی: دار المعرفة – بیروت. جلد:٦، مخ: ۱۴۸./ العینی، أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى بدر الدين وفات۸۵۵هـ. –البناية شرح الهداية – خپرندوی: دار الکتب العلمية – بيروت، لبنان، چاپ: لومړی، د چاپ کال: ۱۴۲۰ هـ – ۲۰۰۰ م، جلد:۸، مخ:۳۰۱.

[۲]دور دې ته وایي چې د یوه شي پیژندنه د هغه تر مشتقاتو یا خپله هغه شي پورې تړاو ولري.

۳ علي الخفیف په ۱۸۹۱م کال کې په مصر کې زیږیدلی دی او په ۱۹۰۴م کال کې په الازهر کې شامل شوؤ چې وروسته بیا د اسکندري معهد ته نقل شو، له مشهورو استادانو څخه یې، شیخ محمد ابراهیم، استاد محمد عاطف باشا برکات، شیخ محمد خضري، شیخ محمد المطلب واصل او شیخ فرج سنهوري وو، ځینې مشهور تالیفات یې، احکام المعاملات الشرعیة، احکام الوصیة او داسې نور.
په کال ۱۹۷۸م کال کې وفات شو. ( کتاب الشیخ علي الخفیف، الفقیه المجدد، تالیف الدکتور محمد عثمان شبیر، خپرندوی، دارالقلم، دمشق، لومړی چاپ، ۲۰۰۲م.

[۴]الخفیف، علی الخفیف – احکام المعاملات الشرعیة – چاپ:۳، د چاپ کال:۱۹۴۷م، مخ: ۳۲-۳۱.

[5]موسي' محمد یوسف, –الفقه الاسلامي–، چاپ: ۱۹۵٦م، مخ:۲۱۱.

په دې تعریف باندې هم نیوکه شته ده، چې یادول یې لازم ښکاري هغه دا چې غایه د حق د مفهوم د تحقق وسیله گرځي، نو وایي د حق په تعریف د مصلحت کلمه د فقه او قانون د پوهانو لخوا اشتباه گڼل شوې ده ځکه کوم څه چې د حق مفهوم ورباندې تر لاسه کیږي، هغه مصلحت دی د حق له ذاتیاتو نه دی بلکي د حق د مفهوم لازم دی.

اما دا نیوکه پوره بې ځایه ده، ځکه (حق ثابت مفهوم دی د تل لپاره د مصلحت وسیله نه بلل کیږي او نه د تل لپاره د مصلحت غایه فرض کیدای شي) بلکي کله مصلحت د حق د مفهوم متضمن وي، او کله هم مصلحت ثابت کلي حق وي، چې د حق مفهوم ورته شامل وي، (اما مجهول په معلوم سره باید تر لاسه شي)، نو کوم وخت چې مصلحت پوره کلي حق وي او د حق د مفهوم په وسیله تحقق و مومي لزوماً وایو د حق مفهوم تحقق وموند. او کله چې مصلحت د حق د مفهوم متضمن وي بیا د حق تر مفهوم لاندې دغه مصلحت تر لاسه شي، بیا هم وایو (مصلحت د حق تر مفهوم لاندې تحقق وموند) نو چې وایو مصلحت بالذات د حق د تحقق غایه ده ټولیزوالی (کلیت) نلري، نو کله حق د مصلحت د تحقق او کله مصلحت د حق د تحقق لپاره وسیله گرځي)، او هغه مصلحت چې حق نه وي یا د حق د مفهوم متضمن هم نه وي هیڅ کله مصلحت هم نه شي کیدای.

۴. علامه جرجاني رحمه الله وایي: (حق هغه حکم دی چې له واقع سره مطابقت ولري او په اقوالو، عقایدو، ادیانو او مذاهبو یې اطلاق کیږي ځکه دې ټولوته شامل دی او ضد یې باطل دی).[1]

د علامه جرجاني په تعریف هم نیوکه شته هغه داده چې د حق اطلاق په مال او شرعي وصف سره هم کیږي، لکه د ولایت حق، په عقدونو باندې د مرتبو آثارو حق (د بایع التزام د مبیعې په تسلیم باندې)، اما یو هم حکم ندی، خو دا نیوکه بې ځایه ده، ځکه چې نیوکه کوونکی وایي: حق کله مال کله شرعی وصف کله د ولایت حق او کله هم دعقد اثر وي، لکه د مبیعې د تسلیم التزام په بایع باندې  دا یو هم حکم ندی، دا یوه کاذبه قضیه ده ځکه پورته یاد شوي شیان سربیره پردې چې د حق د کلمې د مفهموم متضمن دي، ددې سربیره مصداق د پشپړ کلیت او قاطعیت هم لري او له واقع سره مطابق دي، بل دا چې هر یو یې بیل بیل احکام او قضایا دي.

---

[1] وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية – الكويت – الموسوعة الفقهية الكويتية – . جلد: ۱۸، مخ: ۷. / الجرجاني، – التعريفات –، مخ:۱۲۰.

کوم څه چې د جرجاني رحمه الله په تعریف کې د دقت او پوره کتنې غوښتونکي دي، هغه دا امر دی، چې د حقیقت او وا قعیت توپیر ته یې اشاره نده کړې، هغه دا چې حکم کله له واقع سره مطابق وي ولې حق او حقیقت نه وي، لکه یو مال د سارق او غاصب په لاس کې، قاضی نشي کولی چې دا مال د سارق او غاصب ونه بولي ځکه دا امر واقعیت دی، اما حقیقت ندی، خو کله چې په شهادت یا د اثبات په دلیل سره ثابت شي، چې د دې مال مالک بل څوک دی او قاضي په هغه باندې د مالک لپاره حکم وکړي، نو دا حقیقت شو، خو دغه د مال موجودیت د غاصب او سارق په لاس کې واقعیت دی، اما حقیقت نه دی، دا هم باید وویل شي چې د واقع کلمه ډیر ځله د نفس الامر او مصداق په معنا هم استعالیږي، نو د علامه جرجانې تعریف پوره سم تعریف ګڼل کیږي، په دې صورت کې ویلی شو چې حق هغه حکم دی چې له مصداقاتو او نفس الامر سره مطابقت ولري، له واقع څخه په تعریف کې مصداق او نفس الامر اراده کړو، نو دا تعریف پوره په ځای تعریف دی.

## غوره تعریف

زما په آند غوره تعریف هغه دی چې د لغوي مفهوم په رعایت سره د حقوقو دعلم په اصطلاح سره موافق تعریف شي، نو دا ویلی شو چې (حق هغه ثابت او لازم امر دی چې د لزوم او سلطې مبدأ یې شرع، عقل او فطرت یو یا ټولو ټاکلې وي). پدې تعریف کې د حق ذاتیات چې د سلطې مبدأ او په ذمه باندې التزام دی، په صراحت سره یاد شوي دي نو دا تعریف ځکه غوره دی چې د حق لغوي معنا ثبوت، وجوب او تحقق متفق علیه معنا ده نو دا ورڅخه ښکاریږي چې حق ماله حق او مابه الحق دوه اړخونه غواړي – مختص او مختص به– چې یو خوا د سلطۍ مبدأ او بله خوایې د التزام ذمه ده، د سلطې مبدأ یې شارع، عقل او فطرت دی او د التزام ذمه یې چې انسان دی چې کولی شو مختص به یې وبولو په دې دواړو اړخو سره د تحقق او ثبوت مفهوم تحقق مومي. او ددې سربیره د علامه جرجاني تعریف هم په ذاتیاتو بنا تعریف دی چې وایي: (حق هغه حکم دی چې له واقع (ماهیت یا نفس الامر) سره مطابق وي)[1] یعنې د جرجاني تعریف هم ډیر غوره تعریف دی، ځکه د حکم په کلمه کې ثبوت او لزوم شتون لري، چې حق د ذمې د لزوم مبداء او په ذمه باندې التزام د ثبوت او وجوب تضمني معنا ده. د التزام ذمه د حکم د معنا

[1] وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية – الکویت – الموسوعة الفقهیة الکویتیة – . جلد: ۱۸، مخ: ۷./ الجرجاني، – التعریفات – ، مخ:۱۲۰.

لازم ده چې انفکاک ورڅخه نشته، نو دا تعریف یو جامع او مانع تعریف دی، همداراز د علامه جرجاني په تعریف کې حکم په واقعیت او حقیقت دواړو کې استعمالیږي، نو د حکم کلمه د تعریف ذاتیات اکمال ته رسوي.

حق د غوره تعریف په بناء سره تقسیم شوی دی، یعنې حق د پورتني تعریف په بناء کیدای شي مقسم وګرځي، ځکه پورتنی تعریف ټولیز (کلي) ثابت مفهوم دی، د هغه د تقسیم په هره برخه (مصداق) کې دغه کلی مفهوم شتون لري، که دا شی یو جز فرض شي چې پورتنی مفهوم پکې شتون ونلري د حق د کلي مفهوم برخه هم په کې نشته دا جامعیت او مانعیت دی چې تحقق یې وموند.

## دویم مطلب: د حق ډولونه:

**لومړی ویش:** علماوو حق په لومړني تقسیم  سره په دریو اعتبارونو دریو ډولونو ته ویشلی دی:

لومړی تقسیم: حق د څښتن په اعتبار

**دویم تقسیم**: حق د ځای او محل په اعتبار

**دریم تقسیم**: حق د قضایي مؤید (د پریکړې) په اعتبار[1]

### لومړی تقسیم: حق د څښتن په اعتبار:

### الف: د الله تعالی حق:

د الله تعالی حق هغه دی چې نفع یې عامه وي، په یوه لویه ډله موجوداتو اختصاص پیدا کوي یا ټول عالم ته رسیږي، دا په حقیقت کې هغه حق دی چې تشریع یې پرته له کوم اختصاص څخه، د الله تعالی له لوري راغلې وي، په وګړي، ټولګي یا نوع پورې اختصاص نلري، دا ډول حقوق تعظیما د الله تعالی حقوق بلل کیږي، سلطه او واک یې په حاکم، فرد یا افرادو پورې اړه نه پیدا کوي او نه یې التزام او تطبیق په کومه ځانګړې (خاصه) ذمه پورې تړاو او تعلق لري، چې قصد (نیت) یې وربانديې الله تعالی ته نیږدیوالی او د هغې د دین د شعائرو اقامه ده او بل عامو خلکو

---
[1] الزحيلي،- الفقه الاسلامي و ادلته- جلد:۴، مخ:۳۶۹-۳۷۸.

ته ورباندې نفع رسول دي، کوم چې په خاصو افرادو پورې تعلق نلري، مثال يې د الله تعالی په الوهيت او ربوبيت باندې اعتقاد، او يا هم مختلف عبادات دي، لکه لمونځ، روژه، زکات، جهاد، امر بالمعروف او نهی عن المنکر او داسې نور، بل مثال يې له جرايمو څخه منعه ده، لکه د حدودو او تعزيراتو تطبيق تر څو د عامو مرافقو ساتنه وشي، لکه د زنا حرمت يا ټول هغه احکام او حقوقي قواعد چې د غاړې ايښودلو ګڼه او د ارتکاب زيان يې عام وي، د بيلګې په توګه له زنا څخه د انسان اجتناب کول، د ځان ساتنې، انساني نسل ساتنې، له هلاکت او تلف څخه د اولاد ساتنې مفهوم لري. له جنګ او شخړې څخه د ټولنې د افرادو ساتنه ده، په کورنيو کې د محبت او ډاډ جاري ساتل دي، چې دا ټول يوه عامه نفع بلل کيږي او د سلطې مبدأ يې الله تعالی او د التزام ذمه يې بنده ګان دي، نو له زنا څخه ځان ساتل د انسان په ذمه باندې د الله تعالی حق دی، د دې جريمې د ارتکاب زيان هم عام دی او د الله تعالی حق دی، نو مرتکب يې په عام حق متجاوز ګڼل کيږي.[1]

## ب: د بنده حق:

د بنده حق هغه حق دی چې د بنده معين او ټاکلی مصلحت ورباندې تړاو ولري، برابره ده که نفع يې عامه وې لکه د اولاد صحت ته پاملرنه کول، د مال ساتنه، د امن را ويستل، له عامه لارو څخه ګڼه اخيستل او داسې نور، او يا هم نفع يې خاصه او په يوه فرد پورې اړينه وي، لکه د غصب شوي مال ردول، په څښتن باندې د ميرمنې د نفقې حق، د بايع حق د ثمنو په تسليم کې او د مشتري حق په مبيعه کې او يا هم د طفل په حضانت کې د مور حق او د او لاد په ولايت کې د پلار حق.[2]

## ج: مشترک حق:

دا هغه حق دې چې د الله او بنده دواړه حقونه پکې شتون لري او په دوه ډوله دي:

(۱) هغه حق چې د الله حق پکې غالب وي لکه، د مطلقې عدت، هم په کې د الله تعالی حق دی چې هغه د نسبونو له خلط کولو نه ساتل دي او هم پکې د بنده حق شتون لري، چې هغه د خپل او لاد د نسب ساتنه ده، خو د الله تعالی حق په کې غالب دی، ځکه په دې کې د نسبونو ساتنه يوه عامه نفعه ده. بل مثال يې هم د قذف حد دی، چې

---

[1] الزحيلي، – الفقه الاسلامي و ادلته– جلد:۴، مخ: ۳۶۹.
[2] الزحيلي، – الفقه الاسلامي و ادلته– جلد: ۴، مخ: ۳۷۰.

هغه ځلوينښت درې دي د هغه ځا لپاره چې بل څوک په محض زنا سره متهم کوي، په دې کې هم دوه حقونه شون لري، يو د مقذوف حق دی، ترڅو عار له ځانه لرې کړي او د ځان لپاره شرف حاصل کړي، او بل د الله تعالی حق دی، چې د خلکو د عزت ساتل دي او له فساد څخه د ټولنې خلاصون دی، خو دويم حق پکې غالب دی.

(۲) هغه حق چې د بنده حق پکې غالب وي، لکه د مقتول ولي ته د قصاص ثابت حق، په دې کې هم دوه حقونه شتون لري، لومړی حق د الله تعالی دی، چې هغه د قتل له جريمې څخه د ټولنې خلاصون دی او دويم حق د بنده دی، چې ولي د قهر له منځه وړل او قاتل ته ببننه کول دي، چې دلته د بنده حق غالب دی ځکه د قصاص مبنا مماثلت دی، لکه چې الله تعالی فرمايلي: ﴿وكتبنا عليهم فيها أن النفس بالنفس﴾[1] چې مماثلت د بنده حق ته تر جيح ورکوي.[2]

**حق د اسقاط او عدم اسقاط په اعتبار سره په دوه ډوله دی:**

**الف: هغه حقوق چې اسقاط قبلوي:**[3]

دا ټول هغه حقوق دي چې يوازې او يوازې په شخص پورې تړاو لري، د ټولنې حق پکې شتون نلري، غالبا دا هغه حقوق دي، چې د شارع له خوا پرته د لزوم او وجوب څخه ټاکل شوي دي، غالبا اباحتي او تطوعي حقوق دي، چې قضاتو او حقوق پوهانو په هغه کې عام زيان نه وي ليدلی، دا حقوق د اسقاط وړ ګڼل کيږي. په دې شرط چې اولی الامر يا (قضات) د هغوی په التزام حکم نه وي کړی، مثال يې د سفيه ( بې عقل ) په لاس کې مال دی، د بې عقل په لاس مال د هغه شخص مال دی، اما کله چې سفيه د هغه د مصرفولو پوهه نه لري، شرع او حقوق کولی شي، چې هغه مال د سفيه له لاس څخه وباسي او د هغه له تصرف څخه يې خوندي کړي.

**ب: هغه حقوق چې اسقاط نه قبلوي:**

- نومورې هغه حقوق دي چې د اسقاط وړ ندي، دا هغه حقوق دي، چې بالفعل د اثبات په حالت کې نه وي، بلکې اثبات يې بالقوه وي، مثلا يو وارث د متوفی (موروث) د متروکې د ويش په وخت کې له خپل سهم

[1] د المائدة سورت، ۴۵ آيت.
[2] الزحيلي،– الفقه الاسلامي و ادلته– جلد:۴، مخ: ۳۷۱.
[3] الزحيلي،– الفقه الاسلامي و ادلته– جلد: ۴، مخ: ۳۷۲.

(برخې) څخه څه وا نخلي، په موروث (متوفی) باندې اعتراض وکړي او ووايي چې په دې ويش کې غبن شوی دی، نو هغه سهم ـــ برخه ـــ د اهمال په حال کې پاتې شي، د هغه اصلی حق په ځای پاتې دی، کولی شي هغه پوره ترلاسه کړي او دعوا يې وکړي، ځکه دده حق (سهم) د هغه حقوقو څخه دی، چې اسقاط نه قبلوي، او الله تعالی ټاکلی دی، د وصی په وصيت سره نه ساقطيږي، له بلې خوا دوصيت په وخت کې دا حق د اثبات او تحقق په مرحله کې نه ګڼل کيږي، ځکه وصی د وصيت په وخت کې موروث ندی.[1]

- که کوم شفيع د خپل شفع له حق څخه تير شي او د عقار د پيرودلو د مخه شفاهي ابراء وکړي، بيا د هغه عقار د پيرودلو په وخت کې ورباندې لازمه نه ده، چې د شفع له مطالبې ډډه وکړي، ځکه شفع هغه وخت هم دده حق و، اما تحقق يې نه و پيدا کړی، نو دا منل شوې قضيه ده چې د يوه حق اسقاط مخکې له تحقق څخه نشي کيدای، همدا ډول هغه حقوق چې د شخص لازمه اوصاف ګڼل کيږي، دا ډول حقوق فقهاء د شخص لازمه ذاتي اوصاف ګڼي او اسقاط يې جايز نه دی، مثال يې د صغير يا صغيرې ولايت دی، چې يوازې په پلار او جد پورې تړاو لري او له دوی دواړو څخه يې په اسقاط حکم نشي کيدای، دا ولايت ددوی له ذاتي اوصافو څخه بلل شوی دی، نو انفکاک يې ورڅخه جايز ندی.[2]
- همدا راز هغه حقوق چې بنده يې د اسقاط حق نلري، هغه حقوق دي چې په اسقاط باندې يې د شرعې احکام تغيير مومي، مثال يې د ورثه وو استحقاق دی چې د موروث وصيت سره قابل اسقاط نه دی، يا که چيرې غصب شوی مال د غاصب له خوا وپيرودل شي، يا تغير ورکړی شي، د اصلي مالک حق پکې باقي دی، مالک يې د ملکيت د عوا او د خسارې تغيير غوښتلی شي.[3]
- هغه حقوق دي چې د بل شخص حق ورپورې تړاو لري، مثال يې د مور څخه د حضانت حق سلب کول دي. قاضي، ولي او نور نشي کولی له مور څخه دا حق سلب کړي، ځکه له هغې څخه د حضانت د حق سلب کول

---

[1] الزحيلي،– الفقه الاسلامي و ادلته– جلد: ۴، مخ: ۳۷۲.
[2] الزحيلي،– الفقه الاسلامي و ادلته– جلد: ۴، مخ: ۳۷۲.
[3] مخکنی مرجع.

د ماشوم حق هم له ضياع سره مخ کوي، حضانت د مور او ماشوم مشترک حق دی له مور څخه يې سلب د ماشوم د حق سلب هم بلل کيږي.[1]

## دويم تقسيم: حق د محل په اعتبار:

### الف: مالي او غير مالي حقوق:

**مالي حقوق:** هغه چې په مال پورې اړه نيسي برابره ده که مال يې په مقابل واقع شي، يا واقع نه شي، مالي حقوقو ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم په دې قول کې اشاره شوې ده «من ترك مالا أو حقا فلورثته»[2] او دا حقوق ډير دي، لکه قرضونه، د شفعې حق، د ارتفاق حق، د موصي له، په غنيمت کې د غانم حق او د مهر حق، د مهر هغه حق دی، چې د مال په مقابله کې نه بلکي د نکاح د عقد يا د هغه عقد د لازم په بدل کې چې جماع ده، د زوج په ذمه باندې لازم دی د نکاح عقد او جماع مال ندی.[3]

**غير مالي حقوق:** دا هغه حقوق دي چې له مال سره تړاو او تعلق نلري، لکه د مقتول د ولي حق په قصاص کې، يا يې د قاتل لپاره د عفوه کولو حق، د حضانت حق، او په اجازه د نکاح کې د يو د زوجينو حق، يا يې د رد حق، که يو فضولي سړي په نکاح ورکړې وي.[4]

### ب: شخصي او عيني حق:

**شخصي حق:** هغه حق دی چې شرع د يو شخص له خوا په بل شخص باندې ايښى وي، چې دا به يا د يو عمل تر سره کول وي، لکه د بائع حق په تسليم د ثمنو کې او د مشتري حق په تسليم د مبيعې کې، او يا به له کوم عمل څخه ځان منع کول وي، لکه د مودع حق په وديع باندې تر څو له وديعې څخه ګټه وانخلي.

---

[1] الزحيلي،– الفقه الاسلامي و ادلته– جلد: ۴، مخ: ۳۷۳.
[2] صحيح البخاري، (۲۱۷۵)
[3] مجلة البحوث الإسلامية، ګڼه: ۴۰، مخ: ۳٦۱. / وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية – الكويت – الموسوعة الفقهية الكويتية – . جلد: ۴، مخ: ۳۷۵.
[4] مجلة البحوث الإسلامية، ګڼه: ۴۰، مخ: ۳٦۲.

شخصي حق درى عناصر لري: دحق خاوند، د حق محل او مديون، خو د نوموړي حق د دواړو لورو تر منځ اړيکه په ښکاره ده غير له محل څخه چې هغه مال دى.[1]

**عيني حق**: هغه حق دى چې شرع د يو شخص له خوا په يو معين بالذات شي باندې وضع کړى وي، نو د حق د خاوند او بذاته معين مادي شي تر منځ اړيکه ټينګه وي، لکه مالک په پوره توګه په خپل ملک کې تصرفات کوي، يا هم حق د تيريدلو د لارې ، او يا د همسايه په ديوال باندې د لرګيو د سرونو د ايښودلو حق، خو د عيني حق لپاره يوائې دوه عنصره دي، يو هم د حق خاوند او بل هم دحق محل.[2]

## ج: مجرد او غير مجرد حقوق:

**مجرد حق:** حق په دې اعتبار چې د څښتن له خوا د اسقاط وړ نه وي، په صلح او ابراء سره سقوط نه مومي، بلکي محل د حق له مکلف سره وروسته له تيريدنې هم پاتې کيږي، د بيلګې په توګه د دين حق، نو که چيرې داين له خپل دين څخه ابراء وکړي د مديون ذمه په خپل ځاى پاتې ده، داين کولى شي هغه بيا مطالبه کړي، يا هم د عدت حق او داسې نور.[3]

**غير مجرد حق:** هغه دى چې په ابراء سره يو اثر پريږ دي، لکه د قصاص حق څخه عفوه يا صلح چې د قاتل وينه حرامه ګرځوي او معصوم دم ګرځي خو مخکې له عفوې څخه يې قتل روا ؤ.

خو ددې دوو حقونو تر منځ بل توپير په دې کې دى، چې په غير مجرد حق کې معاوضه په مال سره روا ده، لکه په قصاص کې، خو په مجرد حق کې د احنافو په نزد معاوضه په مال سره نه ده جايزه، لکه دولايت حق.[4]

## دريم تقسيم: حق د قضايي مؤيد (د پريکړې) په اعتبار:

---

[1] الزحيلي،– <u>الفقه الاسلامي و ادلته</u>– جلد: ۴، مخ: ۳۷۵.
[2] الزحيلي،– <u>الفقه الاسلامي و ادلته</u>– جلد: ۴، مخ: ۳۷۶.
[3] الزحيلي،– <u>الفقه الاسلامي و ادلته</u>– جلد: ۴، مخ: ۳۷۷.
[4] مخکينى مرجع.

**الف: هغه حق چې دیانة لازم وي:** هغه حق دی چې په شرعي حکم او التزام  سره په ذمه باندې واجب الاداء ګرځي او کوم دلیل نه وي چې د قاضي په وړاندې يې ثابت کړي، لکه په اوسني عرف کې نکاح کول چې په محاکمو کې ثبت نوي، خو دیانتا زواج ثابت دی او هغه شرعي احکام لکه نفقه او د اولاد ثبوت ورباندې ثابتيږي.[1]

**ب: هغه حق چې اداء يې د قضا له مخې واجب وي:** يعنې اثبات يې په دليل سره امکان لري، لکه يو څوک خپله ښځه په خطاء سره طلاقه کړي او د طلاق نيت يې هم نه وي، خو قاضي به عملا په وقوع د طلاق سره حکم کوي او ظاهر ته به نه ګوري، دا يې قضايي حکم شو، خو که دیانتا ورته وګورو بايد چې طلاقه نشي.[2]

[1] الزحيلي،– الفقه الاسلامي و ادلته– جلد: ۴، مخ: ۳۷۸.
[2] الزحيلي،– الفقه الاسلامي و ادلته– جلد: ۴، مخ: ۳۷۹.

# لومړی فصل: د ښځې مقام

## لومړی مبحث: له اسلام څخه مخکې د ښځې مقام

له اسلام څخه مخکې ښځو ډېر د حقارت او ذلت ژوند درلود، د ښځې له انسانیت څخه خلک منکر وو، ښځه د ټولو بدبختیو مور ګڼل کېده، نو پدې ډول په مختلفو ټولنو کې ښځه له ډول ډول ذلتونو سره مخ وه، چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

### لومړی مطلب: ښځه د مصر (فرعوني)[1] تمدن کې:

د مصر پخوانی فرعوني تمدن ډېر لرغونی تاریخ لري، پدې دوره کې په خلکو باندې ډېر زور زیاتی او ظلم روان و، پاچاهانو د خپل اقتدار د ساتلو په موخه له ځانه قوانین جوړ کړي او د خپلې سلطې لاندې خلک یې د هغو منلو ته اړ ایستلي وو.

د مصر په فرعوني دور کې د عامو خلکو ښځې په کور کې بندیانې وې، په ټولنیزو فعالیتونو کې یې هېڅ ډول برخه او ونډه نه لرله. پداسې حال کې چې د حاکمې طبقې او مخورو کسانو ښځو د لیک او لوست حق درلود، د دوی ښځو په شعر ویلو، خپلو خدایانو ته په تقرب، دیني مراسمو، خپلو خدایانو ته د قربانۍ په مراسمو او نورو ټولنیزو فعالیتونو کې فعاله ونډه اخیستله.

د حاکمې طبقې ښځو په سیاست او دولتي چارو کې د لاس وهنې حق درلود او په دې اړه به یې خپل نظرونه بیانول. په مصري ټولنه کې له میلاد څخه د مخه د اوومې او یوولسمې پېړیو تر منځ ښځې ځینې دولتي څوکیو ته رسېدلې او ځینو یې د کاهنیت مقام ترلاسه کړی و.

---

[1]− د قدیم او پخواني مصر پاچاهانو ته فرعون ویل کېده، دا د دوی لقب و، لکه څرنګه چې د فارس پاچا ته به کسری، د روم پاچا ته به قیصر او د حبشې پاچا ته به نجاشي ویل کېده، نو همداسې د مصر پاچاهان د فرعون په لقب سره مشهور شول.

د مصر پخوانیو حاکمانو به دوه رنګه تاج په خپل سر ایښود، ځکه مصر په دوو برخو شمالي او سویلي ویشل شوی و، د شمالي برخې رمز سور تاج او د سویلي برخې رمز سپین تاج و، نو پاچا به دوه رنګه سور او سپین تاج په خپل سر ایښود، معنا یې دا وه چې د مصر په دواړو برخو حاکم دی. ویکیبیډیا− الموسوعة الحرة: https://ar.wikipedia.orq /wiki.

د حاکمې طبقې د ځوانانو او پېغلو تر منځ د هر ډول اړیکو درلودل روا ګڼل کېدل، فراعنه وو دا حق درلود چې څو ښځې او زیات اولادونه ولري، د ډېرو ښځو پر سر به یې یوه ښځه چې د پاچا د ګرانې مېرمنې په توګه یې لوړ مقام درلود، د ملکې په توګه ټاکله او نورو ښځو به دویم مقام درلود، چې په فراعنه دربار کې له دوی څخه یوازې د شهواني غوښتنو د پوره کولو په موخه ګټه اخیستل کېده. د ښځو شنډوالی (عقامت) د طلاق لپاره یو قانوني دلیل ګڼل کېده، خو له دې ټولو سره سره ښځو په اقتصادي ډګر کې په خپلو مالونو کې د تصرف حق او د راکړې ورکړې اجازه درلوده.[۱]

## دویم مطلب: ښځه د سومریانو[۲] په دوره کې:

سومریانو ښځو ته یو څه حقوق ورکړي وو، ښځو کولای شول، چې سوداګري وکړي او پخپلو مالونو کې یې د هر ډول تصرف حق درلود. د سومریانو ښځو به د شنډوالي په صورت کې د خپلو مېړونو لپاره وینځې رانیولې، تر څو له هغوی څخه د اولاد خاوندان شي.

سومري ښځې له کور څخه د وتلو په مهال پر مخ پټولو او بشپړ حجاب کولو مکلفې وې، کنیزانو د حجاب اغوستلو حق نه درلود، مګر که بادار به یې د څلورو کسانو پر وړاندې داسې اعلان وکړ، چې له اوس څخه وروسته دا وینځه د ده قانوني ښځه ده، نو پدې وخت کې به یې حجاب اغوستلی شو.

په سومري قانون کې د یوې ښځې لپاره د څو مېړونو کول مباح وو، تر څو اورکاجینا سومري[۱] امیر له میلاد څخه مخکې په ۲۳۷۸ ۲۳۷۱- کلونو کې هغه تحریم کړ. په سومري ټولنه کې له خپلې لور سره واده کول مروج وو او په دې کې لور د هېڅ ډول اعتراض حق نه درلود.[۲]

---

۱– د ارشاد، حج او اوقافو وزارت یو شمېر جید علماء – اسلام او کورنۍ – خپرندوی: د آئینه مطبوعاتي او فرهنګي مرکز، د چاپ کال: ۱۳۹۱ هـ.ش. مخ: ۲۹.

۲– سومر د یو پخواني او لرغوني تمدن نوم دی. د دې تمدن خلکو ځان ته ونسانګیګا ویل چې مطلب یې "تور سرکي خلک" دي. سومر یا سومریان په انګریزي (Sumer): د اوسني عراق په سوېلي برخه کې د دوو سیندونو ( فرات او دجلې) تر منځ اوسېدونکی توکم و. دوی د بابل په لرغوني ښار کې اوسېدل چې د یو غني کلتور بنسټګر بلل کېدل.

د سومر مهم ښارونه له اور، اوروک، ارخ، نیب پور او لارسیا څخه عبارت دي. د یهودو په سپېڅلي کتاب، (د پیدایښت سفر) کې دا ځای د شنعار په نامه نومول شوی دی. د دې توکم د واکمنۍ موده له میلاد څخه ۳۰۰۰ کاله مخکې پیل، ۸۸۵ کاله یې دوام وکړ او له میلاد څخه ۲۱۱۵ کاله مخکې له منځه ولاړه. د سومري واکمنۍ له ړنګېدو وروسته د دې واکمنۍ سیمې د آشوري او بابلي واکمنیو برخه وګرځېدې. سومري توکم داسې قوم و چې د ننني نړۍ له هېڅ قوم سره ورته والی نه لري، د هغوی ژبه هم ځانته ژبه وه. https://fa.wikipedia.org/wiki/ ویکیپېډیا، وړیا پوهنغونډ.

## دریم مطلب: ښځه د اشوریانو[۳] په دوره کې:

د آشوري ښځې حالت د بابلي ښځې له حالت څخه لا نور هم خراب و او یوازې په خپلو مالونو کې یې د تصرف حق درلود.

آشوري سوداګرو له خپلو پولو بیرون کولای شول په عادي واده کولو سربېره، موقته نکاح (صیغه) هم وکړي، همدارنګه پلرونو حق درلود چې خپل اولادونه وپلوري.

حجاب او ځان پټول نه یوازې دا چې د آشوري ښځو له دندو څخه وو، بلکې حجاب د پاک لمنۍ، عفت او شرف نمونه او بېلګه ګڼل کېده، خو که به چې وینځو یا بد کاره ښځو حجاب واغوست، نو سزا یې د دواړو غوږونو پرې کول او د هغې بربنډول وو او د هغه چا ملکیت به ګرځېدله چې د حجاب راپور یې حکومتي چارواکو ته رسولی و.

که چا به د وینځو حجاب اغوستل لیدل، خو خوله به یې پرې پټه کړه، نو سزا یې دا وه، چې د شا له خوا به له وینځې یا بد کاره ښځې سره وتړل شو، کالي به یې ترې و ایستل شول، ۵۰ متروکې به یې واهه او پوره یوه میاشت به یې د پاچا په دربار کې په وړیا توګه خدمت کاوه. له دې نه څرګندېږي، چې آشوریان د آزادې ښځې له تهمت څخه د نجات او د هغې د پردې ساتلو موضوع ته ډېر ارزښت ورکاوه.[۴]

---

۱– اورکاجینا د سومري پاچایانو په لړۍ کې اتم پاچا تېر شوی دی، نوموړی د نرم مزاج خاوند و، د سومریانو په قوانینو کې یې ډېر داسې تولنیز او اقتصادي اصلاحات راوستل، چې لا تر اوسه هم پېژندل کېږي.

اورکاجینا لومړی شخص دی، چې یوې ښځې ته یې د ډېرو مېړونو درلودل قانوناً ممنوع اعلان کړل، د لومړي ځل لپاره یې د غلا حد په تېرو باندې د غله ویشتل وټاکل، د هېواد والو تر منځ یې طبقاتي توپیرونه له منځه یوړل او پر ځای یې د دوی تر منځ عدل او مساوات په عملي توګه پلي کړ، په خلکو باندې یې دولتي مالیې کمې کړلې، په غریبو خلکو یې د ظالمانو واک او ظلم له منځه یوړ او په ډاګه به یې ویل: (هېڅکله به اجازه ورنه کړم، چې یتیمان د ظالمانو لپاره ښکار وګرځي) او داسې ډېر نور مثبت اصلاحات یې رامنځ ته کړل. – مجلة الفنون و الأدب و علوم الانسان و الاجتماع– مؤلف: محمد عبد الأمیر منشد– كلیة التربیة الأساسیة – الجامعة المستنصریة– بغداد– عراق. WWW.jalhss.com .

۲– ارشاد، حج او اوقاف: – اسلام او کورنۍ – مخ: ۲۹.

۳– آشوریان، کلدانیان، آرامیان، سریانیان ټول د یوه قوم نوم دی، چې د اوسېدلو اصلي ځای یې منځنۍ آسیا وه. دوی په آشوري ژبه خبرې کولې او د مسیحي مذهب پیروان وو.

اوس د دوی د اوسېدلو اصلي او بومي ځایونه د عراق شمال، د ترکیې سویل ختیځې سیمې، د سوریې شمال ختیځې څنډې او د ایران شمال لویدیځې برخې دي. د تېرې پېړۍ په اوږود کې ډېرو آشوریانو د مختلفو لاملونو له امله د نړۍ مختلفو برخو لکه شمالي امریکا، اروپا او استرلیا ته مهاجرتونه وکړل. https://fa.wikipedia.org/wiki/ آشوري ها – ویکی پدیا، دانشنامهٔ آزاد.

۴– ارشاد، حج او اوقاف، – اسلام او کورنۍ – مخ: ۳۰.

## **څلورم مطلب**: ښځه د بابليانو[١] په زمانه کې:

د بابليانو په زمانه کې ښځه د عادي متاع په څېر په معموله توګه خرڅېدله او د ډله ييزو جنسي کارونو ترسره کول ورسره رواج وو، آن دا چې ديني ځايونه او د عبادت خونې يې هم ورڅخه پاتې نه وې، څکه د بابليانو په وړاندې د فحشا کارونو ترسره کول تر ټولو مقدس عمل ګڼل کېده، تر څو قسطنطين[٢] دغه قانون په (۳۲۵) ميلادي کال کې لغوه کړ.

د حمورابي[٣] قانون چې په عدالت او انصاف يې شهرت درلود د خپلې (۱۱۷) مې مادې پر بنسټ يې مېړه ته دا حق ورکړی و، چې خپله ښځه وپلوري او يا يې چا ته په ګرو پرېږدي، همدارنګه د دې مادې پر بنسټ، مېړه کولای شوای، چې که به د قرض له امله بند ته بېول کېدلو، نو خپله ښځه، لور يا زوی به يې تر دريو کلونو پورې له قرض ورکوونکي سره ګرو پرېښودل او په څلورم کال به يې خپله آزادي بيا له سره اخيستله.

د حمورابي په قانون کې د ميراث نظام ډېر ظالمانه و، څکه د آزادې ښځې او وينځې د اولادونو تر منځ پر توپير ولاړ و، له ميراث څخه ترلاسه شوی مال او جنسونه به يوازې د آزادې ښځې او د هغې د اولادونو حق و، وينزه او د هغې اولادونه به ترې بې برخې کېدل.[۴]

---

۱– بابل د فرات او دجلې د سيندونو تر منځ د تېرو شويو تمدنونو څخه د يوه تمدن نوم دی، د دې تمدن مرکز د بابل ښار و، چې نن يې هم آثار او ځينې نښې نښانې پر ځای پاتې دي، دا ښار د اوسني عراق په (۸۸) کيلو مترۍ کې د حله ښار ته نيږدې پروت دی.
بابليان له سومريانو سره وجنګېدل، چې په پايله کې بابليان بريالي او د سومريانو قدرت ته يې د پای ټکی کېښود. بابليان (۳۰۰۰) کاله په قدرت کې پاتې شول. https://fa.wikipedia.org/wiki/ آشوري ها – ويکی پديا، دانشنامهٔ آزاد.

۲– قسطنطين د بابليانو په تمدن کې ډېر مقتدر پاچا تېر شوی دی، قسطنطين له (۳۰۶ – ۳۳۷م) کلونو تر منځ پاچايي کړې ده، کله چې نوموړی پاچا شو، په رسمي توګه يې مسيحيت د پاچايۍ د دربار د رسمي دين په توګه اعلان کړ، خو دا چې ولې يې مسيحيت د دربار رسمي دين او منهج وګرځاوه ؟ علماوو او مؤرخينو پدې اړه ډېر بحثونه کړي، خو کومې مثبتې پايلې ته ندي رسېدلي،ځينو ويلي: د ده مور قدسيه هيلانه مسيحي وه، نو څکه ده د مسحيت دين غوره کړ، خو د دوی له دې نظر سره قسطنطين موافق نه دی، ځينې بيا وايي: چې د ژوند په اوږدو کې يې له لور څخه چې مسحي مذهب يې غوره کړی و، اغېزمن شو او د مسيحيت دين يې د خپل ځان او دربار لپاره غوره کړ.
قسطنطين په ۲۷۴ ميلادي کال تولد او په ۳۳۷ ميلادي کال د ٦۳ کلونو په عمر وفات او د کنيسة الرسل المقدسه په سيمه کې خاورو ته وسپارل شو. https://ar.wikipedia.orq /wiki ويکيبيديا– الموسوعة الحرة.

۳– حمورابي د بابل د پاچايانو په لړۍ کې شپږم پاچا دی، چې په بابل باندې يې له ميلاد څخه مخکې د (۱۷۹۲– ۱۷۵۰) کلونو تر منځ پاچايي کړې ده. ده ته له خپل پلار څخه پاچايي په ميراث پاتې شوه.
حمورابي د خپل پلار پاچايۍ ته پراختيا ورکړه، کوم اړ دوړ چې د ده د پلار په وخت کې موجود و، له يوې خوا يې هغه له منځه يوړ او له بلې خوا يې د خپلې پاچايۍ سيمه پراخه کړه، عراق، شام او د دې سميې نورې وړې پاچايۍ يې آن د منځنۍ بحيرې تر څنډو له خپلې پاچايۍ سره يو ځای کړې او پدې توګه يې د لويې امپراطورۍ بنسټ کېښود، چې له امله يې د بابليانو په تاريخ کې لومړی امپراطور يادېږي. https://ar.wikipedia.orq /wiki ويکيبيديا– الموسوعة الحرة.

۴– ارشاد، حج او اوقاف: – اسلام او کورنۍ – مخ: ۳۰.

## پنځم مطلب: ښځه د ایرانیانو په زمانه کې:

په پخواني ایران کې ډېر مستبد او ظالمانه حکومتونه او پاچاهۍ تېرې شوې دي، چې پکې هر ډول ظلم او زور زیاتی رواج و، خلک د حکومتونو له ظلم څخه تر پوزو رسېدلي وو، د ښځو وضعیت په ډېر بد حالت کې و، د نارینه وو او ښځو تر منځ جنسي اړیکې په ډېره بې حیایۍ سره ترسره کېدلې.

د ایران امپراطور مزدک[1] له نارینه وو سره د ښځو د ګډون حکم صادر او د ښځو تعدد یا زیاتوالی یې پرته له کوم ټاکلي حد څخه مباح کړ او له محارمو لکه: مور، خور، لور، خاله، عمه او داسې نورو سره واده کولو قانوني حیثیت درلود.

د مزدک د حکومت له رنګېدلو او د زردشت د حکومت په لومړیو کې د درناوي او مالي حقونو له پلوه د ښځو وضعیت یو څه ښه شو، خو د زردشت له مړینې وروسته د ښځو وضعیت له پخوا څخه نور هم خراب شو، دا خبره پکې مشهوره شوې وه: (نارینه له خدای څخه نه غواړي چې لونې ولري او ملائکې نجونې د خدای له خوا انسانانو ته ورکړل شوی نعمت نه بولي).

ایراني پاچایانو به هر کال هغه چا ته چې ډېر زامن یې لرل، سوغاتونه ورکول. د ایران د لوړې طبقې ښځې له حجاب سره بلدې وې، بیرون ته د وتلو اجازه یې نه درلوده، خو یوازې په داسې کجاوه کې به بیرون ته وتلې، چې پرده به وربانديې غوړېدلې وه، څو هېڅوک یې ونه ګوري.[2]

---

۱– د مزدک د زېږېدلو د ځای په اړه علماء یوه خوله نه دي، ځینې وایي چې مزدک د فارس د فسا ښار کې او ځینې وایي د استخر په ښار کې زیږېدلی دی، خو ډېر مؤرخین بیا وایي چې په نیشاپور کې زیږېدلی دی.

مزدک د پینځمې میلادي پېړۍ په نیمایي کې پاچایي کړې ده. مزدک خپل ځانګړي نظریات او عقاید درلودل، چې ادوارد براون هغه د کمونیسم له لومړیو فیلسوفانو څخه یاد کړی دی. کله چې مزدک قدرت ته ورسېد، خپل قانون یې پلی او خلک یې د هغه منلو ته اړ ایستل. مزدک به ویل: الله تعالی په ځمکه کې د ژوند وسایل پیدا کړل، څو خلک ترې په مساوي ډول ګټه پورته کړي او خپل ژوند پرې پر مخ بوځي، خو خلکو یو پر بل ظلم پیل کړ او هر یوه وغوښتل چې له نورو څخه یې مال او شتمني ډېره وي، نو اړینه ده، چې د مال له خاوندانو مالونه واخیستل شي او په فقیرانو او غریبانو ووېشل شي، تر څو د ټولو مال او شتمني برابر او یو ډول شي.

مزدک د خپلې پاچایۍ په دوران کې آرام وخت تېر نه کړ، ځکه له هرې خوا په جګړه کې ګیر و، له یوې خوا زردشتیانو، له بلې خوا یهودانو او په داخل کې هم خپلو خلکو چې د وچکالۍ له امله یې هر څه له لاسه ورکړي وو، د ده په وړاندې خنډونه جوړول، په پای کې زردشتي روحانیون چې د مزدک دین یې خلکو ته د بدعت په توګه معرفي کړی و بریالي شول، زردشتي دین یې د هېواد د رسمي دین په توګه اعلان کړ، مزدک یې وواژه او مزدکیان یې قتل عام کړل.

https://fa.wikipedia.org/wiki/ آشوريها – ویکی پدیا، دانشنامهٔ آزاد.

۲– ارشاد، حج او اوقاف، – اسلام او کورنۍ – مخ: ۳۱.

## شپږم مطلب: ښځه په هندي تمدن کې:

د هند خلک هم د هغې وخت د سیمې له خلکو څخه په ظلم او زور زیاتي کې کم نه وو، هندي تمدن چې لرغونی تاریخ لري، خپل قوانین درلودل، چې په خلکو باندې یې منل لازمي او هېچا ته اجازه نه وه، څو له هغو څخه سرغړونه وکړي.

په هندي ښځو هم د ټولنې د واکمنې طبقې له لوري ډول ډول ظلمونه ترسره کېدل، ښځې ته یې په درنه سترګه نه کتل، همدارنګه هندي ښځې له هغو ښځو سره چې خرڅېدلې او اخیستل کېدلې ډېر توپیر نه درلود، ځکه چې نارینه وو په ډېر سپک نظر ورته کتل. مېړه له ځانه مستبد او ظالم مشر جوړ کړی و او په ښځه یې خپل هر ډول خدمت لازم ګاڼه، چې له امله به یې ښځې خپل مېړه په ډېرې عاجزۍ سره په ډېرو خوږو نومونو لکه بادار، آقا، سردار او داسې نورو نوماوه.

د مانو[1] په قوانینو کې ښځه نه یوازې د وینځې په څېر د هېڅ شي مالکه نه وه، بلکې هر څه به یې چې ترلاسه کول، هغه به یې هم د مېړه ملکیت ګرځېدل، همدارنګه ښځه له طلاق پرته د خپل مېړه څخه نشوای بېلېدلای.

په هندي ټولنه کې به کله چې مېړه مړ شو، نو ښځه به یې په اور سوځوله او یا به یې له مېړه سره ژوندۍ ښخوله، دې کار په هندوستان کې تاریخي ریښې درلودلې.

سربېره پر دې چې په پخوانیو هندي ادیانو کې واده کول اجباري و او د نارینه یا ښځې شنډوالي لوی جنسي عیب بلل کېده، د نورو ټولنو په څېر هندي ټولنه هم د زنا له ناوړه فعل څخه خوندي نه وه، ډېره زنا د راهبه ښځو لخوا په عبادت ځایونو او مقدسو ځایونو کې ترسره کېدله، چې مقدسې ښځې یا د الله خادمان به یې بلل او د دغه کار لپاره به په ډېرو عبادت ځایونو کې موجودې وې.

---

۱– څرنګه چې د فرعون کلمه د مصر حاکمانو ته کارېدله همدارنګه د مانو کلمه د هند حاکمانو ته کارېدله، پخوانیو هندوانو دا عقیده درلوده، چې په ټول عالم کې یوازې اووه تکړه حاکمان د دې وړ وو، چې په نړۍ کې حکومتونه وکړي، او لومړي خدای (مانو) نورو خدایانو (مانوګانو) ته هغه قانون وحې کړ کوم چې ده جوړ کړی و، وروسته مانوګانو دغه قانون کاهنانو ته ورکړ، څو یې هغوی وساتي او وروسته نسلونو ته یې یو پر بل پسې ورسوي، کاهنانو هغه قانون په یوه لوی کتاب کې په اسنسکرینیه ژبه – چې د هند پخوانۍ ژبه وه – تدوین او راټول کړ. د لومړي ځل لپاره دا قانون له میلاد څخه دیارلس پېړۍ مخکې وضع شو. https://ar.wikipedia.org /wiki ویکیبیدیا– الموسوعة الحرة.

د مانو د قوانینو د دریم کتاب په (۳۳) مه ماده کې چې د اخیستلو او غصب کولو له لارې یې واده کول جایز ګڼل، داسې راغلي دي: ((که چېرې یو سړی په زور د یوې ښځې کور ته ورشي او د هغې ښځې کورنۍ له هغې څخه د دفاع په حالت کې تیری کونکی مړ یا ټپي کړ، پدې صورت کې به متجاوز شخص د قانون له نظره نه ملامتېږي)).

په وروستیو وختونو کې په هندي ټولنه کې واده کول او له ټاکلي شمېر پرته د ښځو تعدد مباح وګڼل شو، خو د ښځو تر منځ غوره والی موجود و (ځینې ښځې به په ځینو نورو غوره ګڼل کېدلې). [1]

## اووم مطلب: ښځه په چینایي تمدن کې:

چین د تاریخ په اوږدو کې ډېر پرمختللي او بډای تمدونونه درلودل. د چین حاکمان په ظلم او وحشت کې د سیمې او نورې نړۍ له حاکمانو او پاچایانو کم نه وو، په خپلو خلکو یې ډول ډول ظلمونه کول، طبقاتي نظام پکې مروج و، ښځې له هر ډول شکنجو سره مخ او له هر ډول حقونو څخه محرومې وې.

چیني ښځو له دیني پلوه عبادت ځایونو ته د ننوتلو حق نه درلود او د خپلو پلرونو او نیکونو لپاره یې قرباني نشوای ورکولای. کنفوسیوس[2] چیني حکیم، چې چینایانو به خپل پیغمبر ګاڼه، وایي: ((ډېر شیان دي چې د انسانیت په بدبختۍ باندې پای ته رسېږي، چې د هغو ټولو سرچینه ښځه ده)). دوی ته د لور پیدا کېدل ډېر لوی عیب ښکارېده

---

۱– ارشاد، حج او اوقاف، – اسلام او کورنۍ – مخ: ۳۲.

۲– کنفوسیوس د چین تر ټولو ډېره مشهوره سیاسي څېره او مشهور ښوونکی دی، په قدیمي چین کې یې ژوند کړی دی، نوموړی له میلاد څخه ۵۵۱ کاله مخ کېدلو کوچیني ښار د تسو په کلي کې چې اوس د شاندونګ د ښار یوه څنډه ده زیږېدلی دی.

د کنفوسیوس پلار چې متقاعد افسر و، د جنګ په ډګر کې د ګډون او ښه ځلېدلو له امله د پاچا زړه ترلاسه او پاچا ډېرې ځمکې ورکړې.

کنفوسیوس درې کلن شوی نه و، چې پلار یې مړ شو. څرنګه چې د ده مور د شولیانګ رسمي مېرمن نه وه، نو ځکه یې د خپل پلار له میراث څخه هېڅ شی ترلاسه نه کړل او ده او مور یې د مجبورۍ له امله د چاندونګ په ښار کې چې د چین په ختیځ کې پروت دی، کنفوسیوس به د ماشومتوب له وخته د قربانۍ او معبد د آدابو او اخلاقو په اړه کتابونه مطالعه کول. کنفوسیوس د دیارلسو او یا شپاړسو کلونو و، چې مور یې هم د ناروغۍ او ډېرې ستړیا له امله مړه شوه، کله چې اووه لس کلن شو، پدې وخت کې د (لو) یو مشهور مشر په داسې چا پسې ګرځېد چې د قربانۍ او معبد له آدابو سره بلد او هغه ورته یاد وي، نو ځکه یې د ښار ټول عالمان یوه مجلس ته دعوت کړل چې کنفوسیوس هم پکې و.

کنفوسیوس په شل کلنۍ کې له هغې نجلۍ سره واده وکړ، چې د ده مور یې عقد ورسره تړلی و او هغه د ده د پلار د ملګري لور وه.

له واده څخه وروسته یې زوی ترې پیدا شو، چې (یي چي ګوان) نوم یې پرې کېښود، همدارنګه کنفوسیوس یوه لور هم لري، چې په کتابونو کې یې نوم کونګ جیو لیکل شوی دی.

کنفوسیوس لوی عالم و او څرنګه چې په قدیمي چین کې معلمي یوازې د اشرافو دنده وه، خو کنفوسیوس په خپل لیاقت سره له دوی څخه دا حق خپل او ډېر زده کوونکي یې ځان ته جذب کړل، ویل کېږي، چې کنفوسیوس درې زره زده کوونکي درلودل.

په پنځوس کلنۍ کې چې کله قدرت ته ورسېد او حکومت یو لوی ښار د ده په واک کې ورکړ، نو دا یې د ټولنې د اصلاح لپاره غوره لار وګڼله، له ډېرو سفرونو وروسته کنفوسیوس د (لو) ولایت د پاچا په غوښتنه د دې ولایت د عدلیې وزیر او له یو څه وخت تېرېدلو وروسته د داخله چارو وزیر شو، چې بالآخره د ښه کاري خدمت له امله د دې ایالت صدر اعظم شو، خو پدې مقام کې ډېر پاتې نشو، بلکې د خلکو له خوا له خپلې څوکۍ څخه لاس په سر کېدلو ته اړ او له میلاد څخه ۴۷۹ کاله مخکې وفات شو. ویکیبیدیا– الموسوعة الحرة. https://ar.wikipedia.orq /wiki

او غريبو کورنيو به نوې پيدا شوې لور چې له خپلو اړتياوو يې زياته بلله، په کرونده کې ليرې غورځوله، تر څو يې يخني مړه او يا يې کوم حيوان وخوري او دغه کار يې ګناه نه بلله.

که څه هم د هندوانو په څېر په چينايانو کې هم شنډوالی عيب و، خو سره له دې د فحشاء مرکزونه چې بدکاره ښځې به پکې اوسېدلې او بدکاره خلک به ورتلل، د هغوی په خاوره او سيمه کې زيات او په هر ځای کې موجود وو.

په چيني تمدن کې ښځه مجبوره وه، چې د وينځې په څېر په هر وخت کې غاړه ايښودونکې واوسي، که به يې مېړه مړ شو بايد صبر يې کړی وای او که به يې طلاق ورکړ هم بايد د مېړه خبره يې منلې وای، همدارنګه نارينه وو حق درلود څو د اړتيا پر مهال خپله ښځه وپلوري، چنيي نارينه وو د هنديانو په څېر دا حق درلود چې دويمه درجه ښځې او وينځې هم ولري.[1]

## اتم مطلب: د يونانيانو په زمانه کې د ښځو حالت:

د تاريخ په اوږدو کې يونان تر ټولو متمدن ملت و، د دوی په لومړيو او ابتدايي عصرونو کې ښځو له هر پلوه په بد او ناوړه حال کې ژوند تېرولو، ښځو ته په سپکه سترګه کتل کېدل. په دوی کې دا مشهوره وه، چې ښځه د ټولو مصيبتونو مصدر او بي بي حواء عليها السلام د ټولو دردونو او ستونزو سرچينه ده، نو له دې امله د دوی له نظره ښځه د دوزخ مخلوق ګڼل کېدله او په ټولنه کې تر ټولو لوړ مقامونه، عزت، کرامت او شخصيت يوازې د نارينه وو حق و.دا يوازې د يونان د عادي وګړو نظر نه و، بلکې مفکرينو يې هم همدارنګه دريځ درلود، لکه چې ارسطو[2] وايي: ((نارينه د طبعيت يو بشپړ موجود دی، مګر ښځه د بشري طبعيت له پلوه نيمګړې ده. ښځه د طبعيت او پيدايښت له پلوه تر نارينه لږ کرامت لري. نارينه د شريفو کارونو لپاره پيدا شوي دي، پداسې حال کې چې ښځه يوازې د نسل د دوام لپاره پيدا شوې ده)).

---

۱- ارشاد، حج او اوقاف، - اسلام او کورنۍ - مخ: ۳۲.

۲- ارسطو (Aristotle) يوناني فيسلوف دی، چې له ۳۸۴ نه تر ۳۲۲ ق. م. پورې يې ژوند کړی دی. دی د يونان په شمال ستاجيرا ښار کې زيږېدلی دی، په اتلس کلنۍ کې د افلاطون په اکادمۍ کې چې د آتن په ښار کې يې جوړه کړې وه شامل شو، شل کلونه يې هلته زده کړې وکړې او د خپل ښوونکي افلاطون تر مرګه ۳۴۷ ق. م. پورې هلته پاتې شو. په ۳۴۳ ق. م. کې د مقدونيې پادشاه «فليب» د خپل زوی «اسکندر کبير» د ښوونې او روزنې لپاره مقدونيې ته ور وغوښت او په ۳۳۴ ق. م. بيرته آتن ته ستون شو او د خپلې مشهورې مدرسې «ليسوم» د بنسټ ډبره يې کېښوده.
أرسطو او د هغه زده کوونکي د مشائينو (تلونکو، مزل کوونکو) په نامه يادوي، ځکه چې ارسطو به په روان حالت کې خپلو زده کوونکو ته تدريس کاوه.

د یونانیانو د تمدن په لومړیو کې ښځې له ډول ډول ستونزو سره مخ وې، خو څومره چې یونانیان متمدن کېدل، نو د ښځو حال یې هم د علم او تمدن له برکته په نسبي شکل ښه شو، خو بیا یې هم قانوني منزلت او حقوق په هماغه پخواني حالت باقي پاتې شول.

ښځه یوازې د کور خادمه ګڼل کېدله او د فعالیت چاپېریال یې هم هماغه د کور د ننه و، د ښځې عفت او پاک لمنې د ښځې لپاره تر ټولو قمیتي څیز ګڼل کېده، چې له امله به یې خلکو په درناوي ورته کتل، همدارنګه د اشرافو او مشرانو په ښځو حجاب هم لازمي و.

د یونانیانو ښځې به نه محفلونو ته تللې او نه په عامو ځایونو کې ښکاره کېدلې، له مېړه سره وفاداري د ښځې د عزت او شرف نښه ګڼل کېدله او دا ډول ښځې په ټولنه کې له ډېر عزت او شرف څخه برخمنې وې. د دې پر خلاف بد کاره ښځو ته په بده سترګه کتل کېدل، خو څومره پاک لمني چې له ښځو څخه مطلوبه وه، له نارینه وو څخه مطلوبه نه وه.

له یو څه وخت وروسته کله چې د یونان تمدن نور پرمختګ هم وکړ، نفسي غوښتنې او شهوات پرې غالب شول او حیواني هوا او هوس پرې اغېز وکړ، زنا پکې زیاته او له امله یې زنا کاره ښځې له دومره لوړ مقام او منزلت څخه برخمنې شولې، چې ساری یې د تاریخ په اوږدو کې په بل هېڅ ملت کې نه دی لیدل شوی.

د فحشا مرکزونه د ټولو عامو او خاصو خلکو د تګ او راتګ ځایونه وګرځېدل، د هرې طبقې خلک آن فیلسوفان، شاعران، ادیبان او نور به هم ورتلل.

د یونان فلسفې  نه یوازې په آتن او نورو ډېرو ځایونو کې له فحشا او ناوړه اعمالو سره مخالفت ونکړ، بلکې بدکاره ښځو ته یې اجازه ورکړه، څو ځانګړي مرکزونه ولري، چې پکې د فحشا او موسیقۍ زده کړې وکړي.[۱]

په یوناني ټولنه کې زنا کاره ښځو دومره لوړ مقام ترلاسه کړ، چې نه یوازې د علم او ادب مجالس به د دغو بدکاره ښځو تر مشرۍ لاندې دایرېدل، بلکې د هېواد مهم او ارزښتناک سیاسي مسایل به هم د دوی تر نظر لاندې تېرېدل.

---

۱– ارشاد، حج او اوقاف، – اسلام او کورنۍ – مخ: ۳۴.

د یونان پر خلکو حسن او جمال دومره اغېز وکړ او د هلاکت ګودامونو ته یې دومره ورښکته کړل، چې آن علماوو او پوهانو به یې هم د فحشاء ترسره کول عیب نه ګڼل، همدا علت و، چې دوی د نکاح له ارزښت څخه منکر شول او واده به یې د اخیستلو او خرڅولو له لارې سرته رساوه.[1]

## نهم مطلب: ښځه په رومي تمدن کې:

رومیانو ته د لور زېږېدل لوی عیب ښکارېدل او د یونانیانو په څېر یې د نجونو وژل له دې عیب څخه د نجات تر ټولو غوره او ښه لاره بلله. پلار مطلق او مستبد حاکم و، د اولادونو او ښځې پلورل او آن د هغوی وژل یې خپل پوره حق ګاڼه، مهر او نور څه مال به چې ښځې له ځان سره د مېړه کور ته راوړ، د مېړه کور ته په رارسېدلو به د مېړه د ملکیت یوه برخه وګرځېدله.[2]

د رومیانو قانون ښځه بې أهلیته بلله او د ماشوم او لیوني په څېر به یې ورسره چلند کاوه، چې له امله یې شاهدي نه منل کېدله او هېڅا ته یې د مال وصیت نشو کولای.

ښځې د میراث حق نه درلود، بلکې د پلار د کوره وتل یې له میراث څخه د محرومیت لپاره کافي وو.

په رومیانو کې هم د یونانیانو په څېر حجاب دود و، کله به چې ښځې بیرون ته وتلې، نو باید د مخ پټولو او حجاب اغوستلو سربېره یې لویه چپنه له ځانه تاوه کړې وای، تر څو څېره او ونه یې نه وای څرګنده شوې، خو په رومیانو کې هم دا حالت تر پایه پاتې نشو، د وخت په تېرېدلو سره دا هر څه بدل شول، نکاح خپل ارزښت له لاسه ورکړ، زنا او فحشا او د شرابو څښښل د رومیانو په ټولنه کې یو عمومي رواج وګرځېدل.

په همدې وخت کې ښځو ته دومره آزادي ورکړل شوه، چې په ښځه نه پلار تسلط درلود او نه مېړه، ښځو ته د میراث حق ورکړل شو، په ټولو تصرفاتو کې آزاده شوه او له دې لارې ښځې دومره مالداره شولې، چې آن خپلو

---

۱- مودودي، ابو الاعلی مودودي، ژباړن: نعمت الله شهراني، - حجاب- خپرندوی: مؤسسه انتشارات الازهر، د چاپ کال: ۱۳۸۷ه.ش.، د چاپ ځای: کابل افغانستان، مخ: ۱۳- ۱۷.

۲- ارشاد، حج او اوقاف، - اسلام او کورنۍ- مخ: ۳۵.

مېړونو ته به يې هم خپل مالونه په سود ورکول، په دې توګه مېړونه د خپلو ښځو غلامان شول او په پايله کې په رومي ټولنه کې طلاق دومره ډېر شو، چې هره بلڼايه ښځه به حد اقل يو ځل طلاقه کېده.

په رومي ټولنه کې واده کول د مال او سياست پر محور څرخېده، ښځو وروسته له دې چې د نارينه وو سره په مجالسو کې ګډون وکړ، نفوذ يې ډېر شو، آن تر دې چې د سياست والو په ټاکنه کې به لومړۍ ښځو رأيه ورکوله. بالآخره رومي دولت په خپل دغه حالت پاتې نشو، بلکې ښځې او نورې ټولې بې بند بارۍ يې د خرابۍ او بربادۍ لامل وګرځېدل او رومي دولت يې له منځه يوړ.[1]

## لسم مطلب: ښځه د عبرانيانو په زمانه کې:

عبرانيان په ښځو باندې د ظلم او تاوتريخوالي، د حقونو د غصبولو او مهرونو نه ورکولو په برخو کې تر نورو توکمونو کم نه وو، د يهودو قانون غريب ته دا حق ورکاوه، چې خپله لور لکه غلام يا وينځه وپلوري او خپلې مالي ستونزې پرې حل کړي.

د عبرانيانو په ټولنه کې د وينځو او ښځو د تعدد لپاره ټاکلی او مشخص حد نه و، په تحريف شوي تورات کې هم د ښځو د ډېروالي په اړه ټاکلی او مشخص حد نه و ذکر شوی، خو په نصوص (تلمود) کې د عامو خلکو لپاره تر څلورو ښځو پورې مباحې ګڼل شوې دي، چې د لومړۍ ښځې مهر به تر دويمې، د دويمې تر دريمې او د دريمې ښځې مهر به تر څلورمې ډېر و، خو د يهودانو د اشرافو او مشرانو لپاره تر اتلسو ښځو پورې روا ګڼل شوې وې.

په دې مکتب کې د مېړه ډېره کمه ناخوښي د ښځې د طلاق لامل ګرځېدله، که به ښځې خپل مېړه راضي او خوښ نه کړ، يا به ښځې ښه خواړه پاخه نه کړل، نو په دې ټولو حالتونو کې طلاقېدله.

تحريف شوي تورات د طلاقې شوې ښځې نکاح له خپل پخواني مېړه سره حرامه ګرځولې وه، د يهودانو په تحريف شوي تورات کې ذکر شوي وه، چې که د کومې ښځې مېړه مړ شي او ښځه زوی و نه لري، نو د مېړه پر ورور چې د ښځې لېور کېږي، لازمه وه، څو د خپل ورور له کونډې سره واده وکړي او کله به چې د دې واده له لارې د

---

[1]- مودودي، - حجاب- مخ: ۱۸- ۲۱.

ښځې زوی وزېږید، نو د خپل پلار په نامه نه، بلکې د ښځې د لومړي مېړه زوی به بلل کېده. که به د ښځې لېوره له دې سره د واده کولو څخه انکار وکړ، نو ښځې حق درلود چې د بني اسرائیلو مشرانو ته شکایت وکړي، تر څو لېور یې رضا او واده کولو ته یې چمتو کړي.

که د بني اسرائیلو د شیوخو له ټینګار سره سره به بیا هم دا کار ونشو، نو کونډې به د خپل لېوره بوټونه واخیستل او لاړې به یې پکې توکولې، چې دا کار په بنی اسرائیلو کې لوی عیب او سپکه خبره وه.

د دې کار معنی دا وه، چې واده شوې ښځه یوازې د مېړه ملکیت نه، بلکې د ټولې قبیلې حق و، د کومې ښځې به چې مېړه مړ شو، نو میراث به یې نه ورکاوه او نه ښځې دا حق درلود چې د مېړه له خپلوانو څخه له بل چا سره واده وکړي.

د یهودو په وړاندې ښځه یوه لعنتي هستي وه هغوی په خپل منحرف تورات کې لیکلي دي: (( **المرأة اَمُرّ من الموت**)) ښځه له مرګ څخه هم تریخ حقیقت ده.[۱]

## **یولسم مطلب**: **ښځه د مسیحیانو په وړاندې**:

د کلیسا خلکو به په خپلو ویناوو کې د ښځې د حقونو په اړوند له مبالغې ډکې څرګندونې کولې، چې وروسته به د قانون جوړوونکو لپاره سند ګرځېدلې.

په مسیحي ټولنه کې راهبان او کاهنان له واده کولو څخه منع کړی شوي او وایي: ((که چېرې ټولې کروندې یا دروازې، کاغذ، ټولې ونې او قلمونه ووایي او که ټول لیکوالان چې کتاب ښه لوستلای شي راټول شي؛ موږ نشو کولای چې د ښځې ټولې بدۍ او عیبونه بیان کړو))

د مسیحي کلیسا قوانین ښځو ته په دیني مراسمو یا قضایي هیأتونو کې په اجازې ورکولو کې د یهودانو تر قوانینو ښه نه وو.

۱ – ارشاد، حج او اوقاف، – اسلام او کورنۍ – مخ: ۳۶.

د فحشا خورېدل، ناوړه غير اخلاقي كارونه چې د روميانو په ټولنه كې رواج وو، د كليسا خلكو به ښځې د دغو بې لاريو لامل گڼلې، نو ويل به يې: ((واده كول يو ډول ككړتيا ده، چې بايد ځان ترې وساتل شي او شنډ پاتې كېدل تر واده غوره دي)).

ښځه له اقتصادي پلوه د انگلستان په قانون كې تر ۱۸۰۵ ميلادي كال پورې له نارينه سره تړلې وه او د هغه د ملكيت يوه برخه گڼل كېده، چې نارينه به كولاى شواى څو خپله ښځه وپلوري.

د فرانسې قانون چې اروپايان يې د نوي قانون مور بولي، ممنوع التصرف كسان يې ماشومان، لېوني او ښځې بللي دي، تر څو نوموړى قانون بيا په كال ۱۹۳۸ ميلادي كې د ښځې په گټه تعديل شو.[1]

## دوولسم مطلب: د عربو په وړاندې د ښځې مقام:

عربي ښځه د اسلام نه مخكې له خپلو ډېرو حقونو څخه بې برخې وه، په عربي ټولنه كې د ځنگل قانون حاكم و، تل به د جگړې ډگر تود و. د خپل منځي جگړو له امله د مالونو لوټول رواج وو. د اوبو او وښو د منابعو پر سر تل جگړه او مبارزه روانه او يوازې به تورې فيصله كوله. هر چا به چې له خپلې تورې څخه گټه نشواى اخيستى نو آرام ژوند به يې هم نه درلود.

ښكاره خبره ده، د كومې ټولنې چې داسې حال وي، نو د حق خاوند به يوازې زورور سړى وي، څرنگه چې ښځه په دې منځ كې كمزورې وه، نو له امله يې نه يوازې، مال او شتمني نه درلودله او نه د ميراث له حق څخه برخمنه وه، بلكې د نور مال په څېر به د پلار يا مېړه په تركه كې وېشل كېده.

په عربي ټولنه كې د نورو قومونو په څېر د نجلۍ زېږون عيب و، د بني نجم او بني اسد قبيلو د شرم او ملامتۍ او هم د فقر او بې وزلۍ له وېرې خپلې لوڼې ژوندۍ ښخولې.

---

۱– السباعي، الدكتور شيخ مصطفى السباعي، وفات: ۱۳۸۴ هـ.– المرأة بين الفقه والقانون – خپرندوى: دار الوراق – رياض. د چاپ كال: ۱۴۲۰ هـ. =۱۹۹۹م. اووم چاپ. مخ: ۱۸ – ۱۹.

الله تعالی د دوی د دې ناوړه کار او عادت په اړه داسې فرمايي: ﴿وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُمْ بِالْأُنْثَى ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ ۞ يَتَوَارَى مِنَ الْقَوْمِ مِنْ سُوءِ مَا بُشِّرَ بِهِ أَيُمْسِكُهُ عَلَى هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُ فِي التُّرَابِ أَلَا سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ﴾[١]

ژباړه: کله چې له دوی نه يو چا ته د لور د زېږېدو زيری ورکول کېږي؛ نو مخ يې تور اوړي او هغه (د وينو غړپ) تيروي. له خلکو څخه پټ ګرځي چې د دغه ناکاره خبر له اورېدو وروسته به څنګه له چا سره مخامخ شي. فکر کوي چې له شرم سره لور وساتي او که په خارور کې يې ژوندۍ ومنډي؟ وګورئ څومره ناوړه حکم دی چې دوی يې د خدای په باب کوي.

ځينو نورو عربو به هم د فقر له وېرې خپلې نجونې ژوندۍ خښولې چې الله ﷻ يې په اړه داسې فرمايلي دي: ﴿وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَاقٍ نَحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْ إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْئًا كَبِيرًا﴾[٢]

ژباړه: خپل اولادونه د بيوزلۍ له ويرې مه وژنئ موږ به هغو ته هم روزي ورکړو او تاسې ته هم. په حقيقت کې د هغو وژل ستره ګناه ده.

همدارنګه په عربو کې رواج و، چې کله به پلار مړ شو، نو د ده تر ټولو مشر زوی به د خپل پلار ښځه چې د ده ميره به کېدله ځان ته په نکاح کوله او يا به يې له نکاح څخه منعه کوله، چې دا کار په اسلام کې حرام وګڼل شو، الله تعالی په دې اړه فرمايي: ﴿وَلَا تَنْكِحُوا مَا نَكَحَ آبَاؤُكُمْ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَمَقْتًا وَسَاءَ سَبِيلًا﴾[٣]

ژباړه: او له کومو ښځو سره چې ستاسې پلرونو نکاح کړې وي له هغوی سره هېڅکله نکاح مه کوئ، خو څه چې مخکې شويدي هغه شويدي، په حقيقت کې دا يو د شرم کار دی، ناوړه دی او بد چلن دی.

---

١- د النحل سورت، ٥٨، ٥٩ آيتونه.
٢- د الإسراء سورت، ٣١ آيت.
٣- د النساء سورت، ٢٢ آيت.

په اوسنۍ غربي نړۍ کې هم ښځې ته تر هغه وخته پورې په درنه سترګه کتل کیږي، تر کومه وخته چې ځوانه وي، خو کله یې چې د ځوانۍ په حسن خزان راشي، بیا ورته په سپکه سترګه کتل کیږي او په ټولنه کې هیڅ حیثیت نه لري.

په غربي ټولنه کې اوس هم زړې ښځې د حکومت لخوا په ډیر لږ معاش باندې وخت تیروي او په یوه کوټه کې د مړو په څیر پرتې وي. (1)

١– السباعي، –المرأة بین الفقه والقانون – مخ: ٢٠.

# دویم مبحث: په اسلام کې د ښځې مقام

د ښځې په وړاندې د پورته ذکر شویو ټولو ډول ډول تاوتریخوالو په بهیر کې د اسلام د مبارک دین ځرک ولګېد، نو د هغه له برکته ښځو هم له ټولو ناخوالو او ظلمونو څخه د آرام ساه واخیستله.

اسلام په خپلو زرینو لارښوونو کي د ښځو په اړه په ډېر صراحت او تفصیل سره خپل احکام بیان کړل، ځکه د اسلام مقدس دین د یوي داسي بشري ټولني غوښتونکی دی چي له هر ډول بد اخلاقیو څخه پاکه او په لوړو انساني او اسلامي اصولو ولاړه وي، خو دا هغه وخت کیداي شي، چي ښځه په ټولنه کي خپل مقام، مرتبه، خپل حقوق او مسؤولیتونه او په ټو لنه کي د خپل کار کولو ساحه وپیژني، تر څو له امله یې د هر ډول بد اخلاقیو او نارواوو مخه نیولې او یوه نېکمرغه او با سعادته ټولنه رامنځ ته شوې وي.

الله تعالی د قرآن کریم په ډېرو آیتونو کې د ښځې مسایل بیان کړي، آن یو مستقل سورت یې د ښځو (النساء) په نوم نومولی دی، چي پدې سورت کي یې د میراث احکام بیان کړي، د ښځې د سرغړونې په صورت کې ورسره د چلند طریقه بیان شوې، که مېړه له ښځې سره ناوړه چلند کوي، د بېل والي لارې یې ورته په ګوته کړې او داسې نور مسائل یې پکې بیان کړي دي.

همدارنګه رسول اللهﷺ په خپلو ډېرو احادیثو کې د ښځې اړوند مسایل بیان کړي، چې دا ټول په اسلام کې د ښځې په لوړ مقام دلالت کوي او دا څرګندوي، چې اسلام ښځې ته په درنه سترګه ګوري او دغې موضوع ته خورا زیات ارزښت ورکوي.

د اسلام مبارک دین چې ښځې ته په څومره درنه سترګه ګوري، د دنیا بل هېڅ دین او کلتور ورته په دومره درنه سترګه نه کتلي او نه ورته ګوري.

اسلام ښځه له مختلفو اړخونو ارزولې او په هره برخه کې یې ورته پوره پوره عزت او وقار ورپه برخه کړی دی، چې ځینې بېلګې یې په لاندې ډول بیانېږي:

## لومړی مطلب: ښځه د انسان په توګه:

لکه څرنګه چې مخکې بیان شول، له اسلام څخه مخکې خلک د ښځې له انسانیت څخه هم منکر وو، داسې یې انګېرله چې ښځه د نارینه وو د خدمت لپاره پیدا شوې ده، خو د اسلام په راتګ سره ښځې خپل کرامت او عزت تر لاسه کړ.

د اسلام دین ښځه د نارینه وو په څېر د حقونو او مسؤولیتونو له اهلیت څخه برخمنه او د ثواب او جزا مستحقه یې وګڼله، دا ځکه چې نارینه او ښځې په حقیقت کې د یوې ونې دوې څانګې دي، د دواړو پلار یو (حضرت آدم عليه السلام) او مور یې هم یوه (حواء علیها السلام) دي، چې له امله یې ښځه او نارینه دواړه په عامو انساني ځانګړتیاوو، عامو تکالیفو او مسؤولیتونو، جزاء او ثواب کې سره برابر دي، الله تعالی پدې اړه فرمایي: ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا﴾ (۱)

ژباړه: اې خلکو! له خپل هغه رب نه ووېرېږئ چې هغه تاسې له یو تن څخه پیدا کړئ او له هماغه تن څخه یې د هغه جوړه منځ ته راوړه او له دې دواړو نه یې په نړۍ کې ډېر نارینه او ښځې خواره کړل، له هغه خدای نه ووېرېږئ چې د هغه په وسیله تاسې یو له بل نه خپل حقوق غواړئ او د خپلولۍ او پیوندونو له غوڅولو نه ډډه وکړئ، باور ولرئ چې الله پر تاسې څارونکی دی.

الله تعالی نارینه او ښځه ټول له یوه نفس څخه پیدا کړي او بیا یې له هغه څخه د هغه جوړه پیدا کړه، څو یو پر بل باندې بشپړ او له هغې سره سکون او آرام ورته پیدا شي، الله تعالی پدې اړه فرمایي: ﴿هُوَ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا لِيَسْكُنَ إِلَيْهَا﴾ (۲)

ژباړه: دی هماغه ذات دی چې تاسو یې له یوکس نه پیدا کړئ او له هماغه یې د ده جوړه پیداکړه چې له هغې سره بسیا (ارام) شي.

---

۱ – د النساء سورت، ۱ آیت.

۲ – د الأعراف سورت، ۱۸۹آیت.

نارینه او ښځې په مکلفیتونو، دین دارۍ او د الله تعالی په عبادت کې سره برابر دي، الله تعالی پدې اړه فرمایلي دي: ﴿إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْقَانِتِينَ وَالْقَانِتَاتِ وَالصَّادِقِينَ وَالصَّادِقَاتِ وَالصَّابِرِينَ وَالصَّابِرَاتِ وَالْخَاشِعِينَ وَالْخَاشِعَاتِ وَالْمُتَصَدِّقِينَ وَالْمُتَصَدِّقَاتِ وَالصَّائِمِينَ وَالصَّائِمَاتِ وَالْحَافِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَالْحَافِظَاتِ وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ مَغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا﴾ (١)

ژباړه: بې شکه مسلمانان او مسلمانانې، مؤمنان او مؤمنانې، تابعداران او تابعدارانې، رښتیني او رښتینې، صبر کوونکي او صبر کوونکې، عاجزي کوونکي او عاجزي کوونکې، خیرات کوونکي او خیرات کوونکې، روژتیان او روژتیانې، د خپلو عورتونو ساتونکي او ساتونکې، د الله ډېر یادوونکي او یادوونکې، دوی ټولو ته الله ښښنه او ستر اجر چمتو کړی دی.

همدارنگه په دیني او ټولنیزو بنسټیزو مسؤولیتونو کې نارینه او ښځې سره مساوی دي، پدې اړه الله تعالی فرمایلي دي: ﴿وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَيُطِيعُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُولَئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾ (٢)

ژباړه: او مؤمنان او مؤمنانې یو د بل دوستان دي، د ښېگڼی امر کوي، له بدیو ایسارول کوي، لمونځونه تر سره کوي، زکات ورکوي او د الله او د هغه د رسول اطاعت کوي. دا هغه کسان دي چې الله به وربانديې رحم وکړي بې شکه الله ځیرک برلاسی دی.

د حضرت آدمعليه السلام په قصه کې لولو چې ده او د ده ښځې (حواء علیها السلام) ته یو ډول مکلفیت متوجه دی، لکه چې الله تعالی فرمایلي دي: ﴿وَقُلْنَا يَا آدَمُ اسْكُنْ أَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا وَلَا تَقْرَبَا هَذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ الظَّالِمِينَ﴾ (٣)

ژباړه: او (بیا) ومو ویل: آدمه! ته او مېرمن دې په جنت کې اوسئ او له کومه ځایه مو چې خوښه وي پرېمانه خورئ او دې ونې ته ورلنډ نه شئ، گني بیا به (په خپل ځان) له ظالمانو یاست.

---

١ – د الأحزاب سورت، ٣٥ آیت.

٢ – د التوبة سورت، ٧١ آیت.

٣ – د البقرة سورت، ٣٥ آیت.

پدې قصه کې د پام وړ ټکی دا دی چې قرآن کریم د دوی دواړو تیر ایستل حواء ته نه، بلکې شیطان ته منسوب کړي دي، لکه چې فرمايي: ﴿فَأَزَلَّهُمَا الشَّيْطَانُ عَنْهَا فَأَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيهِ﴾ (١)

ژباړه: خو شیطان وښویول ترې، نو له هغه ځایه يې بیرون کړل چې پکې (مېشت) وو.

نو معلومه شوه، چې حواء علیها السلام له هغې ممنوعه ونې څخه نه د خوراک پیل کوونکې وه او نه د خوراک په حال کې یوازې وه، بلکې خطا له دواړو څخه ترسره شوه، لکه څرنګه چې بیا پښېماني او توبه هم دواړو وویستله او ويې ویل: ﴿قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنْفُسَنَا وَإِنْ لَمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ﴾ (٢)

ژباړه: دوی وویل: زموږ ربه! پر خپلو ځانو مو ظلم کړی او که ته مو ونه ښښې او رحم را باندې ونه کړې، نو موږ به خامخا له تاوانیانو یو.

همدارنګه نارینه او ښځې په جزاء او جنت په ننوتلو کې سره برابر دي، پدې اړه الله تعالی فرمایلي دي: ﴿فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ أَنِّي لَا أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِنْكُمْ مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى بَعْضُكُمْ مِنْ بَعْضٍ﴾ (٣)

ژباړه: نو الله هغوی ته ځواب ورکړ چې بې شکه زه له تاسو نه د چا عمل کوونکي هيڅ کار نه ضایع کوم، نارینه وي که ښځینه (ځکه) تاسې یو له بله (زېږېدلي) یاست.

په بل آیت کې قرآن کریم په ډاګه بیان کړې، چې الله تعالی د هېچا عمل نه ضایع کوي، که يې ترسره کوونکی نارینه وي او که ښځه، الله تعالی فرمايي: ﴿مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾ (٤)

ژباړه: چا چې نېک عمل وکړ، که نارینه وي که ښځینه خو چې مؤمن وي، نو حتماً به ښه ژوند ورباندی تېر کړو او (آخرت کې به) د هغو نېکو عملونو چې دوی به کول، ښه بدله ورکړو.

په بل آیت کې فرمايي: ﴿وَمَنْ يَعْمَلْ مِنَ الصَّالِحَاتِ مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُولَئِكَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُونَ نَقِيرًا﴾(٥)

١ – د البقرة سورت، ٣٦ آیت.
٢ – د الأعراف سورت، ٢٣ آیت.
٣ – د آل عمران سورت، ١٩٥ آیت.
٤ – د النحل سورت، ٩٧ آیت.
٥ – د النساء سورت، ١٢٤ آیت.

ژباړه: او څوک چې ښه عملونه وکړي، نارينه وي که ښځينه خو چې مؤمن وي نو دغسې خلک به جنت ته ننوځي او د کجورې د زړي د چاوډ په اندازه به ظلم پرې ونه شي.

په لنډ ډول ويلای شو، د اسلام مبين دين ښځې ته ټول هغه حقوق چې له اسلام څخه مخکې ترې محرومه وه اعاده کړل، ښځه يې د ملکيت خاونده کړله، له ښځې څخه يې د مېړه استبداد او ظلم له منځه يوړ، آزادي يې ورکړه، ښځې ته يې په ميراث کې د نارينه په څېر برخه ورکړله، ښځو ته يې د ټولو مشروع او روا پيرلو او پلورلو، هبه کولو، صدقه کولو، کفالت، حوالې، وقف، اعارې، گرو او داسې نور ټول مالي حقوق ورکړل، ښځې ته يې د زده کړې حق ورکړ لکه چې رسول اللهﷺ فرمايلي دي: «طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ...»[1] ژباړه: د علم زده کړه په هر مسلمان فرض ده. د مسلمان لفظ نارينه او ښځې دواړو ته شاملېږي.

همدارنگه اسلام ټول هغه مسؤليتونه چې له نارينه څخه يې ترسره کول غواړي، له ښځې څخه يې هم د ترسره کولو غوښتونکی دی، لکه: لمونځ، روژه، زکات، حج او داسې نور.[2]

## دويم مطلب: ښځه د ښځې په توگه:

د اسلام مبين دين د ښځې ښځينه توب تللی او له خپل دې صفت سره يې د نارينه لپاره يو بشپړوونکی مهم عنصر گڼلې ده، همدارنگه نارينه هم د ښځې بشپړوونکی دی، دوی يو د بل مخالف او ضد نه، بلکې دواړه د خپل شخصيت په بشپړتوب کې يو بل ته اړ او محتاج دي.

په کايناتو کې دا د الله تعالی د قدرت يوه نښانه ده، چې له انسانانو پرته يې نه يوازې حيوانات او نباتات نارينه او ښځينه گرځولي دي، بلکې جمادات يې هم نارينه او ښځينه پيدا کړي دي، لکه برق او مقناطيس چې الله تعالی مثبت

---

۱- القزويني، محمد بن يزيد أبو عبدالله القزويني، وفات: ۲۷۳هـ. - سنن ابن ماجة - خپرندوی: دار الفکر - بيروت. جلد: ۱ ، مخ: ۱۵۱. د حديث گڼه: ۲۲۴.

همدارنگه امام شوکاني رحمة الله عليه او امام زرکشي رحمة الله عليه، هم حسن گڼلی دی./ الزرکشي: بدر الدين أبي عبد الله محمد بن عبد الله الزرکشي - التذکرة في الأحاديث المشتهرة - جلد:۱ ، مخ: ۴۲./ الشوکاني: محمد بن علي بن محمد الشوکاني - الفوائد المجموعة في الأحاديث الموضوعة - خپرندوی: المکتب الإسلامي - بيروت، د چاپ کال: ۱۴۰۷ هـ. دويم چاپ. جلد: ۱، مخ: ۲۷۵.

شيخ الباني رحمة الله وايي: د حديث همدا برخه چې دلته ذکر شوې صحيح ده او باقې نوره برخه يې موضوعي ده. / الالباني: محمد ناصر الدين الألباني، وفات: ۱۴۲۰هـ. - الجامع الصغير وزيادته - خپرندوی: المکتب الإسلامي - بيروت. جلد۱ ، مخ: ۷۳۶.

۲- القرضاوي، دکتور محمد يوسف القرضاوي. ژباړن: ابو عاصم عبدالناصر زاهدی، - جايگاه زن از ديدگاه اسلام- خپرندوی: انتشارات مستقبل - کابل - افغانستان. د چاپ کال: ۱۳۹۲ هـ. ش. لومړی چاپ. مخونه: ۱- ۷.

او منفي پيدا کړي دي. دې موضوع ته الله تعالی څوارلس سوه کاله مخکې اشاره کړې او فرمايلي يې دي: ﴿وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ﴾ [1]

ژباړه: او د هر شي مو جوړې پيدا کړې دي چې تاسې نصيحت واخلئ.

نو له دې څخه معلومېږي، چې نارينه او ښځه دواړه يو بل ته اړ او محتاج دي، له يو او بل پرته يې ژوند ناممکن دی، نو کله چې الله تعالی آدم عليه السلام پيدا کړ، د خپل سنت له مخې يې ورته مېرمن بي بي حواء عليها السلام د ده له نفس څخه پيدا کړه، سره له دې چې په جنت کې و، خو بيا يې هم يوازې پرېښنود، څو د هغې په خوا کې سکون او آرام پيدا کړي، الله تعالی پدې اړه فرمايي: ﴿وَقُلْنَا يَا آدَمُ اسْكُنْ أَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا وَلَا تَقْرَبَا هَذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ الظَّالِمِينَ﴾[2]

ژباړه: او (بيا) ومو ويل: آدمه! ته او مېرمن دې په جنت کې اوسئ او له کومه ځايه مو چې خوښه وي پرېمانه خورئ او دې ونې ته ورلنډ نه شئ، ګني بيا به (په خپل ځان) له ظالمانو ياست.

نو ښځه پدې اعتبار له نارينه سره توپير لري، ځکه چې ښځه د نارينه او نارينه د ښځې بشپړوونکی دی، هر يو په خپل ذات کې بشپړ او کامل نه دی، الله تعالی فرمايي: ﴿وَلَيْسَ الذَّكَرُ كَالْأُنْثَى﴾[3] ژباړه: او هغه نارينه خو (چې دې غوښتی ؤ) د دې نجلۍ په شان نه دی.

له دې څخه هم معلومه شوه، چې نه نارينه د ښځې او نه ښځه د نارينه ضد ده، پدې اړه الله تعالی فرمايلي دي: ﴿بَعْضُكُمْ مِنْ بَعْضٍ﴾([4] ژباړه: تاسی يو له بله (زېږېدلي ياست. په بل آيت کې فرمايي: ﴿وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا ﴾[5] ژباړه: او الله تاسو ته له خپله جنسه مېرمنې پيدا کړې.

الله تعالی د خپل حکمت له مخې، له يوې خوا د ښځې بدني جوړښت نرم جوړ کړی او د جاذبيت قوه يې پکې ځای پر ځای کړې، چې له امله يې وکولای شي نارينه جذب او ځان ته يې متمايل کړي، له بلې خوا يې په نارينه او ښځه

---

۱ – د الذاريات سورت، ۴۹ آيت.

۲ – د البقرة سورت، ۳۵ آيت.

۳ – د آل عمران سورت، ۳٦ آيت.

۴ – د آل عمران سورت، ۱۹۵ آيت.

۵ – د النحل سورت، ۷۲ آيت.

دوارو کې شهواني ورتیاوې او فطري قوتونه ډېر پیاوړي کړي، څو له یو بل سره یې مینه او له یو بل سره یې ملاقات ته چمتو کړي او پدې توګه د آدمعليه السلام اولاده تر قیامته باقي پاتې شي.

همدې ته په پام سره هر هغه نظام چې د دې نظام یا فطرت ضد واقع شي او یا دا نظام معطل کړي لکه رهبانیت، اسلام هغه ردوي او هر هغه تصرف چې له شهواني قوت څخه په ناروا لارو کې ګټه اخلي حرام یې ګڼي، نو له دې امله اسلام زنا حرامه ګرځولې ده او د دې لپاره چې نارینه او ښځې له دې ناوړه عمل څخه خوندي وساتل شي، په زنا کې د اخته کېدلو ټول لاملونه یې بند کړي دي.

د اسلام مبین دین د ښځې فطري ښځینه توب ته پام کړی او غوښتنې یې منلې دي، نه یې د دوی غوښتنې ټکولې او نه یې مصادره کړې دي، البته د لارو په اوږدو کې یې ښځې له هغه ذلت او خوارۍ څخه چې ورسره مخ کېږي په پرده کې کړې او د بشري ورو لېوانو او ښکاري سپیو څخه چې د دوی له غوښو ګټه اخلي او هډوکي یې غورځوي، محفوظې کړې دي.

د اسلام موقف چې د ښځو په فطري غوښتنو یې اعتراف کړی په لاندې ډول بیانوو:

١- اسلام د ښځې، ښځینه توب حفظ کړی، تر څو ښځه د عطوفت، مهربانۍ او ښکلا سرچینه وګرځي، له همدې کبله ځینې هغه شیان چې نارینه ته حرام دي، ښځې ته یې روا کړي دي، دا هغه شیان دي، چې د ښځې له جوړښت او طبیعت (ښځینه توب) سره اړخ لګوي، لکه: د طلا او خالصو ورېښمو اغوستل. رسول اللهﷺ په یوه حدیث کې فرمایلي دي: «إن هذين حرام على ذكور أمتي حل لإناثهم»[1] یعنې دا دواړه (سره زر او ورېښم) زما د امت نارینه وو ته حرام دي او د ښځو لپاره روا دي. همدارنګه هر هغه څه چې له ښځو سره مناسب نه وي، په ښځو یې هغه حرام ګرځولي دي، لکه په جامه، حرکاتو او داسې نورو کې د نارینه وو تقلید. الله تعالی له دې کارونو څخه ښځه منعه کړې ده، همدارنګه نارینه یې هم پدې اړه د ښځو له تقلید څخه په کلکه منعه کړی

١- القزويني، - سنن ابن ماجه - جلد: ٢ ، مخ: ١١٨٩. د حديث ګڼه: ٣٥٩٥. شيخ الباني رحمة الله عليه دا حديث صحيح ګڼلی او ابن مديني رحمة الله عليه حسن ګڼلی دی. / الالباني،- الجامع الصغير وزيادته - جلد: ١ ، مخ: ٤٠٤. / ابن القطان، علي بن محمد بن عبد الملک الكتامي الحميري الفاسي، أبو الحسن ابن القطان، وفات: ٦٢٨هـ. - بيان الوهم والإيهام في كتاب الأحكام - خپرندونی: دار طيبة - الرياض، د چاپ کال: ١٤١٨هـ-=١٩٩٧م. لومړی چاپ. جلد: ٥ ، مخ: ١٧٩.

دی، رسول اللهﷺ فرمايلي دي: «لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِﷺ الرَّجُلَ يَلْبَسُ لِبْسَةَ الْمَرْأَةِ وَالْمَرْأَةَ تَلْبَسُ لِبْسَةَ الرَّجُلِ»[1]. يعني: رسول اللهﷺ په هغه نارينه لعنت ويلی دی، چې د ښځې جامې اغوندي او په هغه ښځه يې لعنت ويلی چې د نارينه جامې اغوندې. نو څرنگه چې د نارينه تقليد کوونکې ښځه ملعونه ده، همدارنگه د ښځې تقليد کوونکی نارينه هم ملعون دی، په بل حديث کې رسول اللهﷺ فرمايلي دي: «ثَلَاثٌ لَا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ وَلَا يَنْظُرُ اللَّهُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْعَاقُّ وَالِدَيْهِ وَالْمَرْأَةُ الْمُتَرَجِّلَةُ الْمُتَشَبِّهَةُ بِالرِّجَالِ وَالدَّيُّوثُ»[2]

ژباړه: درې کسان دي، چې جنت ته به داخل نشي او نه به د قيامت په ورځ الله تعالی دوی ته وگوري، يو د مور او پلار له لوري عاق شوی، بله هغه ښځه چې خپل ځان په عاداتو او حرکاتو کې له نارينه سره مشابه کوي او بل ديوث سړی دی.

۲- اسلام د ښځې، انوثت يا ښځينه توب حمايه کړی، د هغې ضعف او کمزوري يې په پام کې نيولې، نو ځکه يې له يوه لوري تل د نارينه په څنگ کې ځای ورکړی دی، تر څو نارينه د دې د نفقې کفيل او د دې اړتياوې پوره کړي، له واده مخکې يې د ښځې نفقه او د ژوند د ټولو اړتياوو پوره کول د پلار او ورور پر غاړه لازمي کړي دي له واده وروسته يې دا ټول مسؤليتونه د مېړه پر غاړه دي، له بلې خوا يې ښځو ته د ژوند د ستونزو او کړاوونو پر وړاندې هېڅ مسؤليت نه دی ورسپارلی.

۳- اسلام د ښځو د اخلاقو او حياء محافظت کړی، د ښځو د شهرت او کرامت په خوندي ساتلو کې يې کوښښ کړی، د ښځو عفت له بدو خبرو او ناوړه فکرونو څخه ژغوري، پر دې سربېره د دې لپاره چې بد اخلاقه خلک د ښځې لوري ته خپل ناوړه لاسونه ونه غځوي، پر ښځه يې د لاندې څيزونو مراعات او په پام کې نيول لازمي گرځولي دي:

---

۱- السجستاني، أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي السجستاني، وفات: ۲۷۵ه‍ـ. - سنن ابي داود - تحقيق: محمد محيي الدين عبد الحميد. خپرندوی: دار الفکر - دمشق. جلد: ۴ ، مخ: ۱۰۴. د حديث گڼه: ۴۱۰۰. دا حديث امام نووي رحمة الله عليه او امام سيوطي رحمة الله عليه صحيح گڼلی دی. / السيوطي، الإمام جلال الدين عبدالرحمن بن أبي بکر بن محمد بن سابق الدين السيوطي، وفات: ۹۱۱ه‍ـ. - الجامع الصغير من حديث البشير النذير - جلد: ۲ ، مخ: ۲۲۳.

۲- ابن حنبل، أبو عبد الله أحمد بن حنبل الشيباني، وفات: ۲۴۱ ه‍ـ. - مسند الامام احمد بن حنبل - خپرندوی: مؤسسة قرطبة - مصر. جلد: ۱۰ ، مخ: ۳۲۲. ۳۲۲. د حديث گڼه: ٦۱۸۰. دا حديث شيخ الباني رحمة الله عليه او امام سيوطي رحمة الله عليه صحيح گڼلی دی. / الالباني، محمد ناصر الدين الألباني، وفات: ۱۴۲۰ه‍ـ. - جلباب المرأة المسلمة - خپرندوی: المکتبة الإسلامية - عمان - الأردن. د چاپ کال: ۱۴۱۳ ه‍ـ. لومړی چاپ. مخ: ۱۴٦. / السيوطي، - الجامع الصغير من حديث البشير النذير - جلد: ۱ ، مخ: ۲۲۳.

أ. ښځه باید خپل غړ ټیټ کړي، خپل عفت او نظامت ته پاملرنه وکړي، پدې اړه الله تعالی فرمایلي دي: ﴿وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ﴾ [1]

ژباړه: او مؤمنو ښځو ته هم ووایه چې خپل نظرونه ښکته ساتي، د خپلو عورتونو ساتنه دې کوي.

ب. د حیاء له مخې خپلې جامې او زینت (ښایست) له افراط او تفریط پرته پټ وساتي، الله تعالی فرمایي: ﴿وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ﴾[2]

ژباړه: او خپل سینګار دې نه ښکاروي پرته له هغه چې په خپله راڅرګند شي او په خپلو سینو دې خپل پړوني واچوي. له (ماظهر) څخه په رانجو، ګوتګۍ، مخ او د لاس په ورغویو تفسیر شوی دی، خو په ځینو تفسیرونو کې بیا د پښو قدمونه هم ور سره زیات شوي دي.

ج. خپل پټ زینت او ښایست دې له خپل مېړه او محارمو پرته بل چا ته نه ښکاره کوي، لکه وېښته، غاړه، سینه، متې، پنډۍ او داسې نور، الله تعالی پدې اړه فرمایي: ﴿وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاءِ بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُولِي الْإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَى عَوْرَاتِ النِّسَاءِ وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِنْ زِينَتِهِنَّ وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَ الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾[3]

ژباړه: او خپل سینګار دې نه ښکاره کوي، مګر خپلو مېړونو ته، پلرونو ته، د مېړونو پلرونو ته، زامنو ته، د مېړونو زامنو ته، ورونړو ته، د ورونړو زامنو ته، د خویندو زامنو ته، خپلو خاصو ښځو ته، خپلو مریانو ته یې، خپلو هغو لاس لاندې نارینه ؤ ته چې شهوت والا نه وي او یا هغو ماشومانو ته چې لا د ښځو پټو خبرو باندې نه وي خبر شوي او خپلې پښې دې په ځمکه دومره په زوره نه وهي چې د هغوی پټ کړی سینګار څرګند کړی شي او اې مؤمنانو! تاسو ټول الله ته توبه وباسئ د دې لپاره چې بری در په برخه شي.

---

۱ – د النور سورت، ۳۱ آیت.

۲ – د النور سورت، ۳۱ آیت.

۳ – د النور سورت، ۳۱ ایت

د. ښځه باید په خبرو کولو کې با عزته او با وقاره وي، پدې اړه الله تعالی فرمایلي دی: ﴿فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِي فِي قَلْبِهِ مَرَضٌ وَقُلْنَ قَوْلًا مَعْرُوفًا﴾ (١)

ژباړه: نو په خبرو کې نزاکت مه کوئ چې بیا به هغه کس په تمه کې پرېوځي چې زړه کې یې رنځ وي او سمه (ځیره) خبره کوئ.

له دې څخه معلومېږي، چې نه ښځه له ښو خبرو کولو منعه شوې او نه یې آواز عورت دی، بلکې په ښو خبرو کولو مأموره ده، خو دا خبرې باید په نرمه لهجه نه، بلکې په ځیره لهجه وکړي، څو د مفسد انسان په زړه کې د فساد نیت او هیله پیدا نشي.

ه. ښځه باید له ټولو هغو شیانو څخه چې نارینه د دې لوري ته راکاږي، ډډه وکړي، ځکه دا کارونه د عفیفې او پاک لمنې ښځې سره مناسب نه دي، رسول اللهﷺ په یوه حدیث کې فرمایلي دي: «أيما امرأة استعطرت فمرت على قوم ليجدوا من ريحها فهي زانية»(٢) ژباړه: هره ښځه چې خپل ځان معطر کړي (عطر ووهي) وروسته په کومو سړیو چې تېرېږي او د دې د عطرونو بوی هغوی ته ورسېږي، نو دا زانیه ده. له دې څخه معلومېږي، چې ښځه باید دا کار ونه کړي.

و. له خپل مېړه او محارمو پرته به له پردیو سړیو سره خلوت نه کوي، تر څو له یوې خوا ښځه او نارینه دواړه په ګناه کې له اخته کېدلو څخه وژغورل شي او له بلې خوا د دروغو له تهمت څخه هم خوندي پاتې شي، پدې اړه رسول اللهﷺ فرمایلي دي: «لا يخلون رجلٌ بامرأة إلا ومعها ذو محرمٍ ولا تسافر المرأة إلا مع ذي محرم»(٣)

ژباړه: هېڅکله باید نارینه له پردۍ ښځې سره ګوښه نشي، مګر که له ښځې سره یې محرم و او نه به ښځه مسافره کېږي، ملګر له خپل محرم سره.

---

١ – د الأحزاب سورت، ٣٢ آیت

٢– النسائي، الامام أبو عبدالرحمن أحمد بن شعيب النسائي، وفات: ٣٠٣ هـ. – سنن الصغرى – خپرندوی: مكتب المطبوعات الإسلامية – حلب، د چاپ کال: ١٤٠٦ هـ. دویم چاپ. جلد: ٣٨ ، مخ: ١٢٦. د حدیث ګڼه: ٥١٢٦. حاکم رحمة الله عليه دا حدیث صحیح ګڼلی، خو شیخ الباني رحمة الله بیا حسن ګڼلی دی. / المباركفوري، الشيخ أبي الحسن عبيدالله بن العلامة محمد عبدالسلام المباركفوري، وفات: ١٤١٤ هـ. – مرعاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح – خپرندوی: إدارة البحوث العلمية والدعوة والإفتاء – الجامعة السلفية – بنارس الهند. د چاپ کال: ١٤٠٤هـ. = ١٩٨٤ م. درېم چاپ. جلد:٣ ، مخ: ١٠٢٩. / الالباني، – جلباب المرأة المسلمة – جلد:١ ، مخ: ١٣٦.

٣– مسلم، الامام أبو الحسن مسلم بن الحجاج القشيري النيسابوري، وفات: ٢٦١ هـ. – صحيح مسلم – خپرندوی: دار احياء الكتب العربية – فيصل عيسى البابى الحلبي. جلد: ٢ ، مخ: ٩٧٨. د حدیث ګڼه: ١٣٤١.

ز.  له اړتیا او ضروروت پرته به د پردیو نارینه وو مجلس ته نه ورځي او که د اړتیا له مخې ورتله، د هماغه اړتیا او ضرورت د پوره کېدلو وروسته به بېرته ترې وځي، لکه په جومات کې لمونځ ادا کول، د علم حلقو ته ورتلل، یا له خلکو سره د مرستې لپاره د هغوی مجلس او غونډې ته ورتلل او داسې نور. خو پدې ملاقات او کتلو کې به شرعي حدودو تر پښو نه لاندې کوي.

د اسلام دین په دې احکامو سره له یوې خوا د ښځې، ښځینه توب خوندي کوي، عفت او حیا یې له انحراف څخه ساتي او له بلې خوا د ښځې شرم او آبرو هم د تهمت کوونکو له تمهت او ګډو وډو خبرو څخه ژغوري، نو ښځه هم باید خپل نفس او فکر معتدل وساتي.

همدارنګه اسلام د دې احکامو له برکته نارینه هم له انحراف او سرغړولو څخه خوندي کړي، چې په پایله کې یې نه یوازې کورنۍ د نړېدلو او بېلېدلو څخه ژغورلې، بلکې ټولنه یې د سقوط او انحلال له لاملونو څخه محفوظه او خوندي کړې ده.[1]

## دریم مطلب: ښځه د مور په توګه:

اسلام ښځې ته د مورتوب له امله ډېر لوړ مقام ورکړی دی، د مور او پلار حق یې د خپل توحید او عبادت په څنګ کې ذکر کړی، اولادونه یې له خپل مور او پلار سره په نیک او غوره چلند مکلف ګرځولي او فرمایلي یې دي: ﴿وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا ۞ وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُلْ رَبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا﴾[2]

ژباړه: او ستا رب پرېکړه کړې ده چې تاسې د بل هېچا عبادت مه کوئ مګر یوازې د هغه له مور او پلار سره ښه چار چلن وکړئ. که له تا سره له هغو نه یو یا دواړه زړښت ته ورسېږي نو هغو ته اُف قدرې مه وایه، مه هغو ته په توربرېښ ځواب ورکوه، بلکې له هغو سره په درناوي خبرې کوه او په نرمۍ او رحم سره د هغو په وړاندې مات غاړی اوسه او دا دعا کوه چې "پروردګاره! پر دوی رحم وکړه لکه څنګه چې دوی له زړه سوي او خواخوږۍ سره په ماشومتوب کې زه پاللی وم.

---

۱ – القرضاوي، – جایگاه زن از دیدگاه اسلام – مخونه: ۲۲– ۲۹.

۲ – د الإسراء سورت، ۲۳ ، ۲۴ آیتونه.

همدارنگه په بل آيت کې الله تعالی فرمايلي دي: ﴿وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا وَإِنْ جَاهَدَاكَ لِتُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ﴾[۱]

ژباړه: موږ انسان ته توصيه کړېده چې له خپل مور او پلار سره نيک سلوک وکړه، خو که هغوی پر تا فشار راوړي چې ته له ما سره داسې کوم (معبود) شريک ونيسه چې ته يې زما د شريک په توګه نه پيژنې، نو د هغو خبره مه منه، همدا زما لوري ته ستاسې ټولو راګرځېدل دي، بيا به زه تاسې ته وښيم چې تاسې څه کول.

څرنګه چې مور د پلار په پرتله له اولاد سره ډېرې ستونزې لکه د حمل، زېږولو، شيدې ورکولو او داسې نورې زياتې ستونزې ګالي نو له امله يې اسلام د مور په حق ډېر ټينګار کړی او فرمايلي يې دي: ﴿وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أُمُّهُ وَهْنًا عَلَى وَهْنٍ وَفِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ إِلَيَّ الْمَصِيرُ﴾ [۲]

ژباړه: او موږ انسان ته د خپل مور او پلار د حق پيژندنې تاکيد کړی دی. د هغه مور د کمزورۍ د پاسه کمزورۍ په حال کې هغه را اخيستی په خپله ګېډه کې يې وساته او دوه کلونه يې په تي ورکولو ولګېدل. (له همدې امله موږ هغه ته نصيحت وکړ چې) زما شکر وکړه او د خپل مور او پلار شکر پر ځای کړه، همدا زما لوري ته ستا راګرځېدل دي.

د مور په حق کې تر ټولو عجيبه دا ده چې اسلام د کافرې مور خدمت هم پر اولاد لازمي کړی دی، د ابو بکر صديقﷺ لور اسماء رضی الله عنها له رسول اللهﷺ څخه د خپلې مشرکې مور د خدمت کولو په اړه پوښتنه وکړه، چې آيا خدمت يې وکړم؟ رسول اللهﷺ ورته وفرمايل: «نَعَمْ صِلِي أُمَّكِ»[۳] ژباړه: هو، د خپلې مور خدمت کوه.

همدارنګه رسول اللهﷺ په خپلو ډېرو مبارکو احاديثو کې د مور لوړ مقام په څرګندو ټکو کې ذکر کړی او فرمايلي يې دي:

---

۱ – د العنکبوت سورت، ۸ آيت.

۲ – د لقمان سورت، ۱۴ آيت.

۳– البخاري، محمد بن إسماعيل أبو عبد الله البخاري الجعفي، وفات: ۲٦۵ ه‍. – صحيح البخاري – تحقيق: مصطفى ديب البغا، خپرندوی: دار ابن كثير– اليمامة – بيروت، د چاپ کال: ۱۴۰۷ه‍–. لومړی چاپ. جلد: ۱ ، مخ: ۳٦٦. د حديث ګڼه: ۲٦۲۰، ۵۹۷۹. / مسلم، – صحيح مسلم– جلد: ۲، مخ: ٦۹٦. د حديث ګڼه: ۱۰۰۲.

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ! مَنْ أَحَقُّ النَّاسِ بِحُسْنِ صَحَابَتِي؟ قَالَ: «أُمُّكَ». قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: «أُمُّكَ. (ثُمَّ أُمُّكَ) ». قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: «أُمُّكَ. (ثُمَّ أُمُّكَ) ». قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: «ثُمَّ أَبُوكَ»** [1]

**ژباړه: ابو هريرة رضي الله عنه روايت كوي چې: رسول الله ﷺ ته يو سړى راغى او ويې ويل: اې د الله رسوله! زما د ښه او غوره مجلس تر ټولو ډېر مستحق څوک دى؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: ستا مور. بيا هغه سړي وويل: وروسته څوک؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ستا مور. بيا هغه سړي وويل: وروسته څوک؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ستا مور. بيا هغه سړي وويل: بيا څوک؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ستا پلار.**

**پدې مبارک حديث کې رسول الله ﷺ لومړى درې ځلې مور ذکر کړه او په څلورم ځل يې پلار ياد کړ، له دې څخه معلومېږي، چې د مور حق له پلار څخه درې ځله ډېر دى.**

**په بل حديث کې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: عن أنس بن مالك رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: «الجنة تحت أقدام الأمهات»** [2]

**ژباړه: له انس رضي الله عنه څخه روايت دى، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: جنت د مورانو تر پښو لاندې دى.**

**همدارنگه کفايي فرض جهاد ته د مور له اجازې پرته تلل جواز نه لري، ځکه د مور خدمت کول د هماغه جهاد په اندازه ثواب لري، رسول الله ﷺ ته يو سړى راغى جهاد ته د تللو اجازه يې ترې وغوښتنه. رسول الله ﷺ پوښتنه ترې وکړه، چې مور دې ژوندۍ ده؟ هغه وويل: هو، ژوندۍ ده. رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: «الْزَمْهَا فَإِنَّ الْجَنَّةَ عِنْدَ رِجْلِهَا»** [3] **ژباړه: د هغې خدمت کوه، ځکه جنت د هغې له پښو سره دى.**

**کله چې مور ته اسلام دومره لوړ مقام او لوړه مرتبه ورکړې، مور هم بايد خپل مقام وپېژني او خپل اولادونه په ښه ډول وروزي، د اسلام احکام ور زده کړي، د ناوړه کړنو له زيانونو يې خبر کړي، د الله تعالى عبادت او د ښو**

---

**۱– بخاري، – صحيح البخاري – جلد: ۵ ، مخ: ۲۲۲۷، د حديث گڼه: ۵٦۲٦.**

**۲– القضاعي، محمد بن سلامة بن جعفر أبو عبد الله القضاعي، وفات: ۴۵۴هـ. – مسند الشهاب – خپرندوى: مؤسسة الرسالة – بيروت، د چاپ کال: ۱۴۰۷ هـ.ق.– ۱۹۸٦م. دويم چاپ. جلد: ۱ ، مخ: ۱۰۲. امام زرکشي، امام سيوطي او شيخ الباني رحمة الله عليهم دا حديث ضعيف گڼلى دى. / الزركشي، – التذكرة في الأحاديث المشتهرة – جلد:۱، ۱۹۳. / السيوطي، – الجامع الصغير من حديث البشير النذير – جلد:۱، مخ: ۳۳۳. / الالباني، – الجامع الصغير وزيادته – جلد:۱، مخ: ٦۴۲.**

**۳– ابن حنبل،– مسند أحمد – جلد: ۲۴، مخ: ۲۹۹. د حديث گڼه: ۱۵۵۳۸. دا حديث شيخ الباني رحمة الله عليه صحيح او حسن گڼلى دى./ الالباني، محمد ناصر الدين الألباني، وفات: ۱۹۹۹م. – صحيح الترغيب والترهيب – خپرندوى: مکتبة المعارف – الرياض. پنځم چاپ. جلد: ۲ ، مخ: ۳۲۷.**

کارونو ترسره کولو ته یې وهڅوي او د اولاد په اړه د خپل مورتوب پر مهربانۍ او عطوفت د حق آواز غوره او مخته کړي.(۱)

## خلورم مطلب: ښځه د لور په توګه:

د اسلام مبین دین د نورو ادیانو پر خلاف نجلۍ نه یوازې د پیغور لامل نه ګڼي او نه یې پلار ته د دې د وژلو، پلورلو او په اړه یې د داسې نورو ناروا کارونو د ترسره کولو جواز ورکوي، بلکې نجلۍ یې هم د هلک په څېر د پلار لپاره نعمت ګڼلې، چې الله تعالی یې پلار ته ور په برخه کوي، الله تعالی پدې اړه فرمایلي دي: ﴿لِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ يَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ إِنَاثًا وَيَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ الذُّكُورَ ۞ أَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَإِنَاثًا وَيَجْعَلُ مَنْ يَشَاءُ عَقِيمًا إِنَّهُ عَلِيمٌ قَدِيرٌ﴾ (۲)

ژباړه: الله د آسمانونو او ځمکې د باچایۍ مالک دی، څه چې غواړي پیدا کوي یې چا ته یې چې خوښه شي نجونې ورکوي، چا ته یې چې خوښه شی هلکان ورکوي او چا ته چې یې خوښه شي هلکان او نجونې ګډ ورکوي او چا ته یې چې خوښه شي شنډوي یې، هغه ته هر څه معلوم دي او په هر څه قادر دی.

قرآن کریم په ډاګه کړې چې د ځینو لورانو اغېز له زوی څخه ډېر او ښه وي، لکه څرنګه چې د بي بي مریم په هکله فرمايي: ﴿إِذْ قَالَتِ امْرَأَتُ عِمْرَانَ رَبِّ إِنِّي نَذَرْتُ لَكَ مَا فِي بَطْنِي مُحَرَّرًا فَتَقَبَّلْ مِنِّي إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ۞ فَلَمَّا وَضَعَتْهَا قَالَتْ رَبِّ إِنِّي وَضَعْتُهَا أُنْثَى وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا وَضَعَتْ وَلَيْسَ الذَّكَرُ كَالْأُنْثَى وَإِنِّي سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ وَإِنِّي أُعِيذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ ۞ فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُولٍ حَسَنٍ وَأَنْبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا قَالَ يَا مَرْيَمُ أَنَّى لَكِ هَذَا قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ﴾ (۳)

ژباړه: (الله هغه وخت اورېدل ) کله چې د عمران ښځې ویل چې: زما پروردګاره! زه دا آزاد اولاد چې زما په ګېډه کې دی ستا له پاره نذر کوم، هغه به همدا ستا کارونو ته وقف وي زما دا سوغات قبول

---

۱- القرضاوي، - جایگاه زن از دیدگاه اسلام - مخونه: ۵۴- ۵۵.

۲- د الشوری سورت، ۴۹ ، ۵۰ آیتونه.

۳- د آل عمران سورت، ۳۵ ، ۳۷ آیتونه.

کړه، ته اوربېدونکی او پوهېدونکی یې، بیا چې کله یې هغه ماشوم وزېږاوه؛ نو هغې وویل: زما پروردګاره! زما خو لور زېږېدلې ده په داسې حال کې څه چې هغې زېږولې وو، الله وربانديې پوره خبر و او هلک د نجلۍ غوندې نه وي هر څه چې ده، ما د هغې نوم مریم ایښی دی او زه هغې او د هغې راتلونکي ځوځات ته د رټل شوي شیطان له شر څخه ستا پناه غواړم، په پای کې د هغې رب هغه نجلۍ په خوښۍ سره قبوله کړه، هغه یې ډېره ښه نجلۍ وروزله او زکریا یې د هغې پالونکی وګرځوه، زکریا به چې هر وخت محراب ته ورته، نو له هغې سره به یې د خوراک او څښاک څه ناڅه میندل. پوښتنه به یې کوله: مریم! دا تا ته له کومه راځي؟ هغې به ځواب ورکاوه، د الله له لوري راغلي دي، د الله چې چا ته خوښه شي بې حسابه روزي ورکوي.

الله تعالی هغه خلک چې خپل اولادونه وژني سخت ټکولي او په دوی یې په کلکو ټکو رد کړی او داسې یې فرمایلي دی: ﴿قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ قَتَلُوا أَوْلَادَهُمْ سَفَهًا بِغَيْرِ عِلْمٍ﴾[1]

ژباړه: حقیقتاً هغو خلکو ډېر تاوان وکړ چې په جهالت او ناپوهۍ سره یې خپل اولادونه ووژل.

په بل آیت کې فرمایي: ﴿وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَاقٍ نَحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْ إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْئًا كَبِيرًا﴾[2]

ژباړه: او خپل اولاد مو د نېستۍ له وېرې مه وژنئ، موږ هغوی ته هم روزي ورکوو او تاسو ته هم، د هغوی وژل خو یقیناً لویه ګناه ده.

رسول الله ﷺ په خپلو زرینو ویناوو کې دا څرګنده کړې، چې جنت د هغو پلرونو لپاره نېکه بدله ده، چې دوی له خپلو لورانو سره ښه او غوره چلند کوي، د هغوی نېکې روزنې ته پاملرنه کوي، د الله تعالی له حقونو یې خبروي، تر څو لویې شي او خاوندانو ته یې په نکاح کړي، نو په جنت کې به دا سړی د رسول

---

۱ – د الأنعام سورت، ۱۴۰آیت.

۲ – د الإسراء سورت، ۳۱ آیت.

اللهﷺ په څنـــګ کـــې اوســـېږي، رســـول اللهﷺ فرمـــايلي دي: «من عال جاريتين حتى تبلغا جاء يوم القيامة أنا وهو وضم أصابعه»[۱]

ژباړه: څوک چې دوې لوڼانې وپالي، زه او هغه به د قيامت پـــه ورځ داســـې راځـــو او بيـــا يـــې خپلـــې دوې ګوتې سره يو ځای کړلې.

له لوڼانو سره ښه چلند او د دوی ښه تربيه جنت ته د تللو وسيله ده، ام المؤمنين حضرت عايشه رضی الله عنها روايت کوي او فرمايي: «دَخَلَتِ امْرَأَةٌ و مَعَهَا ابْنَتَانِ لَهَا تَسْأَلُ فَلَمْ تَجِدْ عِنْدِي شَيْئًا غَيْرَ تَمْرَةٍ فَأَعْطَيْتُهَا إِيَّاهَا فَقَسَمَتْهَا بَيْنَ ابْنَتَيْهَا وَلَمْ تَأْكُلْ مِنْهَا ثُمَّ قَامَتْ فَخَرَجَتْ فَدَخَلَ النَّبِيُّﷺ عَلَيْنَا فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ مَنِ ابْتُلِيَ مِنْ هَذِهِ الْبَنَاتِ بِشَيْءٍ كُنَّ لَهُ سِتْرًا مِنَ النَّارِ»[۲]

ژباړه: يوه ښځه چې دوې لوڼانې يې ورسره وې، زما کور ته راننوته او د څه شي غوښتنه يې وکړه، خو زما سره له يوې خرما پرته نور هېڅ شی نه و، هغه مې ورکړه. ښځې هغه خرما د دواړو لوڼانو تر منځ ووېشله او خپله يې ونه خوړله، وروسته جګه شوه او ووتله. له دې څخه وروسته رسول اللهﷺ کور ته راغی او ما له دې پېښې خبر کړ. رسول اللهﷺ وفرمايل: هر هغه څوک چې له دې لوڼانو سره ډېر لږ احسان او نيکي هم وکړي، هغه به د ده لپاره د دوزخ له اور څخه پرده شي.

له دې حديث څخه معلومېږي، چې له لوڼانو سره نيکي کول، د هغوی اړتياوې پوره کول او ورسره ښه چلند هغه څخه دي، چې انسان د دوزخ له اور څخه پرې ژغورل کېږي.

په بل حديث کې رسول اللهﷺ فرمايلي دي: «من كان له ثلاث بنات أو ثلاث أخوات أو ابنتان أو أختان فأحسن صحبتهن واتقى الله فيهن فله الجنة»[۳]

ژباړه: که څوک درې لوڼانې يا درې خورانې او يا دوې لوڼانې او يا دوې خورانې ولري او له هغوی سره ښه چلند وکړي او د دوی په حق کې له الله تعالی څخهووېرېږي (ظلم پرې ونه کړي) نو دغه شخص به جنت ته ولاړ شي.

---

۱- مسلم، - صحيح مسلم - جلد: ۴ ، مخ: ۲۰۲۷. د حديث ګڼه: ۲۶۳۱.

۲- البخاري، - صحيح البخاري- جلد: ۱ ، مخ: ۲۲۷. د حديث ګڼه: ۱۴۱۸.

۳- الترمذي، أبو عيسى محمد بن عيسى بن سورة، وفات: ۲۷۹ هـ. - سنن الترمذي - تحقيق: عبدالرحمن محمد عثمان، خپرندوی: دار الفكر - بيروت. د چاپ کال: ۱۴۰۳ هـ. دويم چاپ. جلد: ۴ ، مخ: ۳۲۰. د حديث ګڼه: ۱۹۱۶. دا حديث شيخ الباني رحمة الله عليه صحيح لغيره ګڼلی دی. / الالباني، - صحيح الترغيب والترهيب - جلد: ۲ ، مخ: ۲۰۵.

په بل حديث کې رسول اللهﷺ فرمايلي دي: «مَنْ كَانَ لَهُ ثَلَاثُ بَنَاتٍ فَصَبَرَ عَلَى لَأْوَائِهِنَّ وَضَرَّائِهِنَّ وَسَرَّائِهِنَّ، أَدْخَلَهُ اللَّهُ الْجَنَّةَ بِفَضْلِ رَحْمَتِهِ إِيَّاهُنَّ. فَقَالَ رَجُلٌ: أَوْ ثِنْتَانِ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: أَوْ ثِنْتَانِ. فَقَالَ رَجُلٌ: أَوْ وَاحِدَةٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: أَوْ وَاحِدَةٌ»[1] ژباړه: که څوک درې لورانې ولري، د هغوی پر ستونزو، ناروغيو او خوښيو صبر وکړي، الله تعالی به هغه په خپل فضل سره پر دوی د مهربانۍ له امله جنت ته داخل کړي. يو سړي پوښتنه وکړه، چې اې د الله تعالی رسوله! که د چا دوې لورانې وي؟ رسول اللهﷺ ورته وويل: که دوې وي هم. بيا يې پوښتنه وکړه، چې اې د الله تعالی رسوله! که يوه وي؟ رسول اللهﷺ ورته وويل: که يوه هم وي (همدومره ثواب به تر لاسه کوي).

د اسلام مبين دين لورانو ته د پلرونو په زړونو کې ځانگړې ځای ورکړی، لکه څرنگه چې رسول اللهﷺ د خپلې لور بي بي فاطمې رضی الله عنها په اړه فرمايلي دي: «فَاطِمَةُ بَضْعَةٌ مِنِّي فَمَنْ أَغْضَبَهَا أَغْضَبَنِي»[2] ژباړه: فاطمه زما د بدن ټوټه ده، نو هر هغه څوک چې دا غوسه کړي، په حقيقت کې ما په غوسه کوي.

نو دې ټولو نصوصو څخه په ډاگه څرگندېږي، چې اسلامي شريعت پلار ته دا حق نه ورکوي، چې خپله لور وپلوري او يا يې د دې له خوښې پرته چا ته په نکاح ورکړي.[3]

## پنځم مطلب: ښځه د مېرمنې په توگه:

د اسلام په راتگ سره د ښځې پر وړاندې تاوتريخوالی او ناخوالې له منځه ولاړې، اسلام پر رهبانيت د بطلان کرښه بې راښکله، انسان يې له دنيوي ژوند سره د اړيکو له پرېکولو منعه او نکاح کولو ته يې وهڅاوه او دا اړيکې يې په کايناتو کې د الله تعالی د قدرت او وحدانيت نښه وگڼله، الله تعالی پدې اړه فرمايي: ﴿وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ﴾ [4]

---

١– ابن حنبل، – مسند أحمد – جلد: ١۴ ، مخ: ١۴٨. د حديث گڼه: ٨۴٢۵ . الشيخ إسماعيل بن محمد العجلوني الجراحي وايي دا حديث حاکم صحيح گڼلی دی، خو شيخ الباني او ابن حبان يې ضعيف بولي. / العجلوني، الشيخ إسماعيل بن محمد العجلوني الجراحي، وفات: ١١٦٢ هـ. – كشف الخفاء – خپرندوی: دار الكتب العلمية بيروت – لبنان. د چاپ کال: ١۴٠٨ هـ. ١٩٨٨ م. دويم چاپ. جلد: ٢ ، مخ: ٢٧٣. / الالباني، محمد ناصر الدين الألباني، وفات: ١٩٩٩م. – السلسلة الضعيفة – خپرندوی: مكتبة المعارف – الرياض. جلد:١ ، مخ: ۵٨۵. / ابن حبان، محمد بن حبان بن أحمد أبو حاتم التميمي البستي، وفات: ٣۵۴هـ.، – صحيح ابن حبان – خپرندوی: مؤسسة الرسالة – بيروت. د چاپ کال: هـ. ١۴١۴ هـ. = ١٩٩٣م، دويم چاپ. جلد: ٢ ، مخ: ١٨٩.

٢– البخاري، – صحيح البخاري – جلد:١ ، مخ: ۴٢. د حديث گڼه: ٣٧١۴.

٣– القرضاوي، – جايگاه زن از ديدگاه اسلام – مخونه: ۵٨– ٦٣.

۴ – د الروم سورت، ٢١ آيت.

ژباړه: او د هغه له نښانو څخه دا چې تاسې ته يې خپله ستاسې له جنسه مېرمنې پيدا کړې دي تر څو له هغوی سره آرام ومومئ او ستاسې (ښځې او خاوند) تر منځ يې مينه او خواخوږي واچوله، يقيناً په دې کې هغو خلکو ته چې فکر کوي (سترې) نښانې دي.

رسول اللهﷺ تل خپلو پيروانو ته د خپلو مېرمنو سره د ښه او غوره چلند توصيه کړې او دوی يې په دې اړه له الله تعالى څخه وېرولي دي. رسول اللهﷺ د خپلې ارزښتناکې وينا چې په حجة الوداع کې يې مسلمانانو ته واورله، يوه برخه د ښځو لپاره ځانګړې کړه او ويې فرمايل: «فَاتَّقُوا اللَّهَ فِى النِّسَاءِ فَإِنَّكُمْ أَخَذْتُمُوهُنَّ بِأَمَانَةِ اللَّهِ وَاسْتَحْلَلْتُمْ فُرُوجَهُنَّ بِكَلِمَةِ اللَّهِ»(1)

ژباړه: د ښځو په هکله له الله تعالى څخه ووېرېږئ، ځکه دوی مو د الله تعالى په امانت سره اخيستې دي – له الله تعالى سره مو پدې عهد کړی، چې له خپلو مېرمنو سره به نرمي او خواخوږي کوئ– او د دوی شرم ځايونه مو خپلو ځانونو ته د الله تعالى په کلمه سره حلال ګرځولي دی.

رسول اللهﷺ په بل حديث کې فرمايلي دي: «إِنَّمَا النِّسَاءُ شَقَائِقُ الرِّجَالِ»(2) يعنې ښځې هم د نارينه وو په څېر دی.

اسلام ښځې له نارينه وو سره برابرې ګڼلې دي، لکه څرنګه چې په پلار باندې د اولادونو ښه روزنه لازمه ده، همدارنګه په مور باندې هم لازمه ده، څو د دوی دواړو د زحمت او خوارۍ په پايله کې يوه ښه پاکه او له نبوي لارښوونو سره سمه کورنۍ رامنځ ته شي.

همدرنګه کله چې يوې ډلې صحابه کرامو غوښتل، څو د عبادت لپاره ځانونه وقف او له کورنۍ څخه ګوښه شي، د ورځې روژه ونيسي او د شپې نفلونه او قيام الليل وکړي، رسول اللهﷺ ورته وفرمايل: «أَنْتُمُ الَّذِينَ قُلْتُمْ كَذَا وَكَذَا؟ أَمَا وَاللهِ إِنِّي لَأَخْشَاكُمْ لِلهِ وَأَتْقَاكُمْ لَهُ لَكِنِّي أَصُومُ وَأُفْطِرُ وَأُصَلِّي وَأَرْقُدُ وَأَتزَوَّجُ النِّسَاءَ فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي»(3)

---

۱– مسلم، – صحيح مسلم – جلد:۲ ، مخ: ۸۸۹. باب: حجة النبيﷺ. د حديث ګڼه: ۱۲۱۸.

۲– السجستاني، – سنن أبى داود – جلد: ۱ ، مخ: ۹۵. د حديث ګڼه: ۲۳۶. دا حديث هم له عايشې رضي الله عنها روايت شوی او هم له أنس بن مالكﷺ څخه، امام السيوطي او شيخ الباني رحمة الله دواړه روايتونه صحيح ګڼي، خو ابن قطان رحمة الله عليه وايي: دا حديث د عايشې رضي الله عنها په روايت ضعيف او د أنسﷺ په روايت صحيح دی. / السيوطي، – الجامع الصغير من حديث البشير النذير – جلد: ۱، مخ: ۲۱۹. / الالباني، – الجامع الصغير وزيادته – جلد: ۱، مخ: ۴۱۰. / العجلوني، – كشف الخفاء – جلد:۱ ، مخ: ۲۱۴.

۳– البخاري، – صحيح البخاري– جلد: ۱ ، مخ: ۱. د حديث ګڼه: ۵۰۶۳. / مسلم: – صحيح مسلم – جلد: ۲ ، مخ: ۱۰۲۰. د حديث ګڼه: ۱۴۰۰.

ژباړه: آیا تاسو هغه کسان یاست، چې داسې او داسې مو ویل؟ په الله سوګند یادوم، چې ستاسو په پرتله زه له الله تعالی څخه ډېر وېرېږم او ډېره تقوا کوم، خو بیا هم روژه نیسم او هم یې ماتوم ، لمونځ هم کړم او ویده کېږم هم او له ښځو سره نکاح هم کوم، نو څوک چې زما له سنتو مخ وګرځوي هغه له ما څخه نه دی.

اسلام نېکه ښځه د مسلمان لپاره غوره سرمایه او له ایمان او تقوا څخه وروسته یې د مسلمان د نېکبختۍ لامل ګڼلې ده، په حدیث شریف کې ذکر دي، چې رسول اللهﷺ حضرت عمرؓ ته وفرمایل: «أَلاَ أُخْبِرُكَ بِخَيْرِ مَا يَكْنِزُ الْمَرْءُ الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ إِذَا نَظَرَ إِلَيْهَا سَرَّتْهُ وَإِذَا أَمَرَهَا أَطَاعَتْهُ وَإِذَا غَابَ عَنْهَا حَفِظَتْهُ»[1]

ژباړه: آیا په هغه ښه شي دې خبر نه کړم، چې سړی یې د ځان لپاره ذخیره کوي؟ دا هغه نېکه او صالحه ښځه ده، چې کله ورته وګورې خوشحاله دې کړي، کله چې امر ورته وکړې هغه ومني او کله چې له کور څخه بیرون ولاړ شې، هغه د کور او ځان ساتنه وکړي.

په بل حدیث کې رسول اللهﷺ فرمایلي دي: «أَرْبَعٌ مَنْ أُعْطِيَهُنَّ فَقَدْ أُعْطِيَ خَيْرَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ: قَلْبٌ شَاكِرٌ، وَلِسَانٌ ذَاكِرٌ، وَبَدَنٌ عَلَى الْبَلَاءِ صَابِرٌ، وَزَوْجَةٌ لَا تَبْغِيهِ خَوْنًا فِي نَفْسِهَا وَلَا مَالِهِ»[2]

ژباړه: څلور شیان دي، چا ته چې الله تعالی هغه څلور واړه ورکړل، په حقیقت کې یې هغه ته د دنیا او آخرت ټول خیر او ښه شیان ورکړي دي: شاکر زړه، ذاکره ژبه، په مصیبتونو او کړاوونو صبر کوونکی بدن او داسې ښځه چې د خپل ځان او د مېړه د مال په اړه ورسره د خیانت فکر نه وي.

همدرانګه رسول اللهﷺ فرمایلي دي: «الدنیا متاع وخیر متاع الدنیا المرأة الصالحة»[3]

ژباړه: دنیا متاع ده – داسې شی ده، چې انسان پرې ګټه اخلي– او د دنیا تر ټولو ښه او غوره متاع نېکه او صالحه ښځه ده.

په بل حدیث کې فرمایي: «مَنْ رَزَقَهُ اللهُ امْرَأَةً صَالِحَةً فَقَدْ أَعَانَهُ عَلَى شَطْرِ دِينِهِ، فَلْيَتَّقِ اللهَ فِي الشَّطْرِ الْبَاقِي»[1]

---

۱– السجستاني، – سنن أبی داود – جلد: ۲ ، مخ: ۵۰. د حدیث ګڼه: ۱۶۶۶. امام سیوطي رحمة الله علیه دا حدیث صحیح ګڼلی دی. / السیوطي: – الجامع الصغیر من حدیث البشیر النذیر – جلد:۱ ، مخ: ۱۴۸.

۲– الطبراني، أبو القاسم سلیمان بن أحمد الطبراني، وفات: ۳۶۰هـ. – المعجم الأوسط – خپرندوی: دار الحرمین – القاهرة، د چاپ کال: ۱۴۱۵هـ. جلد: ۷ ، مخ: ۱۷۹. د حدیث ګڼه: ۷۲۱۲. / امام سیوطي رحمة الله علیه دا حدیث حسن ګڼلی او شیخ الباني رحمة الله علیه ضعیف ګڼلی دی. / سیوطي، – الجامع الصغیر من حدیث البشیر النذیر – جلد: ۱ ، مخ: ۷۱. / الالباني، – الجامع الصغیر وزیادته – جلد:۱ ، مخ: ۱۷۷.

۳– مسلم،– صحیح مسلم – جلد: ۲ ، مخ: ۱۰۹۰. د حدیث ګڼه: ۱۴۶۷.

ژباړه: چا ته چې الله تعالی نېکه او صالحه ښځه په برخه کړه، نو له ده سره یې په نیمايي دین کې مرسته وکړه او په پاتې برخه کې دې له الله تعالی څخه وویرېږي.

اسلام د ښځې مقام د مېرمنې په توګه دومره لوړ کړی، چې د مېړه خدمت او د هغه د حقونو پوره کول یې له في سبیل الله جهاد سره برابر ګڼلي دي، ابن عباس رضی الله عنهما روایت کوي، چې رسول اللهﷺ ته یوه ښځه راغله، لینة نومېده، ورته یې وویل: زه د ښځو استازې یم، تا ته یې رالېږلې یم، زما خبره د هغوی خبره ده، وروسته یې خپله خبره داسې بیان کړه، الله تعالی زموږ د نارینه او ښځو ټولو رب او پروردګار دی، ته د الله تعالی رسول یې چې نارینه او ښځو ټولو ته یې رالېږلی یې. الله تعالی په نارینه وو جهاد فرض کړی، که شهیدان شي، نو ژوندي دي او د الله په وړاندې روزي ورکول کېږي، که په خپل مرګ ومري، الله تعالی ورته پوره اجر ورکوي او که له جهاد څخه وروسته خپل کور ته را وګرځي بیا هم الله تعالی پوره ثواب ورکوي، نو موږ ښځې چې د دوی خدمت کوو، د ناروغانو درملنه یې کوو او په ټیپانو یې پټې ړدو، موږ ته د دې کارونو اجر او ثواب شته؟ رسول اللهﷺ ورته وفرمایل: «أبلغي من لقیت من النساء أن طاعة الزوج واعترافا بحقه یعدل ذلك وقلیل منكن من یفعله»[٢]

ژباړه: اې د ښځو استازې! هغو ښځو ته چې ورسره مخامخ کېږې، دا ووایه چې، د مېړه امر منل او د هغه حق پوره ادا کول له دې ټولو سره برابر دي، خو له تاسو څخه ډېرې کمې ښځې دي، چې دا کارونه کوي.[٣]

## شپږم مطلب: ښځه د ټولنې د غړې په توګه:

د اسلام دښمنانو دا مشهوره کړې، چې اسلام ښځې د څلور دېوالونو بندیانې جوړول غواړي، یو متل هم جوړ شوی وايي: ښځه یا د کور ده یا د ګور. آیا دوی د خپل قول لپاره په قرآن کریم یا نبوي احادیثو کې کوم صحیح سند لري؟ یا د دې قول لپاره د اسلام له لومړیو دریو پېړیو څخه چې تر ټولو غوره پېړۍ دي کوم سند یا شاهد لري؟

---

١- البيهقي، أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخسروجِردي الخراساني، أبو بكر البيهقي، وفات: ٤٥٨هـ. - شعب الإيمان - خپرندوی: كتبة الرشد - رياض. د چاپ کال: ١٤٢٣ هـ. = ٢٠٠٣ م ، لومړی چاپ. جلد: ٧ ، مخ: ٣٤١. د حدیث ګڼه: ٥١٠١. امام سیوطي رحمة الله علیه دا حدیث صحیح ګڼلی او شیخ الباني رحمة الله علیه وايي چې ضعیف دی. / سیوطي، - الجامع الصغير من حديث البشير النذير - جلد: ٢ ، مخ: ٣٢٨./ الالباني، - الجامع الصغير وزيادته - جلد: ١ ، مخ: ١٢٣٨.

٢- البزار، ابو بكر أحمد بن عمرو بن عبد الخالق بن خلاد بن عبيد الله العتكي، البزار، وفات: ٢٩٢هـ . - مسند البزار - خپرندوی: مكتبة العلوم والحكم - المدينة المنورة. د چاپ کال: ١٩٨٨ - ٢٠٠٩ م. لومړی چاپ. جلد: ١١ ، مخ: ٣٧٧. د حدیث ګڼه: ٥٢٠٩. / شیخ الباني رحمة الله علیه دا حدیث ضعیف ګڼلی دی./ الالباني، - ضعيف الترغيب والترهيب - جلد: ٢ ، مخ: ٥.

٣- القرضاوي، - جایګاه زن از دیدګاه اسلام - مخونه: ٧٣- ٧٦.

نه، هېڅکله نه، قرآن کريم نارينه او ښځه يو له بل سره شريک کړي، څو د ژوند ډېر لوی او ارزښتناک مسؤوليتونه يو له بل سره يو ځای پر خپلو اوږو بار او تر مطلوب منزله يې ورسوي، چې تر ټولو لومړی د امر بالمعروف او نهي عن المنکر مسؤوليت دی، الله تعالی پدې اړه فرمايي: ﴿وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَيُطِيعُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُولَئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾ [1]

ژباړه: او مؤمنان او مؤمناني يو د بل دوستان دي، د ښېگنی امر کوي، له بديو ايسارول کوي، لمونځونه تر سره کوي، زکات ورکوي او د الله او د هغه د رسول اطاعت کوي، دا هغه کسان دي چې الله به ورباندې رحم وکړي بې شکه الله ځيرک برلاسی دی.

له همدې امله وينو، کله چې امير المؤمين حضرت عمر فاروقؓ د خپل خلافت په دوره کې، پر منبر د جمعې د لمانځه خطبه بيانوله، نو د ښځو د مهر په ډېر والي يې انتقاد وکړ او ويې فرمايل: د ښځو مهرونه بايد کم شي. پدې وخت کې يوه ښځه ورته پورته شوه او ويې ويل: الله تعالی موږ ته ډېر مالونه راکړي، پداسې حال کې چې عمر يې له موږ څخه اخلي او دا مبارک آيت يې تلاوت کړ: ﴿وَإِنْ أَرَدْتُمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَكَانَ زَوْجٍ وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنْطَارًا فَلَا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيْئًا أَتَأْخُذُونَهُ بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُبِينًا﴾ [2]

ژباړه: او که مو يوه ښځه په بلې بدلول غوښتل او د هغوی کومې يوې ته مو ډېر مال هم ورکړی وي نو بېرته به هيڅ شی نه ترې اخلئ، نو آيا په تور تپلو او ښکاره گناه به يې اخلئ؟

د دې آيت په اورېدلو سره امير المؤمنين حضرت عمر فاورقؓ نه يوازې چې غلی شو، بلکې په لوړ آواز يې وفرمايل: «امرأة أصابت ورجل أخطأ» [3] يعنې ښځه په حقه ده او عمر تېروتلی دی.

رسول اللهﷺ د زده کړې په اړه فرمايلي دي: «طلب العلم فريضة على كل مسلم»[4] يعنې د علم زده کړه په هر مسلمان فرض ده. د ټولو علماوو په اتفاق سره د مسلم له لفظ څخه نارينه او ښځه دواړه مراد دي، په ښځه باندې

---

۱– د التوبة سورت، ۷۱ آيت.

۲ – د النساء سورت، ۲۰ آيت.

۳ – الحميدي، محمد بن فتوح بن عبد الله بن فتوح بن حميد الأزدي الميورقي الحَمِيدي أبو عبد الله بن أبي نصر، وفات: ۴۸۸ھ–. – الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم – تحقيق: د. علي حسين البواب. خپرندوی: دار ابن حزم – لبنان– بيروت. د چاپ کال: ۱۴۲۳ھ–. = ۲۰۰۲م. دويم چاپ. جلد: ۴، مخ: ۲۳۷. محمد رشيد رضا او شيخ الباني رحمة الله عليه وايي: د دې حديث سند ضعيف دی او په متن کې يې هم نا آشنا الفاظ شته دي. / محمد رشيد رضا – حقوق النساء في الإسلام – تحقيق او تعليق: محمد ناصر الدين الألباني. خپرندوی: المكتب الإسلامي – بيروت. د چاپ کال: ۱۴۰۴ ھ–. جلد: ۱ ، مخ: ۱۳.

۴– القزويني، – سنن ابن ماجه – جلد:۱ ، مخ: ۸۱. د حديث گڼه: ۲۲۴. د دې حديث تخريج په ۲۹ مخ کې شوی دی.

فرض دي، چې د خپلې عقيدې د سموالي لپاره کوښښ وکړي، خپل عبادتونه په سمه توګه ترسره کړي، خپلې جامې، زينت او خپل حرکات د اسلام په آدابو برابر او د الله تعالى د حدودو په چوکاټ کې له حلالو، حرامو، فرضو او واجبو څخه ځان خبر کړي.

کېدای شي، چې ښځه هم د خپل کوښښ په پايله کې ډېره پر مخ ولاړه شي آن د اجتهاد درجې ته ورسېږي، نو مېړه ته يې نه ښايي چې د علم له زده کړې يې ممانعت وکړي.

د صحابه کرامو ښځې به رسول الله ﷺ ته ورتلې او له هغه څخه به يې ديني، اخلاقي، ټولنيز او داسې نور مسايل زده کول، د کومو مسايلو په اړه به چې له هغوی سره پوښتنه پيدا شوه، په جرأت سره به يې په اړه له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه کوله او پدې کار کې حياء د دوی مانع نشوای کېدله.

په جماعت سره لمونځ په کومه اندازه چې له نارينه څخه مطلوب دی، له ښځې څخه په هغه اندازه مطلوب نه دی، ځکه د ښځې په کور کې لمونځ کول له بيرون لمانځه څخه زيات فضيلت لري، خو که غواړي چې جوماتونو ته د لمانځه لپاره ولاړه شي، نو نارينه ته مناسبه نه ده، چې د دې مخه ونيسي، ځکه رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «لاَ تَمْنَعُوا إِمَاءَ اللَّهِ مَسَاجِدَ اللَّهِ».(1) يعنې له جوماتونو څخه د ښځو مانع مه جوړېږئ.

ښځه کولای شي، چې د خپلو اړتياوو يا يې د مېړه او يا د اولادونو د اړتياوو د پوره کولو په موخه بازار ته ولاړه شي، ځکه اسماء رضي الله تعالى عنها چې په ذات النطاقين مشهوره ده، وايي: زه به د خپل مېړه ځمکو ته – چې له مدينې منورې څخه درې فرسخه ليرې وې – تلم او له هغه ځايه به مې د خرما زړي او دانې راوړلې.

ښځه کولای شي، چې د مسلمانانو له لښکر سره ووځي، څو د مجاهدينو د ناروغانو او ټپيانو درملنه او نور داسې کارونه ترسره کړي، چې د ښځې له فطرت او طبيعت سره مناسب وي، امام أحمد او امام بخاري رحمة الله عليهما له رُبَيِّع بنت مُعَوِّذِ ابن عَفرَاءَ انصاريې څخه روايت کوي چې ويل يې: «كُنَّا نَغْزُو مَعَ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ فَنَسْقِي الْقَوْمَ وَنَخْدُمُهُمْ وَنَرُدُّ الْجَرْحَى وَالْقَتْلَى إِلَى الْمَدِينَةِ»(2) يعنې موږ (ښځې) به له رسول الله ﷺ سره غزا ته تللو، مجاهدينو ته به مو اوبه ورکولې، د دوی خدمت به مو کړ او ټپيان او شهيدان به مو مدينې منورې ته راوړل.

---

١– البخاري، – صحيح البخاري – جلد: ١ ، مخ: ٩. د حديث ګڼه: ٩٠٠.

٢– البخاري، – صحيح البخاري– جلد: ٣، مخ: ٢٢٢. کتاب الجهاد و السير. د حديث ګڼه: ٢٨٨٣.

امام احمد او امام مسلم رحمة الله علیهما له أم عطیة رضي الله عنها څخه روایت کوي، چې وایي: «غزوت مع رسول اللهﷺ سبع غزوات أخلفهم في رحالهم فأصنع لهم الطعام و أداوي الجرحی وأقوم علی المرضی»[1] ژباړه: ما له رسول اللهﷺ سره په اوو غزاګانو کې ګډون کړی، په خیمه کې به د خوراکي توکو او نورو سامانونو سره پاتې وم، دوی ته به مې ډوډۍ پخوله، د ټپیانو په ټپونو به مې پټۍ ابښودلې او د هغو مجاهدینو چې ځای پر ځای به پراته وو، خدمت به مې کړ.[2]

---

۱- مسلم: - صحیح مسلم- جلد: ۳ ، مخ: ۱۴۴۷. د حدیث ګڼه: ۱۸۱۲.

۲- القرضاوي: - جایگاه زن از دیدگاه اسلام - مخونه: ۱۱۶- ۱۱۹.

# دویم فصل: په مهر او متعه کې د ښځې حق

## لومړی مبحث: په مهر کې د ښځې حق

### لومړی مطلب: د مهر معنا او لزوم:

**اول: مهر په لغت کې:**

د مهر جمع مهور او مهورة ده، او مهر هغه دی چې ښځينه يې ميرمنې ته د نکاح په عقد سره ورکوي.[۱]

د مهر کلمه په عربي او ځينو نورو ژبو کې مشهوره ده، خو په قرآن کريم کې د (صداق)، (صدقُه)، (نحله)، (أجر)، (فريضه)، (حباء)، (عُقْر او علائق)، (طول) او (نکاح) په نومونو سره هم ياد شوی،[۲] چې د بيلګې په توګه ځينې يې په لاندې نصوصو کي راغلي دي، مثلا (نحلة) کلمه يعنې د زړه خوشحالي په معنا سره راغلې، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايلي: ﴿وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً﴾[۳]

ژباړه: او ښځوته يې خپل مهرونه په خوښۍ سره ورکړئ.

او همدارنګه د صداق په نامه سره په دې سبب چې يو لازم حق دی، هم ياد شوی دی، چې د ام حبيبه په حديث کې يې يادونه شوې او د قرآن کريم په بل مبارک آيت کې د (اجر) په نامه سره هم ياد شوی دی، لکه چې الله تعالی فرمايي: ﴿فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً﴾[۴]

ژباړه: بيايې نو هماغه فريضه مهرونه ورکړئ.

---

۱ابن منظور، – لسان العرب –، جلد: ۵، مخ: ۱۸۴./ ناصر سيد احمد او ملګري يې،– معحم الوسيط – خپرندوی: دار احياء التراث العربي، چاپ: لومړی، د چاپ کال: ۲۰۰۸م، مخ: ۶۳۵.

۲عبدالله، نظام الدين عبدالله ــ حقوق فاميل– خپرندوی: انتشارات سعيد، کابل، دچاپ کال:۱۳۹۴، مخ:۱۹۴.

[۳] د النساء سورت،۴ آيت.

[۴] د النساء سورت،۲۴آيت.

همداراز په بل مبارک آیت کې د فریضې (لازم حق ) چې د سقوط احتمال پکې نه وي ذکر شوی دی، چې الله تعالی فرمايي: ﴿وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيضَةً﴾[1]

ژباړه: او څه مهر مو هم ورته ټاکلی ؤ.

او د طول (توان) په معنا هم په قرآن کريم کې ياد شوی دی. لکه چې الله تعالی فرمايي: ﴿وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ طَوْلاً أَنْ يَنكِحَ الْمُحْصَنَاتِ﴾[2]

ژباړه: او تاسو نه چې څوک دشتمنۍ له پلوه ونه شي کړای چې اصيلې مؤمنې ښځې په نکاح کړي.

يوه ډله معاصر څېړونکي وايي چې د مهر کلمه عربي نه ده، ډير امکان لري چې د مهر کلمه د فارسي ژبې او يا هم عربو ته نژ دې له نورو ژبو څخه ډيره مخکې عربي ژبې ته داخله شوې وي او د مهربانۍ او احسان په معنا وې ځکه په پورتنيو ټولو معناګانو کې د مهربانۍ مفهوم شته دی، نو ځکه په شبه سره د موطوئې لپاره هم مهر ټاکل کيږي او دا ډول چې موطوئې ته څه ورکول کيږي، هغه په واقعيت کې بدل د خسارې دی، ولې د مهر په نامه سره يادول د هغې د زړه خوشحاله کول او يو ډول التيام (جبران) دی.[3]

## دويم: مهر په اصطلاح کې:

**الف:** د حنفي فقهاوو تعريف: (مهر هغه زايد مال دی چې ميرمنې ته ددې د نفس د بندولو په بدل کې د نکاح په عقد سره د څښتن په ذمه باندې لازم دی).[4] احنافو مهر په لاندې تعريف سره هم تعريف کړی دی چې وايي، (مهر هغه مال دی، چې ښځه يې د نکاح له عقد او يا هم له وطي څخه وروسته مستحقه ګرځي).[5]

---

[1] د البقرة سورت،۲۳۷ آيت.

[2] د النساء سورت، ۲۵آيت.

[3] الزبيدي: – تاج العروس من جواهر القاموس – جلد: ۱۴، مخ: ۱۵۸.

[4] السرخسي، شمس الدين أبو بکر محمد بن أبي سهل السرخسي، وفات: ۴۸۳هـ. – المبسوط – خپرندوی: دار المعرفة – بيروت، د خپرولو نېټه: ۱۴۱۴هـ. ـــ ۱۹۹۳م. جلد: ۵ ، مخ: ۶۲– ۶۳.

[5] عبدالله، ـــ حقوق فاميل– مخ:۱۹۴.

دا دواړه تعریفونه تر یوه اعتراض لاندې راځي، هغه دا چې په لومړي تعریف کې د زوجې او نکاح او په دویم تعریف کې د نکاح عقد او وطي کلمې داسې افاده کوي، چې مهر فقط مال دی، او یوازې منفعت لکه د قرآن کریم ورزده کول مهر نشی کیدلای، سره له دې چې د قرآن کریم ور زده کول په دین مشرف ګرځول او د دیني علم ور زده کول، له غوره مهرونو څخه شمیرل شوي دي.[1] د پورتنۍ نیوکې په ځواب کې ویلی شو چې د مال په کلمې کې د قرآن کریم زده کړه او دا نور ټول شامل دي، ځکه منفعت د مال محصول او بدل دی د مال بدل مال دی او د ښه منفعت ښه بدل دی، له بلې خوا احنافو ددې قول « اقل المهر عشرة دراهم» په اړه ویلي چې ماقیمته عشرة دراهم هم ورڅخه افاده کیږي او د یو شي قیمت هم مال دی،[2] او مهر هم مجرد محض مال ندی بلکې هغه څه دي چې د زړه خوشهالي په کې شتون ولري، نو په ایمان مشرف ګرزول او د قرآن ورزده کول، د زړه د خوشهالۍ ډیره ښه وسیله ده، نو په مهر کې یې ټاکل ډیر ښه شرعي عمل دی او په عین حال کې په څو مبارکو احادیثو عمل کول هم دي.

باید یاده کړو چې لاندې تعریفونه سره لدې چې د یوې ډلې څیړونکو تر یو ډول نیوکو لاندې دي، بیا هم هر یو بیل په خپل ځای مناسب تعریف دی، خو تعریف تنها په دې کې منحصر ندی، بلکي هغه تعریف دی، چې د یو ماهیت په وجه روښانه دلالت وکړي، نو د نورو امامانو تعریفونه په لاندې ډول څیړو، زیار باسو چې د نیوکو خواوې مو هم یادې کړې وي، نورو امامانو ته منسوب تعریفونه په لاندې ډول دي:

**ب: د مالکي فقهاوو تعریف:** (مهر هغه لازم مال دی چې مخطوبې ته د دې د عصمت ملکیت له مخې ورکول کیږي)[3] د ډیرو علماوو له نظره دا تعریف غیر شامل دی، ځکه د قرآن عظیم الشان تعلیم یا نور ګټور منافع مهر ګرزول چې د علماوو توافق ورباندې راځي، دا تعریف ورته نه شاملیږي.

---

[1]ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي، وفات: ۱۲۵۲ه. – حاشية ردالمحتار على الدر المختار– خپرندوی: دار الفکر – بیروت. د چاپ کال: ۱۳۸۶ه–. جلد:۳، مخ: ۵۵۵.

[2]الميداني، عبد الغني بن طالب بن حمادة بن إبراهيم الغنيمي الدمشقي الميداني الحنفي، وفات: ۱۲۹۸ه–. – اللباب في شرح الكتاب –خپرندوی: المكتبة و مطبعة محمد علي صبيح و اولاده – الأزهر – مصر، جلد: ۲، مخ:۲۳۰–۲۳۶.

۳ محمد عليش، منح الجليل – خپرندوی: دار الفکر – بیروت. د چاپ کال: ۱۴۰۹ه–. = ۱۹۸۹م. جلد: ۳ ، مخ: ۴۱۵.

**ج: د شافعي فقهاوو تعريف:** (مهر هغه څه دی چې په نکاح یا وطي او یا هم د بضع په تفویت سره قهرا واجب ګرځي ، لکه رضاع او له شهادت څخه د شاهدانو رجوع کول) .[1] په دې تعریف کې د قهرا کلمه بې ځایه ده، ځکه هیڅ بدل قهرا واجب نه ګرځي، دا تعریف هم د فقهاوو په نزد د قبول وړ نه بلل کیږي، ځکه د مهر له موضوع وتلي امور پکې یاد شوي دي، دا قول یوازې امام شافعي ته منسوب قول دی.

**د: د حنبلي فقهاوو تعريف:**(مهر عوض دی په نکاح یا په مثل د نکاح کې)[2] په دې ډلې فقهاوو داسې اعتراض موجود دی، چې مهر صدقه، د زړه خوشحاله کول ( نحله) ده او نحله په حقیقت کې بخښنه ده عوض ندی له بلې خوا زوج او زوجه دواړه یو له بله څخه انتفاع تر لاسه کوي، نو که یوازې عوض و بلل شي باید زوجه هم څه بدل د استمتاع په بدل کې زوج ته ورکړي، نو داسې یو مالي مکلفیت چې تر شایې ډیر شرعي او انساني مصالح شتون لري عوض ویل د منلو وړ نه دي او د نیوکې په ځای ښکاري، که په دې تعریف کې د مال کلمه زیاته شوې وای، مالي مقدر عوض ورته ویل شوی وای، دا پوره په ځای تعریف ګڼل کیده، او د اعتراض دا برخه چې وایي، مهر نحلة او صدقه ده، ځکه بښنه ده صدقه او ښښنه د عوض په کلمه نه افاده کیږي، دا هم مالي مکلفیت نه افاده کوي، نو پوره بې ځایه ځکه دی، چې له یوې خوا نکاح مالی عقد ندی چې مهر مالي مکلفیت وبلل شي، له بلې خوا عوض هم په ټولو عقدونو کې استعمال شوی دی[3] خو حنبلي فقهاوو د البهوتي په حواله داسې تعریف هم روایت شوی دی، (هو العوض المسمی فی عقد النكاح و بعده)[4] چې د مسمی د کلمې په افادې سره د عوض د کلمې ټول اړخونه تکمیلیږي، نو د نیوکې دا برخه دلته بیا بې ځایه ده.

د مجتهدینو ټول تعریفونه په ځای دی، خو که مونږ غواړو چې له تعریف څخه لږ په ځیرتیا مطلب تر لاسه کړو هغه به د امامانو په تعریفونو کې حاصل وي، خو غوره والی به یې دا وي چې مونږ ته ژر د فهم وړ وي.

## د مهر غوره تعريف:

[1] الشربيني، أبي شجاع محمد الشربيني الخطيب، – الاقناع – خپرندوی: دار الفكر، بيروت د نشر كال: ۱۴۱۵، جلد: ۲ مخ: ۴۲۲.

[2] البهوتي، منصور بن يونس بن صلاح الدين بن حسين بن أحمد بن علي بن ادريس المصري البهوتي، وفات:۱۰۵۱ هـ. – كشاف القناع عن متن الإقناع – تحقيق: هلال مصليحي هلال. خپرندوی: دار الفكر – بيروت. د چاپ كال: ۱۴۰۲ هـ. جلد: ۵. مخ: ۱۲۸.

[3] البهوتي، – كشاف القناع عن متن الإقناع – جلد: ۵. مخ: ۱۴۲.

[4] البهوتي، منصور بن يونس بن إدريس البهوتي ، وفات ۱۰۵۱ – شرح منتهى الإرادات – خپرندوی، عالم الكتب، د نشر كال،۱۹۹۶د نشرځای، بيروت، جلد: ۵، مخ: ۱۴۲.

کله مو چې د مهر په تعریف کې د فقهاوو تعریفونه له نظر څخه تیر شول او څه آګاهي مو ورڅخه تر لاسه کړه، دا را ته څرګنده شوه چې شامل او راجح تعریف دادی چې ( مهر هغه مال دی چې د نکاح په عقد یا په شبهه سره د مقاربت په صورت کې د زوج په ذمه وا جب ګرځي)[1]. په دې تعریف کې د جامعیت او مانعیت قیدونه شتون لري.

**د مال کلمه** جنس ده په تعریف کې هغه څه ته شامله ده چې په عرف کې د مال اطلاق ورباندې کیږي، که پخپله مال وي یا محصول او یا بدل د مال لکه منفعت، چې منفعت د جمهورو علماوو په نزد مال ګڼل شوی او تعامل ورباندې روان دی حتی تر دې لزوم نشته چې په کوم تعریف کې قید ورته کیږدو حتی سکوتي اجماع ورباندې شتون لري چې منفعت مال دی.

په دې اړه مدني قانون داسې حکم کوي (مال چه د تملیک قابلیت ولری، مهر ټاکل کیدای شي).[2]

**په نکاح سره واجب:** په دې قید سره ټول اموال د مهر د تعریف نه خارج ګرځي یوازې مسمی (نومول شوی) او هغه مهر ته چې وا جب شوی، د نکاح په عقد کې لازم شوی که څه هم اندازه یې نه وي ټاکل شوې، د تعریف تر نطاق او اطلاق لاندې شامل پاتې کیږې، او کوم مهر چې په ټاکل شوي باندې زیاتیږي هغه ورڅخه بیرون کیږي، ځکه هغه په عقد سره لازم نه ګرځي، اما مهر مثل یوازې په عقد سره لازم دی او د مهر مثل د لزوم او دلالت مفهوم هم دا دی نو تعریف ورته شامل دی.

**په شبهه سره د مقاربت په صورت کې:** دا قید د تعریف د جامعیت اړخ دی او جامع یې ګرځوي، هغه مهر ته شاملیږي چې په فاسد عقد یا شبه سره د مقاربت په صورت کې محقق وي، په فاسد عقد یا په شبه د مقاربت صورت د نکاح سپیڅلی بدل (مهر) باید شرعا اثبات نشي او نه د مهر په تعریف کې قید ولري، اما په لومړي صورت کې کلي اصول دا دي چې د نکاح عقد د شرط په فساد سره نه فاسدیږي، په دویم صورت کې شبه شتون لري، چې مقاربت د عقد لورته نیژدې کوي، ځکه مقاربت د جماع د اسلام په دار کې باید د زاجر (حد) د جابر – جبران

[1] لمیداني، – اللباب في شرح الکتاب –، جلد: ۲، مخ: ۲۴۱.
[2] د افغانسان مدني قانون، (۱۰۰) ماده.

کونکي – څخه لازم دی چې خالي نه وي، په دې هکله چې مقاربت په شبه سره صورت موندلی اقامه د حد نه شي کیدلی، ځکه شبه شتون او حدود په شبه له منځه ځي نو جبران یې هم مهر لازم ګرځي.[1]

په لږ تأمل څرګندیږي چې دا تعریف هغه تعریف دی، چې احنافو د مهر لپاره بیان کړی ځکه احنافو په یوه روایت کې د زاید مال کلمه یاده کړې ده، چې مفهوما دا افاده کوي، چې مهر اصلا یو تعهد یا په دې اړه خوشحالي او د قوامیت د مفهوم اقتضاء ده او لزوم او وجوب یې یوازې د منازعې او قضایي حکم په وخت کې اعتبار لري، نو د احنافو تعریف راجح تعریف دی او د احنافو په تعریف کې د زاید مال کلمه ډیره په ځای کلمه ده.

## د مهر لزوم :

د فقهاوو په اتفاق ښځې ته د څښتن له خوا مهر ورکول واجب دي، او په وجوب باندې یې له کتاب الله، نبوي سنتو او د امت اجماع څخه دلایل شتون لري. چې هر یو یې تر لنډې څیړنې لاندې نیول کیږي.

**لومړی:** کتاب الله: الله متعال فرمایلي: ﴿وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً﴾[2]

ژباړه: او ښځوته یې خپل مهرونه په خوښۍ سره ورکړئ.

او په بل ځای کې الله متعال فرمایلي: ﴿ فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهِ مِنْهُنَّ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً﴾[3]

ژباړه: نو چې په دې (مال) سره له هغوی نه ګټه اخیستل وغواړئ، بیا یې نو هماغه فریضه اجرونه (مهرونه) ورکړئ.

په دې دواړو آیتونو د استدلال وجه: کله چې د آیتونو له صریحو افادو څخه ښکاري چې مهر د څښتن (زوج) په ذمه باندې قطعي او لازم حق دی نو په رضایت او خوشحالۍ یې باید ورکړئ، لکه څرنګه چې په مبارکو آیتونو ک

[1] المیداني، – اللباب في شرح الکتاب –، جلد: ۲، مخ: ۲۴۱.
[2] د النساء سورت، ۴ آیت.
[3] د النساء سورت،۲۴ آیت.

د فريضة او نحلة كلمې يادې شوې،[1] او هم د ﴿فَآتُوهُنَّ ﴾[2] او ﴿وَآتُوا النِّسَاءَ﴾ کې امريه جملې دي چې د صارفې قرينې د نشتوالي په وخت کې وجوب افاده کوي.

**دويم:** نبوي سنت: په نبوي سنتو کې د مهر په هکله ډير روايات شتون لري، چې زياتره روايات تر يو ډول تعليل لاندې هم دي، خو يوه زياته برخه يې د قرآني آيتونو تفسر ګڼل کيږي، او يوه برخه يې د مجتهدينو د اختلاف موجب ګرځيدلي دي، داسې مبارک حديثونه هم شتون لري، چې په خاص حالت کې هم د مهر په ورکولو (پرته د مهر د مقدار له تعين څخه) د نکاح په جواز باندې دلالت کوي، داسې حديثونه هم شتون لري چې ډير لږ شی هم پکې مهر ياد شوی دی، يوې ډلې فقهاوو په هغه (احاديثو) د مهر په لږ اندازه کې استدلال کړی دی، اما په يوه امر کې دا ټول متفق دي، چې هغه په نکاح کې د مهر وجوب او لزوم دی، له دې ځايه په صراحت سره حکم کوو چې مهر په نبوي احاديثو کې تام د مشروعيت دلايل لري، د هغو له جملې څخه ځينې په لاندې ډول دي:

١) «عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ  أَنَّ امْرَأَةً عَرَضَتْ نَفْسَهَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ زَوِّجْنِيهَا فَقَالَ مَا عِنْدَكَ قَالَ مَا عِنْدِي شَيْءٌ قَالَ اذْهَبْ فَالْتَمِسْ وَلَوْ خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ فَذَهَبَ ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ لَا وَاللَّهِ مَا وَجَدْتُ شَيْئًا وَلَا خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ وَلَكِنْ هَذَا إِزَارِي وَلَهَا نِصْفُهُ قَالَ سَهْلٌ وَمَا لَهُ رِدَاءٌ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا تَصْنَعُ بِإِزَارِكَ إِنْ لَبِسْتَهُ لَمْ يَكُنْ عَلَيْهَا مِنْهُ شَيْءٌ وَإِنْ لَبِسَتْهُ لَمْ يَكُنْ عَلَيْكَ مِنْهُ شَيْءٌ فَجَلَسَ الرَّجُلُ حَتَّى إِذَا طَالَ مَجْلِسُهُ قَامَ فَرَآهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَعَاهُ أَوْ دُعِيَ لَهُ فَقَالَ لَهُ مَاذَا مَعَكَ مِنْ الْقُرْآنِ فَقَالَ مَعِي سُورَةُ كَذَا وَسُورَةُ كَذَا لِسُوَرٍ يُعَدِّدُهَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمْلَكْنَاكَهَا بِمَا مَعَكَ مِنْ الْقُرْآنِ»[3]

ژباړه: له سهل بن سعد څخه روايت دی، چې يوې ښځې خپل نفس رسول اللهﷺ ته وړاندې کړ، نو يوه سړي رسول الله ﷺ وسلم ته  وويل: ما ته يې نکاح کړه، نو رسول الله ﷺ وفـرمايل: ستا سره څه شته دي؟ سړي وويل: زما سره هيڅ نشته، رسول الله ﷺ ورته وويل: لاړ شه او څه پيدا کړه که څه د اوسپنې کړۍ (ګوتمۍ) هم وي، نو لاړ او بيرته راغی او ويې ويل: (نه) هيڅ مې پيدا نکړل، نه د اوسپنې ګوتمۍ ولې دا زما پرتوګ دی د دې لپاره نيمايي دی،

---

[1] القرطبي، ابو عبدالله محمد بن احمد بن ابی بکر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي، وفات: ٥٦٧١هـ. – تفسير القرطبي – خپرندوی: دار الکتب المصرية – القاهرة. د چاپ کال: ٥١٣٨٤هـ. – ١٩٦٤ م. دويم چاپ. جلد: ٥، مخ: ٢٦.

[2] د النساء سورت،٢٤آيت.

٣البخاري، – صحيح البخاري– جلد:٧، مخ:١٣، د حديث ګڼه: ٥١٢١

سهیل وویل: دې سړي څادر هم نه درلود، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: څه کولی شي ستا په ازار باندې که چیرته يې ته واغوندې نو ددې لپاره په څه نه وي او که يې دا واغوندي د ستا لپاره به څه نه وي، نو سړی کیناست څه ځنډ وروسته بیا جګ شو، نو رسول الله ﷺ ولید او ويې غوښت، یا وغوښتل شو، نو رسول الله ﷺ ورته وويل ستاسره له قرآن کريم څخه څه شته؟ سړي وويل: دا سورت او هغه سورت، رسول الله ﷺ وفرمايل در مو کړه تاته په هغه څه سره چې ستا سره له قرآن کريم څخه شتون لري.

د مبارک حدیث د استدلال وجه: هغه سړی چې له نبي کريم ﷺ څخه يې د هغې ښځې غوښتنه وکړه چې خپل ځان يې نبي کريم ﷺ ته د نکاح لپاره هبه کړی و، نو پرته له مهر څخه يې ورته نکاح نکړه سره له دې چې هغه سړی فقير او محتاج و، دومره يې هم نه لرل چې مهر شي، نو که پرته د مهر څخه نکاح شتون لرلای نو د ډير فقر له کبله به يې په مهر امر نه کولو او وربانديې به يې واجب نه ګرځولو.

۲) « عن ابن مسعود، أنه سئل عن رجل تزوج امرأة ولم يفرض لها صداقا ولم يدخل بها حتى مات، فقال ابن مسعود: لها مثل صداق نسائها، لا وكس، ولا شطط، وعليها العدة، ولها الميراث، فقام معقل بن سنان الأشجعي، فقال: «قضى رسول الله صلى الله عليه وسلم في بروع بنت واشق امرأة منا مثل الذي قضيت». [1]

ژباړه: له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی، چې له ده څخه د هغې زوجې په هکله سوال وشو چې مهر نه و ورته ټاکل شوی او مقاربت هم نه و ورسره شوی او مړشو، ابن مسعود رضي الله عنه وفرمايل، چې ددې لپاره د هغو ښځو مهر دی چې ددې سيالې وي، نه د هغه کم او نه زيات او په دې باندې عدت او ددې لپاره ميراث دی، نو معقل بن سنان الاشجعي پورته شو او ويې ويل چې رسول الله ﷺ د بروع بنت واثق د لور په هکله همدا حکم وکړ.

د حديث د استدلال وجه: په پوره صراحت د نبی کريم ﷺ او ابن مسعود رضي الله عنه حکم دلالت کوي، چې لا مهر په يوازې عقد سره زم او واجب ګرځي او په دې باندې هم دلالت کوي، چې د نکاح عقد بايد شرعا د مهر له نومولو څخه خالي نه وي او په هغه وخت کې چې مهر ياد نه شي په عقد سره مهر مثل لازميږي. دا حديث که څه هم د محديثينو تر تعليل لاندې دی بيا هم د مهر په وجوب يې دلالت صريح دی.

١الترمذي، – سنن الترمذي – ، جلد:٣، مخ:۴۴٢، د حديث ګنه: ١١۴۵.

**دریم:** اجماع: د ټولو مسلمانانو اجماع په دې راغلې ده چې مهر واجب دی زوجې ته په زوج باندې یعنې هغه نکاح چې کاملا د عقد په وخت کې یا وروسته له مهر څخه خالي پاتې شي جایز نه ده او په دې کې کوم خلاف قول ندی لیدل شوی.[1]

## **دویم مطلب**: د مهر اندازه

### د مهر ډیره اندازه:

بدیهی ده چې میرمنې ته د مهر د ورکولو لزوم د هغې د ښځینه عزت او ارزښت ساتنه ده، او د ښځینه فطرت رعایت کول دي، دا چې هیڅ چاته دا حق ندی ورکړل شوی، چې له مهر څخه یې کوم څه خپل کړي، یا تصرف پکې وکړي، یا هغه په مهر کې له تصرف څخه منع کړي، او هم د څښتن په ذمه باندې وجوب د څښتن ښه قوامیت ته هڅول، د راتلونکي ژوند په هکله د څښتن صداقت، او کورنۍ رابطې ساتلو ته آماده کول، او د نکاح سپیڅلي عقد ته په درنښت پام کولو مفاهیم پکې شتون لري، د پورتنیو ارزښتونو او مفاهیمو په آساس د اکثر مهر لپاره اندازه نشته،اما د لږ مهر اندازه شریعت ټاکلې ده، تر څو د میرمنې سپکوالی متصور نشي، نو د فقهاوو په اتفاق سره د اکثر مهر لپاره اندازه د زوجینو په رضا سره ټاکل کیږي. او دلیل یې د قرآن کریم دا آیت کریمه دی، ﴿وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنطَارًا فَلَا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيْئًا ﴾[2]

ژباړه: او د هغوی کومې یوې ته مو ډېر مال هم ورکړی وي نو بېرته به هیڅ شی نه ترې اخلئ.

د استدلال وجه: د قنطار افاده د مهر په پوره اندازه صریح ده، همدا راز پورتنی آیت ا اشارة النص دی پدې کې چې مهر د احسان تر مفهوم لاندې لوړه اندازه نلري، بلکي په هغه کي د زوجینو حال ته پاملرنه شته ده.

له همدې کبله کله چې عمر رضي الله عنه تصمیم و نیولو تر څو د مهر اندازه څلور سوه درهمه وټاکي، نو خلکو ته یې وویل: ای خلکو! مهر له څلویښتو (او قیو) یعنې سپینو زرو زیات ورنکړئ، خو کله چې له منبر نه راښکته شو، د

---

[1] ابن قدامة، – المغني– ، جلد: ٦، مخ:٦٧٩.

[2] د النساء سورت.٢٠-٢١ آیتونه.

قریشو ښځه یوې ښځې ورته وویل: ای عمر رضي الله عنه ته داسې حق نه لرې! عمر رضي الله عنه ځنــې پوښــتنه وکړه، چې ولې؟ ښځې وویل: ځکه چې الله تعالی فرمایلي: ﴿وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنْطَارًا فَلَا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيْئًا ﴾[1] نو حضرت عمر وویل: ښښته غوارم ټول خلک له عمر نه زیات په فقه پوهیږي، بیا منبر ته را وګرځیدو او ویې ویل: ما تاسې له دې ښځه منعه کړئ چې ښځو ته له څلورو سوو درهمو نه ډیر مه ورکوئ، زه له خپلې دې خبرې ښځه وګرځیدم، هر څوک چې له مال ښځه څومره یې خوښه شي مهر د وټاکي.[2]

## د مهر لږه اندازه:

په لږ اندازه مهر کې د فقهاوو اختلاف دی او په کې درې مذهبه شتون لري:

لومړی: د احنافو مذهب: احناف وايي اقل د مهر لس (۱۰) شرعي درهمه دي، یا دلسو درهمو قیمت دی.[3] چې په دې هکله یې په کتاب الله، نبوي ﷺ سنتو، د صحابه وو آثارو او قیاس باندې استدلال کړی دی.

**الف:** کتاب الله: ﴿وَأُحِلَّ لَكُمْ مَا وَرَاءَ ذَلِكُمْ أَنْ تَبْتَغُوا بِأَمْوَالِكُمْ﴾[4]

ژباړه: او له دې پرته (نورې ښځې) درته روا شوې دي چې په خپلو مالونو سره یې لټونکي یاست.

د استدلال وجه: د ﴿أَنْ تَبْتَغُوا بِأَمْوَالِكُمْ﴾ د آیت دا جمله په اقتضاء سره دا افاده کوي چې مهر شرعا لازم دی، نو اندازه او مقدار یې هم باید ټاکلی وي، که د مهر اندازه ونه ټاکل شي، نو د نکاح عقد به د ابتذال مفهوم ته لنډ شي.

نو دا جوته شوه چې پورتنی آیت نص دی په همدې حکم کې او ددې (اقتضاء النص) د اموالکم له کلمې څخه ښکاره کیږي، نو اقتضاء النص حکم کوي، هغه څه چې د مالیت مفهوم پکې کمزوری وي، هیڅ کله مهر نشي کیدی، ځکه د مهر د مشروعیت له غایې لیرې ګڼل کیږي او د زوجې د عزت او د هغې اعتماد په څښتن باندې

[1] د النساء سورت.۲۰-۲۱ آیتونه.

[2] السید سابق، وفات: ۱۴۲۰- فقه السنة- خپرندوی: دار الکتاب العربي، بیروت - لبنان، چاپ:دریم، ۱۳۹۷ ه- - ۱۹۷۷ م، جلد: ۳، مخ:۵۰-۴۹.

[3] السغدي، أبو الحسن علي بن الحسين بن محمد حنفي وفات: ۴۶۱هـ، - النتف في الفتاوى - څیړونکی: المحامي الدکتور صلاح الدین الناهي، خپرندوی: دار الفرقان، بیروت، لبنان، چاپ: دویم، ۱۴۰۴ه- - ۱۹۸۴م، جلد: ۱، مخ:۲۹۵./ الزحیلي،- الفقه الاسلامي و ادلته- جلد: ۹، مخ: ۲۴۲./ وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية - الكويت - الموسوعة الفقهية الكويتية - . جلد: ۳۹، مخ: ۱۶۱.

[4] د النساء سورت، ۲۴ آیت.

مفهوم پکې شتون نلري، او دا جمله ﴿أَنْ تَبْتَغُوا بِأَمْوَالِكُمْ﴾ دا مطلب افاده کوي، چې ارزښت لرونکی مال نه مطلق مال ځکه د مال مفهوم په عرف، زمانه او محل سره تغيير مومي، له دې ځايه لازمه ګرځي، چې د مال اندازه معلومه شي.

**ب:** نبوي حديث (سنت): له جابر رضي الله تعالی عنه څخه روايت دی چې وايي رسول الله ﷺ وفرمايل «لامهر دون عشرة دراهم»[1]

ژباړه:له لسو درهمونو کم مهر نشته.

د استدلال وجه: پورتنی مبارک حديث شريف صريحا په دې حکم کوي چې اقل د مهر لس درهمه دي، خو بيا هم په اسناد کې يې ضعف ليدل کيږي، دا ويلی شو چې لس درهمه با ارزښته او معتنا به مال دی، ځکه د سرقې په حد کې لاس وربانديې پرې کيږي، نو هغه احاديث چې د لږ مهر په اندازه کې راغلي دي، لکه خاتم الحديد او داسې نور هغه د اقتضاء النص سره قابل د مقابلې ندي، نو په دا ډول احاديثو سره استدلال ډير احتياط غواړي هر وخت استدلال وربانديې صحيح ندی.[2]

نو احناف په اجماع سره متفق دي چې د مهر لږ اندازه لس شرعي درهمه ده چې د لسو شرعي درهمو اندازه اوه (۷) مثقاله سپين زر کيږي، نو د مهر کمه اندازه (۷) مثقاله سپين زر شول، په دې هکله د اللباب دا قول نقل کوو چې وايي : (و اقل المهر عشرة دراهم وزن سبع مثاقيل سواء كانت مضروبة او غير مضروبة او ما قيمته عشرة دراهم يوم العقد فان سمى اقل من عشرة فلها العشر بالوطئ او الموت و خمسة بالطلاق قبل الدخول ).[3]

[1]ابن زريق، محمد بن عبد الرحمن بن محمد بن أحمد بن التقي سليمان بن حمزة المقدسي ثم الصالحي ناصر الدين، وفات: ۸۰۳هــ– الدارقطني في السنن – خپرندوی: وزارة الأوقاف والشؤون الإسلامية بدولة قطر، چاپ: لومړی ، ۱۴۲۸ ه– – ۲۰۰۷ م،جلد: ۳، مخ:۲۴۵. د پورتني حديث په اسناد کې ضعف شتون لري.

خلف، نجم عبد الرحمن: – موارد الإمام البيهقي في كتابه السنن الكبرى–، خپرندوی: الجامعة الإسلامية المدينة المنورة، د چاپ کال: رجب– ذوالحجة ۱۴۰۶ه–، جلد:۷، مخ: ۱۳۳.

[2] الکحلاني، السيد الامام محمد بن اسماعيل الكحلاني ثم الصنعاني المعروف بالامير، – سبل السلام – خپرندوی: ملتزم الطبع و النشر شركة مكتبة و مطبعة مصطفى البابي الحلبي و اولاده بمصر، چاپ: ۴ ، د چاپ کال: ۱۳۷۹ه ۱۹٦۰–، جلد:۱، مخ: ۱۵۴–۱۵۳.

[3]الميداني، – اللباب في شرح الكتاب –جلد:۲،مخ: ۲۳۲.

د مهر لږ اندازه لس درهمه ده چې اوه (۷) مثقاله سپین زر کیږي توپیر نلري چې دا سپین زر مضروب (عمله) وي او یا نه یا ددې سپینو زرو د عقد د ورځې قیمت دی، کوم وخت چې له لسو درهمو څخه لږ و ټاکل شي ددې ډول مطلقې لپاره د مقاربت یا د زوجینو د یوه د مرګ په وخت لس درهمه لازمیږي، په هغه وخت کې چې له مقاربت څخه مخکې طلاق ورکړل شي پنځه درهمه ورکول کیږي.

په دې قول سره صحابه کرامو هم عمل کړی دی او ویلي یې دي ( لایکون المهر اقل من عشرة دراهم )[1] مهر له لسو درهمو څخه لږ نشته دی، له بلې خوا نکاح ډیر د ارزښت وړ عقد دی، سربیره پردې زوج ته د قوامیت او د کورنۍ د مسئولیت په غاړه وړنې مفهوم پکې نغښتی دی، زوجې ته د ښه معاشرت الهام پکې شته دی، نو هغه چې د مالیت معنا پکې شتون ونلري نه ښایي د اقل مهر اندازه و بلل شي.[2] کوم احادیث چې د مهر په اندازه کې روایت شوي په هغوی چې مهر له لسو (۱۰) درهمو څخه لږ یاد شوی، هر یو یې خاص استثنایي حالت کې قرار لري، بل دا چې د افغانستان مدني قانون د مهر د لږ اندازې په اړه کوم څه ندي ویلي خو د نوموړي قانون لومړۍ ماده په دویمه فقره کې داسې حکم کوي: (په هغه مواردو کې چې د قانون حکم موجود نه وي محکمه به د اسلامي شریعت د حنفي فقهې د کلي اساساتو سره سم حکم صادروي، تر څو چې عدالت په ډیره ښه ممکنه وجه تأمین شي).[3]

**دویم:** د مالکیانو مذهب: دوی وایي چې د مهر لږه اندازه د دینار ربع ده له سرو زرو څخه یا درې درهمه دي له سپینو زرو څخه یا یې قیمت دی.[4] چې دلایل یې په لاندې ډول دي:

الف: له کتاب الله څخه: په دې مبارک آیت باندې استدلال کوي ﴿وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ طَوْلاً أَنْ يَنكِحَ الْمُحْصَنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ﴾[5]

---

[1] ابن زریق، –الدارقطني في السنن – جلد: ۳، مخ:۱۷۷.

[2] الکاساني، علاء الدین أبی بکر بن مسعود، وفات: ۵۸۷ هـ. – البدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع– خپرندوی: دار الکتاب العربي – بیروت. د چاپ کال: ۱۴۰۲ هـ. دویم چاپ.جلد: ۲، مخ: ۲۷۶.

[3] د افغانستان مدني قانون،جلد:۱، مخ: ۱، ماده:۱.

[4] ابن رشد، أبو الولید محمد بن أحمد بن محمد بن أحمد بن رشد القرطبي الشهیر بابن رشد الحفید، وفات: ۵۹۵هـ. – بدایة المجتهد و نهایة المقتصد – خپرندوی: دار الفکر – بیروت، جلد: ۳، مخ: ۴۵./ القرطبي: أبو عمر یوسف بن عبد الله بن محمد بن عبد البر بن عاصم النمري القرطبي وفات: ۴۶۳هـ، – الکافي في فقه أهل المدینة – خپرندوی: مکتبة الریاض الحدیثة، الریاض، المملکة العربیة السعودیة، چاپ: دویم، ۱۴۰۰
مجلة مجمع الفقه الاسلامي، چې د منظمة المؤتمر الاسلامي له خوا په جدة کې نشر کیږي، جلد: ۹، مخ:۱۱۳۱.

[5] د النساء سورت، ۲۵ آیت.

ژباړه: او تاسونه چې څوک د شتمنۍ له پلوه ونه شي کړای چې اصیلې مؤمنې ښځې په نکاح کړي.

په آیت کریمه د استدلال وجه: که چیرې د طول – استطاعت– اطلاق په هره اندازه مال باندې – پرته له اندازې ښخه – کیدای شوای نو په توان مند او مال لرونکي قید به نکاح کوونکي د نکاح په صورت کې نه مقید کیدل.[1]

په پورتني دلیل نیوکه شته هغه داسې چې ځینې مالکي فقهاوو پورتنی آیت کریمه د اقل مهر په اندازه کې دلیل ګرځولی دی، سره له دې کله چې دا آیت د اقتضاء النص تر نظر لاندې نیسو ډیر لږ څه ته مهر نشو ویلی او هم ددې د بیان هیڅ وجه یې هم په هغه اندازه دلالت نه کوي، چې مالکیانو ټاکلې ده کوم چې وایي اقل معتنابه شی چې په عرف کې مال وي له لسو درهمو ښخه کم وي هم مهر کیدای شي، لکه (ملأ الکف السویق یا خاتم الحدید) هغه آحاد اخبار دي او آحاد اخبار د آیت له یوې وجهې د بیان سره د مقابلې وړتیا نلري، دا د اصولو عامه قاعده ده، او کوم څه چې آیت کریمه له اشارت ښخه فهمیږي هغه یوازې داده چې باید د مهر اقل اندازه ټاکل شوې وي، ځکه له بلې خوا لس درهمه د مال شرعي اندازه ده نه عرفي.

د طول او مال کلمې چې په آیت کې یادې شوې دي، دا مطلب افاده کوي، نو هغه څه چې په شرع کې مال کیدی شي، مهر هم کیدی شي او اندازه یې ټاکلې وي، نو لس درهمه ځکه مال دی، چې د سرقې په حد کې یو اندام وربانديې قطع کیږي.

**دریم:** د شافعیانو اوحنابلیانو مذهب: دوی وایي د مهر لږه اندازه نه ده ټاکل شوې، لږ او ډیر په کې مساوي دي.[2] او دلایل یې په لاندې ډول دي:

**الف: کتاب الله تعالی:**﴿ وَأُحِلَّ لَكُمْ مَا وَرَاءَ ذَلِكُمْ أَنْ تَبْتَغُوا بِأَمْوَالِكُمْ﴾[3]

ژباړه: او له دې پرته (نورې ښځې) درته روا شوې دي چې په خپلو مالونو سره یې لټوونکي یاست.

---

[1]مالک، مالک بن أنس بن مالک بن عامر الأصبحي المدني، وفات: ۱۷۹هـــ، – المدونة –خپرندوی: دار الکتب العلمیة، چاپ: لومړی، ۱۴۱۵هـــ – ۱۹۹۴م، جلد:۲، مخ:۱۳۷.

[2]الشافعي: أبو عبد الله محمد بن إدریس بن العباس بن عثمان بن شافع بن عبد المطلب بن عبد مناف المطلبي القرشي المکي وفات: ۲۰۴هـ، – الأم – خپرندوی: دار المعرفة – بیروت د خپرولو کال: ۱۴۱۰هـ/۱۹۹۰م، جلد:۵، مخ:۶۳.

[3]د النساء سورت، ۲۴ آیت.

په آیت د استدلال وجه: چې وايي په آیت کریمه کې ټاکلې اندازه د مهر لپاره نه ده منصوص شوې، نو لږ او ډیر دواړه کیدای شي مهر و ټاکل شي[1].

ب: نبوي سنت: له نبوي سنتو څخه یې په لاندې احادیثو استدلال کړی دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

- «عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ  أَنَّ امْرَأَةً عَرَضَتْ نَفْسَهَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ زَوِّجْنِيهَا فَقَالَ مَا عِنْدَكَ قَالَ مَا عِنْدِي شَيْءٌ قَالَ اذْهَبْ فَالْتَمِسْ وَلَوْ خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ فَذَهَبَ ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ لَا وَاللَّهِ مَا وَجَدْتُ شَيْئًا وَلَا خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ وَلَكِنْ هَذَا إِزَارِي وَلَهَا نِصْفُهُ قَالَ سَهْلٌ وَمَا لَهُ رِدَاءٌ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا تَصْنَعُ بِإِزَارِكَ إِنْ لَبِسْتَهُ لَمْ يَكُنْ عَلَيْهَا مِنْهُ شَيْءٌ وَإِنْ لَبِسَتْهُ لَمْ يَكُنْ عَلَيْكَ مِنْهُ شَيْءٌ فَجَلَسَ الرَّجُلُ حَتَّى إِذَا طَالَ مَجْلِسُهُ قَامَ فَرَآهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَعَاهُ أَوْ دُعِيَ لَهُ فَقَالَ لَهُ مَاذَا مَعَكَ مِنْ الْقُرْآنِ فَقَالَ مَعِي سُورَةُ كَذَا وَسُورَةُ كَذَا لِسُوَرٍ يُعَدِّدُهَا فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمْلَكْنَاكَهَا بِمَا مَعَكَ مِنْ الْقُرْآنِ»[2]

ژباړه: له سهل بن سعد څخه روایت دی چې یوې ښځې خپل نفس رسول الله ﷺ ته وړاندې کړ، نو یوه سړي رسول الله ﷺ وسلم ته  وویل: ما ته یې نکاح کړه، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: ستا سره څه شته دي؟ سړي وویل: زما سره هیڅ نشته، رسول الله ﷺ ورته وویل: لاړ شه او څه پیدا کړه که څه د اوسپنې کړۍ (ګوتمې) هم وي، نو لاړ او بیرته راغی او ویې ویل: (نه) هیڅ مې پیدا نکړل، نه د اوسپنې ګوتمۍ ولې دا زما پرتوګ دی د دې لپاره نیمایي دی، سهیل وویل: دې سړي څادر هم نه درلود، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: څه کولی شي ستا په ازار باندې که چیرته یې ته واغوندې نو ددې لپاره په څه نه وي او که یې دا واغوندي د ستا لپاره به څه نه وي، نو سړی کیناست څه ځنډ وروسته بیا جګ شو، نو رسول الله ﷺ ولید او ویې غوښت، یا وغوښتل شو، نو رسول الله ﷺ ورته وویل ستاسره له قرآن کریم څخه څه شته؟ سړي وویل: دا سورت او هغه سورت، رسول الله ﷺ وفرمایل در مو کړه تاته په هغه څه سره چې ستا سره له قرآن کریم څخه شتون لري.

**له حدیث څخه د استدلال وجه:**  د اوسپنې د ګوتمۍ (کړۍ) قیمت

[1] ابن قدامة المقدسي، عبد الله بن أحمد بن قدامة المقدسي أبو محمد، وفات: ٦٢٠ ه.– المغني –  خپرندوی: دار الفکر – بیروت، د چاپ کال: ١۴٠۵ ه– لومړی چاپ. جلد: ٦ ، مخ: ٦٨١.

[2] البخاري،– صحيح البخاري– جلد:٧، مخ:١٣، د حدیث ګڼه: ۵١٢١

د یوه درهم سره مساوي نه دی خو په عرف کې په مال سره مبادله کیږي او ګټه ورڅخه اخیستل کیږي، مهر هم د منفعت بدل دی نو کیدای شي اندازه د عوض وګنل شي او ګټه ور څخه پورته کړي.[1] مونږ په ځواب کې وایو دا حدیث له یوې خوا د قرآني اقتضاء النص مخالف دی او له بلې خوا مجمل دی، د مجمل نص بیان د شارع عمل دی، یعنې په مساوي نص سره باید بیان شي په یوازې عرف سره یې بیان د منلو وړ ندی. په پای کې یې چې د قرآن کریم په تعلیم سره ورته نکاح کړه ځکه د قرآن کریم تعلیم منفعت دی ډیر لوړ منفعت، که څه هم په احنافوکې داقول شته چې د قرآن تعلیم مال نه ګڼي دا قول مرجوح دی، ځکه اوس عامه بلوا په دې ده، چې د قرآن په تعلیم سره اجره اخلي او دا ډیره په ځای خبره ده.

- «أن امرأة من فزارة تزوجت على نعلين فقال رسول الله صلى الله عليه و سلم أرضيت من نفسک ومالک بنعلين ؟ قالت نعم قال فأجازه»[2]

ژباړه: روایت شوی دی چې د فزاره له کورنۍ څخه یوې ښځې په یوه جوړه پایزار باندې ازدواج وکړ، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ته راضي یې له مال او له نفس څخه دې په دې پایزار باندې؟ هغې وویل هو کې، نو رسول الله ﷺ ورته اجازه ورکړه.

په دې سره هم شافعیانو او حنبلیانو استدلال کړی چې په مهر کې کمه اندازه نه ده ټاکل شوې، په دې حدیث کې له یوې خوا د حدیث په لفظ کې د ( فأجازه) کلمه راغلې او له بلې خوا دا حدیث مجمل دی مقدار پکې ندی تعین شوی، د نعلینو قیمت وخت پر وخت او یو او بل ځای کې بدلون مومي، نه ګورۍ چې اوس د بوټونو قیمت څومره توپیر لري، نو بناءً ددوی استدلال صحیح نه دی.[3]

- «عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ أَعْظَمَ النِّكَاحِ بَرَكَةً أَيْسَرُهُ مُؤْنَةً»[4]

ژباړه: له عایشې رضي الله عنها نه روایت دی چې رسول الله صلى الله علیه وسلم وفرمایل: غوره (بابرکته) نکاح هغه ده چې مصرف او زحمت یې کم وي.

[1] الشافعي، – الأم–، جلد:۵، مخ:٦۴.
[2] الترمذي، – سنن الترمذي – ، جلد: ۳ ، مخ: ۴۲۰. د حدیث ګڼه: ۱۱۱۳.
[3] الکحلاني، – سبل السلام: جلد:۱، مخ:۱۵۱–۱۵۲.
[4] مسند أحمد، – الرسالة ـــ،جلد:۴۱، مخ: ۷۵. ګڼه: ۲۴۵۲۹.

د عایشې رضي الله عنها حدیث هم مجمل دی او مجمل باید په داسې نص سره تفسیر شي چې درجه یې ورسره مساوي وي او دا حدیث ابي داود روایت کړئ چې موقوف والي ته یې ترچیج ورکړی شوې ده، د سبل السلام مؤلف وایي، چې ددې حدیث په سلسله کې موسی راغلی او دا حدیث ضعیف دی.[1]

- په بل حدیث کې رسول الله فرمایلي دي «من استحل بدرهم فقد استحل»[2]

ژباړه: څوک چې په یوه درهم سره څه ځان حلال کړي ارومرو ورته حلال کیږي.

په پورتنیو احادیثو د استدلال وجه: پورتني ټول احادیث په دې دلالت کوي چې دمهر لږه اندازه نه ده ټاکل شوې، او څومره هم چې کم وي رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته غوره مهر ویلی دی.

**غوره قول:**

کله چې د فقهاوو نظرونه او دلیلونه تردقت او څیړنې لاندې ونیسو، دا څرګندیږي چې د دوی د اختلاف سبب هغه روایات دي کوم چې دوی ته رسیدلي او استدلال یې ورباندې کړی دی، همدا راز د دوی د اختلاف سبب د روایاتو په صحت او سقم باندې ولاړ دی او د اختلاف د اسبابو څخه دا هم ده چې یو شی کوم وخت مال ګڼل کیږي؟ او کوم شی چې ګټه نه ورڅخه اخیستل کیږي مال دی او که نه؟ نو که پورتنیو قرآني آیتونو او د هغوی د اصولي بیان وجوهو ته په ځیر تیا سره پوره پاملرنه وشي، چې ټولو فقهاوو استدلال ورباندې کړی دی، دا به پوره جوته شي، چې د مهر لږ اندازه ټاکل نه یوازې ددې حدیث (لامهر دون عشرة دراهم) مفهوم دی، بلکې د قرآن کریم د هغو آیتونو مدلول یو وصف هم دی چې په مهر کې احنافو رحمة الله علیهم استدلال ورباندې کړی دی، چې لاندې یې یادونه کیږي:

الف: په ﴿وَأُحِلَّ لَكُمْ مَا وَرَاءَ ذَلِكُمْ أَنْ تَبْتَغُوا بِأَمْوَالِكُمْ﴾[3] آیت کې په هر بې ارزښته شي باندې د مال اطلاق نه کیږي دا قول د پورتني نص اقتضاء ده، چې مخکې اشاره ورته شوې ده.

---

[1] الکحلاني، – سبل السلام: جلد:۱، مخ: –۱۵۲.
[2] ابن أبي شیبة، أبو بکر عبد الله بن محمد بن أبي شیبة العبسي الکوفي، پیدا ینبت او وفات: (۱۵۹ – ۲۳۵ ه–) – مُصنف – له خپریدو پرته، جلد: ۳، مخ:۴۸۱.
[3] د النساء سورت، ۲۴ آیت.

ب: کوم روایات چې مالکي، شافعي او حنبلي رحمة الله علیهم د مهر د لږ اندازې د تعین په برخه کې له لسو (۱۰) درهمو څخه کم یاد کړي یا یې استدلال ورباندې کړی، له آیتونو او له هغو نصوصو مخالف دي، کوم چې د مهر د وجوب په هکله په دې بحث کې یاد شوي، مثلا د فریضه، اجورهن، طول، استطاعت کلمې چې طول هم په هغه څه حاصلیږي، چې معتنابه مال وي داسې نور اشارة النص هم په یادو شویو نصوصو کې شته چې د احنافو مذهب تأئیدوي.

کوم احادیث چې د مهر اندازه له یوه معین غیر معتنابه مال څخه جایزه ګڼي، یا یې په تعین قـــول نـــدی کـــړی د محدیثینو له خوا تعلیل، تاویل غیر ثقه او غیر معمول ګڼل شوی دی، مثلا دا حدیث (الثمن ولو خاتما من حدید) په دې حدیث کې علماوو داسې تاویل کړی دی چې اجازه ((أذن) في الصداق خاتما من حدید و ان لم یتم العقد علیه) چې سبل السلام وایي دا قول فأجازه ولم یتم العقد د ټولو دا ډول احادیثو تأویل کیدی شي.[1] چې مخکې د ځینـــو احادیثو د تعلیل په اړه یادونه وشوه.

کوم چې حنفي فقهاوو د لس درهمه په اړه حدیث یاد کړی هغه هم ضعیف بلل شوی او تر تعلیل لاندې، خو کلـــه چې د پورتنیو آیتونو اقتضاء النص ته نظر وکړو، نو مال هغه دی دی چې په شرع کې په هغه څه معین اثر مرتب وی، لکه هغه مال چې د غله (سارق) لاس ورباندې قطع کیږي ، نو لس درهمه ځکه مال ګڼل کیږي چې معتنابه انـــدام ورباندې قطع کیږي، چې له دې ځایه څخه د شرعي مال مفهوم تحقق مومي، نو نتیجه دا شوه چې په لږ اندازه مال کې د احنافو دلایل نستبا نورو مذاهبو ته قوي دي.[2]

## دریم مطلب:په مهر باندې د لزوم حالتونه:

### په ټول مهر د لزوم حالت:

[1]الکحلاني، – سبل السلام: جلد:۱، مخ:۱۵۲

[2]الکحلاني، – سبل السلام: جلد:۱، مخ: –۱۵۲.

**دا څرګندده ده چې مهر هغه حق دی، چې د زوج په ذمه یې زوجې ته ورکول لازم دي، ولې د زوج ( څښتن) په ذمه یې تحقق ــ ورکول – مؤکدات لري چې ترڅو هغه تحقق و نه مومي د مهر ورکول هم د څښتن ( زوج) په ذمه باندې لازم ندي.[1]**

**دا هم باید یاده کړو چې مهر اصلا په دوه ډوله دی: ۱– مسمی (ټاکل شوی مهر): دا هغه مهر دی چې د ازدواج د عقد په وخت کې د دواړو لورو په خوښه ټاکل شوی وي. ۲– مهر مثل: هغه مهر دی چې د ښځې همځولو او نیږدو خپلوانو لپاره تعین کیږي. لکه د پلار له طرفه خپلوان مثال یې عمه د عمه لور او داسې نور. چې مدني قانون هم په دې اړه داسې حکم کوي، (ښځه د مسمی مهر مستحقه ګڼل کیږي، که مهر د عقد په وخت کې نه وی ټاکل شوی یا نفی شوی وي، نو مهر مثل لازمیږی)[2] دا دواړه مهرونه هغه وخت د څښتن په ذمه لازم ګڼل کیږي، چې د هغه مؤکدات متحقق شي، چې مؤکدات یې لاندې دری امور دی، ۱– د عقد څخه وروسته مقاربت. ۲– صحیح خلوت ۳–. مرګ ( د زوجې یا زوج مرګ).**

**لومړی: د عقد څخه وروسته مقاربت: په صحیح عقد سره چې مقاربت هم ورسره شتون ولري، ټول مهر لازمیږي، که د عقد مسمی د عقد په وخت کې ټاکل شوې او یاده شوې وي، یا مهر مثل وي یعنې د عقد په وخت کې نه وي یاد شوی، حتی هغه مهر هم اعتبار لري، چې په تسمیه کې یې فساد وي، مثلا یو حرام شی لکه خمر یا خنزیر د مهر په تسمیه کې و ټاکل شي او عقد ورباندې را شي، کوم وخت چې مقاربت وشي مهر مثل ورته لازمیږي. نو مهر د هغه حقوقو څخه دی چې اسقاط نه لري او د نکاح د عقد له شرطو څخه دی، چې ذکر یې د عقد په وخت کې لازم نه دی، کله چې مهر د عقد شرط دی نه رکن نو دا شرط که فاسد هم وي صحیح دی، ځکه عقد د شرط د فساد په صورت کې بې اعتباره بلل کیږي، ځکه عقد (ایجاب او قبول) د عقد ارکان دي او شرط له ارکانو څخه خارج امر دی.[3]**

[1] الشامي، د نظام الدين بلخي تر مشرۍ لاندې د یوې ډلې علماوو تألیف. – الفتاوی الهندیة – خپرندوی: دار الفکر. د چاپ کال: ۱۳۱۰ هـ. دویم چاپ. جلد: ۱، مخ:۳۰۳.

[2] د افغانستان مدني قانون (۹۹) ماده.

[3] ابن رشد، – بدایة المجتهد و نهایة المقتصد –، جلد: ۳، مخ: ۴۸./ الکاساني، – بدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع–. جلد: ۲، مخ: ۲۹۱.

د تأكد وجه داده: مهر په عقد سره د ( زوج) څښتن په ذمه باندې تحقق موندلی دی او د هغه په ذمه باندې دين ګرځول شوی دی، په مقاربت سره يې څښتن په ذمه پوره حق تر لاسه کوي، نو ورباندې د دين په څير دا لازمه شوه چې دا دين پوره اداء کړي.[1] له بلې خوا کوم څه چې مسقطات يې فکر کيده، د هغه احتمال پوره له منځه لاړ، يعنې د معقود عليه استيفاء کاملا تحقق وموند، نو شرعي او حقوقي بدل يې هم بايد تحقق ومومي، په دې مطلب باندې د الله متعال دا قول په تضمني ډول دلالت کوي، ﴿وَإِنْ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ﴾[2]

ژباړه: او که له نږديوالي مخکې مو طلاقې کړې او څه مهر مو هم ورته ټاکلی ؤ، نو بيا نيمايې د هغه مهر دی چې تاسو ټاکلی وي، خو که مقاربت تحقق پيدا نه کړ، نشي کولای يو څه هم ورڅخه وغواړي.

د آيت د استدلال وجه: په پورتني مبارک آيت کې د زوج ( څښتن) په ذمه باندې په هغه طلاق سره چې مقاربت نه وي شوی، نيمايي مهر ثابت شوی دی، له دې څخه پوره څرګنديږي چې په عقد سره د څښتن په ذمه مهر د اثبات مرحلې ته رسيږي، نو که چيرې يې مهر پوره ورکړی وي يوازې د عدم مقاربت په وخت کې هغه نيمايي له زوجې څخه غوښتی شي همدا راز د الله تعالی داقول چې فرمايلي يې دي.[3] ﴿وَإِنْ أَرَدْتُمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَكَانَ زَوْجٍ وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنْطَارًا فَلَا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيْئًا أَتَأْخُذُونَهُ بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُبِينًا وَكَيْفَ تَأْخُذُونَهُ وَقَدْ أَفْضَى بَعْضُكُمْ إِلَى بَعْضٍ وَأَخَذْنَ مِنْكُمْ مِيثَاقًا غَلِيظًا﴾[4]

ژباړه: او که مو يوه ښځه په بلې بدلول غوښتل او د هغوی کومې يوې ته مو ډېر مال هم ورکړی وي، نو بېرته به هيڅ شی نه ترې اخلئ، نو ايا په تور تپلو او ښکاره ګناه به يې اخلئ ؟ او څنګه به يې اخلئ حال دا چې تاسې يو بل ته (ډېر نژدې) رسېدلي ياست او هغوی له تاسې پوخ عهد هم اخيستی؟[5]

---

[1]الکاساني، – البدائع الصنائع في ترتيب الشرائع–. جلد: ۲، مخ: ۲۹۱.

[2] د البقرة سورت،۲۳۷ آيت.

[3]ابن رشد،– بداية المجتهد و نهاية المقتصد – جلد: ۲، مخ: ۲۳.

[4] د النساء سورت، ۲۰– ۲۱ آيت پورې.

[5]نوت: د هغې زوجې طلاق مراد دی چې په فحشاء يا جريمې سره نوي طلاقه شوې.

دا هم باید یاده شي، چې مهر د شرع حق دی، د نکاح دعقد د شرف له وجې لازم شوی دی، نو لزوم یې په کوم وخت کې چې مؤکداتو د عقد تحقق پیدا کړی وي کاملا په ذمه باندې تحقق پیدا کوي.[1] مقاربت د عقد له هغه مؤکداتو څخه دي چې د نکاح د مؤبد عقد پایله ګڼل کیږي او اسقاط یې شرعا ناجایز پوره ورکول یې د عقد له غایې سره مطابق عمل دی.

**دویم: صحیح خلوت**: په صحیح خلوت سره ټول مهر لازم ګرځي، صحیح خلوت دیته وایي چې زوجین په داسې محل کې سره یو ځای شي، چې د جماع لپاره حسي یا شرعي مانع موجود نه وي ، حسي مانع چې یو له دواړو څخه په داسې ناروغۍ اخته نه وی، چې د مقاربت مانع ګرځي، یا یو ددې دواړو څخه صغیر نه وي، هغه صغر چې د مقاربت مانع وګرځي، شرعي مانع، چې له دوی دواړو څخه یو د رمضان د میاشتې روژه نه وي نیولې، یو له دوی دواړو څخه د فرضي او نفلي حج او عمرې لپاره احرام نه وی تړلی، همدارنګه ښځه حایضه نه وي، که یو له پورتنیو شرطونو څخه تحقق ونومي خلوت صحیحه نه دی.[2]

فقهاء د صحیح خلوت په حکم کې اختلاف لري، چې په دوو ډلو ویشل شوي دي:

**الف:** جمهورو فقهاء رحمة الله علیهم: د نومړو فقهاوو رحمة الله علیهم په قول دې مطلقې ته کامل مهر لازم دی، د حنفي فقهاوو له جملې څخه علامه محبوبي او علامه نسفي او علامه مرغیناني د امام اعظم رحمة الله علیه دا قول تأید کړی او په همدې مذهب باندې یې فتوا کړې ده، حتی وایي په خصي انسان، یا عنین باندې هم په صحیح خلوت سره پوره مهر لازم ګرځي، په دې قول حنفي فقهاء اتفاق لري. علامه نسفي په دې هکله وایي:(و الخلوة بلا مرض و حیض و نفاس و احرام و صوم فرض کالوطي و لو مجبوبا او عنینا او خصیا و تجب العدة فیها) [3] ژباړه: پرته له مرض، حیض، نفاس، احرام، فرضي روژې څخه، د مقاربت په مفهوم که څه هم څښتن ناتوان، عنین، یا خصي وي، عدت ورباندې لازمیږي.[4] او له امام احمد څخه په دې مورد کې روایت دی چې وایي: هغه شخص چې یو ډول

---

[1] النووي، أبو زکریا محیی الدین بن شرف، وفات: ٦٧٦ هـ. – المجموع – شرح المهذب – تحقیق: محمد نجیب المطیعي، خپرندوی: مکتبة الارشاد – جدة. جلد: ١٦، مخ: ٣٤٦.

[2] المیداني، – اللباب في شرح الکتاب ــ جلد:٢ مخ:٢٣٤-٢٣٥.

[3] النسفي، أبو البرکات عبد الله بن أحمد بن محمود حافظ الدین وفات: ٧١٠هـ،– کنز الدقائق – خپرندوی: دار البشائر الإسلامیة، دار السراج، چاپ: لومړی، ١٤٣٢هـ – ٢٠١١م، جلد: ٢، مخ:١١.

[4] المیداني، – اللباب في شرح الکتاب ــ جلد:٢ مخ: ٢٣٥.

استمتاع وکړي له کومې ښځې څخه په مستقیمه توګه پرته له شرمګاه څخه د خلوت معنا هم شتون ونلري، لکه مچي ورڅخه اخیستل او داسې نور، دا ټول کامل مهر لازم ګرځوي، کله چې ښځه را ونیسي، یا یې مسحه کړي، ددې ښځې لپاره کامل مهر دی او کوم وخت چې داسې یو عمل ورسره وکړي، چې پرته له ده بل شخص ته جایز نه وي په بل روایت کې څوک چې نکاح کړې یا نظر وکړې هغې ته او دا ښځه لوڅه وي د غسل کولو په حال کې، په ده باندې مهر دی همدا راز روایت شوی دی، چې که یو شخص ددې په هکله د داسې راز په اړه باندې معلومات پیداکړي چې په بل چا باندې حرام وي، په ده باندې مهر لازمیږي ځکه دا یوه نوع ګټه ( استمتاع ) اخیستل دی، دا عمل د مچې اخیستلو مفهوم لري.[1]

د جمهورو علماوو دلیلونه: جمهور علماوو د خپل قول او مذهب لپاره په لاندې دلایلو استدلال کړی دی:

**الف:** له کتاب الله څخه: ﴿وَإِنْ أَرَدْتُمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَكَانَ زَوْجٍ وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنْطَارًا فَلَا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيْئًا أَتَأْخُذُونَهُ بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُبِينًا وَكَيْفَ تَأْخُذُونَهُ وَقَدْ أَفْضَى بَعْضُكُمْ إِلَى بَعْضٍ وَأَخَذْنَ مِنْكُمْ مِيثَاقًا غَلِيظًا﴾[2]

ژباړه: او که مو یوه ښځه په بلې بدلول غوښتل او د هغوی کومې یوې ته مو ډېر مال هم ورکړی وي نو بېرته به هیڅ شی نه ترې اخلئ، نو ایا په تورتپلو او ښکاره ګناه به یې اخلئ ؟ او څرنګه به یې اخلئ حال دا چې تاسې یو بل ته (ډېر نژدې) رسېدلي یاست او هغوی له تاسې څخه پوخ لوظ هم اخیستی؟

د پورتني مبارک آیت د استدلال وجه: په آیت کریمه کې ﴿وَقَدْ أَفْضَى بَعْضُكُمْ إِلَى بَعْض﴾ ذکر موندلی دی او په افضاء سره چې د (خلوت) مفهوم لري، مهر یې لازم کړی دی او له دې امر څخه چې وروسته یو څه له ښځې څخه واخلي نهې راغلې ده، نو څرګنده شوه چې په خلوت سره ټول مهر لازمیږي.

**ب:** نبوي حدیث: قال الرسول الله ﷺ «من كشف خمار امرأة ونظر إليها فقد دخل بها أو لم يدخل وجب الصداق دخل بها أو لم يدخل»[3]

---

[1] ابن قدامة، — المغني — جلد:٦، مخ:٢٣. / الشامي، — الفتاوى الهندية —. جلد: ١، مخ:٢٣.

[2] د النساء سورت، ٢٠-٢١ آیتونه.

[3] البيهقي، أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي البيهقي، — السنن الكبرى وفي ذيله الجوهر النقي — خپرندوی: مجلس دائرة المعارف النظامية الكائنة في الهند ببلدة حيدر آباد، چاپ: لومړی، د چاپ کال: ١٣٤٤ هـ، جلد:٧، مخ:٢٥٦. دا حدیث الباني ضعیف بللی، ارواء الغلیل، جلد:٦، مخ: ٣٥٦.

ژباړه: څوک چې پورته کړي د ښځې پړونی او نظر وکړي هغې ته، لازم دی په هغه شخص باندې مهر که يې دخول کړی وي يا نه .

ج: اجماع: له زراره بن اوفی رضي الله عنه نه روايت دی ده فرمايلي دي، راشدينو خلفاوو په دې حکم کاوه، چې څوک دروازه وتړي د يوې ښځې سره او يو څه وخت ور سره پاتې شي، نو حتمي په ده باندې مهر لازميږي، عدت هم لازم دی، البهوتي رحمة الله عليه ويلي دي، دا قضايا وې د خلفاوو په وخت کې د شهرت په مرحله کې وي او هيچا ورسره مخالفت ندی کړی، نو دا يو ډول سکوتي اجماع شوه.[1]

د: معقول: د صحيح خلوت په صورت کې ښځې خپل نفس د ټول توان سره د څښتن په واک کې ورکړی دی او کوم شرعي يا حسي مانع له جنسي مقاربت څخه شتون نه لري، نو مهر پوره لازميږي، ځکه د دوو بدلو (بدلين) څخه يوه تحقق وموند نو دويم بدل هم تحقق مومي، دا چې زوج خپل بدل تر لاسه نکړ او مقاربت يې ونکړ، د ښځې په حق چې مهر دی، کوم اثر نشي کولی، په مالي عقدونو دا امر تر تعامل لاندې دی، قياس نه بلکې د ښه قواميت او احسان يوه درجه ګڼل کيدی شي.[2]

په دې اړه د افغانستان مدني قانون په(۹۱) ماده کې هم ورته حکم کوي: (د ټول مهر د لزوم په باره کې، که نکاح صحيح وي، نو صحيحه خلوت د دخول حکم لري، که څه هم ميړه عنين وي. همدارنګه د نسب د ثابتولو، نفقې، د ښځې د خور د نکاح حرمت په باره کې د صحيح خلوت حکم لکه په صحيحې نکاح کې عينا دخول حکم لري).

ب: مالکي او شافعي (د نوي مذهب فقهاء) رحمة الله عليهم: دوی وايي، صحيح خلوت د مهر په لزوم کې هيڅ اثر نلری، نو که يو شخص خپله زوجه وروسته له صحيح خلوت څخه طلاقه کړي، ديته پرته له نيمايي مهر څخه هيڅ شی نشته دي، مالکي فقهاء د زوج د دليل په ضمن کې وايي، چې د مهر حق د څښتن په يو کلن اقامت سره وروسته له خلوته اثبات او تحقق مومي، هغه پداسې حال کې چې زوج بالغ وي او زوجه د يوه کال د زوج د اقامت

---

[1] صهيب عبد الجبار، – الجامع الصحيح للسنن والمسانيد–، د خپرولو نيټه: ۱۵ – ۸ – ۲۰۱۴، جلد:۳۵، مخ:۲۰.
[2] السرخسي، – المبسوط –جلد: ۵ ، مخ: ۱۴۹.

لپاره آماده وي، نو دا يو کال اقامت د جماع او مقاربت ځای نيسي، دا په هغه حالت کې چې زوج عنين وي خلوت ګڼل کيږي.[1] چې په لاندې دليلونو سره استدلال کوي:

لومړی د قرآن عظيم الشان په دې آيت استدلال کوي چې فرمايي: ﴿وَإِنْ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ﴾[2]

ژباړه: او که له نږديوالي مخکې مو طلاقې کړې او څه ولور (مهر) مو هم ورته ټاکلی ؤ، نو بيا نيمايې د هغه چې تاسو ټاکلی وي لازم دی.

په استدلال کې وايي چې آيت کريمه کې مس د جماع په معنا دی او جماع تحقق ندی پيداکړی، نو نيمايي مهر ورته ثابتيږي، له ابن عباس څخه هم همدا ډول روايت شوی دی.[3]

**دويم:** قياس: دا هغه خلوت دی چې جماع پکې نشته، نو دا لازم نه ګرځي، چې مهر يې کامل ور کړل شي او دا خلوت داسې فرض کيدای شي، لکه چې يو ددوی دواړو څخه د فرضي حج لپاره محرم وي او يا روژه لرونکی وي.[4]

**غوره قول:**

د فقهاوو اکثريت چې د احنافو او حنابله وو رحمة الله عليهم قول دی، علماوو تأيد کړی دی، ځکه د دوی دلايل قوي دي، سربيره پر دې، د صحابه وو رضي الله عنهم له زمانې څخه تر اوسه پورې فتوا ورباندې روانه ده او د محاکمو تر تعامل لاندې هم دی.

په صحيح خلوت سره د کامل مهر ثبوت د مسبب پر ځای باندې د سبب اقامه ده، دا اصل د فقهې د اصولو (د احنافو پر مذهب) يوکلي اصل دی، چې سبب د مسبب پر ځای اقامه کيږي، لکه خوب چې د اوداسه د نقض سبب

---

[1]ابن رشد، أبو الوليد محمد بن أحمد بن محمد بن أحمد بن رشد القرطبي الشهير بابن رشد الحفيد وفات : ۵۹۵ ه، – بداية المجتهد و نهاية المقتصد – خپرندوی: مطبعة مصطفى البابي الحلبي وأولاده، مصر چاپ : ۴، ۱۳۹۵ه–۱۹۷۵م جلد:۲. مخ:۲۳.

[2] د البقرة سورت، ۲۳۷ آيت.

[3]مخکينی مرجع.

[4]الماوردي، أبو الحسن علي بن محمد بن محمد بن حبيب البصري البغدادي، وفات:۴۵۰ ه–، – الحاوي الكبير – خپرندوی: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان، چاپ: لومړی، ۱۴۱۹ ه– –۱۹۹۹ م، جلد:۱۲،مخ:۱۷۵.

دی خو پخپله د اوداسه ناقض ندی، ولې د نقض سبب دی، نو دې سبب د مسبب ځای نیولی دی.[1] د پوره مهر له بحث او څیړنې او آیت کریمه له مدلول څخه څرګنده شوه، چې د زوجې لپاره مهر یو ثابت حق دی او په کوم وخت کې چې د نکاح د عقد مؤکدات ( لکه د زوجینو څخه د یوه مرګ، جماع، جنسي مقاربت اوصحیح خلوت ) شتون ولري او عقد هم صحیح وي، د مهر تاکل صحیح وي، په دې صورت کې د پوره مهر ورکول واجب او لازم ګرځي، ځکه د عقد د سقوط احتمال پوره له منځه درومي او د نکاح د ابدیت مفهوم تحقق پیدا کوي، او په کوم وخت کې چې مخکې له دخول یا خلوت څخه زوجه طلاقه شي، په دې صورت کې نیمايي مهر ورته لازم دی، دا قول هم په اجماع او اتفاق سره تائید شوی دی، سره له دې چې د آیت کریمه مدلول دی.

**د غوره قول اسباب او عوامل:**

- د آیت کریمه مدلول دی.
- اقامه د سبب د مسبب پر ځای یعنې کلي قاعده.
- د مالکي او شافعي فقهاوو د دلیل کمزورتیا.
- د صحابه وو څخه تر نن زمانې پورې وربانديې تعامل او فتوا.

**دریم** : له زوجینو څخه د یوه وفات: له زوجینو څخه د یوه مرګ د عقد له مؤکداتو څخه ګڼل کیږي، نو د کامل مهر ورکړه اثباتیږي او مرګ ډیر قوی– پر ځای – مؤکدي طلاق په څیر د نکاح د مؤبد عقد فسخ نه بلکې د عقد د غایې او هدف سره سم پای ته رسیدلی امر دی، ځکه په مرګ سره عمر پای ته رسیږي، نو نکاح مؤبد عقد هم په دنیوي امورو پای ته رسیږي، له بلې خوا زوجینو له دې عقد څخه غایه او منافع تر لاسه کړې دي، نو د زوجینو څخه دیوه مرګ د کامل حق کامله استیفاء ګڼل کیږي، ددې بدل هم باید په کامله توګه اداء شي،[2] اما دا حکم په هغه وخت کې اعتبار لري، چې پر مهر د نکاح د عقد په وخت کې تصریح شوې وي، اما کله چې د عقد په وخت

[1] النسفي، أبو البركات عبد الله بن أحمد بن محمود حافظ الدين وفات: ٧١٠هـ، – كنز الدقائق – خپرندوی: دار البشائر الإسلامية، دار السراج، چاپ:لومړی، ١٤٣٢هـ– – ٢٠١١م، مخ:١١.

[2] الكاساني، – البدائع الصنائع فى ترتيب الشرائع–. جلد: ٢، مخ: ٢٩٥.

کې په مهر تصریح نه وي راغلې، نه یې اندازه ټاکل شوې وي او نه مهر مثل یاد شوی وي، دې عقد ته د تفویض نکاح وایي او بیل حکمونه لري چې څیړنه یې کیږي.

که وروسته له داسې عقد څخه د زوجینو څخه یو مخکې له دخول څخه وفات شي، فقهاء هغې ته د کامل مهر په ورکولو کې اختلاف لري او په دوه(۲) عمده ډلو ویشل شوی دی .

**اول:**جمهور فقهاء: (احناف، شافعیان او حنابله) په مهر مثل ورته قایل دي، دوی وایي، چې مهر شرعي حق (حق الله) دی، هیڅوک د هغه د نفې کولو حق نلري او دا حق په یوازې (محض) عقد سره ثابتیږي. دا حق د ژوند د بقاء په صورت کې د څښتن په ذمه باقي پاتې دی، یوازې زوجه د هغه څخه د ابراء حق لري، [1] پورتنی دلیل د حنفي فقهاوو دی.

اما شافعیان او حنابله رحمة الله علیهم بیل دلیل هم لري، او په مبارک حدیث چې د ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت شوی دی، استدلال کوي هغه دادی: «انه سئل عن رجل تزوج امراة و لم یفرض له صداقا و لم ید خل بها حتی مات فقال اني اقول فیها ان لها صداقا کصداق نسائها لا وکس، ولا شطط و أن لها المیراث و علیها العدة فان یک صوابا فمن الله و ان یک خطأ فمني و من الشیطان و الله و رسوله بریئان فقام ناس من اشجع.... فقالوا یا بن مسعود نحن نشهد أن رسول الله ﷺقضاها فیتا في بروع بنت واثق ».[2]

ژباړه: ابن مسعود رضي الله عنهما څخه د هغه شخص په هکله پوښتنه وشوه، چې د نکاح عقد یې کړی وي، ولې مهر یې نه وي ټاکلی او نه په کوم ډول مهر باندې تصریح راغلې وي او مقاربت یې هم نه وي ورسره کړې، او داشخص وفات شي، حکم یې څه دی؟ ده وویل: زه وایم په دې قضیه کې چې ددې ښځې لپاره مهر مثل دی، نه له هغه څخه کم او نه هم زیات، ددې لپاره میراث دی او په دې باندې عدت تیرول دي، نو که چیرې دا قول صحیح و د الله له خوا دی او که خطا وي د شیطان دی، الله تعالی او رسول یې له داسې قول څخه بري دي، نو د اشجع له

[1] المیداني، – اللباب في شرح الکتاب –جلد: ۲،مخ:۲۲۳.
[2] ابن رشد،– بدایة المجتهد و نهایة المقتصد – جلد: ۲، مخ: ۲۷. /النووي، – المجموع – جلد: ۱۶، مخ: ۳۷۱.

عشیرې ښځه یوه ډله پورته شوه او وېې ویل ای ابن مسعوده ! مونږ شاهدي وایو چې رسول الله ﷺ د بروع بنت واثق د لور په هکله داسې فیصله وکړه.

د حدیث د استدلال وجه: نو په حدیث باندې د استدلال وجه دا شوه چې ابن مسعود د صحابه وو رضي الله عنهم مجتهد دی، ټول مهر یې لازم ګڼلی دی او هم د اشجع د عشیرې یوې ډلې د رسول الله ﷺ ښځه د ابن مسعود رضی الله عنه په مثل فیصله روایت کړې ده، پورتنیو دریو حالاتو ته په کتو د افغانستان مدني قانون هم د احنافو او جمهورو علماوو نظر تائید کړی، چې دا ډول حکم کوي: (په دخول، صحیح خلوت یا د زوجینو ښځه د یوه په مرګ که څه هم دا مرګ د د خول یا صحیح خلوت د مخه وي ټول مهر لازمیږي).[1]

دویمه ډله فقهاء: چې مالکیان او د شافعیانو ظاهر قول دی وایي د مفوضې لپاره هیڅ مهر نشته تر څو د خول یعنې مقاربت نه وي ورسره شوی، یا مهر نه وې ورته ټاکل شوی.[2]

دې ډلې فقهاوو په یو مبارک حدیث چې موطاء روایت کړی استدلال کړی دی د مبارک حدیث متن په لاندې ډول دی «أن بنتا لعبید الله بن عمر و أمها بنت زید ابن الخطاب کانت تحت ابن لعبد الله ابن عمر[3] فمات ولم ید خل بها ولم یسم لها صداقا فابتغت أمها صداقها فقال عبد الله بن عمر : لیس لها صداق و لو کان لها صداق لم نمسکه، و لم نظلمها، فأبت أمها أن تقبل ذلک فجعلوا بینهم زیدبن ثابت فقضی أن لاصداق لها، و لها من المیراث»[4]

ژباړه: په تحقیق سره د عبید الله ابن عمر لور چې مور یې د زید ابن خطاب لور وه، د عبد الله ابن عمر د زوی په نکاح کې وه چې دی مړشو او مقاربت یې نه و ورسره کړی او مهر یې هم نه و ورته ټاکلی، نو مور یې مهر وغوښت او عبدالله ابن عمر وویل د دوی لپاره مهر نشته، که چیرې ددې لپاره مهر وای نو مونږ ورکاوه او ظلم مو نه

---

۱د افغانستان مدني قانون، ۹۸ ماده.

[2]ابن رشد،– بدایة المجتهد و نهایة المقتصد – جلد: ۲، مخ: ۲۷.

[3]نوم یې عبدالله د حضرت عمر بن خطاب زوی د قریشو له قبیلی ښځه دی. په کوچنیوالي کې یې ایمان راوړ او له خپل پلار سره یې مدیني منورې ته هجرت وکړ، د فقهاوو او علماء اصحابو ښځه دی. له دوه زرو ښځه زیات احادیث یې له پیغمبرﷺ ښځه روایت کړي دي. په تقوی او د سنتو په متابعت کې یې شهرت درلود، د هجرت په ۷۳ کال د ۸۳ کلونو په عمر په مکې مکرمې کې وفات شو. انا لله و انا الیه راجعون.

[4]مالک، – الموطاء – مخ: ۳۰۷، د حدیث ګڼه: ۱۰۹۸.

ورباندې کاوه، مور يې انکار وکړ او دا خبره يې و نه منله، نو د دوی تر منځ زيد ابن ثابت فيصله وکړه او ويې ويل، ددې لپاره مهر نشته او ميراث يې حق دی.

## غوره قول:

زما په آند د جمهورو فقهاوو قول را جح دی، ځکه چې:۱- مهر د الله تعالی حق دی يوازې په عقد سره تحقق مومي، اسقاط نلري، دا حق که چيرې په عقد کې نفې شي، يا داسې شی مهر و ټاکل شي، چې اصلا د مسلمان لپاره مال نه ګڼل کيږي، بيا هم تسميې (ټاکلو) ته ضرورت دی. مهر په مبارک آيت د (فريضة) په نامه سره ياد شوی، ﴿قد فرضتم لهن فريضة﴾ دا مبارک آيت قرآني نص دی، د مهر په لزوم کې د اصولو د قواعدو له مخې هيڅ خبر واحد که څه هم صحيح حديث وي، د قرآني آيت په برابر کې نه شي واقع کيدی، يعنې کوم وخت چې قرآنی آيت دکوم وصف لکه: خصوص، عموم، اطلاق، نصوص، ظهور او داسې نورو سره معارض شي، خبر واحد متروک العمل ګرځي، د قرآني آيت په همغه وصف باندې عمل کيږي، په ياد شوي آيت کې اطلاق په وصف سره مهر ته فريضه ويل شوې ده، په طلاق، خلوت او موت پورې ندی مقيد شوی، نو د مبارک آيت د اطلاق وصف ته په پام سره مفوضې ته د ښځې د وفات په صورت کې ټول مهر مثل دی او که مقاربت نه وي شوی متعه ورته واجبه ده.[1]

### د نيمايي مهر د لزوم حالت:

دا حکم څرګند شو چې مهر د ښځې په ذمه باندې په صحيح عقد سره لازميږي، ولې تر هغه پورې د سقوط احتمال لري چې مؤکداتو تحقق نه وي موندلی، اما کوم وخت چې د مهر مؤکدات تحقق ومومي، دا حق کاملا (پوره) ښځې ته ورکول کيږي، لکه د مرګ يا جنسي مقاربت په وخت کې، يا هغه امور چې د مقاربت حکم ولري، لکه صحيح خلوت کوم وخت چې موت يا جنسي مقاربت نه وي متحقق شوی، طلاق واقع شی، په دې حالت کې يوازې نيمايي مهر واجب ګرځي او نيمايی ساقطيږي، قرآن کريم په دې هکله داسې حکم کوي، :﴿وَإِنْ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ

---

[1] الميداني، – اللباب في شرح الكتاب – جلد: ۱،مخ:۲۳۵.

أَنْ تَمَسُّوهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ إِلَّا أَنْ يَعْفُونَ أَوْ يَعْفُوَ الَّذِي بِيَدِهِ عُقْدَةُ النِّكَاحِ وَأَنْ تَعْفُوا أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى وَلَا تَنْسَوُا الْفَضْلَ بَيْنَكُمْ إِنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ﴾[1]

ژباړه: او که له نږديوالي مخکې مو طلاقې کړې او څه مهر مو هم ورته ټاکلی وُ نو بيا نيمايي د هغه چې تاسو ټاکلی وي لازم دی. مگر خو که دوی (دا ښځې) يې وبخښي، يا هغه کس (مېړه) يي وبخښي، چې د نکاح غوټه يې په لاس کې ده او که تاسو (مېړه او ښځه) تېرېده وکړئ، نو تقوی ته ډېره نږدې ده او خپلو کې لورينه له ياده مه باسئ، بی شکه الله د هغه څه چې تاسو يې کوئ ښه لېدونکی دی.

په آيت کريمه باندې د استدلال وجه: پورتنی آيت کريمه نص دی، په وجوب د نيمايي مهر کې د هغې ميرمنې چې حقيقي ياحکمي مقاربت نه وي ورسره شوی، نص د قرآن عظيم الشان څخه هغه د بيان وجه ده، چې خبر واحد يا قياس د هغه سره معارض نه شي واقع کيدلی، يعنې دلالت يې په حکم باندې قطعي دی او نور شرعي دلايل لکه: نبوي حديث، اجماع اوقياس د هغه حکم لپاره چې په قرآن کريم کې منصوص عليه ظني دلالت دي، عمل نه ورباندې کيږي.

داسې فکر دې ونشي چې طلاق د عقد له احکامو څخه د يوه حکم تر لاسه کولو مخکې د عقد د نقض حکم لري، نو بايد دې ډول (ميرمنې) ته هيڅ ورنکړل شي، بايد يادونه وشي چې طلاق د عقد نتيجه ده او له بنياد څخه دعقد نقض نه بلل کيږي، نو هغه احکام چې په عقد سره يې تحقق موندلی دی، هغه نه لغو کوي، بلکې اثبات يې حتمي گرځي.[2] دا يوه روښانه خبره ده، چې مهر د ميرمنې حق دی په جنسي مقاربت سره (که حقيقي او يا هم حکمي وي) چې د زوجينو د وفات په صورت کې ټول مهر، او د مقاربت څخه مخکې په طلاق سره د ټاکلي مهر نيمايي لازم گرځي، اما له عقد څخه وروسته ټاکل شوی مهر، يا په ټاکلي مهر ور زيات شوی ددې ډول طلاق په صورت کې نيمايي کيږي او که نه، په دې مورد کې د فقهاوو اختلاف دی او دوو ډلو ته ويشل شوي دي:

[1] د البقرة سورت،۲۳۷ آيت.

[2] الميداني، – اللباب في شرح الكتاب – جلد: ۲، مخ: ۲۳۳./احمد، ملاجيون،– التفسيرات الاحمدية: خپرندوی: المطبعة الكريمية الواقعة في منبي، د چاپ کال: ۱۳۲۷، مخ: ۲۵۰– ۲۵۱.

**الف**: حنفي فقهاء: دوی وايي په دا ډول طلاق يې يواځې اصلي ټاکلی مهر نيمايي کيږي نه هغه مهر چې له عقد څخه وروسته زيات شوی وي، دا قول د عامه احنافو دی پرته له امام ابو يوسف څخه امام ابو يوسف له دويمې ډلې فقهاوو سره دی.

د احنافو دلايل: احناف رحمة الله عليهم وايي چې يوازې هغه مهر چې د عقد په وخت ټاکل شوی او لازم شوی نيمايي کيږي. نه هغه مهر چې له عقد څخه وروسته ټاکل شوی وي يا په اصلي مهر زيات شوی وي، ځکه له مهر څخه وروسته ټاکل شوی مهر د مفوضې مهر دی ــ که د زوجينو په رضا سره وي يا قاضي ټاکلی وي – او مفوضې ته د قرآني آيت په مدلول يوازې متعه لازمه ده نه نيمايي مهر الله تعالی په دې مورد کې فرمايلي دي: ﴿لَّا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ مَا لَمْ تَمَسُّوهُنَّ أَوْ تَفْرِضُوا لَهُنَّ فَرِيضَةً وَمَتِّعُوهُنَّ﴾[1]

ژباړه: (په دې کې هم) څه ګناه درباندې نشته چې مېرمنې له نږدېوالي او ولور (مهر) ټاکلونه مخکې طلاقې کړئ خو څه خرڅ (مال يا جامه) ورکړئ.

د آيت کريمه څخه د استدلال وجه: ﴿أَوْ تَفْرِضُوا لَهُنَّ فَرِيضَةً﴾ له مدلول څخه هغه مفروض مراد دی، چې د عقد په وخت کې فرض او ټاکل شوی وي، نه هغه فرض – مفروض– چې وروسته له عقد څخه ټاکل شوی وي، يا په اصلي فرض باندې زيات شوی وي، ځکه کله چې يو شی مطلق ذکر شي متعارف ورڅخه مراد کيږي او متعارف مفروض د عقد د وخت مفروض دی، نو يوازې د عقد د وخت مفروض – مهر– نيمايي کيږي، نه ګوری چې مهر مثل هم په عقد سره لازم شوی دی، اما کله چې اندازه يې وروسته ټاکل شوې ده، په هغه طلاق کې چې له مقاربت څخه مخکې واقع شي، کاملا سقوط مومي او په ځای يې متعه لازميږي.

همداراز احنافو وايي: پورتني او ورپسې (۳۷–۳۶) آيتونه دواړه د هغه طلاق په هکله نازل شوي دي، چې د زوجې سره مقاربت نه وي شوی، نو هغې مطلقې ته چې مهر ورته ټاکل شوی نيمايي مهر ورکول کيږي او کومې چې مهر نه وي ورته ټاکل شوی متعه واجب ده. له بلې خوا پورتنی آيت د متعې په حکم کې نص دی، او (۳۷) آيت د نيمايي

[1] د البقرة سورت، ۲۳۶ آيت.

مهر په لزوم کې هغې مطلقې ته چې مقاربت نه وی ورسره شوی هم مفسر نص دی، د نیمايي مهر په لزوم کې، نو د نکاح په بيع باندې قياس کول، نصوص پريښوول او په ضعيف اصل عمل کول دي، چې دا دمنلو وړ نه ده.[1]

لازمه ښکاري ترڅو پورتنی آيت کريمه يو څه وڅيړل شي په ﴿أَوْ تَفْرِضُوا لَهُنَّ﴾ کې (او) کلمه عاطفه ده د دوو (۲) شيانو نفي دلته مراد ګرځي :

(۱)د جماع عدم (نشتوالی). (۲) د مهر نفي، نو هغه وخت چې دا دواړه نفي وي (شتون ونلري) جناح (ګناه) عدم تحقق پيدا کوي او که يو له پورتنيو دوو (۲) امورو تحقق پيدا کړي، حکم تغيير مومي او مهر واجب ګرځي. او د ﴿تَفْرِضُوا﴾ کلمه د ﴿لَمْ تَمَسُّوهُنّ﴾ په څير (لم) سره مجزومه ده او په ﴿لَمْ تَمَسُّوهُنَّ﴾ باندې عطف ده نو د دوو (۲) امورو انتفاء عدم مجامعت، د مهر نه تعين، سره د "متعوهن" مفهوم تحقق مومي او متعه لازمه ګرځي.[2] د احنافو له جملې څخه علامه نسفي داسې قول کړی دی: (ما فرض بعد العقد او ازيد لاينصف) کوم څه چې ورروسته له عقد څخه فرض يا زيات شي نه نيمايي کيږي.

په دې اړه د افغانستان مدني قانون هم داسې حکم کوي: (ښځتن کولی شي د عقد څخه وروسته د مهر اندازه زياته کړي. په پورتني حالت کې زيادت د لاندې شرطونو تابع دی: الف: د مهر اندازه معلومه وي. ب: ښځه يا ولي دا زيادت قبول کړي. ج: د زوجيت رابطه باقي وي).[3]

د پورتنۍ مادې د دريمې فقرې څخه دا معلوميږي چې زوجه يا ولي يې د طلاق په وخت کې د زيادت غوښتنه نشي کولی، نو مدني قانون د احنافو د نظر مطابق حکم کوي.

**ب: د جمهورو فقهاوو قول:** دوی په ﴿ فَنِصۡفُ مَا فَرَضۡتُمۡ ﴾ باندې استدلال کوي او وايي، چې د بيع په عقد کې زيادت په اصلي ثمنو باندې التحاق مومي، نو کيدی شي په نکاح کې هم زيادت په اصلي مهر باندې التحاق ومومي او د اصلي مهر سره يو ځای نيمايي شي.

---

[1]الشاشي، أحمد بن محمد بن إسحاق الشاشي أبو علي، – اصول الشاشي– خپرندوی، دار الکتاب العربي، بيروت، ۱۴۰۲، مخ: ٦-٧. / النسفي، – کنز الدقائق –، ټوک:۲، مخ:۱۱.

[2]نوټ: په کوم وخت چې دری لومړني اصول لکه قرآن، حديث او اجماع شتون ونلري په قياس باندې عمل نشته.

[3] د افغانستان مدني قانون، جلد: ۱، مخ: ۳۲، ماده: (۱۰۲).

**احناف يې په ځواب کې وايي: بيع يو مالي عقد – د مال مبادله ده په مال سره– نو د بيع په عقد د خسارې د جبران يا مخنيوي لپاره د زيادت التحاق په اصلي ثمنو جائز ګڼل کيږي، ولې د نکاح عقد عبادت او مؤبد عقد دی، د خسارې احتمال پکې نشته دی، نو د حقيقي معنا پريښودل او په مجازي معنا عمل کول د منلو وړ عمل نشي کيدی.**

## غوره قول:

**زما په آند د احنافو نظر راجح دی ځکه چې احنافو وايي (۳۷–۳۶) آيتونه دواړه د هغه طلاق په هکله نازل شوي دي چې د زوجې سره مقاربت نه وي شوی، نو هغې مطلقې ته چې مهر ورته ټاکل شوی نيمايي مهر ورکول کيږي او کومې ته چې مهر نه وي ټاکل شوی متعه واجب ده. له بلې خوا (۳۶) آيت د متعې په حکم کې نص دی، او (۳۷) آيت د نيمايي مهر په لزوم کې هغې مطلقې ته چې مقاربت نه وی ورسره شوی، هم مفسر نص دی، د نيمايي مهر په لزوم کې، نو د نکاح په بيع باندې قياس کول نصوص پريښوول او په ضعيف اصل عمل کول دي. چې دا د منلو وړ نه ده.[1] بل دا چې د مهر حقيقي مفهوم هغه مهر دی، چې د عقد په وخت کې ټاکل شوی وي او هغه مهر چې وروسته له عقد ټاکل شوی، يا ورباندې زيات شوی د مهر حقيقي مفهوم له عوارضو څخه بلل کيږي، نو د مهر کلمه په اصلي حقيقي مفهوم د عقد څخه وروسته، ټاکل شوي يا ورباندې زيات شوي مهر ته نه شامليږي، نو که چيرې يې ورته شامله وګڼو معنا به يې دا وي، چې له کوم ضروت نه پرته له حقيقت څخه مجاز ته رجوع کوو، اوله تعذر څخه پرته حقيقت پريښودل او مجاز غوره کول د منلو وړ امر ندی، نو د پورتنيو دلايلو په رڼا کې دې پايلې ته رسيږو چې د احنافو قول غوره دی.**

[1]الشاشي، أحمد بن محمد بن إسحاق الشاشي أبو علي، – اصول الشاشي– خپرندوی، دار الكتاب العربي، بيروت، ۱۴۰۲، مخ: ٦–۷. / النسفي، – كنز الدقائق –، ټوک:۲، مخ:۱۱.

# دويم مبحث: د مير منې د متعې حق

## لومړی مطلب: د متعې معنا:

### الف: متعه په لغت کې:

متعه د متاع اسم فعل له مادې څخه ده، چې تمتع ، استمتاع ، يتمتع او داسې نور مصادر، له همدې مادې څخه مشتق دي او (متع) يې جمع ده[1]، د ګټې او نفع اخيستلو په مفهوم استعمال شوي دي، لکه ويل کيږي استمتع الرجل يعنې ګټه پورته کړه سړي. استمتع الشخص شخص د ګټې پورته کولو غوښتنه وکړه. تمتع الحاج يعنې حاجي تمتع حج ادا کړ.

### ب: متعه په شرعي اصطلاح کې:

**لومړی:** د حنفي فقهاوو تعريف (متعه هغه زايد مال دی، چې ښځې (زوج) يې مطلقې ميرمنې ته وروسته له طلاق څخه وجوبا يا استحبابا په ورکولو مکلف دی، چې له نيمايي مهر مثل څخه زيات او له پنځه درهمه څخه کم نه وي) د احنافو له جملې څخه ابن عابدين د رد المحتار په حواله لاندې تعريف روايت کړی دی، (متعه هغه ده چې سړی يې ميرمنې ته ورکوي، (وروسته له طلاق څخه) چې له نيمايي مهر مثل څخه زيات او له پنځو درهمونو څخه کم نه وي).[2]

**دويم:** د مالکي فقهاوو له جملې څخه ابن عرفه داسې تعريف کړی دی: ( متعه هغه څه ده چې زوج يې په ورکولو سره خپلې مطلقې ميرمنې ته مأمور دی)[3]

---

[1]ابن منظور، – لسان العرب –، جلد: ۱۱، مخ: ۹۶./ ناصر: – معحم الوسيط – ، مخ: ۵۶۳.

[2]ابن عابدين: محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي، وفات: ۱۲۵۲هـ. – حاشية ردالمحتار على الدر المختار– شرح تنوير الأبصار فى فقه الامام أبي حنيفة . خپرندوی: دار الفكر – بيروت. د چاپ کال: ۱۳۸۶ هـ. دويم چاپ. جلد: ۳ ، مخ: ۱۱۱.

[3]المواق، محمد بن يوسف بن أبى القاسم العبدري، المواق، وفات: ۸۹۷ هـ. – التاج والإكليل لمختصر خليل – خپرندوی: دار الكتب العلمية، د چاپ کال: ۱۴۱۶هـ–۱۹۹۴م. لومړی چاپ. جلد: ۵، مخ: ۴۱۱.

**دریم:** د شافعي فقهاوو تعریف (متعه د هغه مال نوم دی چې زوج یې خپلې میرمنې ته وروسته له طلاق ورکــوي، د هغه جدایی په سبب چې په طلاق سره راغلې ده)[1]

**څلورم:** د حنابله وو فقهاوو تعریف:(متعه هغه څه ده، چې څښتن (زوج) یې خپلې هغې زوجې ته چې مقاربت یې نه وی ورسره کړی وروسته له طلاقه په ورکولو وجوبا مکلف دی).[2]

د افغانسان مدني قانون هم په ۱۰۷ ماده کې د متعې په اړه داسې حکم کوي: (که د زوجینو تر منځ جدایي د دخول یا صحیح خلوت تر مخه واقع شي، د ښځې د پاره متعه چې د معمولو کالو او امثالو څخه عبارت ده، لازمیــږي، د متعې په ټاکلو کې د څښتن مالي قدرت په نظر کې نیول کیږي خو په هیڅ صورت د هغې قیمت د نیمایي مهر مثــل څخه نه شي زیاتیدای)[3].

### غوره تعریف:

پورته یاد شوي تعریفونه ټول په ځای او د موضوع په اړه پوره ښکارندويي کوي، اما د احنافو تعریف غوره والــی لري، هغه دا چې د موضوع په ذاتیاتو اشتمال لري، د متعې فاعلي لوری (زوج) او هغه لوری چې ورکــول کیــږي (زوجه) په کې روښانه د هغه د لزوم وخت او اندازه هم پکې بیان شوې ده، چې وایي (متعه هغه زاید مال دی چــې څښتن (زوج) یې مطلقې میرمنې ته وروسته له طلاق څخه وجوبا یا استحبابا په ورکولو مکلف دی چې له نیمایي مهر مثل څخه زیات او له پنځه درهمه څخه کم نه وي).

## دویم مطلب: د طلاقې شوې میرمنې متعه:

[1] القزویني، عبد الکریم بن محمد بن عبد الکریم، أبو القاسم الرافعي القزویني وفات: ۶۲۳هـ،- العزیز شرح الوجیز المعروف بالشرح الکبیر – خپرندوی: دار الکتب العلمیة، بیروت – لبنان، چاپ:لومړی، ۱۴۱۷ ه- – ۱۹۹۷ م، جلد: ۸، مخ: ۳۲۹./ الشربیني، شمس الدین، محمد بن أحمد الخطیب الشربیني الشافعي، وفات: ۹۷۷هــ.- مغني المحتاج – خپرندوی: دار الکتب العلمیة – بیروت. د چاپ کال: ۱۴۱۵هــ. = ۱۹۹۴م. لومړی چاپ.جلد: ۴، مخ:۳۹۸.

[2] السیوطي، مصطفی السیوطي الرحیباني، وفات: ۱۲۴۳هـ. – مطالب أولي النهی – خپرندوی: المکتب الإسلامي. د چاپ کال: ۱۹۶۱م. جلد: ۵ ، مخ: ۲۲۰.

[3] د افغانستان مدني قانون، جلد: ۱، مخ: ۳۳.

د اسلام د سپيڅلي دين فقهاوو نکاح د لوړو انساني مقاصدو څخه ګڼلې ده، يوازې مالي عقد او قرارداد نه دی، چې يو له زوجينو د خپلې طبيعي او غريزه وي غوښتنې په اساس هغه عملي کړي او دا لوی انساني مقصد پرته د کوم شرعي اصل څخه له مينځه يوسي، همدا سبب دی چې حنفي فقهاء د نکاح عقد مؤبد او دايمي عقد بولي او وايي: ( عن ابن عمر رضي الله عنه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم: ابغض الحلال الى الله عزوجل الطلاق )[1] له ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل د ډيرو بدو حلالو شيانو څخه په نزد د الله عزوجل طلاق دی. د پورتني اصل له مخې طلاق د ډير لوی ضرورت له مخې جواز مومي، نو کله چې طلاق د لزوم او شرعي ضرورت له مخې تحقق مومي، بايد د زوجې د زړه التيام وشي، ځکه زوجه پرته له کوم شرعي لزوم د طلاق عقد د زنګولو حق نلري او دا حق شرعا په ښځښتن پورې تړاو لري، له بلې خوا ښځه د جدايي ـــ طلاق ـــ په حالت کې د زوج په پرتله ډيره زياته زيانمنه کيږي، نو اسلامي شرع ميرمنې ته له يو خوا د نکاح په عقد سره مهر ټاکلی دی، چې هغه د جدايي په صورت کله پوره، کله نيمايي او په يوه حالت کې ورته متعه لازمه ګرځي، نو د دې اصل په آساس اسلامي فقهاوو د اسلامي نصوصو (قرآن کريم او نبوي احاديثو) په رڼا کې د متعې په حکم او اندازه کې اختلاف لري، چې په لاندې توګه تر څيړنې لاندې نيول کيږي.

## (اول): د متعې حکم:

**لومړی**: د احنافو قول: د احنافو او په يو قول له امام احمد بن حنبل څخه هم روايت شوی دی وايي چې متعه هغه مطلقې ته چې مقاربت نه وي ورسره شوی او مهر هم نه وي ټاکل شوی واجب ده او پرته له دې نورو مطلقو ته مستحب ده.[2] او دلايل يې په لاندې ډول دي:

**الف**: له کتاب الله څخه: ﴿لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ مَا لَمْ تَمَسُّوهُنَّ أَوْ تَفْرِضُوا لَهُنَّ فَرِيضَةً وَمَتِّعُوهُنَّ عَلَى الْمُوسِعِ قَدَرُهُ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهُ مَتَاعًا بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُحْسِنِينَ﴾.[3]

[1] السيد سابق، – فقه السنة– جلد: ۲، مخ:۱۰۲.
[2] الکاساني، – البدائع الصنائع في ترتيب الشرائع–. جلد: ۲، مخ: ۳۰۳.
[3] د البقرة سورت،۲۳۶ آيت.

ژباړه: (په دې کې هم) څه ګناه دربانديې نشته چې مېرمنې له نږدېوالي او مهر ټاکلو نه مخکې طلاقې کړئ، خو څه خرڅ (متعه) ورکړئ، په وسمن خپله اندازه او په تنګلاسي خپله (مناسبه) اندازه په ښه توګه، دا يو حق دی په نېکانو باندې.

دوی په استدلال کې وايي **﴿متعوهن﴾** امر دی او د امر مدلول د صارفې قرينې د نشتوالي په وخت کې و جوب دی. همداراز دا آيت کريمه نص دی او د (او) کلمه عاطفه ده او د "تفرضوا" کلمه د "تمسوهن" د کلمې په څير مجزومه ده، نو عموم افاده کوي، يعنې دوه شيان بايد نفې وي، يو عدم مجامعه (مقاربت) بل د مهر عدم فرض کيدل، که يو هم له دې دواړو څخه نفي نه شي مهر لازم ګرځي، ځکه عدم جناح په همدې دوو شيانو پورې تعلق نيــولی دی او ﴿ومتعوهن﴾ هم د تقدير او فرض مفهوم اداء کوي، نو د متعې وجوب تحقق ومومند او واجب وګرزيده، سره له دې چې د آيت سياق ﴿عَلَى الْمُوسِعِ قَدَرُهُ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهُ﴾ د اقتضاء هم دا مفهوم دی، يعنې د آيت اقتضاء داده چې متعه د عقد په وخت کې لازمه شوه، د نيمايي يا پوره مهر بدل ندی،[1] پورتنی آيت د هغې متعې په حکم کې چــې مخکې له مقاربت څخه طلاقه شوې وي (نص) دی، د اصولو (د فقهي اصولو) په معيار نص هغه آيت دی، چې د يوه امر د حکم څرنګوالي لکه (وجوب، اباحت، عدم اباحت) لپاره نازل شوی، نو کوم حکم چې په نص سر ه ثابــت شوی وي، بل قول ورسره معارض نشي کيدی، يوازې د همدې حکم لپاره صريحا مفهوم لري او دليل يــې ګڼــل کيږي.[2]

سره له دې چې پورتنی آيت کريمه نص دی ، مفسر هم دی، په راتلونکې برخه يې تفسير شوی دی، نو د بيان کومه بله وجه ( لکه اشارة النص، اقتضاء النص) يې هم معارض نشي کيدی، له بلې خوا د ﴿متعوهن﴾ کلمه صريح امر دی او امر د اطلاق د صارفې قرينې د نه شتون په وخت کې د وجوب حکم لري، همدا راز په آيت کريمه کــې ﴿عَلَى الْمُوسِعِ قَدَرُهُ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهُ﴾ د على کلمه هم د الزام او ﴿حقا على المحسنين﴾کې د حقا کلمه ياده شوې، دا دواړه دې ډول مطلقې ته د متعې د ور کولو د وجوب مؤکدات دي، نو څرګنده شوه چې هغه مطلقې ميرمنې ته چې مهر نه وي ټاکل شوی، مقاربت نه وي ورسره شوی، د متعې ورکول واجب دي. چې په دې اړه مدني قانون هــم

---

[1] احمد، ملاجيون،– التفسيرات الاحمدية– مخ:۱۵۲–۱۵۳./ الشاشي، – اصول الشاشي–، مخ: ۲۱–۲۲.

[2] ابن قدامة، – المغني – جلد:۷، مخ:۲۳۹.

پورتني مذهب ته ورته نظر لري او په ۱۰۸ ماده کې داسې حکم کوي: ( (۱) که طلاق د دخول څخه تر مخه واقع شي او مهر مسمی وي او یا ځښتن مړ شي ښځې ته متعه نه لازمیږي.(۲) په هغه صورت کې چه طلاق د دخول څخه وروسته واقع شي، که مهر مسمی شوی وي او که نه وي مسمی شوی، ښځې ته د متعې ورکول جواز لري).[1]

**دویم:** د شافعیانو قول: ددې مذهب سربیره له حنابله وو څخه هم یو روایت راغلی، دوی وايي چې متعه د هغې مطلقې لپاره چې مقاربت نه وی ورسره شوی او مهر هم نه وی ورته ټاکل شوی واجب ده.

همداراز د هغې مطلقې لپاره هم واجب ده، چې مقاربت ورسره شوی وي اما د امام شافعي په قدیم قول کې د هغې مطلقې لپاره چې وروسته له مقاربت څخه طلاقه شوې وي متعه نشته.[2]

چې دلایل یې په لاندې توګه ذکر کیږي:

دا ډله فقهاء هغې مطلقې ته چې له مقاربت څخه د مخه طلاقه شوې وي او مهر هم نه وي ورته ټاکل شوی، متعه ورکول واجب ګڼي، همداراز له مقاربت وروسته هغې مطلقې ته چې مهر ورته ټاکل شوی وي، هم واجب بولي، اما امام شافعي په قدیم مذهب کې هغې مطلقې ته چې مقاربت ورسره شوی وي او مهر یې هم مسمی شوی وي متعه ورته واجب نه ګڼي.

دوی د هغه مطلقې په اړه چې مقاربت نوي ورسره شوی او مهر هم نه وی ورته ټاکل شوی په هغه دلیل چې امام اعظم او ورسره فقهاوو چې ورباندې استدلال کړی دی په لاندینی آیت استدلال کوي. ﴿لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ مَا لَمْ تَمَسُّوهُنَّ أَوْ تَفْرِضُوا لَهُنَّ فَرِيضَةً وَمَتِّعُوهُنَّ عَلَى الْمُوسِعِ قَدَرُهُ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهُ مَتَاعًا بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُحْسِنِينَ﴾.[3]

---

[1] د افغانسان مدني قانون، لومړی ټوک، مخ:۳۴، ماده:۱۰۸.
[2] الشربيني- مغني المحتاج – جلد: ۲، مخ:۲۵۴.
[3] د البقرة سورت،۲۳٦ آیت.

ژباړه: (په دې کې هم) څه ګناه درباندې نشته چې مېرمنې له نږدېوالي او مهر ټاکلونه مخکې طلاقې کړئ خو څه خرڅ (مال یا جامه) ورکړئ، په وسمن خپله اندازه او په تنګلاسي خپله (مناسبه) اندازه په ښه توګه، دا یو حق دی په نېکانو باندې.

اما په هغه مطلقه کې چې مقاربت ورسره شوی، د هغې د متعې په وجوب کې د الله تعالی په دې قول استدلال کوي ﴿فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا﴾[1]

ژباړه: نو راشئ چې څه ناڅه شیان درکړم او په ښه ډول مو رخصت کړم.

او وایي دا آیت کریمه د رسول الله ﷺ په زوجاتو مطهراتو کې نازل شوی دی، د هغوی سره مقاربت شوی و او مهر هم ورته ټاکل شوی و، نو دوی ته د متعې ورکول د طلاق توحش او مقاربت په بدل کې و ټاکل شوه او دا مفهوم په هره مطلقه کې موجود دی او بل دا وایي چې الله تعالی فرمايلي دي. ﴿وَلِلْمُطَلَّقَاتِ مَتَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ﴾[2]

ژباړه: او طلاقو شویو مطلقو ښځو ته په ښه توګه خرڅ (متعه) ورکول دي دا په متقیانو یو حق دی.

د استدلال وجه: الله تعالی د هرې مطلقې لپاره متعه واجب کړې ده یوازې هغه مطلقه ور څخه خاصه ګڼل کیږي، چې له مقاربت څخه مخکې طلاقه او مهر هم نه وي ورته ټاکل شوی او دا خصوص هم ددې آیت نطاق دی ﴿وَإِنْ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ إِلَّا أَنْ يَعْفُونَ أَوْ يَعْفُوَ الَّذِي بِيَدِهِ عُقْدَةُ النِّكَاحِ وَأَنْ تَعْفُوا أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى وَلَا تَنْسَوُا الْفَضْلَ بَيْنَكُمْ إِنَّ اللَّهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ﴾[3]

ژباړه: او که له نږدیوالي مخکې مو طلاقې کړې او څه ولور مو هم ورته ټاکلی ؤ نو بیا نیمایې د هغه چې تاسو ټاکلی وي. مګر خو که دوی (دا ښځې) یې و بخښي یا هغه کس (مېړه) یې و بخښي چې د نکاح غوټه یې په لاس کې ده

[1] د الأحزاب سورت، ۲۸ آیت.
[2] د البقرة سورت،۲۴۱ آیت.
[3] د البقرة سورت،۲۳۷ آیت.

او که تاسو (مېړه او ښځه) تېرېدنه وکړئ، نو تقوی ته ډېر نږدې امر دی او خپلو کې لورینه له یاده مه باسئ، بې شکه الله د هغه څه چې تاسو يې کوئ ښه لېدونکی دی.

اما هغه مطلقه چې مقاربت ورسره شوی او متعه ورته واجب بلل شوې ده.

احناف ددې برخې علماوو په جواب وايي چې دا مبارک آيت: ﴿لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ مَا لَمْ تَمَسُّوهُنَّ أَوْ تَفْرِضُوا لَهُنَّ فَرِيضَةً وَمَتِّعُوهُنَّ عَلَى الْمُوسِعِ قَدَرُهُ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدَرُهُ مَتَاعًا بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُحْسِنِينَ﴾. [1]

ژباړه: (په دې کې هم) څه گناه درباندې نشته چې مېرمنې له نږدېوالي او مهر ټاکلونه مخکې طلاقې کړئ خو څه خرڅ (مال يا جامه) ورکړئ، په وسمن خپله اندازه او په تنگلاسي خپله (مناسبه) اندازه په ښه توگه، دا يو حق دی په نېکانو باندې.

له هغې مطلقې چې مخکې له مقاربت څخه طلاقه شوې او مهر هم نه وي ورته ټاکل شوی د حکم د بيانولو لپاره نازل شوی دی او د همدې حکم په هکله مفسر نص دی او د مفسر نص حکم دا دی، چې وجوبا او لزوما عمل ورباندې کيږي او د نصوصو نورې د بيان وجهې يې معارضه نشي کولی او مستقلا حکم افاده کوي او د البقرې سورت ۲۳۶ او ۲۳۷ آيتونه هم دوه مفسر نصوص دي، هر يو يې مستقلا حکم افاده کوي او د ﴿لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ مَا لَمْ تَمَسُّوهُنَّ...﴾[2] بېل نص دی د متعې حکم يې بيان کړی دا يو د بل په نطاق اثر نه کوي ځکه چې دا ټول د منصوصيت په درجه سره متساوي دي او هر يو د بېل حکم د تصريح او تشريح لپاره نازل شوی دی. د هغې مطلقې لپاره چې مهر نه وي ورته ټاکل شوی او مقاربت هم نه وي ورسره شوی، متعه واجب ده او د هغې لپاره چې مهر ورته ټاکل شوی، نيمايي مهر دی، نو هغه مطلقه چې مقاربت ورسره شوی وی او مهر ورته ټاکل شوی وي، د متعې وجوب نشته بلکې پوره مهر ورکول کيږي د متعې حکم ورکول بې ځايه ښکاري ځکه د مهر په بحث کې مو وويل چې مقاربت د عقد څخه وروسته وي نو پوره مهر ورکول لازم دي دا قول هم د نصوصو په رڼا کې

---

[1] د البقرة سورت،۲۳۶ آيت.

[2] د البقرة سورت،۲۳۶ آيت.

**شوی دی، د مقاربت حالت بیل حالت دی، هغه د طلاق حکم ایجابوي، د دې آیتونو د خصوص او نصوص اوصاف تر اغیزې لاندې نه راځي.[۱]**

**دریم: د مالکیانو مذهب: دوی وایي چې متعه د هرې مطلقې لپاره پرته له مخلعې او هغې مطلقې چې مخکې له دخول څخه طلاقه شوې وي او مهر هم ورته ټاکل شوی وي مستحب ده.[۲] چې دلایل یې په لاندې ډول دي:**

**الف:﴿ وَلِلْمُطَلَّقَاتِ مَتَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ﴾[۳]**

**ژباړه: او طلاق شویو ښځو ته په ښه توګه خرڅ (متاع) ورکول دي دا په متقیانو یو حق دی.**

**ب: ﴿ مَتَاعًا بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُحْسِنِينَ﴾[۴]**

**ژباړه: په ښه توګه، دا یو حق دی په نېکانو باندې.**

**په پورتنیو دوو آیتونو د استدلال وجه: که چیرې متعه ښځې ته فرض یا واجب واي، نو مقدار به یې هم ټاکل شوی وای، له کومه ځایه چې مقدار یې په نص سره ندی ټاکل شوی، نو وجوب اوفرضیت یې هم بې ځایه دی، یوازې استحبابي حکم دی. له بلې خوا د متعې ورکول په تقوی او احسان پورې تړاو پیدا کړی دی، که چیرې فرض یا واجب وي د نورو فرایضو په څیر په تقوی او احسان پورې به یې تړاو نه پیدا کیده.[5]**

**په پورتني دلیل باندې نیوکې شتون لري، هغه دا چې الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایلي: ﴿ ذَلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِلْمُتَّقِينَ﴾[٦]**

**ژباړه: دا هغه کتاب دی چې (هیڅ ) شک پکې نشته، د متقیانو د پاره لارښوونکی دی.**

---

[۱] احمد، ملاجیون،– التفسیرات الاحمدیة– مخ: ۱۵۲–۱۵۳.

[۲] ابن رشد،– بدایة المجتهد و نهایة المقتصد – جلد: ۲، مخ: ۹۷./ ابن قدامة، – المغني – جلد:٦، مخ:۷۱۴.

[۳] د البقرة سورت،۲۴۱ آیت.

[۴] د البقرة سورت،۲۳٦ آیت.

[5] ابن العربي، محمد بن عبد الله الأندلسي، ابن العربي، وفات: ۵۴۳ هـ. – أحکام القرآن – خپرندوی: دار الکتب العلمیة. جلد: ۱، مخ:۲۱۷.

٦ د البقرة سورت،۲ آیت.

په پورتني آیت کې هدایت ته په متقیانو پورې تړاو ورکړ شوی دی، ولې دې امرته اشاره نشته چې ټولو یا یوې برخې لپاره هدایت بخښونکی دی، او نفي هم پکې نشته چې ټولو خلکو ته دې هادي شي په ﴿حقا على المتقين﴾ کې همداراز افاده لري.[1] کوم چې مالکي فقهاء په دلیل کې وایي، چې که چیرې د یادې مطلقې لپاره متعه واجب یا فرض وای، مقدار به یې هم په آیت کې ذکر شوی وای او دا چې پرته له مقدار څخه د متعې بیان شوې دی د دې د اصل دلیل کیږي، چې وجوب او فرضیت یې د شرعې حکم ندی، دا دلیل د منلو وړ نه دی، ځکه ډیر نفقات لکه د صغیر اولاد نفقه، پرته د مقدار د تعین څخه بیان شوې، فرض او واجب ګڼل شوې ده. د امام مالک د پلویانو دا قول، چې وایي که فرض او واجب وای په تقوی او احسان پورې یې تړاو نه درلود د پوره دقت وړ دی، ځکه ورڅخه دا جوته کیږي، چې تقوای یوازې په تطوعي امورو پورې اړینه ده، د فرایضو ادا کول تقوی نده یا دا قول مالکیانو ته منسوب دی.

## غوره قول:

د هغه مطلقې په هکله چې د مهر تسمیه په عقد کې او مقاربت دواړه پکې شتون نلري، د البقرې سورت د۲۳٦ آیت﴿د لَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِنْ طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ مَا لَمْ تَمَسُّوهُنَّ...﴾ په آساس د متعې ورکولو حکم وجوب دی، چې ددې حکم د ثبوت په اړه نازل شوی دی، او د نزول سبب یې دا دی چې: د انصارو رضي الله عنهم له جملې څخه یو تن خپله میرمن طلاقه کړې وه مقاربت یې هم نه وو ورسره کړی او مهر تسمې هم شتون نه درلود، رسول الله صلى الله علیه وسلم دې شخص ته وفرمایل: متعه ورکړه اګر که په خولۍ سره هم وي، اما د یوې ډلې فقهاوو چې شافعیان او حنابله دي داسې نظر او قول لري، چې هغې مطلقې ته متعه واجب ده چې مقاربت ورسره شوی وي او مهر هم ورته ټاکل شوی وي، دوی په دې آیت کریمه استدلال کوي چې ﴿فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا﴾[2] چې دا آیت کریمه د زوجاتو مطهراتو په هکله نازل شوی دی رسول الله صلى الله علیه وسلم دوی د طلاق د توحش او مقاربت په جبران او بدل کې متعه یاده کړې ده او دا مفهوم په هره مطلقه کې شته دی.

د لومړۍ ډلې فقهاوو نظر راجح ښکاري ځکه، د مطلقاتو احکام بیل بیل، په بیلو نصوصو سره بیان شوي دي:

[1] الکاساني، – البدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع–. جلد: ۲، مخ: ۳۰۳.
[2] د الأحزاب سورت، ۲۸ آیت.

هغه مطلقه چې تسمیه او مقاربت دواړه پکې شتون ولري حکم  یې د طلاق په وخت کې پوره مهر دی او دا قول اتفاقي دی.

هغه مطلقه چې تسمیه ورته شتون ولري، اما مقاربت شتون ونلري، حکم یې نیمايي مهر دی.

هغه چې مطلقه چې تسمیه او مقاربت دواړه شتون ونلري، حکم یې متعه ده او دا متعه واجب ده.

او د الاحزاب سورت دا آیت کریمه هرې مطلقې ته د متعې ورکولو په هکله د وجوب حکم په استدلال کې یاد کړی دی او مرجوح ښکاري.

**بل دا چې** د مفسر نص په برابر کې د نورو دلایلو شتون اعتبار نه لري ځکه قیاس څلورمه درجه شرعي دلیل دی له بلې خوا مقیس علیه د کتاب په نص سره ثابت شوی مقیس علیه ته مقیس ویل بې ځایه ده،[1]  نو دا قول چې لومړی برخې فقهاوو تصریح کړی دی او دلایل یې پورته ذکر شول راجح قول بلل کیږي.

## (دویم): د متعې اندازه:

کله چې د متعې په مقدار کوم نص شتون نه لري، نو له دې سببه امامانو هم د هغې په اندازه کې د اجتهاد په اصل اختلاف کړی دی:

**أ:** د حنفي فقهاوو قول: حنفي فقهاوو په دې اړه ویلي، چې د متعې د اندازې او ډول په اړه کوم نص شتون نلري، خو د زوج د ایسار (بډایتوب) او اعسار (غریبي) حالت ته کتل په کار دي، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایلي: **﴿على الموسع قدره و على المقتر قدره﴾**. بل دا چې متعه له نیمايي مهر مثل څخه زیاته او له پنځه درهمه څخه کمه نه وي او دا غالبا له دریو جامو – قمیص، پړونی، چې معمولا په هغه سره د ښځې سر پټیږي او لوی ځادر– چې په هغې سره ښځه له سره تر قدمونو پورې پټیږي عبارت ده.[2]

---

[1]اصول الشاشي، مخ:۱۰۰.

[2]وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية – الكويت – الموسوعة الفقهية الكويتية – . جلد: ۳۶، مخ: ۹۶.

همداراز فقهاء په دې کې نور نظرونه هم لري، چې آیا د زوج (څښتن) یا زوجې (میرمنې) یا ددوی دواړو حالت پکې رعایت شوی، په دې امر کې معتبر دری (۳) قوله دي:

بل دا چې په ایسار (بډایتوب) او اعسار (غریبي) کې د میرمنې حالت باید رعایت شي، دا قول یوې برخې فقهاوو اصح ګڼلی دی دوی وایي چې په هدایه کې د ( من کسوة مثلها ) جمله یاده شوې ده، دا په دې دلالت کوي چې د میرمنې حال اعتبار لري او دا قول په واجبه متعه کې د کرخي قول هم دی، ځکه دده په نظر متعه د مهر قایم مقام ده، اما د نصوصو په رڼا کې متعه مستقل مهر دی، (۱) پوره مهر، (۲) نیمایي مهر، (۳) متعه، دا هم ډیره بې ځایه نه ده چې قایم مقام ده.[1]

او صحیح دا ده چې د زوج د حالت رعایت وشي، ځکه د زوج د حالت رعایت کول اصلا د آیت کریمه د نصوص د وجهې رعایت دی، صحیح قول د نص د مفهوم رعایت کول دي، ځکه متعه په حقیقت کې په بیل نص سره چې د **﴿لا جناح علیکم...﴾** آیت کریمه مفسر نص اثبات شوې ده.[2] په دې حالت کې مستقل مهر دی حتی تر دې چې بیل مهر ورته ویل شوی بالاخص په مفوضه کې بیل مهر دی[3]

ب: د مالکي او حنبلي فقهاوو قول: دوی وایي چې اعلی د متعې د خادم تر لرلو او لږ او ادنی هغه جامه ده چې لمونځ پکې اداء کیږي، ولې کیدی شي چې زوج یې زیاته کړي یا یې مطلقه کمه کړي، په ایسار او اعسار حالت کې د زوج حالت اعتبار لري چې دا صحیح قول دی، ځکه په (علی الموسع قدره) کې یې همدا قول تائید کړی، مخکې اشاره هم ورته شوې ده او منصوص علیه قول دی.[4]

ج: د شافعي فقهاوو قول: شافعي فقهاء وایی دا جایزه ده چې په متعه کې د خادم تر حق پورې ورکړی شي او دا هم جایزه ده چې یوازې داسې څه ورکړل شي، چې ښځه خپل سر وربانديې پټ کړي او وایي متعه نه ښایي له دیرشو(۳۰) درهمو یا د هغه له قیمت څخه کمه وي، همداراز باید له نیمایي (ټاکلي) مهر څخه کمه نه وي، ولې دا

---

[1]المیداني، – اللباب في شرح الکتاب ــ جلد:۲ مخ:۲۳۲.
[2]ابن الهمام، کمال الدین محمد بن عبد الواحد السیواسي مشهور په ابن الهمام، وفات: ۸۶۱هـ. – فتح القدیر – خپرندوی: دار الفکر. جلد: ۳، مخ: ۳۲۷.
[۴] احمد، ملاجیون،– التفسیرات الاحمدیة–، مخ: ۱۵۷–۱۵۶.
[۴] الزحیلي،– الفقه الاسلامي و ادلته– جلد: ۹، مخ: ۳۰۴.

هم سمه ده چې دیرش درهمه وي یا له دیرشو څخه زیاته وي جایزه ده.[1] بل دا کله چې د زوجینو ترمنځ اختلاف راشي، باید د قاضي په اجتهاد متعه وټاکل شي، او متعه هغه څه ده، چې د مال اطلاق ورباندې کیږي.[2] پورتنیو نظریاتو ته په کتو سره د افغانستان مدني قانون هم تقریبا له څلورو مذاهبو استفاده کړې خو په خاص ډول د احنافو له مذهب سره توافق لري، چې په ۱۰۷ ماده کې دا ډول حکم کوي: ( که د زوجینو تر منځ جدایي د دخول یا صحیح خلوت تر مخه واقع شي، د ښځې د پاره متعه چې د معمولو کالو او امثالو څخه عبارت ده، لازمیږي، د متعې به ټاکلو کې د څښتن مالي قدرت په نظر کې نیول کیږي خو په هیڅ صورت د هغې قیمت د نیمايي مهر مثل څخه نه شي زیاتیدای)[3].

## غوره قول:

د متعې په مقدار کې د حنفي فقهاوو قول د نصوصو سره موافق قول دی او زما په نظر ارجح قول ګڼل کیږي، ځکه د نورو فقهاوو قولونه د منازعې د حل لپاره پوره پریکنده نه ښکاري، اما په دیانتي حالاتو کې ټول د عمل کولو وړتیا لري، ځکه چې نطاق یې هم په مقدار کې او  هم په دې کې دی، چې د زوج حال یا د زوجې حال رعایت شي صریح ندی، اما متعه د احسان او التیام له موضوعاتو څخه ده، په نصوصو کې دې امر ته اشاره شته ده، چې زوج یا زوجه د احسان او عفوې لاره غوره کړي، او دا قول د آیت کریمه په ﴿على الموسع قدره و على المقتر قدره﴾ کې اقتضاء ده او (متعوهن) په پورتني مطلب کې صراحت لري، د متعې په اندازه د قضایي حکم په وخت کې د احنافو قول د حکم کولو لپاره ارجحیت لري، اما متعه هم د نفقې په څیر د احسان تر مفهوم لاندې ده نو بناءا د څلورو واړو مذهبو قولونه هم د عمل کولو وړ دي خو تر ټولو غوره به دا وی چې دا موضوع عرف ته وسپارو.

[1] الشربیني، – مغني المحتاج – جلد: ۴، مخ:۳۹۹.
[2] الزحیلي، – الفقه الاسلامي و ادلته– جلد: ۹، مخ: ۳۰۴.
[3] د افغانستان مدني قانون، جلد: ۱، مخ: ۳۳.

# دریم فصل: دمیرمنې د نفقې او مسکن حق

## لومړی مبحث: د میرمنې د نفقې حق

### لومړی مطلب: د نفقې معنا او حکم:

**نفقه د لغت له مخې:**

نفقه په نفقات، نِفاق او انفاق سره جمع کیږي چې له انفاق څخه مشتق ده ، او د خرڅ کولو او مصرف کولو په معنا ده، همدا راز په مال او متاع باندې دلالت کوي، د خرڅ کولو او مصرف کولو په وخت کې ویل کیږي، مال مې انفاق کړ، زمونږ په هیواد کې د صدقې او د مفروض مالي حق په معنا هم استعمالیږي او وایي نفقه مې په غاړه ده، مال مې صدقه (نفقه) کړ.[1] او داسې ویل کیږي، (علی نفقته) یعنې په حساب باندې یې،[2] د هلاک په معنا هم استعمال شوې ده، لکه چې ویل کیږي نفقت الدابة ای هلکت، مړه شوه دابه، یا هلاک شو حیوان، لنډه دا چې نفقه په حقیقي لغوي معنا د خرڅ کولو، مصرف رسولو په معناده او په مجازې استعمالاتو کې په ډیرو معناوو سره استعمال شوې ده.[3]

**نفقه په شرعي اصطلاح کې:**

مخکې له دې چې نفقه په شرعي اصطلاح سره تعریف کړو، باید یادونه وکړو چې د نفقې لپاره ډیر تعریفونه علماوو بیان کړي دي، ولې په یوه کې هم پوره د تعریف ذاتیات شتون نلري، نو لازمه ښکاري، چې داسې یو تعریف ارایه کړو، چې له یوې خوا د نفقې په ذاتیاتو مشتمل وي او له بلې خوا د زوجې (میرمنې) د نفقې تعریف وي او لغوي اړخ ته هم پکې پاملرنه شوې وي.

---

[1] مجمع اللغة العربیة، – المجم الوسیط – جلد:۲، مخ: ۹۴۲.

[2] ناصر، – معحم الوسیط –، مخ: ۶۷۵-۶۷۴.

[3] الفراهیدي، أبو عبد الرحمن الخلیل بن أحمد بن عمرو بن تمیم الفراهیدي البصري وفات: ۱۷۰ه–،– العین –، خپرندوی: دار ومکتبة الهلا ل، جلد:۵، مخ: ۱۷۷.

**مشهور او رائج تعریفونه:**

**الف:** د احنافو تعریف: (نفقه عبارت ده له طعام، لباس او هستوګنځي څخه). په دې تعریف کې یوازې د نفقې اندازه بیان شوې ده، او د هغې التزام او ذمه د التزام ندي بیان شوي.[1]

**ب:** د مالکیانو تعریف: (هغه چې د انسان معمولي ژوند پرته له اسراف څخه ور باندې ممکن وي)[2]

په دې تعریف کې د نفقې دلزوم استثنائي حالت تر پام لاندې دی.

**ج:** د شافعیانو تعریف: ( نفقه د خیر له انفاق څخه عبارت ده ) دا تعریف ډیر عمومي دی نفقه یې کیدی شي یــوه برخه و بلل شي، د نفقې د مفهوم تضمني معنا ده، خو د تعریف ذاتیات پکې نشته، یوازې د نفقې د کلمې لغوي معنا ته اشاره شوې ده.[3]

**د:** د حنبلیانو تعریف: ( نفقه کفایت دی، د هغه چا چې ور کول کیږي له ډوډۍ، کتغ، لباس او هستوګنځي څخه) په دې تعریف کې هغه څه چې په نفقه ورکولو لازم دي تر یو ډول انحصار لاندې اشاره ورته شوې ده او د تعریف ذاتیات چې د تعریف هدف او د شي ماهیت بیانوي پکې شتون نلري، دا تعریف لغوي تعریف دی نو ښه بــه داوي چې نفقه په عام تعریف سره تعریف او بیا د زوجې نفقه د عام تعریف په رڼا کې بیان شي.[4]

**غوره تعریف:**

[1] المیداني، – اللباب في شرح الکتاب –جلد: ۱،مخ:۳۲۳.

[2] الخرشي، محمد بن عبد الله الخرشي المالکي أبو عبد الله، وفات: ۱۱۰۱ه–.– شرح مختصر خلیل – خپرندوی: دار الفکر للطباعة – بیروت، جلد: ۴، مخ: ۱۸۳. / وزارة الأوقاف والشئون الإسلامیة – الکویت – الموسوعة الفقهیة الکویتیة – . جلد: ۴۱، مخ: ۳۴.

[3] الشربیني، – مغني المحتاج – جلد: ۵، مخ:۱۵۱./ الزحیلي، – الفقه الاسلامي و ادلته– جلد:۱۰، مخ: ۸۳.

[4] البهوتی، منصور بن یونس بن صلاح الدین ابن حسن بن إدریس البهوتی الحنبلی وفات: ۱۰۵۱ه–، – الروض المربع شرح زاد المستقنع– خپرندوی: دار المؤید – مؤسسة الرسالة، جلد: ۱، مخ: ۶۱۸.

زما په نظر غوره تعریف دا دی: (کوم څه چې ــ پرته له مهر څخه ــ د زوج په ذمه د زوجیت په عقد سره یې زوجې ته ورکول لازم او واجب ګرځي، یو هم نفقه ده، نفقه د هغه اړتیا وړ شیانو څخه عبارت ده چې شرعا ثابته، عرفا او طبیعتا د معمول معیشت لپاره لازم ګڼل کیږي)[1].

لزوما دې امر ته باید اشاره وشي چې په نفقه کې طعام، لباس او هستوګنځی ډیر لازم شیان دي، و لې د پورتنیو دریو شیانو د کیفیت ټاکل لازم نه دي، ځکه په یادو شویو شیانو باندې عرف او شخص (اشخاص) ډیر اثر لري، همدا راز د ژوند نور امور هم د عرف او طبیعت تر اثر لاندې راځي، نو ښه داده چې نفقه د زوجیت ارزښت لرونکي عقد د منځه تلو لامل و نه ګرځي، او د تفریق موجب نه شي. او نفقه باید په عامه توګه د زوجې او نورو د احسان ــ نــه قانون ــ تر مفهوم لاندې پاتې شي، ځکه زوجیت د قرابت بنیاد دی، په زوجیت چې د احسان مفهــوم حــاکم وي کورنۍ سم جوړښــت مــومي، دې مطلــب تــه پــه ډیــرو شــرعي نصوصــو کــې لارښــوونه شــوې ده.
مدني قانون په دې اړه په لاندینۍ ماده کې داسې حکم کوي: (د ښځې نفقه مشتمله ده په خوراک، لباس، داوسیدلو په ځای او د ښځې په دارو کولو خو د څښتن د مالي قدرت په تناسب).[2]

## د نفقې حکم:

د زوجې نفقه په زوج باندې واجب ده، برابره ده مسلمانه وي او یا کافره، فقیره وي او یا شتمنه، مقاربت ورســره شوی وي یا نه، د مقاربت وړتیا ولري یانه، یعنې یا داسې کبیره وي چې د مقاربت وړتیا ونلري او یا هــم داســې صغیره وي، چې د مقاربت وړتیا ونلري.[3] همداراز د خدمت، الفت او انس نیوي وړ وي یا نه وي، په کوم وخــت کې چې ځان څښتن ته تسلیم کړي، وجوب د زوج په ذمه باندې تحقق مومي، په تصحیح کې دا قول امام ابو یوسف ته منسوب دی، په محیط ظاهر الروایه کې هم عرفي نفقه یوازې د نفس په تسلیم سره لازمه بلل شوې ده.[4] یوازې په دې شرط چې خپل نفس یې زوج ته تسلیم کړی، کوم وخت چې خپل نفس زوج ته په منزل کې تسلیم کړي، پــه څښتن (زوج) باندې نفقه، هستوګنځی او جامه واجب دي.

[1] المیداني، – اللباب في شرح الکتاب –جلد: ۱،مخ:۳۲۳.
[2] د افغانسان مدني قانون، ۱۱۸ ماده،
[3] المیداني، – اللباب في شرح الکتاب –جلد: ۲،مخ:۳۲۳.
[4] المیداني، – اللباب في شرح الکتاب –جلد: ۲،مخ:۳۲۴.

په پای کې په لنډه توګه یادونه کیږي، چې نفقه اصلا د احسان تر مفهوم لاندي شرعي حق دی، هغه ځایونه چـــې د هغې قانوني اړخونو ته یې باید پاملرنه وشي، د زوجیت او قرابت په نفقه ډیر لږ د پاملرنې وړ ګرځي، لکه د ناروغی او داسې نورحالتونه.

## د نفقې د وجوب شرطونه:

۱. د ازدواج عقد باید صحیح وي، نو کوم وخت چې د ازدواج عقد فاسد وي نفقه نه لازمیږي، بلکي د زوجینـــو ایماني دنده ده چې هغه عقد ته اعتبار ورنکړي.

۲. زوجه باید خپل نفس زوج ته تسلیم کړي.

۳. زوجه د استمتاع تمکن ولري.

۴. زوجه کوم ځای چې څبنتن غواړي، هلته له تللو امتناع و نکړي.

۵. زوجین دواړه د استمتاع وړتیا ولري.[1]

# دویم مطلب: د نفقې د وجوب په اړه نصوص:

په انساني ژوند کې نفقه – انفاق– یو طبیعي (لزومي) امر دی، د اسلام مبین دین چې د آسماني ادیانو مکمل دیـــن دی، د هغه مشروعیت په ډیرو څرګندو او اتفاقي د لیلونو سره بیان کړی دی او انفاق – نفقه – د اسلام په اتفاقي اصولو چې له جملې څخه یې قرآن کریم او نبوي سنت دي، مشروع او د مسلمان په ذمه باندې ایښودل شوې ده.

لومړی قرآن کریم: الله تعالی فرمایلي: ﴿الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَبِمَا أَنْفَقُوا مِنْ أَمْوَالِهِمْ﴾[2]

ژباړه: سړي پر ښځو سمبالوونکي (ټاکل شوي) دي، د هغه فضیلت (قوامیت) له امله هم چې الله ځینوتـــه پرځینـــو ورکړی او په هغه لګښت هم چې (سړي یې) له خپلو مالونو کوي.

---

[1] المیداني، – اللباب في شرح الكتاب –جلد: ۲،مخ:۳۲۳– ۳۳۲.
[2] د النساء سورت،۳۷ آیت.

پر آیت د استدلال وجه: لکه چې الله تعالی نارینه ــ خاوندان – ته د ښځو د امورو د قوامیت ــ برابر او اســتواره کول – حق ورکړئ او دا د دوی لوړتیا یو عامل بلل شوی دی، د میرمنو انفاق یې هم د نارینه (څښتن) پــه ذمــه باندې اړه پیدا کړې ده، د پورتني آیت کریمه د نفقې په وجه کې صریح نص دی، نو د نفقې وجوب د څښتن پــه ذمه باندې لازمیږي.

په بل ځای کې الله تعالی فرمایلي: ﴿لِيُنفِقْ ذُو سَعَةٍ مِنْ سَعَتِهِ وَمَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ فَلْيُنفِقْ مِمَّا آتَاهُ اللَّهُ ﴾[1]

ژباړه: په کار ده چې شتمن له خپلې شتمنۍ نه لګښت وکړي او پر چا چې روزي تنګه شوې وي نو څــه چــې الله ورکړي وي له هماغو دې خرچه کوي.

د ایت د استدلال وجه: د ﴿لینفق﴾ کلمه امر دی د امر حکم– په هغه صورت کې چې د اطلاق قرینه شتون ونلري وجوب دی، نو د زوج په ذمه د زوجې انفاق د توان په اندازه واجب او لازم دی او د توان اندازې ته یې په دې قول ﴿لا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْساً إِلاَّ وُسْعَهَا﴾[2]

ژباړه: الله هیڅوک له خپلې وسې پورته نه مکلف کوي (نه مکلف کیږي).

سره لارښوونه او اشاره کړې ده، نو پورتنی آیت د نفقې په وجوب کې – مفسر نص او اشارة النص سره یې د زوج توان مندۍ ته اشاره شوې ده.

په بل آیت کریمه کې الله تعالی فرمایلي دي ﴿أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُمْ مِنْ وُجْدِكُمْ وَلا تُضَارُّوهُنَّ﴾[3]

ژباړه: چېرته چې تاسې استوګنه کوئ دوی (طلاقې ښځې) هماغلته مېشته کړئ له خپل وس سره سم. او ضرر مــه ورته رسوئ.

د استدلال وجه: په پوتني مبارک آیت کې په هستوګنځي صراحتا حکم شوی دی، کوم چــې د نفقــې د بنیــادي عناصرو څخه ګڼل کیږي.[1]

---

[1] د الطلاق سورت، ۷ آیت.
[2] د البقرة سورت،۲۸۶ آیت.
[3] د الطلاق سورت، ٦ آیت.

**دويم: د رسول الله سنت: عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى الله عليه وسلم، قال فِي خُطْبَتِهِ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ «فَاتَّقُوا اللَّهَ فِي النِّسَاءِ، فَإِنَّكُمْ أَخَذْتُمُوهُنَّ بِأَمَانَةِ اللَّهِ وَاسْتَحْلَلْتُمْ فروجهن بكلمة الله، ولكم عليهن أن لا يُوطِئْنَ فُرُشَكُمْ أَحَدًا تَكْرَهُونَهُ، فَإِنْ فَعَلْنَ ذَلِكَ فَاضْرِبُوهُنَّ ضَرْبًا غَيْرَ مُبَرِّحٍ، وَلَهُنَّ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ»[٢]**

**ژباړه: له جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د حجة الوداع په ورځ پخپله خطبه کې و فرمايل: د ښځو په هکله د الله نه ووېرېږئ، ځکه تاسو دوی د الله پر امانت سره رانيولې دي او د الله په حکم يې فرجونه درته حلال شوي دي او تاسو په دوی دا حق لرئ، چې ستاسو فرش په هغه چا پايمال نکړي، چې تاسو يې بد ګڼئ، نو که چيرې يې دا کار وکړ نو دوی په داسې وهلو سره ووهئ، چې زخمي نه شي او په تاسو باندې دوی ته خوراک او جامه ده، په نيکه طريقه (د شريعت موافقه).**

**د حديث د استدلال وجه: دا مبارک حديث د هغه آيتونو نصا تفسير دی چې په کتاب الله کې د نفقې په هکله شتون لري.**

**له جابر بن عبد الله نه روايت دی چې رسول کريم ﷺ و فرمايل: «و لهن عليكم رزقهن و كسوتهن بالمعروف»[٣]**

**ژباړه: پر تاسې د ميرمنو لپاره په غوره طريقه نفقه او جامه لازمه ده.**

**په دې مبارک حديث کې د عليكم کلمه د لزوم او وجوب مفهوم افاده کوي، نو هغه ښځې چې د نفقې، جامې او هستګنځي د ورکولو څخه امتناع کوي، ميرمن د طلاق غوښتنې حق او قاضي د تفريق حکم کولای شي.**

**همدا راز له ام المومنين عايشې صديقې رضي الله عنها څخه روايت دی چې: «أن هند بنت عتبة قالت: يا رسول الله، إن أبا سفيان رجل شحيح، وإنه لا يعطيني وولدي ما يكفينا، إلا ما أخذت من ماله، وهو لا يعلم قال: " خذي ما يكفيك**

---

[١]ابن كثير، أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي ثم الدمشقي، وفات: ٧٧٤هـ. – تفسير القرآن العظيم – خپرندوی: دار طيبة. د چاپ کال: ١٤٢٠هـ. = ١٩٩٩ م.جلد:٤، مخ: ٣٨٣.

[٢] مسلم، الامام أبو الحسن مسلم بن الحجاج القشيري النيسابوري، وفات: ٢٦١ ه. – صحيح مسلم – خپرندوی: دار احياء الكتب العربية – فيصل عيسى البابى الحلبي. جلد: ٢ ، مخ: ٣٠٠. د حديث ګڼه: ١٢١٨.

[٣]النيسابوري، محمد بن إسحاق بن خزيمة أبو بكر السلمي النيسابوري،– صحيح ابن خزيمة – خپرندوی: المكتب الإسلامي – بيروت ، ١٣٩٠ه – ١٩٧٠م، جلد:٤، مخ: ٢٥١، ګڼه: ٢٨٠٩.

وولدك بالمعروف »[1] ژباړه: هند د عتبه لور رسول الله ﷺ ته وویل: یا رسول الله ابو سفیان یو بخیل سړی دی، ما او زوی ته مې دومره څه نه راکوي، چې مونږ ته کفایت وکړي، مګر دا چې زه د ده له مال نه څه اخلـم او دی نـه پوهیږي. رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: په غوره طریقه دومره څه واخله چې ستا او د زوی لپاره کفایت کوي.

نو په حدیث کې « خذي ما یکفیک وولدک بالمعروف» صریح امر دی په دې باندې چې زوجې ته هر هغه چـې د ژوند شرعي ضرورت وي پرته د څښتن له اجازې هم جایز دی چې ژوند پرې وکړي، د حدیث دا فرموده د قضایي حکم وړتیا هم لري.

همدا ډول پورتنیو نصوصو ته په کتو سره مدني قانون ښځې ته د نفقې د ورکولو په اړه داسې حکم کوي:

(د صحیحې او نافذې نکاح په عقد، د ښځې نفقه په څښتن لازمیږي که څه هم ښځه د خپلوانو په کور کې ژونـد کوي، که ښځه ناحقه د څښتن کورته د تللو څخه ځان وژغوري نو نفقه یې په څښتن نه لازمیږي).[2]

## د نفقې کیفیت:

د نفقې په لزوم کې د زوجینو حال ته اعتبار ورکړی شوی دی، بې توپیره ده چې زوج د یسار (بډایي) په حال کـې وي، یا د عسار (تنګ لاسي) په حال کې، دا د الخصاف قول دی او په دې باندې فتوا ده.[3]

او دا قول له ظاهر الروایة څخه مخالف دی او په ظاهر الروایة چې د الکرخي قول دی وایي، د زوج حال اعتبـار لري. او استجابي وایی د الخصاف قول صحیح دی، همدا راز په الجواهر کې وایي د الخصاف په قول فتـوی ده، همداراز الزاهدی، المحبوبي او النسفي هم د الخصاف په قول دي.[4]

خلاصه دا چې په کوم وخت چې زوجین (میرمن او څښتن) د یسار په حال کې وي، د یسار نفقه او که د توسط په حال کې وي، د توسط د حال نفقه او که دواړه تنګ لاسي (عسار) وي د تنګ لاسی نفقه واجب ګرځي.

[1] الشیباني، أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشیباني، وفات: ۲۴۱هـ،– مسند الإمام أحمد بن حنبل–، خپرندوی: مؤسسة الرسالة، چاپ: لومړی، ۱۴۲۱ هـ – ۲۰۰۱ م، جلد: ۴۰، مخ: ۲۷۹.

[2] د افغانسان مدني قانون، ۱۱۷ ماده.

[3] المیداني، – اللباب في شرح الکتاب –جلد: ۱،مخ: ۳۲۵.

[4] مخکینی مرجع.

او که چيرې ښځې تنګ لاسی وي په ظاهر الرواية کې د ښځې حالت د اعتبار مدار دی، اما قاضي کولای شي خاوند د يسار د وخت نفقه د دين په ډول کيږدي.[1] خو د افغانستان مدني قانون دې مسألې ته په لاندينيو مادو کې اشاره کړې ده: (د ښځې نفقه د ښځې د مالي قدرت سره سم تأمينيږي، خو په دې شرط چه نفقه د ښځې د کمې اندازې د کفايت څخه لږ نه وي).[2] (د نفقې کموالی او زياتوالی د ښځې د مالي قدرت د تحول او په محل کې د شيانو د قيمت د تغيير، تابع دی د ټاکل شوې نفقې د زياتوالي ياکموالي دعوی، ترڅو چې د نفقې د ټاکلو په نيټه شپږ مياشتې نه وي تيرې شوې، نه اوريدل کيږي).[3] که ښځې د نفقې د ورکولو څخه ځان وژغوري يا يې په نفقه کې تقصير ثابت شي صلاحيت لرونکې محکمه به ښځې د نفقې په ورکولو مکلفوي.[4]

## نشوز او ورته عوارض:

په کوم وخت چې ميرمن د تسليم څخه ډه ډه وکړي او خپل معجل مهر و غواړي نفقه يې لازمه ده تر هغه وخت پورې چې معجل مهر يې ور ته نه وي ورکړی.

کله چې ميرمن نشوز وکړي د ښځې له کور څخه پرته د ده له اذن څخه بيرون شي که څه هم ښځې يې په سفر تللی وي نفقه يې سقوط مومي.

همداراز هر وخت چې د ميرمنې له لوري د کوم معصيت په اساس بند والی وومي، مثلا ميرمن د خپل دين په وجه محبوسه شي، يا مرتده شي، يا د حج او عمرې احرام وتړي او له محرم سره حج ته لاړه شي، يا يې کوم انسان غصب (اختطاف) کړي له ځان سره يې بل ځای بوځي نفقه يې ساقطيږي.

او صحيح قول همدا دی، په دې قول ځينو فقهاوو اعتماد کړی، چې د هغوی له جملې څخه محبوبي او النسفی هم دی.[5]

---

[1] الميداني، – اللباب في شرح الكتاب –جلد: ۲، مخ:۳۲۴.
[2] د افغانستان مدني قانون، ۱۲۳ ماده.
[3] د افغانسان مدني قانون، ۱۲۴ ماده.
[4] د افغانسان مدني قانون، ۱۱۹ ماده.
[5] الميداني، – اللباب في شرح الكتاب –جلد: ۲، مخ:۳۲۵.

امام ابي يوسف وايي هغه ميرمن چې پرته د څښتن له اجازې او له خپل محرم حج ته تللې وي او هغه ميـــرمن چـــې کرها غصب شوې وي، نفقه يې نه ساقطيږي والله اعلم.

که چير ته زوج –څښتن– صغير وي او د مقاربت وړتيا نه لري او زوجه کبيره وي نفقه يې واجب ده، د هغه له مال څخه يا د ولي له خوا، ځکه تسليم تحقق مونډلی ده او عجز د څښتن له خوا دی، په دې ځای کې عامه قاعده داده، چې د ميرمنې تسليم اعتبار لري، نو کومه امتناع چې د څښتن لخوا را منځ ته شي د نفقې د اسقاط عامل نه کيږي او که امتناع د ميرمنې له خوا را منځ ته شي د نفقې په اسقاط اثر کوي لکه نشوز او داسې نور.

هغه ميرمن چې د زوج په کور کې ناروغه شوې وي، يا په رجعي او يا بائن طلاق طلاق ورکړل شي، د نفقې وجوب يې دوام لري، يعنې د عدت د وخت نفقه يې د څښتن په غاړه ده، ځکه ميرمن د څښتن په مصلحت کې اختيار لري، نو د تسليم مفهوم متحقق دی، اما که چيرې د پلار په کور ناروغه شي، نفقه يې شرعا سقوط مومي، اما ورکول يې د احسان مفهوم لري.[1] ددې موضوع په اړه د افغانستان مدني قانون په لاندې ماده کې داسې حکم کوي:(په لاندينيو حالونو کې ښځه د نفقې حق نه لري: (۱) که ښځه يې د څښتن د اجازې يا د جايزو مقصدونو په غير د اوسيدلو د ځای څخه ووځي. (۲) که ښځه د زوجيت په امورو کې اطاعت و نه لري. (۳) که د څښتن کورته د ښځې د نقلولو مانع موجود وي.[2]

[1] الميداني، – اللباب في شرح الكتاب – ، جلد:۲، مخ: ۳۲۷./ السيد سابق، – فقه السنة– مخ:۱۱۱–۱۱۰.
[2] د افغانستان مدني قانون، ۱۲۲ ماده.

## دویم مبحث: په مسکن (هستوګنځي) کې د میرمنې حق

### لومړی مطلب: د مسکن معنا:

مسکن د لغت له مخې: اسم ظرف دی، سکَنَ یې ماضي فعل دی چې د آرامتیا ځای ته ویل کیږي، جمع یې مساکن راځي او غالب استعمال یې د اوسیدو په ځای کې دی[1].

همدا راز په غالب عرف کې یې په هغه کوټه او منزل (د اوسیدو په ځای) باندې اطلاق کیږي، چې د شخص یا کورنۍ د ژوند وسایل په کې شتون ولري. اما د شرع په ژبه هر هغه هستوګنځي ته ویل کیږي چې په طبیعي لحاظ او به او هوا او د عرف او ژوند په لحاظ لازم وسایل پکې شتون ولري، کیدای شي دا د مسکن شرعي او قانوني تعریف هم وبلل شي. یوه ډله نوي څیړونکي په دې فکر دي، چې فقهاوو د مسکن لپاره کوم جامع تعریف ندی پریښی، نو ښایي چې په لغوي تعریف اکتفاء وشي، ولې سره له دې چې د مسکن په تعریف کې د ډیر تثبیت پام ساتل لازم دي، ځکه هواء، نور طبیعي اوعرفي امور وربانديې اثر لري، نو حنفي فقهاوو مسکن په لاندې ډول تعریف کړی دی، (مسکن هغه ځای دی، چې د استمرار او دوام په ډول د ژوند لپاره آماده ځای ګڼل کیږي).[2] له دې تعریف څخه داسې ښکاري چې د دوام او استمرار قابلیت لرل یې لازم صفت دی، کیدی شي دا تعریف په اتفاق سره د مسکن تعریف وګڼل شي، ځکه له نورو فقهاوو څخه داسې تعریف روایت شوی چې د قضایي منازعې پریکړه نه وربانديې کیږي، او د هستوګنځي دهدف او ګټې پام پکې ندی ساتل شوی.

### دویم مطلب: د مسکن د حق مشروعیت:

#### د مسکن د مشروعیت دلیلونه:

---

[1] ابن منظور، – لسان العرب –جلد:۱۳، مخ: ۲۱۱./ الفیروز آبادي، – القاموس المحیط– جلد:۴، مخ: ۲۳۵.

[2] السرخسي، – المبسوط – جلد: ۸، مخ: ۱۶۱.

کله چې مسکن د ژوند له ډیرو ضروري اصولو څخه دی او دا مطلب بداهتا ثابت دی، چې پرته له مسکن څخه د ژوند امکان ډیر لرِ دی، نو په شرعي اصولو لکه کتاب الله او نبوي سنتو سره یې د اثبات زیاد دلیلونه شتون لري:

**الف:** له کتاب الله څخه: د الله تعالی دا قول ﴿أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُمْ مِن وُجْدِكُمْ﴾[1]

ژباړه: چېرته چې تاسې استوګنه کوئ دوی (طلاقی ښځې) هماغلته مېشته کړئ، له خپل وس سره سم.

د آیت کریمه د استدلال وجه: دا آیت کریمه د رجعي طلاق د حکم د بیان لپاره نازل شوی او په رجعي طلاق سره یې مطلقې ته د مسکن په وجوب حکم کړی دی، نو کله چې د رجعي طلاق مطلقې ته مسکن واجب دی، نو هغې میرمنې ته چې د نکاح په عصمت کې وي د مسکن وجوب یې اولی دی.[2]

بل د الله تعالی په دې قول کې ﴿لَا تُخْرِجُوهُنَّ مِنْ بُيُوتِهِنَّ﴾[3]

ژباړه: هغوی له خپلو کورو مه بهر کوئ.

د آیت کریمه د استدلال وجه: دا آیت کریمه نص دی په عدم جواز د اخراج د میرمنو کې د کورونو د ښځینتانو څخه نهې راغلې ده او تردې چې د ښځینتانو کورونه د دوی خپل کورونه ګڼل شوي – په رضایت سره– نو په دلالت النص سره ثابتیږي، چې میرمنې تر هغه وخته چې میرمن د نکاح د عقد د غوښتنې په اثر د ښځینتن په عصمت کې شمیرل کیږي، مسکن یې د ښځینتن په غاړه لازم دی، که یې مالک وي یا یې په اجره یا عاریت سره ترلاسه کوي.[4]

**دویم:** نبوي سنت: د مسکن د مشروعیت په هکله نبوي احادیث هم شتون لري:

---

[1] د الطلاق سورت، ٦ آیت.
[2] ابن قدامة، – المغني – جلد:٧، مخ: ٥٦٩.
[3] د الطلاق سورت، ١ آیت.
[4] الشربیني، – مغني المحتاج – جلد: ٥، مخ: ١٠۴.

أن النبي صلى الله عليه وسلم أمر فريعة بنت مالک بقوله: «أمكثي في بيتک حتى يبلغ أجله، قالت: فاعتددت فيه أربعة أشهر و عشرا»[1]

ژباړه: نبي کريم صلى الله عليه وسلم فريعې بنت مالک ته امر وکړ او ورته يې وويل: وخت تير کړه په کور خپل کې تر هغه پورې چې د مفروضې زمانې موده پوره شي، نو فريعې وويل: ماهلته څلور مياشتې او لس شپې خپل عدت پوره تير کړ.

د حديث د استدلال وجه: دا نبوي حديث په پوره صراحت سره په دې حکم کوي چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم د عدت په تيرولو د هغې ميرمنې لپاره چې څښتن يې وفات شوى وي، امر کړى دى او د «أمكثي في بيتک» په جمله کې دا صراحت پروت دى، نو د عدت د تيرولو لپاره مسکن لازم او واجب دى.

بل دا چې د هستوګنځي په اړه د افغانستان مدني قانون هم دوې مادې ذکر کړې چې په لاندې ډول دي:

(څښتن به د خپل مالي قدرت سره سم د خپلې ښځې د پاره د اوسيدو مناسب ځاى برابروي).[2]

(که يو سړى د يوې څخه زياتې ښځې ولري، نه شي کولى چې د هغوى د رضا په غير د اوسيدلو په يوه ځاى کښې هغوى اوسيدو ته مجبوره کي).[3]

## د هستوګنځي حق:

دا بديهي او په اجماع ثابته خبره ده، چې درى څيزونه، لکه نفقه، مسکن او جامه د ميرمنې هغه حق دى، چې د نکاح د عصمت په وخت کې يې ورکول په څښتن لازم دى، همدا راز کوم وخت چې ميرمن حکما د نکاح په عصمت کې ګڼل کيږي، لکه د صحيح عقد څخه ورروسته (د طلاق په وخت کې) تر څو يې چې عدت نه دى تير کړى، مسکن يې په څښتن باندې لازم دى. آن تر دې که چيرې له هغه هستوګنځي څخه بهر وي ورباندې لازمه ده،

[1] أبي داود، سنن، جلد: ٢ مخ:٢٧٣.
[2] د افغانستان مدني قانون، ١١٥ ماده.
[3] د افغانستان مدني قانون، ١١٦ ماده

چې فورا خپل هستوګنځي ته لاړه شي،[1] بل دا چې که چيرې حامله ميرمن په واړه يا لوى بينونت سره طلاقه شـــوې وي، هستوګنځى ورته په اجماع سره لازم دى، عام له دې که د څښتن خپل وي يا په عاريت او اجره سره وي، ولې داسې موارد هم شتون لري چې علماوو د هستوګنځي په لزوم اختلاف ښودلى دى.[2] او په لاندې ډول سره دى:

## د هغې ميرمنې هستوګنځى چې د وفات په عدت کې وي

د دې ميرمنې د هستوګنځي په هکله فقهاء اختلاف لري:

**الف:** جمهور فقهاء وايي: دې ډول ميرمنو ته هستوګنځى لازم نه دى، مطلقا که حامله وي يا نه، دوى وايي ځکـــه چې نفقه هستوګنه د ژوند په حالت د زمانې په مرور سره وخت په وخت لزوم مومي، د مرګ په حالت کې د څښتن مال ورثې ته انتقال مومي، نو د ورثې د مال څخه ځرنګه نفقه او هستوګنه لازمه شي.[3]

**ب**: وجوب: مالکي فقهاء او په ظاهر قول د شافعي رحمة الله فقهاء وايي هستوګنځى ورته واجب دى، چې دلايل يې په لاندې توګه بيانيږي:

الله تعالى فرمايلي: ﴿وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا وَصِيَّةً لِأَزْوَاجِهِمْ مَتَاعًا إِلَى الْحَوْلِ غَيْرَ إِخْرَاجٍ﴾[4]

ژباړه: او له تاسونه چې څوک مري او مېرمنې پريږدي، نو خپلو مېرمنوته يوکال پورې خرڅ ورکولو وصـــيت دې کوي، چې ( له کوره) ايستل به پکې نه وي.

د آيت کريمه د استدلال وجه: الله تعالى په آيت کې موده (زمانه) ياده کړې يوه برخه يې نسخ کړه، نو باقي برخه په خپل وجوب پاتې کيږي.

ددې ډلې په فقهاوو په ځواب کې احناف وايي، په دې آيت کريمه کې د ميرمنې لپاره وصيت، نفقه ، هستوګنځى او هغې ميرمنې چې څښتن يې وفات شوى وي، عدت ټول منسوخ دى، عدت له يوه کاله څلورو مياشتو او لسو ورځو

[1] الشيرازى، أبو اسحاق إبراهيم بن علي بن يوسف الشيرازي وفات: ۴۷۶هـ – المهذب – خپرندوى: دار الكتب العلمية، جلد:۲، مخ: ۱۸۸.
[2] الكاساني، – بدائع الصنائع – جلد:۴، مخ:۱۶.
[3] الكاساني، – بدائع الصنائع – جلد:۳، مخ:۲۱۱.
[4] د البقرة سورت، ۲۴۰ آيت.

ته را تیېږ شوی (اربعة اشهر و عشرا) نفقه او هستوګنځی د فرایضو – میراث په څلورمه او اتمه باندې منســـوخ دی.[1]

دې برخې فقهاوو ځینې نور حدیثونه هم د خپل قول د تأیید لپاره روایت کړي دي ، ولې په کوم ځای کې چــې د آیت کریمه د حکم د بیان لپاره – نص– شتون ولري حدیث متروک العمل ګرځي، په نصوصو د آیت د کتاب الله عمل کیږي، هو کې حدیث که څه هم صحت ولري، د قرآني آیت په برابر غیر معمول پاتې کیږي، ځکه قرآن کریم لومړنی د شرع مصدر دی.

**هغه معتده چې په بائن طلاق سره طلاقه وي او حامله هم نه وي په دې مورد علماوو اقوال:**

**اول**: جمهور فقهاء وايي: ددې ډول مطلقې لپاره هستوګنځی په څښتن لازم دی او دلایل یې په لاندې ډول دي:

الف: له کتاب الله څخه ﴿أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُمْ مِنْ وُجْدِكُمْ﴾[2]

ژباړه: چېرته چې تاسې هستوګنه کوئ، دوی (طلاقی ښځې) هماغلته مېشته کړئ، له خپل وس سره سم.

ب: ﴿لَا تُخْرِجُوهُنَّ مِنْ بُيُوتِهِنَّ﴾[3]

ژباړه: هغوی له خپلو کورونو مه بهر کوئ.

پورتني آیتونه خاص نصوص دي، د اسکان په ایجاب کې او په خصوص سره عمل کول لازمي امر دی، که چیرې په هستوګنځي ورته قایل نشو، نو د کتاب الله د آیت د وصف د خصوص مفهوم دې متروک العمل کړ، سربیره پر دې پورتني دواړه آیتونه د مطلقاتو د هستوګنځي د حکم په هکله مطلق هم دي او د اطلاق وصف لري، نو که چیـــرې هغې مطلقې ته چې بائن طلاق سره طلاقه شوې – حامله هم نه وي– د هستوګنځي قایل نشو مفهوم به دا وي، چې د

[1]احمد، ملاجیون،– التفسیرات الاحمدیة ، مخ: ۱۴۷.
[2]د الطلاق سورت، ٦ آیت.
[3]د الطلاق سورت، ۱ آیت.

آیت مطلق حکم مو مقید کړ، له بلې خوا میرمنې (معتدې) د نکاح په مقصود او غایه کې محبوسې دي، له عـــدت څخه د نسب ساتنه غایه ده، نو دوی ته هستوګنځی نه ورکول د نکاح له مقصود او غایې څخه خلاف عمل دی.[1]

دویم: د حنابله وو یوه ډله علماء وایي[2] ددې ډول مطلقې هستوګنځی په ځښتن لازم نه دی او په لانـــدې دلایلـــو استدلال کوي، لومړی له کتاب الله څخه په دې آیت چې الله تعالي فرمایي: ﴿وَإِنْ كُنَّ أُولَاتِ حَمْلٍ فَأَنْفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتَّى يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ﴾[3]

ژباړه: او که دوی بلاربې وي نو تر هغه خرڅه پرې وکړئ چې خپل بار کوز کړي.

د آیت کریمه د استدلال وجه: په پورتني آیت کریمه کې د ﴿اولات حمل﴾ مفهوم د خصوص افاده لري، نو د انفاق او اړوند نور امور یوازې په حامله میرمنو پورې تړاو پیدا کوي، که چیرې غیر له حامله وو څخه هستوګنه او عدت پورې د اړوندو امورو قول صدق وکړي، نو د آیت خصوص به مو ترک کړی وي.[4]

**له نبوي سنتو څخه:** أن فاطمه بنت قیس طلقها زوجها فلم يجعل لها النبي نفقة و لا سكنى و انما قال: «انما النفقة و السكنى للمرأة اذا كان لزوجهاعليها الرجعة»[5]

ژباړه: فاطمه د قیس لور یې ځښتن طلاقه کړه رسول الله هغه ته نفقه او هستوګنځی و ټاکل او ویې ویل: ( نفقـــه او هستوګنځی د هغې میرمنې لپاره دی چې ځښتن یې هغې ته رجعت ولري.

دا ډول فقهاء د رجعت په کلمه استدلال کوي او وایي له حدیث څخه معلومیږي چې یوازې د رجعي طلاق مطلقې ته نفقه او هستوګنځی شته او بس.

[1] الشربيني، – مغني المحتاج – جلد: ۵، مخ: ۱۰۴.
[2] الكاساني، – بدائع الصنائع – جلد:۳، مخ:۲۰۹.
[3] د الطلاق سورت، ٦ آیت.
[4] الكاساني، – بدائع الصنائع – جلد:۳، مخ:۲۰۹.
[5] النسائي، – سنن – جلد:٦، مخ: ۱۴۴، د حدیث ګڼه: ۳۴۰۳.

ددې قول په ځواب کې ویل کیږي چې  دا حدیث خبر واحد دی خبر واحد هیڅکله د قرآني اطلاق په برابر معمول نشي کیدی، او دا هم باید یاده شي چې د فاطمې د طلاق قضیه بیل اړخونه لري، نو د رسـول الله دا حکـم عـام تشریعي حکم نه شي کیدی.

## غوره قول:

هغه میرمن چې په بائن طلاق سره طلاقه شوې وي او حامله هم نه وي، هستوګنځی ورتـه شـته دی، ځکـه ﴿لَا تُخْرِجُوهُنَّ مِنْ بُيُوتِهِنَّ﴾ صریح نهې ده، د دوی په عدم اجرا کې او هم هغه کورونه چې دوی په کې هستوګنه لري، دوی ته یې نسبت شوی یعنې د دوی د خپلو کورونو په نامه سره یاد شوي دي، له بلې خوا دوی په هغه امر محبوس دي، چې هغه له نکاح څخه مقصود او غایه ده، عدت د نکاح له مقاصدو څخه امر دی، د نسب ساتنه په کې نغښتې ده، او دا آیت کریمه چې ﴿وَإِنْ كُنَّ أُولَاتِ حَمْلٍ فَأَنْفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتَّى يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ﴾[1] بیل نـص دی او د نصـوص حکم یې د هغه میرمنو په هکله دی، چې حاملې دي هغه میرمنې چې بائن یا رجعي طلاق سره طلاقې شوې، د پورتني آیت تر نطاق لاندې نه راځي، ځکه د حمل مفهوم د آیت مفهوم مقید کړی، نو مقید نص په خپل تقیید سره سره باید معمول شي، خبر واحد د هغه معارض نشي کیدی او همدارنګه د فاطمې په اړه حدیث تر دقیق اعتراض لاندې دی او حضرت عمر رضي الله عنه انکار ورڅخه کړی دی.

### د حاضنې د مسکن – هستوګنځي – په اجره کې د فقهاوو اقوال:

اول حنفي فقهاء: دوی وایي د هستوګنځي اجره واجب ده، په هغه صورت کې چې ماشوم مال ولري، د هغه له مال څخه او که مال و نلري په هغه چا واجب ده، چې د ماشوم نفقه په ذمه لري.[2]

دویم مالکي فقهاء: د مالکیانو مشهور قول دادی چې د حضانت د ځای – هستوګنځي – اجره په پلار باندې ده او له دوی څخه سحنون وایي د حضانت د هستوګنځي اجره په حاضن پلار او د قاضي تر اجتهاد پورې اړینه ده.[3]

---

[1]د الطلاق سورت، ٦ آیت.

[2]ابن نجیم، – البحر الرائق – جلد: ۴، مخ: ۲۲۰.

[3]وزارة الأوقاف الكويتية، – الموسوعة الفقهية – جلد: ۱۷، مخ:۳۱۲.

شافعي فقهاء په دې اړه کوم صريح قول نه لري او وايي چې کومو امورو ته چې نفقه شامليږي او کوم شخص چې نفقه په غاړه لري د هستوګنځي اجره هم د هغه په غاړه – ذمه – ده.

د امام شافعي يو فقيه وايي هغه چې حضانت په غاړه لري د اسکان حق يې په ذمه دی او د حضانت لپاره دهستوګنځي اجره يې په غاړه ده.

## غوره قول:

زما په آند د احنافو قول مختار دی چې وايي د حضانت د مسکن اجره د ماشوم له مال څخه ده، که مال ونلري په هغه چاده چې نفقه يې ورباندې لازمه ده، ځکه غوره دی چې کله ماشوم خپل مال ولري بايد چې دده ضرورتونه ورباندې تکميل شي، خو که چيرته خپل مال ونلري نو بيا دې د هغه چا په ذمه شي چې نفقه يې ورکوي، چې دا قول عقل ته نيږدې قول دی. خو همدا رنګه يوه ډله څيړونکي د مالکيانو قول هم مختار بولي، چې وايي د حضانت د مسکن اجره په پلار ،حاضن او د قاضي اجتهاد ته مفوضه ده.

# څلورم فصل: په حضانت، رضاع او میراث کې د ښځې حق

## لومړی مبحث: په حضانت کې د ښځې حق

### لومړی مطلب: د حضانت معنا:

**حضانت د لغت له مخې:**

حضانت عربي کلمه ده، چې د رعايت او تربيې په معنا يې استعمال رائج او شائع دی، ويل کيږي حضـــن الرجـــل الصبي ای رعاه و رباه، سړي ماشوم تربيه کړ او د هغه رعايت يې کړی و.[۱]

او حضانة مصدر دی چې د رعايت او تربيې په مفهوم په شرعي، فقهي او حقوقي ځايونو کې استعال شوی دی.

او حاضنة هغه ښځه ده، چې د ماشوم د روحي او بدني تربيې پالنه کوي، او په ماشوم باندې د هغه د تربيې د امورو د تدبير ولايت لري.

په اصلي لغوي معنا سره "حضن" په څنګ کې نيولو ته وايي، رعايت او تدبير يې تضمني مفاهيم دي.[۲]

**حضانت په شرعی اصطلاح کې:**

د هغه کس له تربيې او رعايت څخه عبارت دی، چې هغه د خپل ژوندانه په امورو باندې استقلال نه لري او د بل چا مرستې ته يې طبعا ضرورت وي، دا کس که څه هم لوی وي لکه ليونی او معتوه، اما بديهي ده چې ماشوم د بل هر ډول کس رعايت او تربيې ته ډير ضرورت لري.

د حضانت په اړه فقهاوو مختلف تعريفونه کړي دي چې په لاندې ډول يې يادونه کيږي:

---

[۱] مجمع اللغة العربية، ــ المعجم الوسيط ــ جلد:۱، مخ: ۱۸۲.

[۲] مخکينی مرجع.

**د احنافو تعریف:** (حضانت په شرع کې د او لاد تربیه ده، د هغه چا لپاره چې د حضانت حق یې لري.)[1]

**د مالکیانو تعریف:** ( حضانت د اولاد ساتنه ده په خپل کورکې، یا د هغه په تلو او راتلو کې او دې ده د مصالحو لپاره کار کول دي، لکه خوراک، لباس او ورته د ځای پاکوالی)[2]

**د شافعیانو تعریف:** حضانت په شرع کې د هغو چا ساتنه ده چې خپله د ځان ساتنه نشي کولی له هغو څه نه چې ورته ضرر رسوي ځکه چې د نفع او ضرر توپیر نشي کولی لکه طفل یا لوی لیونی، د هغوی ساتنه او خوراک او څښاک ورکول او داسې نور)[3]

**د حنابله وو تعریف:** ( حضانت د صغیر، لیوني او معتوه (هغه چې په عقل کې یې اختلال وي) ساتنه ده، د هغه څه نه چې دوی ته ضرر رسوي او د دوی د مصالحو لپاره کار کول دي، لکه د سر، لاسونو، جامو مینځل، په زانګو کې یې ویده کول او داسې نور چې د دوی په مصالحو پورې تړاو لري)[4]

**غوره تعریف:**

د احنافو او مالکیانو تعریفونه راجح تعریفونه بلل کیږي ځکه کله چې د حضانت ذکر وشي، د ماشوم تربیې ته د انسان ذهن ځی، د لوی او سپن ږیري تربیې ته ذهن نه ورځي او دا په عرف کې هم مروج دی، بل دا چې مدني قانون هم ورته حکم کوي او وایي ((۱) حضانت د طفل د ساتنې او پالنې څخه په هغې مودې کې عبارت دی، چې طفل د ښځې ساتنې او پالنې ته محتاج وي. (۲) حضانت د هغه چا حق دی، چې ددې قانون په اساس تنظیم شوی وي).[5]

## دویم مطلب: د حضانت مشروعیت

[1] ابن عابدین، – حاشیة ردالمحتار علی الدر المختار– جلد:۳، مخ: ۵۵۵.
[2] الدسوقي، محمد عرفه الدسوقي، –حاشیة الدسوقی علی شرح الکبیر– خپرندوی: دار الفکر، بیروت.جلد:۲ مخ:۵۲۶.
[3] الشربیني، – مغني المحتاج – جلد: ۳، مخ:۴۵۲.
[4] البهوتي، – کشاف القناع عن متن الإقناع –جلد: ۵. مخ: ۴۶۹.
[5] د افغانستان مدني قانون، ۲۳۶ ماده.

حضانت د اسلام په مبين دين کې په څلورو متفق عليها اصولو سره مشروع شوی دی، يعنې په څلورو اصلي اتفاقي اصولو باندې اثبات او مسلمانانو غاړه ايښودل ورته لازم ګرځولي دي، چې ځينې يې په لاندې ډول تر لنډې څېړنې لاندې نيول کيږي:

اول: په کتاب الله : الله تعالى فرمايلي: ﴿ذَلِكَ مِنْ أَنْبَاءِ الْغَيْبِ نُوحِيهِ إِلَيْكَ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يُلْقُونَ أَقْلَامَهُمْ أَيُّهُمْ يَكْفُلُ مَرْيَمَ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يَخْتَصِمُونَ﴾[1]

ژباړه: دا د غيبوله اخبارونه څه دي چې په وحی يې درلېږو، او ته خو هغه مهال دوی سره نه وې، چې کله يې خپل قلمونه اچول چې کوم يو به يې د مريمى کفالت (يا روزنه) کوي او هغه وخت هم ورسره نه وې چې کله يې شخړه سره کوله.

د پورني آيت د استدلال وجه: له آيت کريمه څخه په صراحت سره څرګنديږي، چې د هر ماشوم حضانت يو فطري امر دی او د فطرت په غوښتنه هر مومن مسلمان مکلف ګرځي، چې د احسان او بيا د شرعي حقوقي غوښتنې پــه آساس دا مکلفيت ومني، غاړه ورته کيږ دي، لکه چې په بيت المقدس کې راهبان پر يو بل د دې مکلفيت منلو ته په پوره رغبت سره حاضر شول، آن تر دې پورې د بي بي مريمې د کفالت – چې لازم مفهوم يې حضانت دی – تــر لاسه کولو لپاره يې قرعه واچوله او خپل قلمونه يې په اوبو کې وا چول او ويې ويل، د هرچا قلم ته چې اوبو حرکت ورنکړ، کفالت يې د هغه دی، نو د راهبانو د لوړ رغبت څخه دا ښکاري چې حضانت د يهوديت په دين او د هغه نه په مخکې اديانو کې هم شتون درلود، نو دا پورتنی آيت اقتضاء النص دی.[2]

[1] د آل عمران سورت،۴۴ آيت./ مخطوطة الجمل، حسن عز الدين بن حسين بن عبد الفتاح أحمد الجمل– معجم وتفسير لغوي لكلمات القرآن– خپرندوی: الهيئة المصرية العامة للكتاب، مصر. چاپ:لومړی، ۲۰۰۳ – ۲۰۰۸ م،جلد:۵، مخ:۲۰۳.

[2] النسفي، أبو البركات عبد الله بن أحمد بن محمود حافظ الدين النسفي وفات: ۷۱۰ه–، –تفسير النسفي (مدارک التنزيل وحقائق التأويل)– خپرندوی: دار الكلم الطيب، بيروت، چاپ: لومړی، ۱۴۱۹ ه– – ۱۹۹۸ م،جلد:۱، مخ: ۱۵۷–۱۵۸./ ابن كثير، – تفسير ابن كثير – جلد: ۱، مخ: ۳۶۳.

**دویم:** په سنت الرسول اللهﷺ: یو روایت کې را ځي «أن امرأة قالت یا رسول الله إن ابنی هذا کان بطنی له وعـــاء وثديي له سقاء وحجری له حواء وإن أباه طلقنی وأراد أن ینتزعه منی فقال لها رسول الله –صلى الله عليه وسلم– « أنت أحق به ما لم تنكحی»[1]

ژباړه: رسول کریم صل الله علیه وسلم ته یوې ښځې وویل دغه زوی زما چې خیټه مې ورته لوښی دی او تیونه مـــې ورته مړوونکي دي او غیږه مې ورته ساتونکې ده، خو پلار یې زه طلاقه کړم، غواړي چې زوی مې رانه واخلي، نـــو رسول الله ﷺ ورته و فرمایل: تر هغو چې تا نکاح نه وي کړې ستا حق دی چې در سره وي.

به حدیث باندې د استدلال وجه: دا مبارک حدیث هم نه یوازې د حضانت په مشروعیت صریح نص دی، بلکې د حضانت حق پورې هم تړاو لري.

بل روایت دی د حمزه رضي الله عنه د لور په حضانت کې علی، جعفر او زید رضي الله عنهم منازعه وکړه، علي رضي الله عنه ویل زما د تره لور ده، جعفر وویل زما د تره لور ده او خاله یې زما په نکاح کې ده او زید وویل زما وریره ده، د دوی تر منځ رسول اللهﷺ فیصله وکړه او ویې فرمایل: «الخالة بمنزلة الأم»[2]

ژباړه: خاله د مور په شان ده.

د صحابه وو تر منځ منازعه او بیا د رسول اللهﷺ فیصله په دې د لالت کوی، چې د محتاج حضانت شرعي ایماني مکلفیت دی، او دا جمله «الخالة بمنزلة الأم» په دې نصاً حکم کوي، چې مور او د هغې نږدې خپلوان په حضانت کې اولویت لري.

**دریم:** په اجماع: باید یاده شي چې حضانت په کتاب الله تعالی سره ثابت شوی دی او کتاب الله د تشریع لـــومړنی مصدر دی، په کوم وخت کې چې یو شرعي حکم په کتاب الله تعالی سره ثابت شي، بیا سنت اجماع او قیاس تـــه

---

[1] السجستاني، – سنن أبی داود – جلد: ۲ ، مخ: ۲۵۱، د حدیث ګڼه: ۲۲۷۸

[2] الحمیدي، محمد بن فتوح الحمیدي، – الجمع بین الصحیحین البخاري ومسلم– چاپ: دویم، د چاپ ځای: دار ابن حزم – لبنان/ بیروت – ۱۴۲۳هـ– ۲۰۰۲م، جلد: ۱، مخ: ۳۲۶، د حدیث ګڼه: ۸۵۸.

لزوم نه پاتې کيږي او کوم حکم چې کتاب الله د بيان په يوه وجه سره ثابت وي، هيڅ شرعي دليل (سنة، اجماع) يې معارض هم نشي کيدی.

د حضانت د حق په اثبات کې کافي ده چې د قرآني آيتونو په استدلال باندې بسنه وکړو، ولې ددې حق په اثبات کې نبوې احاديث هم شتون لري، چې د قرآني آيتونو تفسير ګڼل کيږي، نو دا په ذات خپل کې اجماع شوه چې د قرآني آيتونو مدلولات په نبوي احاديثو تائيد شوي دي، د فقهاوو پرې عام تعامل روان دی، نو په لنډه توګه وايو چې د حضانت حق هغه حق دی، چې مشروعيت يې په قرآني آيتونو، ايماني او انساني فطرت سره ثابت، او د حق مشروعيت انسان ته د بداهت په مال کې دی، لازمه ښکاري، چې د حضانې احکام کوم چې لزوم او ضرورت دي، لږ څه تر څيړنې لاندې ونيسو، د حضانې حق په مور يا پلار پورې تعلق نيسي.

شرعي نصوص په دې امر دلالت کوي، چې رضاع د حضانې د بنيادي جزء لامل دی، نو د حضانې حق هم لکه رضاع لومړی په مور د ضرورت او شرعي عذر په صورت کې په پلار پورې تړاو پيدا کوي، په لاندې دريو مواردو کې مور مکلفه او مجبوره ده، چې د خپل ماشوم حضانت په ذمه واخلي:

**الف:** چې ماشوم او پلار يې بل‌ دای نه وي، ددې توان و نه لري، چې د حضانت امر ادا کړي پرته له مور څخه.

**ب:** د ماشوم د مور په ښځينه خپلوانو کې داسې څوک پيدا نه شي، چې د ماشوم دحضانت مسؤوليت په شرعي ډول تر سره کړي.

**ج:** ماشوم د بلې ښځينه سره الفت نه غواړي.

په استثنايي ډول داسې ماشومان پيداکيږي، چې له مور څخه بل څوک يې حضانت نشي کولی، دې امر ته والدين او قضات هم بايد پاملرنه وکړي.

## په حضانت باندې د اجرې استحقاق:

مجتهدين فقهاء په دې امر کې اختلاف لري چې په حضانت باندې اجره شته او که نه نو په څو ډلو ويشل شوي دي:

**لومړی**: مالکي فقهاء: دوی وايي، چې د حاضنې لپاره د هغې په حضانت اړونده حق شتون نلري، برابره ده که دا حاضنه مور وي يا بل څوک، ولې دا حکم يوازې د حضانت تر حکم پورې اعتبار لري، نه په خپله د حاضنې تر حالت پورې، يعنې که حاضنه فقيره وي او حضانت په غاړه ولري، ماشوم يا يې ولي مال ولري غني (بډای) وي، نو لازمه ده چې د ماشوم يا محضون له مال څخه ورباندې انفاق وشي، ددې د فقر له وجهې – نه د دې د حضانت د اجرې په مفهوم – او که چيرې محضون په خپله مال ونه لري، د هغه په پلار لازمه ده، چې په حاضنه انفاق وکړي، او کوم څه چې د تل لپاره په پلار لازميږي، د محضون نفقه، جامې، هستوګنځی او نور ضروري امور دي، لکه تداوي، حاضنه کولی شي هغه ورڅخه قبض کړي.

دويم: جمهورو فقهاء: دا ډله فقهاء رحمة الله عليهم وايي چې مطلقې مور ته د حضانې اجره جايزه ده، و لې په هغه وخت کې چې محضون مال ولري او مور يې مطالبه کړي، که چيرې محضون مال ونه لری، د پلار له مال يا د هغه چا له مال څخه چې د محضون نفقه ورباندې لازمه ده، بنايي اجره ورکړل شي.[1]

په رد محتار کې داسې قول راغلی دی، چې وايي د حضانت اجره په کوم وخت کې چې منکوحه په عدت کې نه وي د محضون د پلار په ذمه ده او دا اجره غير د هغه اجرې څخه ده، چې په رضاع يا اصل نفقې سره لازم شوې ده او همدا راز د حضانت هستوګنځی هم د پلار په ذمه باندې لازميږي، که محضون خادم ته ضرورت ولري، هغه هم د پلار په ذمه لازم ګرځي.[2]

همدا ډول مدني قانون مور ته د حضانت د اجورې په اړه په **۲۴۵** ماده کي دا سې حکم کوي: ((۱) مور چې ترڅو د نکاح په قيد يا د رجعي طلاق په عدت کې وي، د حضانت د اجورې حق نه لري.(۲) که د طفل مور د بائن طلاق په عدت کې وي، يا يې د طفل د محرم سره نکاح کړې وي او يا د هغه په عدت کې وي، د حضانت د اجورې حق لري).[3]

---

[1] ابن عابدين، –حاشية ردالمحتار على درالمختار– جلد: ۳، مخ:۵۵۷./ الشربيني، – مغني المحتاج – جلد: ۲، مخ:۳۴۵. البهوتي: – كشاف القناع عن متن الإقناع – جلد: ۳. مخ: ۵۵۲. / ابن نجيم، – البحر الرائق – شرح كنز الدقائق – جلد:۴، مخ:۲۲۲.

[2] ابن عابدين، –حاشية ردالمحتار على درالمختار– جلد:۳، مخ: ۵۶۱.

[3] د افغانستان مدني قانون، ۲۴۵ ماده.

سید سابق وایي: کله چې د رضاع او حضانت اجره د پلار په ذمه باندې لازمه ده، همداراز د مسکن اجره هم د هغه په ذمه ده، دا په هغه حالت کې چې حاضنه د حضانت لپاره لازم او آماده مسکن ونلري، دارنګه د هغه خادم چې د حاضنې لپاره يې ور حاضروي د پلار په ذمه دی او پلار هم د يسار (بډاينتوب) په حالت کې وي، دا ټول دپلار په غاړه دي بايد اجره يې ورکړي. بايد زياته شي چې طعام، لباس، فرش پرته له اجرې څخه د پلار په ذمه باندې دي، پرته له ادا کولو يا ابراء څخه يې له غاړې ساقطيږي.[1]

په شرعي نصوصو، د فقهاوو د تأمل کولو وروسته داسې ښکاري، چې د حا ضنې مطلقې د حقوقو ساتنه او رعايت په دې کې دی، چې د حضانت او رضاع اجره ورکړل شي، سره له دې چې مور له اولاد سره تامه عاطفه لري، بيا هم په دې باندې لازمه ده چې د مور والي عاطفه وساتي او د هغې مالي حق لږ تر لږه که څه هم د احسان په نيت او مفهوم وي اداء کړي او د مور رحم او عواطف د اولاد په هکله خوندي کړي او دا مفهوم درک کړي چې مور ډيره مهربانه د نورو په پرتله ډيره ارزښت لرونکې حاضنه ده،[2] سربيره د حضانت په اجره باندې نور احسان هم ورسره وکړي.

**دا هم بايد ياده شي چې په ماشوم باندې دوه ډوله ولايت شتون لري:**

**الف:** هغه ولايت چې پلار پورې په لومړۍ درجه تړاو لري او هغه د مال او نکاح د ولايت څخه عبارت دی.

**ب:** هغه ولايت دی چې مورته پکې تقدم يا لومړيتوب ورکړی شوی دی او هغه د حضانت او ارضاع څخه عبارت دی، نو هر يو له دوی دواړو څخه په خپله برخه تقدم لري، او هر يو په خپل ځای خپل مکلفيت ته بايد پوره پاملرنه وکړي، چې د ماشوم مصلحت پوره تحقق ومومي او خپلې دندې ته متوجه شي.

کله چې ښځينه په فطري اصل د نارينه په پرتله په تربيتي امورو کې ډيره پوهه لري صبر او مهرباني يې زياته ده، په دې امورو کې د تقدم وړاندې والی ورکول کيږي او کله چې نارينه د ښځينه په پرتله د يوه مصلحت په لاسته راوړنه د ټول ژوندانه په امورو کې محطاط هم دی، په دا ډول امورو کې اولويت ورکول کيږي، نو په رضاع او حضانت

---

[1] السيد سابق،– فقه السنة–، مخ:۳۴۵.

[2] نوال بنت عبدالعزيز، –حقوق المرأة في ضوء السنة النبوية –، مخ:۸۴۲.

کې مور، او په مالي چارو کې پلار ته د ولایت حق ورکړل شوی دی.[1] بیا هم مدني قانون په دې اړه په لاندینیو مادو کې داسې حکم کوي، (نسبي مور د زوجیت په اوږدو کې او د جدایې وروسته د طفل د ساتنې او پالنې په باره کې د لومړیوالي حق لري، خو په دې شرط چې د حضانت د شرطونو لرونکې وي).[2] (د حضانت اجوره په پلار لازمه ده او دا د رضاع او نفقې څخه جدا ده، که طفل د شخصي شتمنۍ خاوند وي نو د حضانت اجوره د هغه د شتمنۍ څخه ورکول کیږي، مګر دا چې پلار یې په تبرعي صورت ورکي).[3]

د حضانې د سقوط حق: کله چې د حضانت څخه د طفل د ژوند جسمی، روحي او عقلي روزنه ده، نو د حضانت حق هم د پورتني هدف د تحقق امکان ته په دې کې لیدل کیږي، د پورتني اصل له مخې کوم وخت چې مور یا حاضنه دداسې شخص سره واده وکړی، چې د ماشوم قریب نه وي د مهربانۍ هیله ورڅخه نه کیږي، نو لازمه ده چې ماشوم په حضانت ورنکړل شي، همدا راز هغه حاضنه چې لیونۍ، معتوه او یا هم په داسې ناروغۍ ناروغه وي چې د سرایت امکان پکې وي او د ماشوم د روحي او جسمي روزنې توان نه لري، د حضانت حق یې ساقط ګرځي، همدا رنګه په دې اړه مدني قانون هم دا ډول حکم کوي، (کومه ښځه چې د طفل حضانت په غاړه اخلي، باید چه عاقله، بالغه او امینه وي، چې د طفل ضایع کیدل د هغې د بې پروایۍ له امله متصور نه وي، او د طفل د ساتنې او پالنې توان ولري).[4] همدا راز په کوم وخت کې چې پلار سفیه – د مال د مصرف ځای نه پیژني – یا یې د بد فعلۍ لپاره کفالت کوي، د داسې پلار د حضانت حق ساقطیږي او مور یا بل خپلوان ته سپارل کیږي،[5] لکه څرنګه چې رسول اکرم ﷺ فرمایلي: «مَنْ لَمْ يَرْحَمْ صَغِيرَنَا وَيُوَقِّرْ كَبِيرَنَا فَلَيْسَ مِنَّا»[6]

ژباړه: څوک چې زموږ پر وړو رحم نه کوي او د مشرانو مو احترام نه کوي، هغه له موږ څخه نه دی.

---

[1] ابن القيم الجوزية، وفات: ۷۵۱هـ – زاد المعاد في هدي خير العباد– خپرندوی: الکويت: مکتبة المنار الاسلامية. چاپ: ۲۷، ۱۴۱۵هـ– /۱۹۹۴هـ– ،جلد:۵، مخ:۳۹۲ .

[2] د افغانستان مدني قانون، ۲۳۷ ماده.

[3] د افغانستان مدني قانون، ۲۴۴ ماده.

[4] د افغانستان مدني قانون، ۲۳۸ ماده،

[5] الجزائري، ابوبکر جابر الجزائري – منهاج المسلم –، مخ:۴۶۶.

[6] أبي أسامة، أبو محمد الحارث بن محمد بن داهر التميمي البغدادي الخصيب المعروف بابن أبي أسامة، وفات: ۲۸۲هـ– – بغية الباحث عن زوائد مسند الحارث– ،خپرندوی: مركز خدمة السنة والسيرة النبوية – المدينة المنورة، چاپ: لومړی، ۱۴۱۳هـ– – ۱۹۹۲م، جلد:۲، مخ: ۷۹۱.

**غوره قول:**

چې زما په آند پورتنيو د لايلو ته په کتو سره د جمهورو علماوو نظر غوره دی ځکه نسبت نورو علماوو ته يې دلايل قوي ښکاري چې په پورتني متن کې يې يادونه وشوه.

## دويم مبحث: د رضاع په مزد کې د ښځې حق:

### لومړی مطلب: درضاع معنا:

مخکې له دې چې په رضاع کې د ښځې د مالي حق په شرعي اثبات بحث وکړو لازمه ښکاري، چې د اسلام د مبین دین لوړو مقاصدو ته مو پوره پام وي، د اسلام د مقدس دین لوړ مقاصد عبارت دي له (دین، عقل، عرض (شرف)، نسب او مال له ساتنې څخه) د نسب سوچه ساتل په حقیقت کې د صله رحمی د ډېرو برخو ساتنه ده. رحم هغه انساني صفت دی، چې انساني منافعو ته د جلب او ددې تر څنګ د زیانونو له دفع کولو څخه یوه لویه منبع بلل شوې ده، د تعارف او تعاون ډېره قوي رابطه هم قرابت او هم د ازدواج اړیکې دي – د ازدواج رابطه چې ډېره قوي رابطه ده – د مور او پلار بیا اولاد څخه پیل کیږي، ځکه د اولاد جسمي او روحي– رواني – جزئیت د نطفې له سلولونو پیل کیږي او تدریجا په ټولو فزیکي حجراتو ـــ ذراتو ـــ بیا په رواني عواطفو غریزو، طبعي غوښتنو اثر کوي، انساني خاص شخصیت را منځ ته کوي، داسې شخصیت چې عواطف یې متوازن وي، طبیعي غوښتنې تر انساني خاص معیار لاندې او غریزې غیر انساني تحرک او تعاطف نه غواړي، په داسې متوازن شخصیت سره کولی شي د خپل وجود جزئیت خپل مور او پلار ته انتساب کړي، د هغوی سره په تن او نفس کې داسې شعور ورزوي چې خپل مور او پلار او بیا د هغوی په رابطه اقارب د درنښت او احترام وړ وبولي او په دې امر پوره اګاه اوسي، چې زما وجود د مور او پلار له وینو او په رواني لحاظ د هغوی له عواطفو څخه جوړښت موندلی دی، ځکه د ژوند ممد، د اخلاقو او شرف قوام مې دوی څخه دي او زه د هغوی د بدني حجراتو او رواني عواطفو یوجز یم، د رواني (روحیاتو) له مخې د هغه اکثر خصایل په ارث وړم د یوه فرد وینه، سلولونه، رواني او اخلاقي خصایل له مور بیا له پلار او له هغه شیدو څخه چې په خپل وخت کې ور څخه تغذیه شوی یم په میراث وړم، نو لکه چې د مور شیدې پخپله د جسمي او رواني نشوء او نما موجب ګرځي، بیا د هغه شیدو جز دی، چې رضاعي مور هم په هغه وخت چې په تام جرئت موجب ګرزوي او مرضعه د هغې ځای ورته پیدا کوي، کوم چې مور یې لري او مور سره او یا مور اوپلار د قریبانو سره مقاربت جسمي او هم رواني (روحاني) زیانونو څخه خالي نه ګڼل کیږي، اما په صراحت سره باید یاده شي چې اوسني مؤمنان دې امرته پاملرنه نکوي، بیا هم ماشومانو ته د هرې میرمنې د شیدو ورکولو اجازه

ورکوي، دا موضوع باید علما ښکاره کړي، چې رضاع د کوم سبب له مخې د نکاح د حرمت عامل دی، او رضاع رضیع ته تر کومې اندازې د بدني او نفسي (رواني) ناروغیو موجب ګرځي، د رضاع حرمت اصل او موجب څه دی، روانشناسان او طبیبان هم دنده لري، چې د رضاع (شیدو ورکولو) موضوع و څېړي او دا جوته کړي چې ماشوم په کومه اندازه له رضاعي مور څخه جسمي او رواني وده تر لاسه کوي، د پام نوي او کومه اندازه د رضاعي مور شیدې د دوی د جزئیت لامل ګرځي، له رضاعي خپلوانو سره نکاح کول کومې عقلاني عاطفي ستونزې د رضیع یا د مرضعې د خپلوانو لپاره کومې چې په رضاع سره یې د جزئیت سره ترلاسه کړې دي او په ژوند او نسب اثر کوي پوره روښانه کړي.

## رضاع په لغت کې:

رضاع مصدر دی، رضع یې فعل دی دا مصدر تقریبا ډېر مشتقات لري او په رضع د دریو حروفو په ضمه سره جمع کیږي، کومه ښځه چې تی ورکوي، هغې ته مرضعه وایي او هغه ماشوم چې تی روي ورته رضیع وایي، باک نلري که نوموړی ماشوم له خپلې مور او یا له کومې بلې ښځې د تیو څخه شیدې روي ورته رضاع وایي.[1]

## رضاع په اصطلاحي کې:

فقهاوو کرامو رحمة الله علیهم رضاع ته ډېر تعریفونه کړي دي، چې د هغې له جملې څخه لاندې تعریفونه دي:

**الف: د حنفي فقهاوو تعریف:** د شیدو رودل د ښځې (آدمي) له تیو څخه په ټاکلي وخت (موده) کې رضاع ده. دا تعریف د علامه نسفي دی ، جعفرالبغدادی هم دا ډول تعریف ارائه کړی دی.[2]

**ب: د شافعي فقهاوو تعریف:** د رضاع نوم د ښځې د هغې شیدو څخه عبارت دي، چې د ماشوم په ګیډه کې حاصلې شي.[1]

[1]ابن منظور، – لسان العرب –. جلد: ۸، مخ:۲۲۵.

[2]ابن نجیم، – البحر الرائق – شرح کنز الدقائق – جلد:۳، مخ:۲۳۸. /العینی، – البنایة شرح الهدایة –، جلد:۵، مخ:۲۵۶. / الحنفي، سراج الدین عمر بن إبراهیم بن نجیم الحنفي، وفات: ۱۰۰۵ه–، – النهر الفائق شرح کنز الدقائق– خپرندوی: دار الکتب العلمیة، چاپ: لومړی، ۱۴۲۲ه– – ۲۰۰۲م، جلد:۲، مخ:۲۹۸.

**ج: د حنابله وو فقهاوو تعریف:** د ماشوم د هغه شیدو رودل دي چې په تیو کې پیدا شوې دي، د حمل له کبله یا په مثل د هغه.[۲]

## غوره تعریف:

د پورته یا دو شویو تعریفونو لنډه څیړنه: له کومه ځایه چې د تعریفونو په اصلي ماهیت کې دوو شیانو تـــه زیـــات ارزښت ورکول کیږي هغه د تعریف جامعیت او مانعیت دی.

د دې دوه اصولو نه حنفي تعریف پوره برخمن دی، لکه رضیع (ماشوم) مرضعه (ښځه) چې په رضیع کلمې سره لوی انسان او د ښځې په کلمې سره نارینه او خنثی وتلي دي او کوم چې د رضیع کلمه په مور باندې تضـــمنا د لالـــت کوي، د ټاکلې مودې په یادولو سره صراحت وربانډې شوی دی، همداراز د ټاکلې مودې په یادولو سره د تغذیې او نمو حاصلولو مفاهیم پوره څرګند شول، نو د احنافو تعریف جامع او مانع تعریف دی.

اما باید یاده شي چې د رضاع په موده کې امام اعظم رحمة الله او د هغه یارانو تر منځ یو څه اختلاف شته دی چـــې باید و څیړل شي.

امام ابو حنیفه د رضاع موده دوه نیم کاله یا دیرش میاشتې ګڼي او په دې آیت کریمه باندې استدلال کوي[۳] ﴿حَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلاثُونَ شَهْرًا﴾[۴]

ژباړه: او په ګېډه کېدل او له تې بېلېدل یې (ټول) دېرش میاشتې دي.

د استدلال وجه یې داده چې په آیت کې دوه شیان ذکر شوي دي ( حمل او رضاع ) حمل ساقط شو نو په رضـــاع کې یې حکم (۳۰) میاشتې پاتې دی. جوهره وایې په دې قول سره فتوا ده. خو یارانو امام ابي یو سف او امام محمد رحمة الله علیهما ویلي دي، د رضاع موده دوه کاله ده، ځکه د حمل لږ موده شپږ میاشتې ده، نو د ثلاثون ۳۰ لـــه

---

[۱] الشربيني، – الاقناع –، جلد: ۲، مخ: ۳۳۳.
[۲] البهوتی، – الروض المربع شرح زاد المستقنع– ، جلد: ۲، مخ: ۳۵۷.
[۳] الميداني،– اللباب في شرح الكتاب –جلد: ۲، مخ:۲۵۱–۲۵۲..
[۴] د الأحقاف سورت،۱۵ آیت.

عدد څخه يوازې دوه کاله پاتې کيږي. فتح القدير وايي، دا قول اصح دی، پدې قول سره غالبا د نکاح حرمت او د مصاهرت احکامو ته پام ساتل شوی دی، امام اعظم رحمة الله د احتياط لاره غوره کړې ده او د اصولي اصل سره هم موافق دی، ځکه د ثلاثون کلمه خاصه ده، له دلالت څخه يې بايد څه کم نه شي، يعنې د ثلاثون کلمه د رضاع په حرمت کې اعتبار لري، د حمل او فصال کلمه چې په همدې نص کې راغلې ده، د احنافو د اختلاف منشاء ده، اما د رضاع د اجرې په موده کې اتفاق په دې دی، چې په مرضعې يوازې دوه کاله اجره واجب ده او بس، چې په دې اړه مدني قانون هم په لاندينۍ ماده کې داسې حکم کوي، (مور د دوه کلونو څخه له زياتې مودې، طفل تـــه د شيدو ورکولو د اجورې حق نه لري).[1] نو له نوموړې مادې څخه دا معلوميږي، چې د رضاع موده دوه کاله ده او د يارانو له قول سره مطابقت لري. فتح القدير وايي، د يارانو په قول فتوا ده او د طحاوي قول هم مختار دی.[2]

## دويم مطلب: د رضاع د مزد مشروعيت:

په رضاع سره د اجرې د جواز او مشروعيت په هکله دليلونه شتون لري، ولې مونږ يوازې هغه دليلونه تر څيړنـــې لاندې نيسو، کوم چې په دې انساني او شرعي امر کې پوره صراحت لري:

**له کتاب الله څخه:** الله تعالی فرمايلي: ﴿ وَإِنْ أَرَدْتُمْ أَنْ تَسْتَرْضِعُوا أَوْلادَكُمْ فَلا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِذَا سَلَّمْتُمْ مَا آتَيْتُمْ بِالْمَعْرُوف ِ ﴾[3]

ژباړه: او که غوښتل مو چې اولاد ته مو (بل څوک) تی ورکوونکې ونيسئ، نو (بياهم) څه ګناه درباندې نشته، خو چې څه مو ورته منلي وي هغه په ښه توګه ور وسپارئ.

د آيت د استدلال وجه: د﴿فَلا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ..﴾ صراحتا په دې حکم کوي، کوم وخت چې د مرضعې حق ورنکړل شي، د ګناه مرتکب ګرځي، نو دا پوره معلومه شوه، چې مبارک آيت مفهوما نص دی، د دې حق پــه اداء کـــې،

[1] د افغانستان مدني قانون، ۲۳۲ ماده.
[2] الميداني، – اللباب في شرح الکتاب –جلد: ۲، مخ:۲۵۱-۲۵۲.
[3] د البقرة سورت، ۲۳۳ آيت.

همداراز د ﴿وحَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلاثُونَ شَهْرًا﴾[1] هم د خصوص په صفت او وجهې سره همدا حکم افاده کوي، داسې نور آيتونه هم شته چې دا مشروعيت افاده او لاندې به اشاره ورته وشي.

بل دا چې په دې ډول د رسول اللهﷺ په ژوند کې عام تعامل په دې امر ولاړ و، چې هيڅ يو رضيع پرته له مرضعې شخه مرضعه پرته له اجرې شخه ندي پاتې شوي، دا تعامل پدې دلالت کوي، چې رضاع د رضيع ثابت حق دی، نو کوم وخت چې د رضيع حق شو په رضاع سره يې اجره اخستل يا ورکول د شرع مخالف عمل نه شي ګڼل کيدای او ددې حق اداء د هر مومن انسان ايماني او فطري دنده ده، نو پرته له دې چې د صحابه وو رضي الله عنهم تعامل اجماع وبولو صريح اجماع ده او انساني او ايماني معقول هم دی، همدا ډول د افغانستان مدني قانون لاندې ماده د مزد په اړه داسې حکم کوي، (د طفل د شيدو ورکولو اجوره د هغه چا په غاړه ده، چه د هغه د نفقې په ورکولو مکلف وي دا اجوره د طفل د تغذيې په مقابل کې ورکول کيږي).[2]

**مور ته د رضاع په بدل کې اجره**

لومړی: د جمهور فقهاوو قول: دوی وايي چې د رضيع خپله مور اولاد ته د شيدو ورکولو به بدل کې د اجرې اخيستلو مستحقه نشي کيدی، په کوم وخت چې زوجيت باقي پاتې وي.[3] او دليلونه يې په لاندې ډول دي:

**الف:** له کتاب الله شخه: ﴿وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ أَرَادَ أَنْ يُتِمَّ الرَّضَاعَةَ﴾[4]

ژباړه: اوميندې خپلوماشومانو ته پوره دوه کاله تی ورکوي، دا (حکم) د هغه چا لپاره دی چې غواړي د تي ورکولو موده پوره کړي.

پر آيت د استدلال وجه: ددې آيت کريمه وجوب دا افاده کوي، چې په مور باندې د رضاع حق شرعا ثابت دی. پرته له کوم بدل شخه مکلفه ګرځي او داسې احتمال هم شته دی، چې وجوب يې له ذمې ساقط شي او کوم وخت

[1] د الأحقاف سورت،١٥ آيت.
٢د افغانستان مدني قانون،٢٢٩، ماده.
[3] المرغياني، أبي الحسن علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الرشداني المرغياني، تولد:٥١١هـ، وفات: ٥٩٣هـ، الهداية شرح بداية المبتدي– خپرندوی: المكتبة الإسلامية، جلد: ٢،مخ:٦٥۴./ ابن عابدين،– حاشية ردالمحتار على الدر المختار– جلد:٣، مخ: ٦١٩.
[4] د البقرة سورت، ٢٣٣ آيت.

چې شرعي عذر شتون ولري يا وضع شي، شرعي مکلفيت يې په ځای پاتې کيږي، نه شي کولای ددې شرعي مکلفيت په بدل اجره واخلي.[1]

له دې سربيره جمهور علماء په دې امر هم اتفاق لري، چې مور وروسته د عدت تيريدو څخه هم د خپل ماشوم د ارضاع د اجرې مستحقه نشي کيدای، حنفي فقهاء وايي په بائن طلاق د معتدې اجره اخيستل هم جايز نه دي.[2] د دې ډلې فقهاوو دليل دا دی چې د بائن طلاق معتدې ته هم د زوج له خوا وجوبا نفقه ورکول کيږي، ديانتا لکه د رجعي طلاق معتده داسې ده، نو نکاح حکما شتون لري او باقي پاتې ده او د ارضاع حکم يې د يانةً په خپل وجوب سره د مور په ذمه باندې پروت دی.

نو ارضاع يې د واجب د ادا کولو مفهوم لري، لکه مخکې له طلاق څخه يا د رجعي طلاق په وخت کې.[3]

**دويم**: د يوې ډلې مالکيانو او جمهورو حنابله وو قول: دوی وايي چې د رضيع خپله مور اولاد ته د شيدو ورکولو به بدل کې د اجرې اخيستلو مستحقه کيدی شي، په کوم وخت کې چې زوجيت باقي پاتې وي.[4] دوی هم په کتاب الله او معقول باندې استدلال کړی دی، چې دلايل يې په لاندې ډول دي:

**الف:** له کتاب الله څخه: ﴿فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ﴾ [5]

ژباړه: نو که بيايې ستاسې (بچيانو) دپاره تی ورکړ، نو مزدوري يې ورکړئ.

پر آيت د استدلال وجه: دوی د آيت کريمه د دلالت په وجه کې وايي، چې رضاع يو عمل (کار) دی، د کار په بدل کې د اجورې اخيستل حقوقي امر دی، نو کله چې د طلاق په وخت کې مور ته جايز دي، چې د زوج څخه د رضيع د شيدو اجره واخلي، د زوجيت د بقاء په صورت کې هم کولای شي، د خپل عمل اجره تر لاسه کړي.[6]

[1] المرغياني، – الهداية شرح بداية المبتدي – خپرندوی: المکتبة الإسلامية، جلد: ۲،مخ:۶۱۹.
[2] ابن عابدين،– حاشية ردالمحتار على الدر المختار– جلد:۳، مخ: ۶۱۹.
[3] مخکينی مرجع.
[4] ابن قدامة، عبد الرحمن بن محمد بن أحمد بن قدامة المقدسي الجماعيلي الحنبلي، أبو الفرج، شمس الدين، وفات: ۶۸۲هـ،– الشرح الكبير، خپرندوی: دار الكتاب العربي للنشر والتوزيع، جلد:۹، مخ:۲۹۵.
[5] د الطلاق سورت، ۶ آيت.
[6] الشيرازی، – المهذب – ، جلد:۲، مخ:۲۱۵.

يوې ډلې فقهاوو قول کړی دی، چې د بائن طلاق معتده (د عدت په وخت کې او وروسته له عدت څخه) کولی شي اجره واخلي، په استدلال کې وايي: ﴿فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ﴾[1]

ژباړه: نو که بيايې ستاسې (بچيانو) د پاره تی ورکړ، نو مزدوري يې ورکړئ.

دا برخه فقهاء په استدلال کې وايي، الله تعالی د پلرونو په ذمه واجب کړې ده چې د خپلو ماشومانو د شيدو اجره د دې عمل په بدل کې ورکړي، مطلقه مور په دې حالت کې په ښځتن باندې نفقه د وجوب په صفت نه لري، ځکه د نکاح اړيکې قطع شوې دي، نو که چيرې دې ماشوم ته شيدې ورکړي د اجرې مستحقه کيدی شي، همدا راز د الله تعالی په دې قول يې استدلال کړی دی، ﴿لَا تُضَارَّ وَالِدَةٌ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوْلُودٌ لَهُ بِوَلَدِهِ﴾[2]

ژباړه: نه به مور د خپل ماشوم په سر ځورول کيږي او نه پلار د خپل بچي په سر.

په آيت کريمه د استدلال وجه: الله تعالی مور له دې څخه منع کړې ده، چې د خپل ماشوم لپاره دې زيان ونه مومي، نو که چيرې سره له دې چې نفقه يې قطع شوې ده، بيا هم په ارضاع پرته له اجرې څخه مکلفه شي دا يو زيان دی چې دې ته متوجه کيږي، نو کله چې د باين طلاق په وخت په ارضاع باندې مکلفه نده له عدت څخه وروسته هم بايد پرته له اجرې په ارضاع مکلفه نه شي.

د والدينو د شفقت غوښتنه دا امر افاده کوي چې مور ته دې اجره جايزه وي او پلار د يسار (بډايتوب) په حالت کې وی، بايد اجره ورکړي او که د اعسار (غريبۍ) په حالت کې وي بايد د دين په ډول ورباندې پاتې شي، رضاع چې د ماشوم حق په همدې ډول پوره تحقق پيدا کوي، د دې موضوع په اړه د افغانستان مدني قانون په لاندينيو مادو کې داسې حکم کوي: (مور چه ترڅو د ښځتن د نکاح په قيد يا د رجعي طلاق په عدت کې وي، طفل ته د شيدو ورکولو د اجورې حق نه لري).[3] (که مور خپل طفل ته د بائن طلاق د عدت په اوږدو کې يا د هغې د پوره کيدو

[1] د الطلاق سورت،٦ آيت.
[2] د البقرة سورت،٢٣٣ آيت.
[3] د افغانستان مدني قانون،: ٢٣٠ ماده.

وروسته شیدې ورکي، د اجورې حق لري).[1] (که بله ښځه بې له اجورې یا د هغې اجورې څخه چه د طفل مور یې غواړي، په کمه اجوره د طفل شیدو ورکولو ته حاضره شي، مور د شیدو ورکولو حق نه لري)[2]

اولاد ته په شیدو ورکولو کې د مور مجبوریت: مور په لاندې دریو حالاتو کې مجبوره ده چې ماشوم تـــه شـــیدې ورکړي: **(الف)**: ماشوم او پلار یې بدای نه وي او ددې توان و نلري چې د ماشوم په مال یایې پلار بله مرضعه پـــه اجرې سره استخدام کړي، او داسې ښځه هم د ماشوم په شرعي خپلوانو کې نه وي چې ماشوم ته وړیا او د احسان په ډول شیدې ورکړي. **(ب)**: کومه شرعي دایه پیدا نکړي. **(ج)**: ماشوم پرته له مور څخه د بلې ښځې شیدې و نه روي . په پورته دریو صورتونو کې مور مجبوره ده، چې خپل ماشوم ته شیدې ورکړي او په ذمه یې شیدې ورکـــول واجب دي، چې له دې شرعي مکلفیت څخه ددې ډډه کول ګناه ګڼل کیږي، په کوم وخت کې چې د مور په ذمه باندې شیدې ورکول معین لازم حق او واجب نه وي او ماشوم ته له شیدو ورکولو انکار وکړي، د پلار شرعي دنده ده، تر څو ماشوم ته مرضعه په اجره استخدام کړي په دې وخت کې هم لازمه ده پالنه به یې مور کوي دا د مـــور دیانتي مسئولیت دی.

## غوره قول:

کله چې پورتنیو دلایلو ته فکر وکړو دا جوته کیږي چې د جمهورو قول غوره دی، هغه ځکه چې د البقرة ســـورت (۲۳۳) آیت کریمه وجوب دا افاده کوي، چې په مور باندې د رضاع حق شـــرعا ثابـــت دی او دا ددې شـــرعي مکلفیت دی، نو نشي کولی چې ددې شرعي مکلفیت په بدل کې اجره واخلي او کوم چې ددویمې ډلې دلیـــل دی هغه د طلاق په وخت کې قابل د تطبیق دی، نه د زوجیت د رابطې ددوام په وخت کې.

:

[1] د افغانستان مدني قانون، ۲۳۱ ماده.

[2] د افغانستان مدني قانون، ۲۳۴ ماده.

# دريم مبحث: په ميراث کې د ميرمنې حق

## لومړی مطلب: د ميراث تعريف:

### ميراث د لغت له مخې:

ميراث په لغت (ژبه) کې له ورث، يرث څخه مشتق دی، چې د بقاء په معنا دی، د الله تعالی له نومونو څخه يو نوم هم (وارث) دی، يعنې الله تعالی باقي او دايم دی، ټول کائنات يوازې دده اقدس ذات ته پاتې کيږي. لکه څرنګه چې په قرآن کريم کې فرمايي: ﴿وَلِلَّهِ مِيرَاثُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ﴾[1]

ژباړه: او په اسمانونو او ځمکه کې چې څه دي (ټول) الله لره دي.

او همدا ډول ميراث د انتقال په معنا دی، يعنې له يو څخه بل ته انتقال، لکه په دې قول کې الله تعالی فرمايلي دي ﴿فَهَبْ لِي مِنْ لَدُنْكَ وَلِيّاً، يَرِثُنِي وَيَرِثُ مِنْ آلِ يَعْقُوبَ﴾[2]

ژباړه: نو ماته له خپل لوري يو وارث راپه برخه کړه، چې زما وارث هم وي او د يعقوب د کورنۍ وارث هم.

همدا راز کله چې د ميراث ذکر کيږي، نو د يوه شي انتقال له يوه څخه بل ته ورڅخه اراده کيږي، په موروث مال باندې يې اطلاق کيږي، بل دا چې ميراث مادياتو او معنوياتو ته هم شامليږي ﴿وَوَرِثَ سُلَيْمانُ داوُدَ﴾[3]

ژباړه: او سليمان بيا د داؤد وارث شو.

### ميراث د اصطلاح له مخې:

د فقهې علماء ميراث د يوه بيل علم په توګه تعريف کړی دی، په قرآن عظيم الشان کې د فرايض په نامه يا د شوی دی، يعنې هغه علم چې د ورثه وو هر يوه برخه پکې الله تعالی ټاکلې ده، پرته د الله له کبريا ذات څخه هيڅ څوک د

[1] د آل عمران سورت، ۱۰۸آيت.
[2] د مريم سورت، ۵-۶ آيتونه.
[3] د النمل سورت،۱٦ آيت.

تقدير، فرض او اندازې حق نلري او نه ورکړل شوی دی، نو د متروکې سهمونه الله تعالی ټاکلي دي، حتی آن تر دې پورې چې داسې سهم نشته چې په نبوي حديث کلا تعين او تقدير شوي وي.

### د فقهاوو تعريفونه:

۱. د حنفي فقهاوو تعريف: ميراث هغه علم دی، چې اصول يې له فقهې او حساب څخه دی او په هغه سره د هر وارث حق د مړي له متروکې څخه پيژندل کيږي.[۱]
۲. د مالکي فقهاوو تعريف: ميراث هغه علم دی چې په هغه سره هغه څوک پيژندل کيږي، چې د ميراث (مستحقين) وي او هغه چې د ميراث (مستحقين) نه وي او د هر وارث لپاره د ميراث برخه ټاکي.[۲]
۳. د شافعي فقهاوو تعريف: ميراث د فقاهت متعلق په ارث پورې موصل علم دی، د اندازې د هغه څه چې د حق د څښتن شخص ته يې ورکول واجب دی.[۳]
۴. د حنبلي فقهاوو تعريف: ميراث هغه علم دی، چې په واسطه يې وارثانو ته متروکه ويشل کيږي.[۴]

پورتني ټول تعريفونه په ځای په هر يوه تعريف کې د موضوع د (معرف) ذاتيات شتون لري، يوازې په لفظي لحاظ څه توپير پکې ليدل کيږي.

## ميرمنې ته د ميراث د مشروعيت دلايل:

ميرمنې ته د ميراث په مشروعيت – شرعي لزوم– کې په کتاب الله، سنت الرسول الله ﷺ، او اجماع سره ډير دليلونه شتون لري، آن تر دې پورې چې دا موضوع د مطلق بداهت په حال کې ښکاري ډيرو علماوو د دې امر لپاره آيت، حديث نه يادوي، ولې بيا هم ددې موضوع د لزوم لپاره بايد د هغه دليلونو يادونه وکړو چې دلالت يې صريح وي، چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

---

[۱] ابن عابدين، – رد محتار – جلد:٦، مخ: ۷۵۷.
[۲] عرفه، – حاشية الدسوقي على الشرح الكبير – جلد: ۴، مخ: ٦۵٦.
[۳] الرملي، – نهاية المحتاج – جلد: ٦، مخ: ۳.
[۴] ابن قدامة، – شرح الكبير – جلد:۷، مخ: ۳.

**له کتاب الله څخه:** ﴿وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِنْ لَمْ يَكُنْ لَكُمْ وَلَدٌ فَإِنْ كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُمْ مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوصُونَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ﴾[1]

ژباړه: او دوی (مېرمنو) لره د هغه څه څلورمه ده، چې تاسو پرېښي، که اولاد مو نه و، نو که اولاد مو و، نو بیا د هغوی اتمه ده، له هغه څه نه چې تاسو پرېښي، وروسته له هغه وصیته چې تاسو یې کوئ، یا وروسته له پورنه.

د آیت کریمه د استدلال وجه: پورتنی آیت خاص او محکم نص دی، د میرمنې د برخې په هکله د ښځتن له متروکې څخه خصوص یې په ضمایرو – لکم- لهن- څلورمه او آتمه کې نغښتی دی او نصوص یې دا دي چې د میرمنې د سهم بیانولو لپاره ارشاد شوی او محکم والی یې دادی، چې په ټول حکم کې صریح دی، اجمال او اخفاء پکې شتون نلري.

نو د میرمنې لپاره د میراث ورکړه پداسې ډول نص سره اثبات مومي چې د تقیید، خفاء او اجمال احتمال په کې نشته دی.[2]

له نبوي سنتو څخه: «عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَجَاءَتْ امْرَأَةُ سَعْدِ بْنِ الرَّبِيعِ بِابْنَتَيْهَا مِنْ سَعْدٍ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ هَاتَانِ ابْنَتَا سَعْدِ بْنِ الرَّبِيعِ قُتِلَ أَبُوهُمَا مَعَكَ يَوْمَ أُحُدٍ شَهِيدًا وَإِنَّ عَمَّهُمَا أَخَذَ مَالَهُمَا فَلَمْ يَدَعْ لَهُمَا مَالًا وَلَا تُنْكَحَانِ إِلَّا وَلَهُمَا مَالٌ قَالَ يَقْضِي اللَّهُ فِي ذَلِكَ فَنَزَلَتْ آيَةُ الْمِيرَاثِ فَبَعَثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى عَمِّهِمَا فَقَالَ أَعْطِ ابْنَتَيْ سَعْدٍ الثُّلُثَيْنِ وَأَعْطِ أُمَّهُمَا الثُّمُنَ وَمَا بَقِيَ فَهُوَ لَكَ»[3]

ژباړه: له جابر بن عبد الله نه روایت دی، هغه وایي: چې د سعد بن الربیع ښځې خپلې دوې لورګانې چې له سعد څخه وې، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راوستلې او ورته وېې ویل: ای رسول الله صلی الله علیه وسلم دوی دواړه د سعد لورګانې دي، پلار یې له تاسره د احد په جنګ کې شهید شو، خو کاکا یې ددوی مال واخیستلو او دوی ته یې مال پرې نښودلو او له دوی سره چې مال نه وي، څوک نکاح ورسره نه کوي، نو رسول الله صلی الله

[1] د النساء سورت،۱۲ آیت.
[2] القرطبي، – الجامع الأحکام القرآن – جلد:۵، مخ:۷۰.
[3] الترمذي، – سنن الترمذي – ، جلد:۳، مخ:۴۸۵.

علیه وسلم وفرمایل الله تعالی په دې کې فیصله کوي، نو د میراث آیت نازل شو، نو ولیږلو رسول الله صلی الله علیه وسلم کاکا ته یې او ورته وېې ویل: د سعد لورګانو ته دوه ثلثه ورکړه او مور ته یې ثمن ورکړه، کوم چې پاتې شول هغه ستا لپاره دي.

په حدیث د استدلال وجه: کله چې رسول الله صلی الله علیه وسل د ښځې لپاره ثمن یعنې آتمه وګرزوله دا د ښځې د میراث په مشروعیت دلالت کوي.

## دویم مطلب: په عامه توګه د ښځې میراث ته لنډه کتنه:

یوه ډله څیړونکي او لیکونکي داسې نظر څرګندوي، چې د اسلام مبین دین ښځې ته پوره حقونه ندي ورکـــړي او وایي، نه ګورئ! چې په میراث کې یې د ښځې برخه د نارینه نیمایي ټاکلې ده، نو مخکې له دې چې په ښځینه برخو کې د میراث د احکامو له مخې مختصر بحث وکړو، باید یادونه وشي چې ښځې او نارینه بیل بیل فطري او طبیعي غوښتنې لري، چې د هغې په آساس یې دندې او برخې هم هم متفاوتې دي، په مالي برخو کې یې هم غوښتنې یو له بل څخه توپیر کوي، د ښځینه مالي غوښتنې له هغه نارینه څخه چې له دې سره په قرابت کې په یوه درجه کې قرار لري، توپیر لري، مثلا: خور له خپل ورور سره، چې خور دورور نیمایي برخه اخلي، که چیرته دا موضوع د مالي غوښتنو له مخې پرتله کړو، دا راته جوته کیږي، کوم ورور چې د خور دوه برخې یې تر لاسه کړې دي، د هغه مالي غوښتنې د ملاحضې او کتنې په وړ اندازه زیاتې او دوه برخې ورکول پوره عدالت دی، د دوی د طبیعت سره موافق عمـــل دی، ځکه څوک چې د خپل څښتن له مال څخه د مهر نفقې او معالجې تر حده پورې، جامه او هستوګنځی شرعا تر لاسه کوي، اما هغه ورور یې هم د یوې میرمنې مهر، نفقه د معالجې تر حده پورې او هم د اولاد انفاق پـــر غـــاړه لري، نو خور چې هیڅ مالي مسؤلیت هم ورته متوجه ندی، پوره پرځای تقسیم دی، ددې سربیره دا هم باید یـــاده شي، چې داسې موارد (ځایونه) هم شتون لري چې ښځینه له نارینه څخه زیاته برخه له متروکې څخه اخلي چې پـــه لاندې ډول تر یو حده ددې رسالې د ایجاب په اندازه تر څیړنې لاندې نیول کیږي:

**الف: نصف (نمایي)**

ښځه په لاندې څلورو ځایونو کې د نارینه نیمایي میراث اخلي:

الف: په هغه صورت کې چې متوفی یوه لور یو زوی یا دوه زامن یا له دوو زیات زامن پاتې شي، نو لور د یوه زوی نیمایي برخه اخلي، چې دا برخه منصوص علیها ده، او الله تعالی پــه دې هکلــه فرمــایي: ﴿وَإِنْ كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ﴾[1]

ژباړه: او که یوه وه نو بیا یې نیمه ده.

دا باید زیاته شي چې د لور یووالی د سهم شرط دی.

ب: د زوی لور په دې شرط چې متوفی خپله لور ونلري.

ج: اعیاني خور په دې شرط چې یوه وي، لور او د لور لور هم ونلري.

د: علاتي خور (د پلار له لوري خور) په دې شرط چې یوه وي او داسې نارینه په ورثه کې شتون و نه لري چــې د ښځو عصبه کوونکې وي، په دې اړه الله تعالی فرمایي: ﴿وَإِن كَانُوا إِخْوَةً رِّجَالاً وَنِسَآءً فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الأنثيين﴾[2]

ژباړه: او که وارثان (ډېر) وروڼه، خویندې وي، نو هر نارینه ته به د دوو ښځو برخه وي.

پنځم: زوجه (میرمن) ده، چې د خپل څښتن د برخې نیمایي اخلی.

دویم حالت: چې ښځینه په میراث کې د نارینه مساوي برخه لري:

الف: مور او نیکه مساوي برخه لري: په هغه وخت کې چې متوفی نارینه اولاد ولري، لکه چې الله تعالی فرمایلي دي: ﴿وَلأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِنْ كَانَ لَهُ وَلَدٌ﴾۳ ژباړه: . او که دمړي اولادونه وي نو د مور او پــلار هریوه لپاره شپږمه ده، له پرېښي مال نه.

[1] النساء سورت، ۱۱ آیت.
[2] د النساء سورت، ۱۷۶ آبت.
[3] د النساء سورت، ۱۱ آیت.

ب: ورونه او خويندې چې د مور له خوا (اخيافي) وي : الله تعالى په دې هکله داسې فرمايي: ﴿وَإِنْ كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ كَلَالَةً أَوِ امْرَأَةٌ وَلَهُ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا السُّدُسُ فَإِنْ كَانُوا أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ فَهُمْ شُرَكَاءُ فِي الثُّلُثِ﴾ [1]

ژباړه: او كه هغه سړى چې ميراث ترې وړل كيږي كلاله (بې پلاره بې اولاده) وي او يا داسې كومه ښځه وي، او د هغه كوم ورور يا خور وي، نو بيا له دوى دواړونه د هر يوه شپږمه ده، خو كه هغوى له دې (يو ورور او خور) نه زيات وي، نو بيا به دوى په همدې دريمه كې سره ګډوي.

دا سې ځايونه هم شته چې ښځه زياته برخه اخلي: په لنډ ډول بايد يا دوونه وشي، چې د ارث موضوع په اوسنۍ نړۍ كې د قانون پوهانو او مدني شخصيتو له خوا تر ډير سوال او ځواب لاندې ده، پوهان او مدنيون په دې اړه د هر قانون په برخه انتقادونه په ځاى بولي او هغه قوانين او اصول بې ځايه بولي، نو په خلاصه ډول ويلى شو چې دا ډول انتقاد چې د اسلام مبين دين ښځينه ته حقوق پوره ندي وركړي، بيا هغه ځايونه چې ښځې ته د نارينه نيمايي برخه وركول شاهد راوړي، پوره بې ځايه انتقاد دى، ځكه د اسلام د دين سربيره ښايي په نورو اديانو او مدني قوانينو كې هم داسې موارد شتون ولري، چې د ښځينه برخې د نارينه په پرتله لږ وي، ځكه ارث عموما حتى په ټولو اسماني اديانو كې د قرابت او زوجيت په اصولو ولاړ دى، د پورتنيو دوو اصولو نه كوم چې ورثې ته تر تثبيت لاندې نيول كيږي، هرومرو په استحقاق كې توپير راځي، ځكه د ارث په مجموعي نظام كې هم داسې ځايونه شتون لري، چې ښځه د ارثي برخې له پلوه د نارينه وو په پرتله ډير توپير لري.

## دريم مطلب: د مير منې د ميراث حالات:

**ميرمنه په ميراث كې دوه (۲) حالته لري:**

**لومړى حالت:** په كوم وخت چې څښتن يې مړشي او هغه د فروعو (اولادونو) له جملې وارث ونلري، په دې حالت كې د ميرمنې سهم (برخه) څلورمه، كه چيرې يوه ميرمن پاتې وي ټوله څلورمه برخه ورته وركول كيږي، كه چيرې ميرمنې (۲–۳–۴) وي دا څلورمه برخه په ټولو ويشل كيږي د زوجاتو په تعداد كوم ځانګړى حالت نشته.[1]

[1] د النساء سورت، ۱۲ آيت.

۱. مثال: ځښتتن مړ شو یوازې پلار او زوجه ورڅخه پاتې شول په دې حالت کې د میرمنې څلورمه برخه ده او پاتې متروکه په عصوبت سره د پلار حق ګڼل کیږي.

۲. ځښتن مړ شو مور دری سکه وروڼه او دری- میرمنې ورڅخه پاتې شوې، په دې حالت کې دری واړه میرمنــې د څلورمې برخې مستحقې ګرځي او نومورې څلورمه برخه پرې ویشل کیږي او مورته شپږمه او باقي ترکه وروڼه په عصوبت سره وړي.

**د ویم حالت:** کوم وخت چې ځښتن مړ شي او له فروعو (اولادونو) هم ولري په دې حالــت کــې د میرمنــې – میرمنو– برخه آتمه تعین شوې ده.

۱. مثال: ځښتن مړ شو مور میرمن یو زوی ورڅخه پاتې شول په دې حالت کې مور شپږمه، میرمن آتمه، پاتې ترکه زوی په عصوبت سره وړي.

۲. مثال: ځښتن مړ شو یو زوی او څلور میرمنې ورڅخه پاتې شوې، آتمه برخه په څلورو میرمنو ویشل کیــږي او پاتې ترکه زوی په عصوبت سره وړي.

د یادونې وړ ده، چې د میرمنې د میراث پورتني دوه حالتونو په هکله د احنافو د فقهاوو د اجماع یادونه وکړو، چې همدا ډول د میرمنې د میراث په هکله مدني قانون هم په ۲۰۰۷ ماده کې په دویمه او دریمه فقره کې داسې حکم کوي، چې نومورې حالات یې په همدې ماده کې راخلاصه کړي دي او کوم توپیر نه لري: ((۲)ښځه که څه هم په رجعي طلاق، طلاقه کړه شوې وي، په هغې صورت کې چې ځښتن د هغې د عدت په دوام کې مړ شي، یا ښځې که ځښتن اولاد یا د زوی اولاد که څه هم مرتبې یې ټیټې وي و نه لري، د میراث څلورمه حصه او که او لاد یا د زوی اولاد موجود وو، که څه هم مرتبې یې ټیټې وي، نو د میراث د آتمې حصې مستحق کیږي.

(۳) د مړینې په مرض کې د بائن طلاق طلاقه کړه شوې، د ښځې حکم لري، خو په دې شرط چې ښځه پــه طــلاق راضي نه وي او طلاق کوونکی په همغې مرض کې مړشي او طلاقه کړی شوې لا په عدت کې وي.[2]

---

[1]ابن رشد، – بدایة المجتهد – جلد:۲، مخ: ۳۴۲.

[2]د افغانستان مدني قانون، ۲۰۰۷ ماده.

# پايلې

په علمي– تحقيقي رساله کې د پايلو ذکر کول يو اړين امر دی له همدې کبله د دې رسالې مهمې پايلې په لاندې ډول بيانيږي:

لکه څرنګه چې د الله تعالی په وړاندې نارينه او ښځې ټول مساوي او برابر حقونه او مسؤوليتونه لري او هر چا ته د هغه له عمل سره سمه بدله ورکوي، څکه الله تعالی فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ﴾[1]

ژباړه: اې مؤمنانو! موږ تاسې ټول له يو نارينه او ښځې پيدا کړي ياست او د دې لپاره مو خېلونه او قبيلې وګرځولئ چې سره وپېژنئ، کنه د الله په وړاندې خو ستاسې ډېر عزتمن هغه دی، چې ډېر تقوی لرونکی وي، بې شکه الله ښه پوه با خبر دی.

له اسلام څخه مخکې په ښځو باندې هر ډول ظلمونه ترسره کېدل، آن ځينې ټولنې د ښځې له انسانيت څخه هم منکر وې، لکه: فرعونيان، سومريان، چينايان، روميان، هنديان، له اسلام څخه مخکې عربي ټولنه او داسې نور، خو اسلام په خپل راتګ سره ښځې ته هغه عزت او کرامت ورکړ، چې مخکې يې چا تصور هم نه و کړی.

نارينه او ښځې ټول د الله تعالی په وړاندې يو ډول حقونه او مسؤوليتونه لري، خو په ځينو برخو کې د ښځې د فزيکي جوړښت د کمزورتيا او يا ځينو نورو مسائلو له امله الله تعالی ښځه د ځينو کارونو په ترسره کولو نه ده مکلفه کړې.

الله تعالی ښځې هم غير مسؤوله ندي پيدا کړې، بلکې په عباداتو سربېره يې، د داسې کارونو مسؤوليتونه هم ورسپارلي، چې د دې له بدني او عاطفي جوړښت سره مناسب دي، نو له دې امله يې پر ښځه د مېړه خدمت کول، د کورنيو کارونو ترسره کول، د مېلمه پالنه او خپلو اولادونو ته شيدې ورکول شرعاً او قضاءً نه، بلکې ديانتاً پرې لازم کړي دي او په څښتنانو يې د ميرمنو لپاره ځيني حقوق لازم ګرزولي چې له جملې څخه يې ځيني مالي حقوق هم دي، خو مخکې له دې چې د ښځې مالي حقوقوته راشو، غواړم دا اضافه کړم، چې په رساله کې مې لومړی د

---

١– د الحجرات سورت، ١٣ آيت.

حقوقو په اړه تمهیدی مبحث لیکلی، تر څو حق او د هغه ډولونه و پیژنو، څکه ددې پيژندل د ښځې د مالي حقوقو لپاره اړين دي.

پر ښخه د ترحم او د دې د وقار او عزت ساتلو په موخه الله تعالی د دې ټول مصارف او لګښتونه له واده مخکې په پلار او ورور او له واده څخه وروسته یې د مېړه پر غاړه لازمي کړي دي،

بل دا چې، د ښځې مهر یې په څښتن لازم ګرزولی دی او په اړه یې ورته عام او تام صلاحیت ورکړی دی، نو له امله يې پکې د هر ډول تصرفاتو کامل او بشپړ واک او اختیار هم لري.

په څښتن باندې یې د ښځې لپاره نفقه او هستګنځی لازم کړي دي او ددې تر څنګ یې د طلاق په وخت په ځینو حالاتو کې ورته متعه ورکول هم د څښتن په ذمه لازم ګرزولي.

میرمنې ته یې په ځینو حالاتو کې د اولاد لپاره د شیدو ورکولو په مقابل کې اجره ټاکلې ده او ددې تر څنګ یې په ځینو حالاتو کې د حضانت په مقابل کې هم مزد ټاکلی دی.

بل دا چې میرمنې ته یې د څښتن له وفات وروسته هم دده په مال کې ځینې مالي حقوق ټاکلي دي، چې دوه حالته لري که او لاد ونلري نو ورته ربع او که اولاد ولري ورته ثمن ورکول کیږي.

د پورتنیو حالاتو په اړه د افغانستان مدني قانون هم میرمنې ته همدا ډول حقوق ورکړي دي، بل غواړم دا زیاته کړم چې په رساله کې موضوعاتو د څلورو مذهبونو په رڼا کې څیړل شوي، چې د قوي دلایلو له امله ډیری د احنافو مذهب ته ترجیح ورکړل شوې ده.

ومن الله التوفیق، و الله تعالی اعلم.

# وړاندیزونه

د رسالې په پای کې ځینې وړاندیزونه لرم، چې په لنډ ډول یې داسې وړاندې کوم:

۱. د ښځو د مالي حقوقو او نورو مسائلو په اړه په پښتو ژبه کې مفصلې لیکنې نشته، نو له هر هغه چا څخه چې په دې اړه د څېړنې او معلوماتو راټولولو توان لري او وخت هم ورسره وي، باید مفصلې لیکنې وکړي، تر څو زموږ متدینې خویندې او وروڼه پرې پوه او په رڼا کې یې ژوند وکړي.

۲. له ټولو مسلمانانو او متدینو خویندو څخه غواړم، چې په خپلو اسلامي حقونو قناعت وکړي او د اسلام د دښمنانو په شعایرو نه باور وکړي او نه یې بدرګه کړي، ځکه همدا اسلام دی، چې ښځې ته یې عزت په برخه کړی او تل د دې د وقار او عزت خوندي کولو په فکر کې دی.

۳. له حکومتي مسؤ لینو نه مې دا غوښتنه ده تر څو په قوانینو کې د ښځې په ټولو حقوقو تجدید نظر وکړي او افغانۍ مسلمانه خور په کامله توګه له خپلو حقوقو څخه باخبره شي او خپل حقوق و پیژني.

۴. له ټولو مسلمانانو او با دیانته خویندو څخه غواړم چې په خپل ژوند کې یوازې د خپلو حقونو په فکر کې نه وي، بلکې له خپلې کورنۍ سره د احسان په فضا کې ژوند وکړي، ځکه یوازې د حقونو ترلاسه کول ژوند نشي ښایسته کولای، بلکې همدا احسان دی، چې له حق سره یو ځای شي، نو ژوند ته ښکلا وربښي.

# د اعلامو لړلیک


| شمیره | اعلام | پاڼه |
|---|---|---|
| ١ | ابن نجيم | ١٦ |
| ٢ | علي الخفيف | ١٧ |
| ٣ | سومر | ٢٨ |
| ۴ | اوركا جينا | ٢٩ |
| ۵ | حمورابي | ٣٠ |
| ۶ | بابل | ٣٠ |
| ٧ | قسطنطين | ٣٠ |
| ٨ | مزدک | ٣١ |
| ٩ | مانو | ٣٢ |
| ١٠ | كنفوسيوس | ٣٣ |
| ١١ | ارسطو | ٣٤ |
| ١٢ | عبد الله ابن عمر | ٩٠ |

# دایاتونو لړلیک

| شمیره | آیاتونه | سورت | مخ |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | ﴿إِذْ قَالَتِ امْرَأَتُ عِمْرَانَ رَبِّ إِنِّي نَذَرْتُ لَكَ مَا فِي...﴾ | آل عمران | ۵۵ |
| ۲ | ﴿أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِنْ وُجْدِكُمْ وَلا تُضَارُّوهُنَّ...﴾ | الطلاق | ۱۱۲ |
| ۳ | ﴿إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ...﴾ | الأحزاب | ٤٤ |
| ۴ | ﴿بَلْ كَذَّبُوا بِالْحَقِّ لَمَّا جَاءَهُمْ...﴾ | ق | ۱٦ |
| ۵ | ﴿حَمْلُهُ وَفِصَالُهُ ثَلاثُونَ شَهْرًا...﴾ | الأحقاف | ۱۳۸-۱۳٦ |
| ۶ | ﴿ذَلِكَ الْكِتَابُ لَا رَيْبَ فِيهِ هُدًى لِلْمُتَّقِينَ﴾ | البقرة | ۱۰۳ |
| ۷ | ﴿ذَلِكَ مِنْ أَنْبَاءِ الْغَيْبِ نُوحِيهِ إِلَيْكَ وَمَا كُنْتَ لَدَيْهِمْ...﴾ | آل عمران | ۱۲۷ |
| ۸ | ﴿رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ...﴾ | الاعراف | ۱٦ |
| ۹ | ﴿الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ بِمَا فَضَّلَ اللَّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى...﴾ | النساء | ۱۱۱ |
| ۱۰ | ﴿فَاتَّقُوا اللَّهَ فِي النِّسَاءِ فَإِنَّكُمْ أَخَذْتُمُوهُنَّ...﴾ | الروم | ۵۹ |
| ۱۱ | ﴿فَأَزَلَّهُمَا الشَّيْطَانُ عَنْهَا فَأَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيهِ...﴾ | البقرة | ٤۵ |
| ۱۲ | ﴿فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ أَنِّي لَا أُضِيعُ عَمَلَ ...﴾ | آل عمران | ٤۵ |
| ۱۳ | ﴿فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ...﴾ | الطلاق | ۱٤۰-۳۹ |
| ۱۴ | ﴿فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً...﴾ | النساء | ۷۰-٦۵ |
| ۱۵ | ﴿فَتَعَالَيْنَ أُمَتِّعْكُنَّ وَأُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيلًا...﴾ | الأحزاب | ۱۰٤-۱۰۱ |
| ۱۶ | ﴿فَلَا تَخْضَعْنَ بِالْقَوْلِ فَيَطْمَعَ الَّذِي فِي قَلْبِهِ مَرَضٌ ...﴾ | الأحزاب | ۵۱ |
| ۱۷ | ﴿فَهَبْ لِي مِنْ لَدُنْكَ وَلِيًّا، يَرِثُنِي وَيَرِثُ مِنْ آلِ يَعْقُوبَ...﴾ | مريم | ۱٤۲ |
| ۱۸ | ﴿قَالَ الَّذِينَ حَقَّ عَلَيْهِمُ الْقَوْلُ...﴾ | القصص | ۱۵ |
| ۱۹ | ﴿قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنْفُسَنَا وَإِنْ لَمْ تَغْفِرْ لَنَا...﴾ | الأعراف | ٤۵ |
| ۲۰ | ﴿قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ قَتَلُوا أَوْلَادَهُمْ سَفَهًا بِغَيْرِ عِلْمٍ...﴾ | الأنعام | ۵٦ |
| ۲۱ | ﴿لَا تُضَارَّ وَالِدَةٌ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوْلُودٌ لَهُ بِوَلَدِهِ...﴾ | البقرة | ۱٤۰ |
| ۲۲ | ﴿لَّا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ مَا لَمْ تَمَسُّوهُنَّ...﴾ | البقرة | ۹۳ |
| ۲۳ | ﴿لا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفساً إِلاَّ وُسْعَهَا...﴾ | البقرة | ۱۱۲ |
| ۲۴ | ﴿لِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ يَهَبُ ...﴾ | الشورى | ۵۵ |
| ۲۵ | ﴿لِيُنفِقْ ذُو سَعَةٍ مِنْ سَعَتِهِ وَمَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ فَلْيُنفِقْ مِمَّا... ﴾ | الطلاق | ۱۱۲ |
| ۲۶ | ﴿مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ ...﴾ | النحل | ٤۵-۸ |
| ۲۷ | ﴿وَأُحِلَّ لَكُمْ مَا وَرَاءَ ذَلِكُمْ أَنْ تَبْتَغُوا بِأَمْوَالِكُمْ...﴾ | النساء | ۸۰-۷۷-۷٤ |
| ۲۸ | ﴿وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُمْ بِالْأُنْثَى ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا ...﴾ | النحل | ٤۰ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ٢٩ | ﴿وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا وَصِيَّةً لِأَزْوَاجِهِمْ...﴾ | البقرة | ١٢٠ |
| ٣٠ | ﴿وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا... ﴾ | النحل | ٤٧ |
| ٣١ | ﴿وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ...﴾ | البقرة | ٤٤-٦٢ |
| ٣٢ | ﴿وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ أَرَادَ أَنْ...﴾ | البقرة | ١٣٨ |
| ٣٣ | ﴿وَإِنْ أَرَدْتُمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَكَانَ زَوْجٍ وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنْطَارًا...﴾ | النساء | ٦٢-٨٣-٨٥ |
| ٣٤ | ﴿وَإِنْ أَرَدْتُمْ أَنْ تَسْتَرْضِعُوا أَوْلادَكُمْ فَلا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ...﴾ | البقرة | ١٣٧ |
| ٣٥ | ﴿وَإِنْ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِنْ قَبْلِ أَنْ تَمَسُّوهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ ...﴾ | البقرة | ٨٣-٨٧-٩١-١٠١ |
| ٣٦ | ﴿وَإِنْ كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ كَلالَةً أَوْ امْرَأَةٌ وَلَهُ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ...﴾ | النساء | ١٤٧ |
| ٣٧ | ﴿وَإِنْ كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ...﴾ | النساء | ١٤٦ |
| ٣٨ | ﴿وَإِن كانوا إِخْوَةً رِّجَالاً وَنِسَآءً فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الأنثيين...﴾ | النساء | ١٤٦ |
| ٣٩ | ﴿وَإِنْ كُنَّ أُولَاتِ حَمْلٍ فَأَنْفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتَّى يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ﴾ | الطلاق | ١٢٢-١٢٣ |
| ٤٠ | ﴿وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً...﴾ | النساء | ٦٥-٧٠ |
| ٤١ | ﴿وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنطَارًا فَلَا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيْئًا... ﴾ | النساء | ٦٢-٧٣-٧٤-٨٣-٨٥ |
| ٤٢ | ﴿وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيضَةً...﴾ | البقرة | ٦٦-٨٣-٨٧-٩٢-١٠١ |
| ٤٣ | ﴿وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ...﴾ | الإسراء | ٥٢ |
| ٤٤ | ﴿وَقُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ...﴾ | الإسراء | ١٦ |
| ٤٥ | ﴿وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ﴾ | النور | ٥٠ |
| ٤٦ | ﴿وَقُلْنَا يَا آدَمُ اسْكُنْ أَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ ...﴾ | البقرة | ٤٤-٤٧ |
| ٤٧ | ﴿وكتبنا عليهم فيها أن النفس بالنفس...﴾ | المائدة | ٢٢ |
| ٤٨ | ﴿وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَاقٍ نَحْنُ نَرْزُقُهُمْ...﴾ | الإسراء | ٤٠-٥٦ |
| ٤٩ | ﴿وَلَا تَنْكِحُوا مَا نَكَحَ آبَاؤُكُمْ مِنَ النِّسَاءِ ...﴾ | النساء | ٤٠ |
| ٥٠ | ﴿وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ...﴾ | النور | ٥٠ |
| ٥١ | ﴿وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ...﴾ | النور | ٥٠ |
| ٥٢ | ﴿وَلأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِنْ كَانَ لَهُ وَلَدٌ...﴾ | النساء | ١٤٦ |
| ٥٣ | ﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَ رَزَقْنَاهُمْ..﴾ | الإسراء | ٧ |
| ٥٤ | ﴿وَلِلْمُطَلَّقَاتِ مَتَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ﴾ | البقرة | ١٠١-١٠٣ |
| ٥٥ | ﴿وَلِلَّهِ مِيرَاثُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ...﴾ | آل عمران | ١٤٢ |
| ٥٦ | ﴿وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِنْ لَمْ يَكُنْ لَكُمْ وَلَدٌ فَإِنْ كَانَ...﴾ | النساء | ١٤٤ |
| ٥٧ | ﴿وَلَيْسَ الذَّكَرُ كَالأُنْثَى....﴾ | آل عمران | ٤٧-٥٥ |
| ٥٨ | ﴿وَلْيُمْلِلِ الَّذِي عَلَيْهِ الْحَقُّ...﴾ | البقرة | ١٦ |
| ٥٩ | ﴿وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا...﴾ | الروم | ٥٨ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ٦٠ | ﴿وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ﴾ | الذاريات | ٤٧ |
| ٦١ | ﴿وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ طَوْلاً أَنْ يَنكِحَ الْمُحْصَنَاتِ...﴾ | النساء | ٦٦-٧٦ |
| ٦٢ | ﴿وَمَنْ يَعْمَلْ مِنَ الصَّالِحَاتِ مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ...﴾ | النساء | ٨-٤٥ |
| ٦٣ | ﴿وَمَنْ يَعْمَلْ مِنَ الصَّالِحَاتِ مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى...﴾ | النساء | ٨-٤٥ |
| ٦٤ | ﴿وَوَرِثَ سُلَيْمانُ داوُدَ...﴾ | النمل | ١٤٢ |
| ٦٥ | ﴿وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حُسْنًا وَإِنْ جَاهَدَاكَ ...﴾ | العنكبوت | ٥٣ |
| ٦٦ | ﴿وَوَصَّيْنَا الْإِنْسَانَ بِوَالِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أُمُّهُ وَهْنًا ...﴾ | لقمان | ٥٣ |
| ٦٧ | ﴿هُوَ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَجَعَلَ مِنْهَا ...﴾ | الأعراف | ٤٣ |
| ٦٨ | ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ...﴾ | النساء | ٤٣ |
| ٦٩ | ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ ...﴾ | الحجرات | ١٤٩ |
| ٧٠ | ﴿يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ ...﴾ | البقرة | ب |

# داحادیثولړلیک


| گڼه | حدیث | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | أبلغي من لقيت من النساء أن طاعة الزوج واعترافا بحقه يعدل ذلک... | ۶۱ |
| ۲ | أَرْبَعٌ مَنْ أُعْطِيَهُنَّ فَقَدْ أُعْطِيَ خَيْرَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ: قَلْبٌ شَاكِرٌ... | ۶۰ |
| ۳ | أَلاَ أُخْبِرُکَ بِخَيْرِ مَا يَكْنِزُ الْمَرْءُ الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ إِذَا نَظَرَ إِلَيْهَا... | ۶۰ |
| ۴ | أمكثي في بيتک حتى يبلغ أجله، قالت: فاعتددت فيه أربعة أشهر و عشرا | ۱۱۹ |
| ۵ | أن امرأة قالت يا رسول الله إن ابنى هذا كان بطنى له وعاء وثديى له سقاء... | ۱۲۸ |
| ۶ | أن امرأة من فزارة تزوجت على نعلين فقال رسول الله ... | ۷۹ |
| ۷ | أن بنتا لعبيد الله بن عمر و أمها بنت زيد ابن الخطاب كانت تحت... | ۹۰ |
| ۸ | أن فاطمه بنت قيس طلقها زوجها فلم يجعل لها النبي نفقة و لا سكنى... | ۱۲۲ |
| ۹ | إن هذين حرام على ذكور أمتي حل لإناثهم | ۴۸ |
| ۱۰ | أن هند بنت عتبة قالت: يا رسول الله، إن أبا سفيان رجل شحيح... | ۱۱۳ |
| ۱۱ | أَنْتُمُ الَّذِينَ قُلْتُمْ كَذَا وَكَذَا؟ أَمَا وَاللهِ إِنِّي لَأَخْشَاكُمْ لِلهِ وَأَتْقَاكُمْ... | ۵۹ |
| ۱۲ | إِنَّمَا النِّسَاءُ شَقَائِقُ الرِّجَالِ | ۵۹ |
| ۱۳ | انه سئل عن رجل تزوج امراة و لم يفرض له صداقا و لم يد خل بها حتى... | ۸۹ |
| ۱۴ | أيما امرأة استعطرت فمرت على قوم ليجدوا من ريحها فهي زانية | ۵۱ |
| ۱۵ | ثَلَاثٌ لَا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ وَلَا يَنْظُرُ اللَّهُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْعَاقُّ ... | ۴۹ |
| ۱۶ | الجنة تحت أقدام الأمهات | ۵۴ |
| ۱۷ | الخالة بمنزلة الأم | ۱۲۸ |
| ۱۸ | دَخَلَتِ امْرَأَةٌ و مَعَهَا ابْنَتَانِ لَهَا تَسْأَلُ فَلَمْ تَجِدْ عِنْدِي شَيْئًا غَيْرَ تَمْرَةٍ... | ۵۷ |
| ۱۹ | الدنيا متاع وخير متاع الدنيا المرأة الصالحة | ۶۰ |

| | | |
|---|---|---|
| ٢٠ | الْزَمْهَا فَإِنَّ الْجَنَّةَ عِنْدَ رِجْلِهَا | ٥٤ |
| ٢١ | طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ | ٤٦ |
| ٢٢ | عن ابن مسعود، أنه سئل عن رجل تزوج امرأة ولم يفرض لها صداقا ولم... | ٧٢ |
| ٢٣ | عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَجَاءَتْ امْرَأَةُ سَعْدِ بْنِ الرَّبِيعِ بِابْنَتَيْهَا مِنْ سَعْدٍ... | ١٤٤ |
| ٢٤ | عنْ جَابِرٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى الله عليه وسلم، قال فِي خُطْبَته فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ «فَاتَّقُوا اللَّهَ فِي النِّسَاءِ... | ١١٣ |
| ٢٥ | عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ أَنَّ امْرَأَةً عَرَضَتْ نَفْسَهَا عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ... | ٧١-٧٨ |
| ٢٦ | عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ أَعْظَمَ النِّكَاحِ بَرَكَةً... | ٧٩ |
| ٢٧ | غزوت مع رسول اللهﷺ سبع غزوات أخلفهم في رحالهم فأصنع لهم الطعام... | ٦٤ |
| ٢٨ | فَاتَّقُوا اللَّهَ فِي النِّسَاءِ فَإِنَّكُمْ أَخَذْتُمُوهُنَّ بِأَمَانَةِ اللَّهِ... | ٥٩ |
| ٢٩ | فَاطِمَةُ بَضْعَةٌ مِنِّي فَمَنْ أَغْضَبَهَا أَغْضَبَنِي | ٥٨ |
| ٣٠ | كُنَّا نَغْزُو مَعَ رَسُولِ اللَّهِﷺ فَنَسْقِي الْقَوْمَ وَنَخْدُمُهُمْ وَنَرُدُّ الْجَرْحَى وَالْقَتْلَى... | ٦٣ |
| ٣١ | لاَ تَمْنَعُوا إِمَاءَ اللَّهِ مَسَاجِدَ اللَّهِ | ٦٣ |
| ٣٢ | لا يخلون رجلٌ بامرأة إلا ومعها ذو محرمٍ ولا تسافر المرأة إلا مع ذي محرم | ٥١ |
| ٣٣ | لامهر دون عشرة دراهم | ٧٥-٨٠ |
| ٣٤ | لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِﷺ الرَّجُلَ يَلْبَسُ لِبسَةَ الْمَرْأَةِ وَالْمَرْأَةَ تَلْبَسُ لِبسَةَ الرَّجُلِ | ٤٩ |
| ٣٥ | مَنْ أَحَقُّ النَّاسِ بِحُسْنِ صَحَابَتِي؟ قَالَ: «أُمُّكَ». قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: «أُمُّكَ... | ٥٤ |
| ٣٦ | من استحل بدرهم فقد استحل | ٨٠ |
| ٣٧ | من ترك مالا أو حقا فلورثته | ٢٤ |
| ٣٨ | مَنْ رَزَقَهُ اللهُ امْرَأَةً صَالِحَةً فَقَدْ أَعَانَهُ عَلَى شَطْرِ دِينِهِ، فَلْيَتَّقِ اللهَ فِي الشَّطْرِ ... | ٦٠ |
| ٣٩ | من كان له ثلاث بنات أو ثلاث أخوات أو ابنتان أو أختان فأحسن... | ٥٧ |
| ٤٠ | مَنْ كَانَ لَهُ ثَلَاثُ بَنَاتٍ فَصَبَرَ عَلَى لَأْوَائِهِنَّ وَضَرَّائِهِنَّ... | ٥٨ |

| | | |
|---|---|---|
| ٤١ | من كشف خمار امرأة ونظر إليها فقد وجب الصداق دخل بها أو لم يدخل | ٨٥ |
| ٤٢ | مَنْ لَمْ يَرْحَمْ صَغِيرَنَا وَيُوَقِّرْ كَبِيرَنَا فَلَيْسَ مِنَّا | ١٣٢ |
| ٤٣ | و لهن عليكم رزقهن و كسوتهن بالمعروف | ١١٣ |

# د منابعو لړليک.


١. القرآن الكريم

٢. البخاري: محمد بن إسماعيل أبو عبد الله البخاري الجعفي، وفات: ٢٦٥ هـ. – صحيح البخاري – تحقيق: مصطفى ديب البغا، خپرندوی: دار ابن كثير– اليمامة – بيروت، د چاپ کال: ١٤٠٧هـ. لومړی چاپ.

٣. احمد: ملاجيون،– التفسيرات الاحمدية: خپرندوی: المطبعة الكريمية الواقعة في منبي، د چاپ کال:١٣٢٧هـ .

٤. وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية – الكويت – الموسوعة الفقهية الكويتية – خپرندوی: دارالسلاسل – كويت، مطابع دار الصفوة – مصر. د چاپ کال: ١٤٠٤ – ١٤٢٧ هـ.

٥. ابن أبي شيبة: أبو بكر عبد الله بن محمد بن أبي شيبة العبسي الكوفي، پيدا يښت او وفات: (١٥٩ – ٢٣٥ هـ) – مُصنف – له خپريدو پرته.

٦. ابن العربي: محمد بن عبد الله الأندلسي، ابن العربي، وفات: ٥٤٣ هـ. – أحكام القرآن – خپرندوی: دار الكتب العلمية.

٧. ابن القطان: علي بن محمد بن عبد الملك الكتامي الحميري الفاسي، أبو الحسن ابن القطان، وفات: ٦٢٨هـ. – بيان الوهم والإيهام في كتاب الأحكام – خپرندونی: دار طيبة – الرياض، د چاپ کال: ١٤١٨هـ =١٩٩٧م.

٨. ابن القيم الجوزية: وفات: ٧٥١هـ – زاد المعاد في هدي خير العباد– خپرندوی: الكويت: مكتبة المنار الاسلامية. چاپ: ٢٧، ١٤١٥هـ /١٩٩٤هـ).

٩. ابن الهمام: كمال الدين محمد بن عبد الواحد السيواسي مشهور په ابن الهمام، وفات: ٨٦١هـ. – فتح القدير – خپرندوی: دار الفكر.

١٠. ابن حبان: محمد بن حبان بن أحمد أبو حاتم التميمي البستي، وفات: ٣٥٤هـ.، – صحيح ابن حبان – خپرندوی: مؤسسة الرسالة – بيروت. د چاپ کال: هـ. ١٤١٤ هـ. = ١٩٩٣م، دويم چاپ.

١١. ابن حنبل: أبو عبد الله أحمد بن حنبل الشيباني، وفات: ٢٤١ ھ. – مسند الامام احمد بن حنبل – خپرندوی: مؤسسة قرطبة – مصر.

١٢. ابن رشد: أبو الوليد محمد بن أحمد بن محمد بن أحمد بن رشد القرطبي الشهير بابن رشد الحفيد، وفات: ٥٩٥ھ. – بداية المجتهد و نهاية المقتصد – خپرندوی: دار الفكر – بيروت.

١٣. ابن رشد: أبو الوليد محمد بن أحمد بن محمد بن أحمد بن رشد القرطبي الشهير بابن رشد الحفيد وفات : ٥٩٥ ھ، – بداية المجتهد و نهاية المقتصد – خپرندوی : مطبعة مصطفى البابي الحلبي وأولاده، مصر چاپ : ۴، ١٣٩٥ھ–١٩٧٥م .

١٤. ابن زريق: محمد بن عبد الرحمن بن محمد بن أحمد بن التقي سليمان بن حمزة المقدسي ثم الصالحي ناصر الدين، وفات: ٨٠٣ھ– الدارقطني في السنن – خپرندوی: وزارة الأوقاف والشؤون الإسلامية بدولة قطر، چاپ: لومړی ، ١۴٢٨ ھ – ٢٠٠٧ م،جلد: ٣، مخ:٢۴۵.

١۵. ابن عابدين: محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي، وفات: ١٢۵٢ھ. – حاشية ردالمحتار على الدر المختار– شرح تنوير الأبصار فى فقه الامام أبي حنيفة . خپرندوی: دار الفكر – بيروت. د چاپ کال: ١٣٨٦ ھ. دويم چاپ.

١٦. ابن قدامة المقدسي: عبد الله بن أحمد بن قدامة المقدسي أبو محمد، وفات: ٦٢٠ ھ.– المغني – خپرندوی: دار الفكر – بيروت، د چاپ کال: ١۴٠۵ ھ. لومړی چاپ.

١٧. ابن قدامة: عبد الرحمن بن محمد بن أحمد بن قدامة المقدسي الجماعيلي الحنبلي، أبو الفرج، شمس الدين، وفات: ٦٨٢ھ،– الشرح الكبير، خپرندوی: دار الكتاب العربي للنشر والتوزيع.

١٨. ابن كثير: أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي ثم الدمشقي، وفات: ٧٧۴هـ. – تفسير القرآن العظيم – خپرندوی: دار طيبة. د چاپ کال: ١۴٢٠هـ. = ١٩٩٩ م.

١٩. ابن منظور: محمد بن مكرم بن على، أبو الفضل، جمال الدين ابن منظور الأنصاري الرويفعى الإفريقى، وفات: ٧١١ھ.– لسان العرب – خپرندوی: دار صادر – بيروت. د چاپ کال: ١۴١۴ھ. دويم چاپ.

٢٠. ابن نجيم: الشيخ زين العابدين بن ابراهيم بن نجيم الحنفي، وفات: ٩٧٠هـ. – البحر الرائق شرح كنز الدقائق – خپرندوى: دار المعرفة – بيروت.

٢١. أبي أسامة : أبو محمد الحارث بن محمد بن داهر التميمي البغدادي الخصيب المعروف بابن أبي أسامة، وفات: ٢٨٢هـ – بغية الباحث عن زوائد مسند الحارث– ،خپرندوى: مركز خدمة السنة والسيرة النبوية – المدينة المنورة، چاپ: لومړى، ١٤١٣هـ – ١٩٩٢م.

٢٢. الالباني: محمد ناصر الدين الألباني، وفات: ١٤٢٠هـ. – جلباب المرأة المسلمة – خپرندوى: المكتبة الإسلامية – عمان – الأردن. د چاپ كال: ١٤١٣ هـ. لومړى چاپ.

٢٣. الالباني: محمد ناصر الدين الألباني، وفات: ١٤٢٠هـ. – الجامع الصغير وزيادته – خپرندوى: المكتب الإسلامي – بيروت.

٢٤. الالباني: محمد ناصر الدين الألباني، وفات: ١٩٩٩م. – السلسلة الضعيفة – خپرندوى: مكتبة المعارف – الرياض.

٢٥. الالباني: محمد ناصر الدين الألباني، وفات: ١٩٩٩م. – صحيح الترغيب والترهيب – خپرندوى: مكتبة المعارف – الرياض. پنځم چاپ.

٢٦. البزار: ابو بكر أحمد بن عمرو بن عبد الخالق بن خلاد بن عبيد الله العتكي، البزار، وفات: ٢٩٢هـ . – مسند البزار – خپرندوى: مكتبة العلوم والحكم – المدينة المنورة. د چاپ كال: ١٩٨٨ – ٢٠٠٩ م. لومړى چاپ.

٢٧. البهوتي: منصور بن يونس بن إدريس البهوتي ، وفات ١٠٥١ – شرح منتهى الإرادات – خپرندوى، عالم الكتب، د نشر كال،١٩٩٦د نشرځاى، بيروت.

٢٨. البهوتي: منصور بن يونس بن صلاح الدين بن حسين بن أحمد بن علي بن ادريس المصري البهوتي، وفات:١٠٥١ هـ. – كشاف القناع عن متن الإقناع –تحقيق: هلال مصليحي هلال. خپرندوى: دار الفكر – بيروت. د چاپ كال: ١٤٠٢ هـ.

٢٩. البهوتى: منصور بن يونس بن صلاح الدين ابن حسن بن إدريس البهوتى الحنبلى وفات: ١٠٥١هـ، – الروض المربع شرح زاد المستقنع–

٣٠. البيهقي: أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي البيهقي، – السنن الكبرى وفي ذيله الجوهر النقي – خپرندوی: مجلس دائرة المعارف النظامية الكائنة في الهند ببلدة حيدر آباد، چاپ: لومړی، د چاپ کال: ١٣٤٤ ه.

٣١. البيهقي: أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخسروجردي الخراساني، أبو بكر البيهقي، وفات: ٤٥٨هـ. – شعب الإيمان – خپرندوی: كتبة الرشد – رياض. د چاپ کال: ١٤٢٣ هـ. = ٢٠٠٣ م ، لومړی چاپ.

٣٢. الترمذي: أبو عيسى محمد بن عيسى بن سورة، وفات: ٢٧٩ هـ. – سنن الترمذي – تحقيق: عبدالرحمن محمد عثمان، خپرندوی: دار الفكر – بيروت. د چاپ کال: ١٤٠٣ هـ. دويم چاپ.

٣٣. الجرجاني: علي بن محمد بن علي، – التعريفات – خپرندی : دار الكتاب العربي، د چاپ ځای: بيروت،چاپ: لومړی،د چاپ کال:١٤٠٥ه.

٣٤. الحميدي: محمد بن فتوح بن عبد الله بن فتوح بن حميد الأزدي الميورقي الحمِيدي أبو عبد الله بن أبي نصر، وفات: ٤٨٨هـ. – الجمع بين الصحيحين البخاري ومسلم – تحقيق: د. علي حسين البواب. خپرندوی: دار ابن حزم – لبنان– بيروت. د چاپ کال: ١٤٢٣هـ. = ٢٠٠٢م.

٣٥. الحنفي: سراج الدين عمر بن إبراهيم بن نجيم الحنفي، وفات: ١٠٠٥هـ، – النهر الفائق شرح كنز الدقائق– خپرندوی: دار الكتب العلمية، چاپ: لومړی، ١٤٢٢هـ – ٢٠٠٢م.

٣٦. خپرندوی: دار الكلم الطيب، بيروت، چاپ: لومړی، ١٤١٩ هـ – ١٩٩٨ م.

٣٧. خپرندوی: دار المؤيد – مؤسسة الرسالة.

٣٨. الخرشي: محمد بن عبد الله الخرشي المالكي أبو عبد الله، وفات: ١١٠١هـ.– شرح مختصر خليل – خپرندوی: دار الفكر للطباعة – بيروت.

٣٩. الخفيف: على الخفيف – احكام المعاملات الشرعية – چاپ:٣، د چاپ کال:١٩٤٧م.

٤٠. خلف: نجم عبد الرحمن: – موارد الإمام البيهقي في كتابه السنن الكبرى–، خپرندوی: الجامعة الإسلامية المدينة المنورة، د چاپ کال: رجب– ذوالحجة ١٤٠٦ه.

٤١. د افغانستان مدني قانون.

٤٢. د ارشاد، حج او اوقافو وزارت يو شمېر جيد علماء – اسلام او کورنۍ – خپرندوی: د آئينه مطبوعاتي او فرهنګي مرکز، د چاپ کال: ١٣٩١ هـ.ش.

٤٣. الدسوقي: محمد عرفه الدسوقي، –حاشية الدسوقي على شرح الكبير– خپرندوی: دار الفكر، بيروت.

٤٤. الزبيدي: محمد بن محمد بن عبد الرزاق الحسيني، أبو الفيض، الزبيدي، وفات: ١٢٠٥هـ.– تاج العروس من جواهر القاموس – خپرندوی: دار الهداية.

٤٥. الزحيلي: وهبة الزحيلي بن مصطفى، – الفقه الاسلامي و ادلته– د دمشق په پوهنتون کې، د شرعياتو د پوهنځي د اسلامي فقه او اصول فقه استاد او رييس، خپرندوی: دار الفكر، د چاپ ځای: سورية – دمشق، چاپ: .

٤٦. الزحيلي: وهبة بن مصطفى الزحيلي، وفات: ٢٣ شوال ١٤٣٦ هـ. – تفسير المنير – خپرندوی: دار الفكر المعاصر – دمشق، د چاپ کال: ١٤١٨ هـ. د چاپ نوبت: دويم چاپ.

٤٧. السباعي: الدكتور شيخ مصطفى السباعي، وفات: ١٣٨٤ هـ.– المرأة بين الفقه والقانون – خپرندوی: دار الوراق – رياض. د چاپ کال: ١٤٢٠ هـ. =١٩٩٩م. اووم چاپ.

٤٨. الكحلاني: السيد الامام محمد بن اسماعيل الكحلاني ثم الصنعاني المعروف بالامير، – سبل السلام – خپرندوی: ملتزم الطبع و النشر شركة مكتبة و مطبعة مصطفى البابي الحلبي و اولاده بمصر، چاپ: ٤ ، د چاپ کال: ١٣٧٩ه ١٩٦٠–، جلد:١، مخ: ١٥٤–١٥٣.

٤٩. السجستاني: أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي السجستاني، وفات: ٢٧٥هـ. – سنن ابي داود – تحقيق: محمد محيي الدين عبد الحميد. خپرندوی: دار الفكر – دمشق.

٥٠. السرخسي: شمس الدين أبو بكر محمد بن أبي سهل السرخسي، وفات: ٤٨٣هـ. – المبسوط – خپرندوی: دار المعرفة – بيروت، د خپرولو نېټه: ١٤١٤ه. ـــ ١٩٩٣م.

٥١. السغدي: أبو الحسن علي بن الحسين بن محمد حنفي وفات: ٤٦١هـ، – النتف في الفتاوى – څیړونکی: المحامي الدكتور صلاح الدين الناهي، خپرندوی: دار الفرقان، بيروت، لبنان، چاپ: دويم، ١٤٠٤هـ – ١٩٨٤م.

٥٢. السيد سابق: وفات: ١٤٢٠– فقه السنة– خپرندوی: دار الكتاب العربي، بيروت – لبنان، چاپ:دريم، ١٣٩٧ هـ – ١٩٧٧ م.

٥٣. السيوطي: مصطفى السيوطي الرحيباني، وفات: ١٢٤٣هـ. – مطالب أولي النهى – خپرندوی: المكتب الإسلامي. د چاپ کال: ١٩٦١م.

٥٤. الشاشي : أحمد بن محمد بن إسحاق الشاشي أبو علي، – اصول الشاشي– خپرندوی، دار الكتاب العربي، بيروت، ١٤٠٢.

٥٥. الشافعي: أبو عبد الله محمد بن إدريس بن العباس بن عثمان بن شافع بن عبد المطلب بن عبد مناف المطلبي القرشي المكي وفات: ٢٠٤هـ، – الأم – خپرندوی: دار المعرفة – بيروت د خپرولو کال: ١٤١٠هـ/ ١٩٩٠م.

٥٦. الشافعي: أبو عبد الله محمد بن إدريس بن العباس بن عثمان بن شافع بن عبد المطلب بن عبد مناف المطلبي القرشي المكي وفات: ٢٠٤هـ،– الأم– خپرندوی: دار المعرفة – بيروت، بدون چاپ: د خپردنې کال: ١٤١٠هـ/١٩٩٠م.

٥٧. الشامي: د نظام الدين بلخي تر مشرۍ لاندې د يوې ډلې علماوو تأليف. – الفتاوى الهندية – خپرندوی: دار الفكر. د چاپ کال: ١٣١٠ هـ. دويم چاپ.

٥٨. الشربيني: أبي شجاع محمد الشربيني الخطيب، – الاقناع – خپرندوی: دار الفكر، بيروت د نشر کال: ١٤٥.

٥٩. الشربيني: شمس الدين، محمد بن أحمد الخطيب الشربيني الشافعي، وفات: ٩٧٧هـ.– مغني المحتاج – خپرندوی: دار الكتب العلمية – بيروت. د چاپ کال: ١٤١٥هـ. = ١٩٩٤م. لومړی چاپ.

٦٠. الشيباني: أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشيباني، وفات: ٢٤١هـ،- مسند الإمام أحمد بن حنبل-، خپرندوی: مؤسسة الرسالة، چاپ: لومړی، ١٤٢١ هـ - ٢٠٠١ م.

٦١. الشيرازی: أبو اسحاق إبراهيم بن علي بن يوسف الشيرازي وفات: ٤٧٦هـ - المهذب - خپرندوی: دار الكتب العلمية.

٦٢. صهيب عبد الجبار: - الجامع الصحيح للسنن والمسانيد-، د خپرولو نیټه: ١٥ - ٨ - ٢٠١۴.

٦٣. الطبراني: أبو القاسم سليمان بن أحمد الطبراني، وفات: ٣٦٠هـ. - المعجم الأوسط - خپرندوی: دار الحرمين - القاهرة، د چاپ کال: ١۴١٥هـ. .

٦۴. عبدالله: نظام الدين عبدالله ــحقوق فاميل- خپرندوی: انتشارات سعيد، كابل، دچاپ کال:١٣٩۴.

٦٥. العجلوني: الشيخ إسماعيل بن محمد العجلوني الجراحي، وفات: ١١٦٢ هـ. - كشف الخفاء - خپرندوی: دار الكتب العلمية بيروت - لبنان. د چاپ کال: ١۴٠٨ هـ. ١٩٨٨ م. دويم چاپ.

٦٦. العينى: أبو محمد محمود بن أحمد بن موسى بن أحمد بن حسين الغيتابى الحنفى بدر الدين وفات٨٥٥ه. - البناية شرح الهداية - خپرندوی: دار الكتب العلمية - بيروت، لبنان، چاپ: لومړی، د چاپ کال: ١۴٢٠ هـ - ٢٠٠٠ م.

٦٧. الفراهيدي: أبو عبد الرحمن الخليل بن أحمد بن عمرو بن تميم الفراهيدي البصري وفات: ١٧٠هـ،- العين -، خپرندوی: دار ومكتبة الهلا ل.

٦٨. الفيروزآبادی: مجد الدين أبو طاهر محمد بن يعقوب وفات: ٨١٧ه، - القاموس المحيط - خپرندوی: مؤسسة الرسالة للطباعة والنشر والتوزيع، د چاپ ځای: بيروت - لبنان.

٦٩. القرضاوي: دكتور محمد يوسف القرضاوي. ژباړن: ابو عاصم عبدالناصر زاهدی، - جايگاه زن از ديدگاه اسلام- خپرندوی: انتشارات مستقبل - كابل - افغانستان. د چاپ کال: ١٣٩٢ هـ. ش.

٧٠. القرطبي: ابو عبدالله محمد بن احمد بن ابى بكر بن فرح الأنصاري الخزرجي شمس الدين القرطبي، وفات: ٦٧١هـ. – تفسير القرطبي – خپرندوی: دار الكتب المصرية – القاهرة. د چاپ کال: ١٣٨٤هـ. – ١٩٦٤ م. دويم چاپ.

٧١. القرطبي: أبو عمر يوسف بن عبد الله بن محمد بن عبد البر بن عاصم النمري القرطبي وفات: ٤٦٣هـ، – الكافي في فقه أهل المدينة – خپرندوی: مكتبة الرياض الحديثة، الرياض، المملكة العربية السعودية، چاپ: دويم، ١٤٠٠هـ.

٧٢. القزويني: عبد الكريم بن محمد بن عبد الكريم، أبو القاسم الرافعي القزويني وفات: ٦٢٣هـ، – العزيز شرح الوجيز المعروف بالشرح الكبير – خپرندوی: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان، چاپ:لومړی، ١٤١٧ هـ – ١٩٩٧ م.

٧٣. القزويني: محمد بن يزيد أبو عبدالله القزويني، وفات: ٢٧٣هـ. – سنن ابن ماجة – خپرندوی: دار الفكر – بيروت.

٧٤. القضاعي: محمد بن سلامة بن جعفر أبو عبد الله القضاعي، وفات: ٤٥٤هـ. – مسند الشهاب – خپرندوی: مؤسسة الرسالة – بيروت، د چاپ کال: ١٤٠٧ هـ.ق.– ١٩٨٦م. دويم چاپ.

٧٥. الكاساني: علاء الدين أبى بكر بن مسعود، وفات: ٥٨٧ هـ. – البدائع الصنائع فى ترتيب الشرائع– خپرندوی: دار الكتاب العربي – بيروت. د چاپ کال: ١٤٠٢ هـ. دويم چاپ.

٧٦. مالک: مالك بن أنس بن مالك بن عامر الأصبحي المدني، وفات: ١٧٩هــ، – المدونة –خپرندوی: دار الكتب العلمية، چاپ: لومړی، ١٤١٥هــ – ١٩٩٤م.

٧٧. الماوردي: أبو الحسن علي بن محمد بن محمد بن حبيب البصري البغدادي، وفات:٤٥٠ هـ، – الحاوي الكبير – خپرندوی: دار الكتب العلمية، بيروت – لبنان، چاپ: لومړی، ١٤١٩ هـ –١٩٩٩ م.

٧٨. المباركفوري: الشيخ أبي الحسن عبيدالله بن العلامة محمد عبدالسلام المباركفوري، وفات: ١٤١٤ هـ. – مرعاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح – خپرندوی: إدارة البحوث العلمية والدعوة والإفتاء – الجامعة السلفية – بنارس الهند. د چاپ کال: ١٤٠٤هـ. = ١٩٨٤ م. دريم چاپ.

٧٩. مجلة البحوث الإسلامية: چې په دوره يي بڼه د ارشاد، دعوت، افتاء او علمي او څېړنيزو اداراتو د عام رياست له خوا خپريږي، د چاپ ځای: رياض، د چاپ کال: ١٤٠٧ه– گڼه۴٠.

٨٠. مجلة مجمع الفقه الاسلامي: چې د منظمة المؤتمر الاسلامي له خوا په جدة کې نشر کيږي.

٨١. محمد رشيد رضا – حقوق النساء في الإسلام – تحقيق او تعليق: محمد ناصر الدين الألباني. خپرندوی: المكتب الإسلامي – بيروت. د چاپ کال: ١۴٠۴ ه.

٨٢. محمد عليش: منح الجليل – خپرندوی: دار الفكر – بيروت. د چاپ کال: ١۴٠٩ه–. = ١٩٨٩م.

٨٣. مخطوطة الجمل: حسن عز الدين بن حسين بن عبد الفتاح أحمد الجمل– معجم وتفسير لغوي لكلمات القرآن– خپرندوی: الهيئة المصرية العامة للكتاب، مصر. چاپ:لومړی، ٢٠٠٣ – ٢٠٠٨ م.

٨۴. المرغياني: أبي الحسن علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الرشداني المرغياني، تولد:٥١١ه–، وفات: ٥٩٣ه–، الهداية شرح بداية المبتدي– خپرندوی: المكتبة الإسلامية.

٨٥. مسلم: الامام أبو الحسن مسلم بن الحجاج القشيري النيسابوري، وفات: ٢٦١ ه–. – صحيح مسلم – خپرندوی: دار احياء الكتب العربية – فيصل عيسى البابى الحلبي.

٨٦. المواق: محمد بن يوسف بن أبى القاسم العبدري، المواق، وفات: ٨٩٧ ه–. – التاج والإكليل لمختصر خليل – خپرندوی: دار الكتب العلمية، د چاپ کال: ١۴١٦ه––١٩٩۴م. لومړی چاپ.

٨٧. مودودي: ابو الاعلى مودودي، ژباړن: نعمت الله شهراني، – حجاب– خپرندوی: مؤسسه انتشارات الازهر، د چاپ کال: ١٣٨٧ه.ش.، د چاپ ځای: کابل افغانستان.

٨٨. الميداني: عبد الغني بن طالب بن حمادة بن إبراهيم الغنيمي الدمشقي الميداني الحنفي، وفات: ١٢٩٨ه–. – اللباب في شرح الكتاب –خپرندوی: المكتبة و مطبعة محمد علي صبيح و اولاده – الأزهر – مصر.

٨٩. ناصر سيد احمد او ملگري يې: – معحم الوسيط – خپرندوی: دار احياء التراث العربي، چاپ: لومړی، د چاپ کال: ٢٠٠٨م.

٩٠. النسائي: الامام أبو عبدالرحمن أحمد بن شعيب النسائي، وفات: ٣٠٣ ه‍. – سنن الصغرى – خپرندوی: مکتب المطبوعات الإسلامية – حلب، د چاپ کال: ١٤٠٦ ه‍. دويم چاپ.

٩١. النسفي: أبو البركات عبد الله بن أحمد بن محمود حافظ الدين النسفي وفات: ٧١٠ه‍، –تفسير النسفي (مدارک التنزيل وحقائق التأويل)– خپرندوی: دار الکلم الطيب، بيروت، چاپ: لومړی، ١٤١٩ ه‍ – ١٩٩٨ م،

٩٢. النسفي: أبو البركات عبد الله بن أحمد بن محمود حافظ الدين وفات: ٧١٠ه‍، – کنز الدقائق – خپرندوی: دار البشائر الإسلامية، دار السراج، چاپ:لومړی، ١٤٣٢ه‍ – ٢٠١١م.

٩٣. النووي: أبو زکريا محيی الدين بن شرف، وفات: ٦٧٦ ه‍. – المجموع – شرح المهذب – تحقيق: محمد نجيب المطيعي، خپرندوی: مکتبة الارشاد – جدة.

٩٤. النيسابوري: أبو الحسن علي بن أحمد بن محمد بن علي الواحدي، النيسابوري، الشافعي وفات: ٤٦٨ه، – التفسير البسيط– خپرندوی: عمادة البحث العلمي – جامعة الإمام محمد بن سعود الإسلامية. لومړی چاپ ، ١٤٣٠ ه.

٩٥. النيسابوري: محمد بن إسحاق بن خزيمة أبو بکر السلمي النيسابوري،– صحيح ابن خزيمة – خپرندوی: المکتب الإسلامي – بيروت ، ١٣٩٠ه – ١٩٧٠م.

٩٦. مجلة الفنون و الأدب و علوم الانسان و الاجتماع– مؤلف: محمد عبد الأمير منشد– کلية التربية الأساسية – الجامعة المستنصرية– بغداد– عراق. WWW.jalhss.com .

٩٧. ويکيبيديا– الموسوعة الحرة: https://ar.wikipedia.orq /wiki.

٩٨. ويکيپېډيا، وړيا پوهنغونډ: https://fa.wikipedia.org/wiki/

٩٩. ويکی پديا، دانشنامهٔ آزاد: https://fa.wikipedia.org/wiki/

١٠٠. الموسوعة العربية العالمية www.mawsoah.net

## SUMMARY OF RESEARCH:

Women's financial rights is the subject that is currently needed than ever to be investigated according to the Islamic Law and the Afghanistan Laws because non-Islamic movements using Muslim women as a tool against Islam and say that Islam does not proof any financial rights for them, and on the other hand, some Muslims based on the ignorance of the women's rights in Islam, sometimes act opposite of Islamic Laws and instructions has bestowed women.

Because the study of Islamic Law and instructions proves that it Islam is the only is the only religion, which is fully and completely in the favor of women and justify their full financial rights.

As women are sensitive and physically delicate in the abusive nature, hence in Islam they are given reasonable and suitable tasks that are in best coordination with their nature such as child raising and looking after their kids, and other domestic works. They are not obliged to perform heavy tasks that are against their nature or out of their ability. As well as Islam has provided them the financial rights that are sufficient for their lives and well responsive to their daily issue and matters. I will come to the point that Islam is for women who are entitled to financial rights. In this research I have investigated as follows:

In the first chapter, there are two themes in this chapter: (1) Right-to-use and definitions, (2) Definitions and details of the rights and its related parts that are necessary and required in this research. Then the position of women's in Islam other schools and philosophies – and a comparison as brief. There are two parts too, first the status of the woman in other philosophies, second, the status of women in religion of Islam.

The second chapter is about women's right in marriage (Maher, Mutaah), its necessity and responsiveness as brief and a discussion about the Afghan Civil Law that how it has secured this right. In the second chapter the topic of (Mutaah) is discussed with details of narration of the

discussions and viewpoints of different scholars of Ahl-Sunnah wa-Jamaat about it which talks about Mutaah’s legitimacy in the shadow of Qur'anic verses, Ahadith, and Islamic jurisprudence in comparison with the Civil Law of Afghanistan.

In the third chapter, the residential and livelihood expenditures of women are investigated, whereas women's financial rights are often valued at the level of favor, as well as the reasons for it.

In the fourth chapter, all rules and regulations of incubation (Hadhanat), breast feeding (Ridhaa) and other related topics are discussed in required details. Then the women rights of legacy and inheritance, their meanings, definitions, their conditions and classifications, comments and viewpoints of Islamic jurisprudence are discussed with the required details.

**Islamic Republic of Afghanistan**

**Ministry of Higher Education**

**Salaam University**

**Faculty of Sharia & Law**

**Sharia & Law Department**

**Master Schooling Program**

# Women's Financial Rights In Islamic Jurisprudence and Afghan Laws

**(A Master's Thiess)**

**Prepared by: Shahidullah (Azizi)**

**Supervised by: Pro. Dr. Abdul Baqi (Amin)**

**Year: 2018**

Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Higher Education
Salaam University
Faculty of Sharia & Law
Sharia & Law Department
Master Schooling Program

# Women's Financial Rights In Islamic Jurisprudence and Afghan Laws

(A Master's Thiess)

Prepared by: Shahidullah (Azizi)
Supervised by: Pro. Dr. Abdul Baqi (Amin)

Year: 2018